د کابل سلطنت بیان

لومړی ټوک

لیکونکی

مونټ ستوارټ الفنستن

ژباړونکي

پوهنوال ډاکټر محمد حسن کاکړ

او

څیړنیار نصرالله سوبمن

د پښتو څیړنو بین المللي مرکز

د افغانستان د علومو اکاډمي

۱۳۵۹

پرله پسې ګڼه ۱۱

د کابل سلطنت بیان

او د هغه توابع په تارتاري، پارس او هندوستان کې

لومړی ټوک

لیکونکی

مونټ سټوارټ الفنسټن

ژباړونکي

پوهنوال ډاکتر محمد حسن کاکړ

او

څېړنیار نصرالله سوبمن

PROPERTY OF ACKU
1370

د پښتو څېړنو بین المللي مرکز
د افغانستان د علومو اکاډمي

رسم: فرهاد ظریفي
او سعدالله

۱۳۵۹

خاصه منه

دهیواد نومیالی شاعـر او لیکوال سلیمان لایق دافغانستان
دعلومو اکاډیمۍ نشر چی له دغی ترجمی سره یی خاصه مینـه
وښودله اوپخپلی پارنی سره یی دهغی خپر ونه ممکن کـړه
دزړه له کومی مننه کیږی

مترجم

دکتاب موضوعات

مخ	عنوان
الف	د مترجم مقدمه
۱	سریزه

لومړی کتاب

لومړی فصل

د افغانستان جغرافیایی بیان

۹۰	دافغانستان موقعیت او بریدونه
	دویم فصل
۱۰۲	د افغانستان غرونه
	دریم فصل
۱۱۵	دافغانستان سیندونه
	څلورم فصل
۱۲۹	دافغانستان طبیعی اوسیاسی ویش
	پنځم فصل
۱۳۷	دافغانستان اقلیم ـ باران
	شپږم فصل
۱۵۳	دافغانستان ژووي، نباتات اوکانونه

دویم کتاب

دافغانستان داوسېدونکو عمومي بیان

لومړی فصل

مقدمه

دپښتنو نسب اوپخوانی تاریخ ۱۶۱

دویم فصل

دپښتنو دملت خانګی اوحکومت

خان ۱۷۶

جرګه ۱۷۶

دخان قدرت ۱۷۷

داخلی نظامی تاسیسات ۱۷۸

داخلی حکومت ۱۷۹

شخصی انتقام ۱۸۰

قضا یي جرګې ۱۸۲

رسمونه او رواجونه ۱۸۵

همسایه ۱۸۶

د پاچا قانوني واك ۱۸۷

دحکومت شکلونه ۱۸۷

د قومونو د داخلی حکومت ښیګڼې ۱۸۸

د پښتنو دحکومت دښه والی په منظور ۱۹۰

دریم فصل

ودونه، اد ښځوحال، جنازې او نور

ودونه ۱۹۳

دښځو موقف ۱۹۷

په پښتنو کې د مینې قصې ۱۹۹

جنازې ۲۰۱

څلورم فصل

د پښتنو معارف، ژبه اوادب

معارف ۲۰۳

د پښتو ژبه ۲۰۳

پښتو مصنفان ۲۰۵

پښتو شعر ۲۰۷
دخوشحال اشعار ۲۰۹
د پښتنو علم او فضل ۲۱۱

پنځم فصل

دین، مذهبی فرقی، ملایان، اوهام او نور

دین ۲۱۳
له هندوانو سره رویه ۲۱۴
له عیسویانو سره سلوك ۲۱۶
د صوفیانو بیان ۲۱۹
د روښانیانو فرقه ۲۲۱
په خلکو باندې د مذهب تاثیر ۲۲۳
لمونځونه ۲۲۴
د مذهب رعایت ۲۲۵
د ملایانو نفوذ او قدرت ۲۲۶
د ملایانو سلوك ۲۲۹
درویشان، پیران او مقدس کسان ۲۳۱
کیمیا او جادو ۲۳۲
خبیثه ارواح ۲۳۳
غیب ویل ۲۳۴
فال لیدل ۲۳۵

شپږم فصل

میلمه پالنه، د داره ماری عادتونه او نور

میلمه پالنه ۲۳۶
داره ماری ۲۳۹
مصونیتونه ۲۴۰

اووم فصل

د پښتو خویونه، عادتونه او کرکتر

دمالداری ژوند ۲۴۲
دعامه خلکو کورونه ۲۴۴
د وخت تېرولو طرز ۲۴۵
چلم او نصوار ۲۴۶

دمېلمنو هرکلی او ناری ۲۴۶
قصی اوغزلي ۲۴۷
ساعت تیرګانې ۲۴۸
سپورتونه او نڅاوې ۲۴۹
لوبې ۲۵۰
ګالی ۲۵۰
ګانې اودحمل اونقل وسایل ۲۵۱
داسانو سامانونه ۲۵۲
د سفر کولو طرز ۲۵۴
مریان ۲۵۵
ختیځ او لویدیځ پښنانه ۲۵۷
د پښتنو سلوکونه ۲۵۸
د پښتنو سجیه ۲۶۰

اتم فصل

د ښارونو داوسیدونکو سلوکونه، عادتونه او سجیه

دښار اوسیدونکی ۲۶۴
بانک داران ۲۶۶
سوداګران ۲۶۷
دکانداران اوکبسګران ۲۶۸
حکومتی فشار ۲۶۹
د پولیس فشار ۲۷۰
دورځې ویشونه ۷۲۰
دښاری عوامو خلکو خوراك ۲۷۱
ساعت تیری ګانی ۲۷۳
دیوه وزګار سړي ژوند ۲۷۳
دوزګارو خلکو ساعت تیری ۲۷۵

نهم فصل

داشرافو سلوکونه، عادتونه اوکرکتر

داشرافو کورونه اودکورسامانونه ۲۷۷
دنارینه وولباس او تزئینات ۲۷۹
دښځوجامې اوګانې ۲۸۲
دنوکرو وفاداري ۲۸۳
د لویانو ژوند ۲۸۴

د مترجم مقدمه

په دغې مقدمې کې لومړی پخپله د مونټستوارټ الفنستن Mountstuart-Elphinstone او د دغه کتاب او د هغه د څرنګوالي په باب بحث وهل کېږي، وروسته د هغو ټکو ذکر کېږي چې ژباړونکي په ترجمې کې د هغو رعایت کړی دی.

الفنستن په ۱۷۷۹ کې د سکاټ لېنډ په کمبرلېنډ کې زېږېدلی و، څنګه چې د ده پلار د څه وخت د پاره د ایډنبره د ښار د ژېس مرستیال و، الفنستن د خپلې لومړی ځوانۍ شپې ورځې په سکاټ لېنډ کې تېرې کړې، یو څو کاله یې د ایډنبره د ښار په یوه لوړ ښوونځي کې لیک لوست وکړ، وروسته په کن سنګټن کې په یوه ښوونځي کې شامل شو، خو پخوا له دې چې زده کړه یې سرته رسولې وي، د خپل پلار له مړینې وروسته له خپل مشرورور سره د ختیځ هند د شرکت مامور مقرر شو او په ۱۷۹۶ کې کلکتې ته ورسید. په هندوستان کې الفنستن یو ځای بل ځای رسمي وظیفې لولې، مګر د ماموریت تر ډېره موده یې د مرهټه هندوانو د ملك په لویو ښارونو لکه بمبئي او پونه کې تېره کړه. په پونه کې یې د څه وخت د پاره د مرهټه وو د واکمن یا پېشوا په دربار کې د هستوګن نماینده په حیث وظیفه اجرا کوله. او د پېشوا په ضد یې په یوه جنګ کې عملاً برخه واخیسته، او په ډېرو لږو وسولو او عسکرو سره یې د مرهټه وو د واکمن شپوا اجیرا او لښکرو ته چې د ده د لښکر په نسبت څو واره زیات وو ماتې ورکړه د مرهټه وو ملي نهضت که څه هم د هغه وخت سخ په ځوړ، او دغه انحطاط هغه وخت شروع شوی و، چې احمد شاه درانی په ۱۷۶۱ کې د پانی پت په میدان کې هغوی ته ډېره سخته ماتې ورکړې وه او د دوی هیلې یې د ټول هندوستان د نیولو د پاره شنډې کړې وې. دوی په هندوستان کې سره له دې هم د یوه ستر قوت حیثیت لاره، او په دې ډول د الفنستن له خوا د دوی ماتې په ټول هندوستان کې د انګریزانو د پرمختګ د پاره لاره هواره کړه، او له هغه وروسته د دوی پرمختګ چټک شو.

الفنستن په ۱۸۰۸ کې په دې مامور شو چې د افغانستان له واکمن، شجاع الملک سره داسې یو تړون لاس لیک کړي چې مقصد یې د فرانسې د نـا پلیون بونا پارت د هغو خطر و نو شنډول وو، چې د افغانستان له لارې هند ته متوجه وو.

نو الفنسن د یوه لوی هیئت په مشرۍ د ۱۸۰۹ په پسرلي کې پېښور ته چې هغه وخت د درانیو پاچاپانو یو مرکز و ورسید او له شاه شجاع سره یې په همدغه غرض یو تړون هم لاسلیک کړ چې وروسته به یې ذکر وشي. وروسته له هغه الفنستن تر ۱۸۱۹ پورې خپله وظیفه په پونه کې اجرا کوله ترڅو په همغه کال کې د بمبئی گورنر مقرر شو او تر ۱۸۲۶ پورې یې دغه وظیفه اجرا کړه. په دغې موده کې ده یو لړ قوانین وایستل، او په بمبئی کې یې د عصري معارف بنسټ کېښود دا هغه وخت و، چې په افغانستان کې کورنۍ شخړې په شدت روانې وې، پاینده خیلي سردارانو د خپل مشرور وزیر فتح خان له سړیني وروسته د سدوزیو د پاچاهۍ د ړنګولو د پاره هلې ځلې کولې او همدا چې دغه مقصد یې تر سره شو په خپلو منځو کې یې د تاج او تخت په سر خپرې ولګولې او افغانستان په دې ډول د عمومي انحطاط او سیاسي تجزیې په لور روان و. په هر حال الفنستن له ۱۸۲۷ څخه تر ۱۸۲۹ پورې په څېنو اروپايي ملکونو لکه یونان، ایتالیې، او فرانسې کې وگرزید بیا خپل ملک ته له ۳۳ کالو مسافرۍ نه وروسته ستون شو. هلته یې د عمر پاتې موده په کلو او بانډو کې تېره کړه ترڅو په ۱۸۵۹ کې د اتیا کالو په عمر مړ شو.

لکه چې د مخه وویل شول، الفنستن له منظم تحصیل څخه محروم و خو ده دغه نیمګړتیا د نورو وتلیو کسانو په څېر په خصوصي مطالعې او لوست سره بشپړه کړه، دی په څو ساحو کې ښه مشغول و، د نورو ارستوکراتو په شان یې تل ښکار کاوه خو د هغوی او د استعماري مامورانو په خلاف د خپلې رسمي وظیفې په څنګ کې یې د مرګ تر ورځې خصوصي مطالعې ته دوام ورکړ. د لرغوني یونان او روم له اثارو سره یې خاصه مینه لرله، د فرانسې د انقلاب په باب یې لوستنې کولې او د هغه له عمومي اصولو سره علاقمن و. عربي او فارسي یې تر دې حده زده کړې وه چې له هندي، او دري ادبیاتو (د حافظ او خیام اشعارو) څخه استفادې وکړي او خپله ذهني او فکري غذا د هوراس، فرانسس بیکن، د یوډ هیوم، شیلي، حافظ، خیام تیمور او بابر په اثارو کې ولټوي، او په دې ډول خپل نظر ښه وسیع کړي او دیوه استعماري مامور د لوړتوب له احساس نه ځان آزاد کړي او نورو ولسونه ته زیاتې اندازې د هغوی د ثقافت له لارې وپېژني، د برتانیې د استعماري مامورانو په قطار کې الفنستن ممکن لومړنی کس وي چې هم یې د استعمار د ماڼۍ په جوړولو او ټینګولو کې عملاً غټه برخه لرلې وي. او هم یې د نورو ولسونو د ښې پېژندنې په مقصد د دوی په فکري جهان کې، لکه څنګه چې د دوی په ادبي شاهکارو کې یې انعکاس کړی دی ننوتلی وي او بیا یې هغه جهان ته معرفي کړي وي.

الفنستن وروورو په خپلو مطالعاتو کي دومره ډوب شو ، چي په پای کي یې ، لکه څنګه چي موږ لیده ، خپل ماموریت پر یښود . حتی د ټول هندوستان ګورنر جنرالی یې هم ونه منله ، که څه هم څو ځله له ده څخه د هغه د منلو غوښتنه وشوه . داسي یې هم د اشرافی القاب وله منلو نه چي په انګلستان کي تر اوسه هم معمول دي ، ډډه وکړه البته داسي مثالونه ډېر دي چي واکمنو په عین واکمنی کي په ځان کي د جاه طلبی احساس وژلی او له حاکمیت نه یې لاس اخستی دی ، خو د الفنستن دغه کار په داسي حال کي چي د برتانوي امپراتوري په ټولي نړۍ کي خپره وه ، خاص اهمیت لري . ویل کیږي چي له پېښور څخه دده ناکام سفر په ده کي د جاه طلبی احساس وزېږنه دا هغه وخت و چي په افغانستان کي د کورنیو شخړو او دسیسو په نتیجه کي د ملکي سیاست وچ د توري او زور په قوت تاکل کېده ، یوه واکمن با یلله ، او بل وګټله ، او با یللی له یوه پخوانی او راننده واکمن زمان شاه سره پردېس شو . دالفنستن د شخصیت د ښه معرف ممکن هغه ویناوي چي ده په ۱۸۱٦ کي کړي ده ، دا هغه وخت و چي دی د خپلو د روزروسورو سره د مرهټه وو د پیشوا په شپږ ویشت زرو عسکرو په یوه جنګ کي بریالی شو . وینا یې داده : « ما پخپله داسي ګڼله چي زمونږ د پاره د جنګ بایللو چانس ډېر دی ، خو په پای کي مونږ د جنګ په میدان کي بوازي پاتي شوو ، او لمر په غرغره و شو . » (۱) د افغان داخلي سیاست په الفنستن کي ممکن د دغسي یوه قوي احساس په تولید کي برخه لر لي وي ، خود ده د ژوند له پېښو څخه څرګند یږي چي هغه افکار او خیالات چي ده د شرقی او غربی ادبیاتوله لاري جذب کړي وو ، په ده باندي یې قاطع تاثیر لرلی و ي .

هغه څه چي موږ افغانانو د پاره د خاص اهمیت وړدي ، هغه پېښور ته دده په مشرۍ د یوه لوی د ډېلوماتیکی هیئت سفر د ی ، چي د هغه د ډېره غته دا یمی نتیجه دغه کتاب دی .

د نونسمي پېړۍ له شروع نه د جهان تر اوسه ړی عمو می جګړي پو ري چي اروپا د سیاسی قدرت له نظره نړدي د نړۍ مرکز ګرزېدلی و ، افغانستان او نور ملکونه له هغو پېښو څخه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول متاثر کېدل ، چي په اروپا کي پېښېدلي . یوله هغو پېښو څخه چي اروپا یې د دولتونه یې په یوه یا بل ډول سره وښورول ، د فرانسي انقلاب و ، چي د هغه په اثر په فرانسي کي پخوانی نظام په یوه نوي نظام بدل شو . یوي طبقي واکمنی بایلله ، او بلي یې ځای ونیو ، او د دغه لوی اوښتون بولوی محصول په داسي حال کي چي نو ی

---

۱ ـ دالفنستن د ژوند پېښود تفصیل د پاره وګوری : د ملی بیو ګرافی قاموس ، داکسفورد پوهنتون خپرونه ، ۱۹٦٤ کال ، شپږم ټوک .

نظام لا پوره تينګ شوی نه و ، د ناپليون بونا پارت استبداد او مطلقيت ناپليون د فرانسې د انقلاب په ايډيا لوجی کې دوه مره ونغښت چې د انقلاب ايډيالوژنه ، يعنې برابري ، وروري يې له ياده وايستله او د نورو ولسونو په لاندې کولو پسې شو . دده يوه پروژه دا شوه ، چې د عثماني ترکي ، قاجاري فارس په مرسته هندوستان ونيسي ، او انګريزان ترې وباسي .
د همدغه مقصد د پاره يې د مې په لسمه په ۱۸۰۷ کې جنرال ګاردن (General Gardane) د فارس پاچا ته له دغه هدايت سره واستاوه .

«هندوستان ته د فرانسې د شلو زرو لښکر ايستلو په حال کې به دا مرسته وکړي ، چې موږ د فارس د مرستيالو لښکرو په اصلي شمېر خبر شو ، چې له دغسې يوه لښکر سره به ملګري شي ، او په خاص ډول ، لکه څنګه چې پاس يې ياد ونه شوې د هغو د ځای په ځای کولو ، او د وړاندې تګ د لار و ، او لښکر ايستلو د پاره د ضروري حياتي موادو او د اوبو ځايونو په باب بو ره معلومات حاصل شي . البته دا هم لازمه ده چې د ځمکې د پاسه وړاندې تګ د پاره د بر مساعد موسم معلوم کړی شي .»

«مګر جنرال ګاردن بايد يوازې دغسې تکو ته ځان منحصر نه کړي . دی بايد هرو مرو له مرهته وو سره لاره و لري ، او څو مره چې په مثبت او واضح ډول کيدا شي دی بايد د ملاتړ او تشويق هغه درجه ځانته معلومه کړي چې دغه هيئت به يې په هندوستان کې د ځان کړي .»

«په پای کې جنرال ګاردن بايد دغه حقيقت هېر نه کړي ، چې زموږ لوی مقصد فرانسې ، عثماني ترکيې او فارس تر مينځ د يوې درې ګوني اتحاد د بې قايمول او د هندوستان په لور د ځان د پاره د يوې لارې ايستل او د روسيې پر ضد د مرستيالو لښکرو ځغول دي . (۱)

د دغې پروژې عملي کېدل که څه هم ناشونکې و ، خو څنګه چې انګريزان په هندوستان کې پرديسي فاتحان او له هندوستاني خلکو څخه په وېره کې و و د هغې په ضد يې په متقابلو دفاعي ترتيباتو لاس پورې کړ . له دغو جملې څخه يو هم د ډيپلوماتيکي فعاليتونه وو . چې د هغو په اساس سياسي هيئتونه د پنجاب د سکانو پاچا رنجيت سنګهه ، د افغانستان واکمن شاه شجاع الملک ، او د فارس قاجار وي دربار تهران ته واستول . د هيئتونو مقصد يو او هغه دا چې د دغو ملکو د واکمنو په مرسته او اتحاد د فرانسې د احتمالي خطر مخه ونيوله شي . (۲)

۱ـ د الفنسټن د کتاب د ۱۹۷۲ چاپ د پاره د اولاف کيرو مقدمه ، د اکسفورډ د پوهنتون خپرونه ، ۱۹۷۲ ، مخ + .

۲ـ فارس ، د افغان لومړی جنګ ۱۸۳۸ - ۱۸۴۲ ، د کيمبرج د پوهنتون خپرونه کال ۱۹۶۷ ، مخونه ۱۰ - ۱۱ .

د افغانستان دربار ته د هیئت مشر الفنستن وټاکل شو. دی له ډېرو ومهماتو او ډېرو اروپايي سوغاتو او رو پېوسره د ۱۸۰۹ په فبروري کې پېښور ته ورسېد او د مارچ په پنځلسمه (دعوت په شپاړسمه) له شاه شجاع سره یې په دربار کې وليدل.

جان کی لیکي: «د شرقيانو د اشکالو په باب اختلاف نظر د انګليس د سفيرانو هر کله بوخه وځنداوه خو په بوخو ورځو کې په دې موافقه وشوه چې شاندار مراسم دې د مارچ په پنځمه په ځای شي څه وخت چې دغه ورځ راورسېده دوی (انګريزانو) هغه پاچا وليد چې تر ورستۍ ورځې پورې یې له ظاهري عظمت سره مينه لرله، دی په دغسې يوه تخت ناست و چې په نازکو طلايي ورقو پوښل شوی و تاج یې په سر و، د مرغانو ښکلي بڼې يې په تاج تومبلي وې او د ډېرې قيمتي جامې یې په ځان وې؛ جواهرات یې له ورايه ځليدل، او په هغو کې د کوه نور الماس ښه ښکاره و» (۱)

دا هغه وخت وچې شاه شجاع له خپل رقيب ورور محمود ميرزا او وزير فتح خان څخه د مملکت په لوېديځ کې په سختۀ اندېښنه کې و. او د خارجي سياست پروايي چندان نه ساتله سره له دې هم ده په يوه خاص ملاقات کې الفنستن ته وويل چې دی شخصاً دې ته حاضر دی چې د دوی پېشنهاد ومني او ښکاره يې کړه چې د خدای رضا په دې کې ده چې انګلستان او کابل په يوه دايمي اتحاد کې سره يو شي. (۲) په دغه وخت کې هندوستان ته د فرانسې خطر له منځه تللی و او د الفنستن هيئت خپل لومړنی اهميت له لاسه ورکړی او الفنستن ته د هندوستان د ګورنر جنرال لارډ منټو په نوي هدايت کې وويل شوي وو چې په هغه حال کې چې د شاه شجاع له خوا د مشخصو تعهداتو غوښتل ضروري شي کوم هغه کومک چې «زمونږ له خوا د ده ته د هغه وعده ورکول کېږي بايد وسلو، نظامي ذخيرو او توپونو ته منحصري شي نه د لښکرو استولو ته» (۳) سره له دې هم له ډېرو خبرو اترو وروسته د الفنستن او شاه شجاع ترمينځ يو تړون لاس ليک شو. د الومړی تړون و چې د افغانستان او يو اروپايي هېواد ترمنځ لاس ليک شوی. خو په دغه تړون کې هم، لکه په ځينو وروستيو معاهدو کې چې د برتانيې او افغانانو ترمنځ امضا شوي وې، افغاني واکمن تېر ايستل شو. د دغه تړون په دغسې يوې غلطې جملې سره شروع شوې چې ګواکې فرانسه او فارس د افغانستان په ضد سره يو شوي دي. خو حقيقت دغه نه و. په دغه تړون کې برتانيې له افغانستان سره تعهد وکړ چې د دغسې اتحاد د خنثې کولو د پاره په کابو اقداماتو لاس پورې کړي. برتانيې ژمنه وکړه، چې د دغه کار د ترسره کولو د پاره مالي لګښت ترڅپلې وسې پورې په خپله غاړه واخلي. د تړون په نورو مادو کې د دواړو دولتونو ترمنځ

---

۱ - جان کی، د افغان د جنګ تاريخ لندن، ۱۸۵۱، لومړی ټوک مخ ۸۷.

۲ - پورتنی مأخذ، مخ ۸۷. ۳ - د جان کی یاد شوی کتاب، مخ ۸۵

د دوستی ذکر وشو او ولیکل شوه چې «د بیلتون دیوال باید د دوی ترمنځ لرې شي، او د دوی باید په هیڅ وجه د یو بل په چارو کې گوتې ونه وهي، او د کابل پاچا باید هیڅ فرانسوي ته اجازه ورنکړي چې د ده په قلمرو کې ننوځي.» (۱) په عین حال کې شاه شجاع د خپلو لویو درانیو سردارانو په ذریعه کوښښ وکړ چې د خپل رقیب وروړ په مقابل کې مالي مرسته ترلاسه کړي خو په دې کې موفق نه شو، سره له دې هم د هیئت په مقابل کې د ده په سلوك او روش کې کوم تغییر رانه غی ترڅو هیئت د جون په میاشتې کې بیرته را وان شو. درې ورځې وروسته له هغه دغه تړون په کلکته کې د گورنر جنرال له خوا هم لاس لیك شو، خو د چا خبره د هغه د قلم رنگ لا وچ شوی نه و، چې شاه شجاع په نمله کې ماتې وخوړه، او واکمني یې د شاه محمود په نفع بایلله له دې پېښې سره د پېښور تړون هم د تل د پاره له اعتبار نه ولوید خو د هیئت یوه دایمی نتیجه همدغه کتاب دی، چې دلته یوځه بحث پرې کیږي .

دالفنستن په هیئت کې ملکی ماموران، انجینران، د سروې متخصصان او نظامی منصبداران شامل وو، او پیاده او سوارو عسکرو سره یې ټول شمیر څلورسوو تنو ته رسیده. دا هیئت په دوو لحاظو سره دومره لوی او متول شوی و. یو دا چې انگریزانو غوښتل چې د افغانستان پاچا چې د هغه نفوذ په هندوستان کې ښه خپور و تر تاثیر لاندې راولي هیئت د همدغه منظور د پاره په پېښور کې دومره پیسې ولگولې، چې په کلکته کې یې انگریزان حیران کړل. بله دا چې انگریزانو وغوښتل د همدغه هیئت په ذریعه د افغانستان د حکومت او ولسونو په باب اطلاعات ترلاسه کړي. هیئت د خپل توقف په شپږ میاشتنی موده کې په دې کار بریالی شو. دالفنستن د اطلاعاتو منابع مختلف وو. ده پخپله دقیقې مشاهدې وکړې، البته دی په ټول افغانستان کې ونه گرزېد، او یوازې په پېښور کې یې شپږ میاشتې تېرې کړې، خو پېښور د درانیو پاچایانو د دوهم مرکز په حیث د ژمي یو لوی ښار گرزېدلی و، چې هلته د هر قوم او ولس عادي او ممتاز خلك اوسېدل او الفنستن د دغو ډلو له افرادو سره اوږدې لیدنې کتنې وکړې، ترڅو د هغو په نتیجه کې تر دې حده له پښتنو سره علاقمن شو چې یوه ډله پښتانه یې له ځان سره کلکتې ته یوتلل، او په هغو کې کسبگر، ملایان، او شاطران هم شامل وو. د ده د معلوماتو بله منبع درانی سرداران وو، ده له دوی په تیره له ملایانو سره په رسمی او خصوصي ډول ډېرې مرکې او مجلسونه وکړل میلمستیاوې یې ورته وکړې او میلمستیاوو ته یې لاړ، او په دې ډول یې هم په خپله د دوی سلوکونه مطالعه کړل، او هم یې معلومات ترینه حاصل کړل. دالفنستن بله اطلاعاتی منبع مخبران وو.

۱ــ جان کی: د افغان د جنگ تاریخ لندن، لومړی ټوك مخ ۸۹ .

ده دافغانستان لرې اونژدې سيموته رپوټ چپان واستول ، دهغه وخت کافرستان اوهزاره جات چې دنورو په مخ خلاص نه وهم دده له پامه ونه غور څیدل .
ليکلي شوي اثار دده د کتاب بله منبع تشکيلوي ، چې په هغو کې اېين اکبري، بابر نامه ، ملفوظات تيموري ، دفرشته تاريخ ، دابن حوقل او کروشنسکی اثار، انگريزي او فرانسوي سياحت نامې ، برهان قاطع ، فرهنگ ابراهيم شاهي ، تاريخ مرصع ، دخوشحال خټک ځيني اثار اودامې نور ډېر مهم دي . هغه ليکنې چې ترهغه وخته د بنگال په اسيايي جور نال کې دافغانستان په باب شوې وې، هم دده له نظره تيرې شوې دي . خودانه ده معلومه چې ده به له هغو رپوټونو نه استفاده کړې وي چې دختيځ هند دشرکت له خوا د افغانستان په باب راټول شوي ، اودفارسي دتقويم په نامه په پولو مجلداتو کې جمع شوي . اود ډانيو ددورې په باب تراوسه هم يوه ډېره مهمه منبع گڼله کېږي .
له راغونډو شويو اطلاعاتو نه الفنستن ددوو هډنونو پاره استفاده وکړه ، يوهې دخپل حکومت د پاره يومفصل راپور برابر کړ ، اوبل يې هغه کتاب دی ، چې د لوستونکو مخې ته پروت دی . له بده مرغه تراوسه پورې چا دده له رپوټ څخه علمي استفاده نه ده کړې . په دغه رپوټ کې احتمال لري هغسې اطلاعات اوموضوعات وي چې په کتاب کې نه وي ، ممکن رپوټ يې تر کتاب نه لا مفصل اوجامع وي ، اودېوه تحقيقي مونو گراف دليکلو پاره يوه ښه موضوع شي .
په کتاب کې له منابعو او اطلاعاتو څخه دالفنستن داستفادې طرز ساده اوسطحي نه دی . هسې نه ده چې ده دېوې موضوع په باب تش اطلاعات سره ټپلولي، اودانگلستان دېوه مورخ کالنگ وود په الفاظو «دبياتي اوسريښ» تاريخ يې کښلی وي ، اويايې دېوه جورنالست اوجذباتي ليکوال په حيث هنگامه جوړوونکې ليکنې کړې وي .
په دغه کتاب کې الفنستن دېوه مدقق عالم په شان ځان اوچت کړی دی پدې چې دی دخپلو اطلاعاتو ثقه توب ته ځيرشوی ، تول يې چا ن کړي ، اوهغه يې ترېنه غوره کړي دي چې دده په نظر سم او مهم ښکاره شوي دي . د کومو په باب چې دی پوره متيقن نه و ، اوورته مهم بريښيدل هغه يې له منبع ، راوي ، اوخپلې تبصرې سره ذکر کړي دي په دې ډول ده هغه څه ته چې دهرعلمی اثر بنسټ تشکيلوي توجه کړې اوپه دې ډول يې خپل اثر باوري او مستند کړی دی . خودی دعلمي اثر په دوهم پړاو کې چې هغه له او مو مواد و او معلوماتو څخه دېوه منطقي ترکيب اوطرح جوړول دي پوره بريالی نه دی راوتلی په ځينو برخو کې دده اطلاعات په مربوطو ځايو کې په دغسې ډول نه دي ځای شوي ، چې يوه پوره منطقي طرح او واحد تر ينه جوړ شوی اوسي ، مواد په ډېرو برخو کی اوسه اودرپوټ

پهشکل ښکاري . خو دغه ئيمکر تيا په هغه . خه سره چيره شوې ، چې افاقي توب وو ته وايه شي . په بشري علومو کې په تيره په تاريخ کې يوه افاقي توب تر اوسه ليدل شوي نه دی . ممکن يو ورځ دغسې وشي خو هغه اوس هوا يد يال دی سره له دې هم انسان اوس د دغسې بصير تو نو خاوند گر زيدلی ، او دپلتنې دغسې لارې پې ايستلي دي چې په هغو سره علم له پروپا گند ، تلقين او عندي ليکنو څخه په واضح ډول بېلېدلی شي ، البته دالفنستن په وخت کی انسان د پوهې دغسې سطحې ته چک شوی نه و ، خو هغه شرايط چې د هغو په رڼا کې الفستن خپل دغه کتاب ليکلی دده دليکنو له افاقي توب سره بې مرسته کړې ده په هغه وخت کې دافغانانو او انگريزانو ترمنځ تصادمات پېښ شوي نه وو ، دوا ړه ولسونه له يو بل نه لوې پراته وو اودد وی حکمتونو د بېلو بېلو دلا يلو له مخې ديو بل د و ستی غو ښتله او د ا نگر يز حکومتي عما لو ځان د يته اړ ليده چې د افغانستان جامعه ، ولسونه ، دولتي تشکيلات تاريخ او ثقافت څنگه چې وو هغسې وپېژنی ، ترڅو په آينده کې له افغانانو سره موفق برخورد وکولای شي . الفنستن د يوه شخص په حيث د دغه مقصد د پا ر ه شايد تر نورو ښه غوره و ، لکه څنگه چې دده په ژوند ليک کې ښکاره شوه ، الفنستن تر يوه استعماري عامل نه زيات عالم و ، ده په ٤٧ کلنی کې چې د بخې ځوانی او قدرت او جاه طلبی وخت دی دولتي قدرت پر ېښود او خپلو مطا لعا تو ته يې د مر گ ترورځې دوام ورکړ . په بل عبارت دالفنستن د دغه علمی ميلان په سبب دده ليکنې د افغانستان په باب له شخصي رجحا نا تو څخه خلاصې دي او ده زيا ر ايستلی دی چې خپلې ليکنې د تجربي مکتب يا امپرسيزم (empiricism) په بنا وکړي چې علم له انسا نی ذهن څخه د باندې د موادو او حقايقو په استناد يو منطقي ترکيب او طرح گڼي اومشاهد اود مشاهدې موضوع يو له بل نه بېل بولی سره له دې هم د ا سې باېدونه گڼله شي چې دالفنستن تولې ليکنې په هر ومرو د افغانانو په خو ښه او ذوق وي ، ده خپل کتاب په اصل کې د منقدو اروپا يي لوستونکو د پاره کښلی ، لدې امله انتقادي ، مگر متوازن دی . انگريزان په عمومي ډول د خپل ولس په باب هم همدغسې انتقادي ليکنې کوي؛ داد دوی د ثقافت يوه خاصه ده ، مگر هغه ا نتبا ه چې په عمومی ډول د افغانستان په باب د الفنستن له کتاب څخه حاصلېږي ، ښه مساعده ده .

دالفنستن د کتاب يو بل خصو صيت جا معيت دی . په دغه اثر کې هم حکو متی تشکيلات شرح شوي او هم دجامعې تولې ډلې لکه درباري اشراف او سرداران ، خانان ، زميندا ران ، دهقانان ، زراعتي بزگران ، اجوره کار ا ن ، شپا نه ښځې ، کسبگر ، دد وی له سلو کونو ، لوبو ، کوروڼو ، ژبو ، ثقافتونو ، او تاريخ سره بيان شوي دي . دافغا نستان ولسونه په قومی لحاظ هم شرح شوي دي . انسان په دغه اثر کې د خپل چا پير يال په ارتباط مطالعه شوی . په عين حا ل

کې، ځنګه چې پخپله الفنستن په يوې ټولې طبقاتي ټولنې کې پيدا شوی و، او له
طبقاتي مفکورو سره اشنا وو، په خپل دغه اثر کې يې د افغاني جامعې طبقات هم
ليونډير شرح کړل، نو په دغه اثر کې د افغانستان د سدوزيو د دورې سياسي
اقتصادي، اجتماعي او کلتوري تصوير کښل شوی دی. دا تصوير البته عمومي
دی، خو دا هغه تصوير دی چې په هيڅ ژبه کې د معاصر افغانستان په باب په
دغسې جامعيت سره نه دی کښل شوی. تر الفنستن نه د مخه يو شمير نورو اروپايانو
لکه کروشنسکی، جان هان وي، جارج فوستر، دوړن او دورې هم ليکنې
کړې، خو دغه ليکنې يا سياحت نامې دي، يا په خاصو موضوعاتو پورې اړه لري.
خو دا بايد وويل شي چې په دغه کتاب کې څومره چې د شرقي افغانستان په باب
معلومات ثقه او ډېر دي، د نورو سيمو په باب هومره نه دي.

د الفنستن کتاب لومړی اثر دی چې افغانستان يې لويديځې نړۍ ته
ور وپېژندلی دی. په خاص ډول دغه اثر، په تېره د الفنستن رپوټ، لکه
څنګه چې رومي يې ياد ونه وشوه، د افغانانو او انګريزانو ترمنځ د لومړي ځل د پار
د پيلتون د پوال له مينځه يوور. الفنستن شايد لومړنی انګريز وي چې ليدا پاسين غوښته
دي خواسيو کې يې د انګريزانو فعال کمه وصاړبتنه کړې وي، او په شعوري يا غير
شعوري ډول يې له معاصر غربي تمدن، په تېره د هغه له نظامي او استعماري اړخ
سره، د افغانانو د آشنا کېدو لاره خلاصه کړې وي. خو د دې هم بايد وويل شي
چې همدغه الفنستن د ګورنر جنرال لارډ ولسلي هغه سياست محکوم کړی
و، چې په ۱۸۳۸ کې په افغانستان باندې د انګريزانو په تجاوز منتهي شوی و.

د الفنستن کتاب د اوفاقي توب، ثقه توب، او جامع توب په وجه د دې سبب
شوی چې په افغانستان باندې د وروستيو غربي ليکوالو، په تېره انګريزي
ليکوالو له تعصب نه ډکې ليکنې تر زيات حده بې تاثيره شي. افغانستان په
نوسمي پېړۍ کې انګليسانو ته د غسې حيثيت لاره لکه چې ويتنام په معاصرې
پېړۍ کې امريکايانو ته لرلی دی. نو د حيراني ځای نه دی چې په افغانستان
باندې زښت ډېر کتابونه، اوړ پوټونه تهيه شوي دي؛ او د مولفانو په قطار
کې هنري راولنسن، والټر بېليو، او چلير لزمه ګريکر د تعصبي) او غلطي ليکنو
په سبب د پرمشهور دي. د دغو تواو ليکنو په مقابل کې د الفنستن کتاب د يوه
کلاسيک اثر په شان تل د هغو کسانو د غوره پاملرنې وړ دی.

الفنستن په درېد کلونو کې خپل نوټونه په يو نيو کې تنظيم او تصنيف کړل.
کتاب لومړی په ۱۸۱۵ او وروسته په ۱۸۴۲ کې په يو مځلنګري چاپ کې چاپ شو.
دغه چاپونه د يرې ښکلې او منقوشې تابلوګانې هم لري، او له دې امله يې د يوې
تاريخي توتي په حيث ارزښت هم پيدا کړی دی. په ۱۹۶۵ کې کله چې زه د لندن په
پوهنتون کې په زده کړه بوخت وم، د افغانستان په باب مې کتابونه لټول؛ يوه

وروسته په یوه پلورنځي کې د الفنستن د ۱۸۱۸ په یوه جلدي کتاب پېښ شوم، دهغه بیه شپېته انګرېزي پونډه ټاکل شوې وه (هغه وخت یو پونډ دوه سوه او شل افغانۍ وه چې د کتاب ټوله بیه څه د باندې دیارلس زره افغانۍ کېده). چې هغه د وروستیو دوه جلده کتابونو د بیې په نسبت نږدې شپاړس کرته ډېره وه.

د پلورنځي له مدیر نه مې په ډېر تعجب سره د دغې لوړې بیې پوښتنه وکړه، هغه راته په ډاډه زړه وویل چې د کتاب دغه چاپ له متن نه سوا یو تاریخي څېز ګرځېدلی، او ډېر شوقمن لري، په رښتیا هم په بله ورځ هغه کتاب هلته پاتې نه و په هر حال. د افغان او انګلیس له لومړي جنګ نه وروسته چې د افغانانو قهرماني د خپلې خاورې د ساتلو په باب نړیوالو ته ثابته شوه او دوی د وخت یو ډېر قوي استعماري طاقت یعنې برتانیې ته په دراماتیکې او بې ساري ډول ماتې ورکړه د الفنستن د کتاب د پاره هم تقاضا شدیده شوه. وروسته له هغه دغه کتاب څو ځلې په دوو جلدونو کې راووت او زموږ د پېړۍ په دغو څو وروستیو کالونو کې د دغه اثر دوه ځله د دوو بېلو خپرونکو له خوا خپور شو او ممکن ټولې نسخې یې ژر کونو ته رسېدلې وي.

دغه کتاب باید ډېر د مخه تر دې په پښتو او دري اړول شوی وای څه وخت چې څو کاله د مخه، په کابل کې د پښتو څېړنو بین المللي مرکز پرانیستل شو، د هغه آمر ډاکتر عبدالحکیم هلالي له ما څخه د دغه کتاب د پښتو کولو خواهش وکړ له بده مرغه د افغانستان د علومو اکاډمۍ په تاسیس سره د هغه د ترجمې کار ځنډي وګڼل شو، هغه و چې له مقدمې سره د کتاب لومړۍ برخه د ښاغلي پوهیالي نصرالله سوبمن له خوا په پښتو واړول شوه او دوهمه او دریمه برخه یې ما ترجمه کړه. مونږ د واړو کوښښ کړی دی، چې په ترجمې کې امین اوسو او مفهوم له روانۍ نه قربان نه کړو. سره له دې هم یو ځای بل ځای په تېره په مذهبي برخې کې ځینې ټکي او جملې او یو دوه وړې برخې حذف شوې دي بکره هیڅ برخه یې تحریف یا مسخ شوې نه ده. برسېره پر دې د مؤلف د ځینو ټکو په باب موږ په پای کې ځینو ټکو تبصرې هم اضافه کړې دي. هیله ده چې د کتاب دوهم ټوک هم ژر ترجمه او چاپ شي له ډاکتر دولت محمد لودین د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز له رئیس نه مننه کوم چې د کتاب ترجمه یې سرتر پایه لوستلې او د ځینو برخو او ټکو په باب یې ګټورې نظریې راکړې، چې ځینې یې په تشکر سره منلې شوي دي په پای کې د محترم فرهاد ظریفي او سعدالله له چاپي پاملرنې او د اهتمام په برخه کې د هغو له زیار اېستنې نه مننه کوم.

ډاکتر محمد حسن کاکړ

شیر شاه مینه کابل

د تلې ۳۰، ۱۳۵۸

سریزه

د هیأت د تیاری په باب:

په ۱۸۰۸ م کال کې د برتانیا حکومت پارس ته د جنرال گاردون له سفارت او نورو خبرګندونو څخه داښکاره شوه چې که فرانسه په آسیا کې د جګړې کولو لټه وکړي په هند کې برتانوي حکومت دا غوره بولي چې د کابل پاچا ته یو هیأت واستوي او دغه کار ماته وسپارل شو .

څنګه چې جوته ده د کابل واکمن ډېر مغرور دی او داسې ګڼل کېده چې د اروپایي ملتونو په باب نېک نظر لري، پرېکړه وشوه چې دا هیأت پوره پرتمین وي او په ډیلي کې دې د هغه د لوازمو له پاره ور ترتیبات ونیول شي. د دغه هیأت د برابرولو له پاره ټاکلي افسران او یو کسان انتخاب شول. دغه لاندني کسان د سفارت په هیأت کې وو :

ریچارد ستراچي (سکرتر)

فریزر. او. آر. تی الکزاندر د ختیځ هند د کمپنۍ له ملکي مامور ینو څخه (مرستیالان) .

میکورتر د بنګال د مؤسسې څخه (جراح)

بدرګه کوونکي قوماندان دا و :

د بنګال د یومې پلو عسکرو د شپږم کنډک له دویم ټولۍ څخه کپتان پیټمن سروې کوونکی دا و:

د بنګال د یومې کمپنۍ له پنځم کنډک څخه دویم برېډمن مکارتني د سپرو بدرګه والو عسکرو قوماندان او د بنګال د انجیرانو له ټولګي څخه دویم برېډمن ټیکل :

له بدرګه والو سره دغه افسران هم یو ځای وو.

د لسم کنډک له لومړي ټولي څخه کپتان راپراو دويم بريدمن هاريس ټوپچي. د ۲۷ کنډک له دويم ټولي څخه دويم بريدمن کنګهم، د شپږم کنډک له دويم ټولي څخه دويم بريدمن راس، د نهولسم کنډک له لومړي ټولي څخه دويم بريدمن ايروين، د بومبۍ کمپنۍ له شپږم کنډک څخه دويم بريدمن فتز ګيرالډ، د ۲۳ کنډک له دويمې ټولي څخه دويم بريدمن جه کوب .

له هيئات سره يوشمېر بدرګه وال افراد چې د بومبۍ سپرو عسکرو له پنځم کنډک او هوه د له نوري يې له شپږم کنډک څخه (سل تنه افراد) چې ټول دوه سوه تنه پلي او سل تنه غير منظم سپاره کېدل د يوه ټولي په څېر ملګري شول.

ترتيبات چې پای ته ورسېدل . هيئات د ۱۸۰۸م. کال د اکتوبر د مياشتې په دېارلسمه له ډيلي څخه وخوځېد. له ډيلي څخه تر کانونډ پورې چې نيږدې سل ميله واټن لري د پادونې ارتوا نشته ځکه تر دنوموړې سيمې د برتيانيا او کمپنۍ تر واکه شوې وه، که څه هم دولتي کړنه نده وه، خو دومره بس ده چې وويل شي دغه سيمه شګلنه ده. کانونډ ته په رسېدلو سره مونږ د بېديا لومړی نښې وليدې او هغو ته مو د پاتې احساس په هيله وو. له له دغه ځای څخه درې ميله وړاندې مو د ښکلنو غونډيو ته ورسېدو، د دا غونډۍ لومړی په بوټو پټې ښکاري، وروسته د بربنډو او لوڅو شګو ځانګړې (خالصې) خړې پادلي وې چې يو په بل پسې د سمندر د څپو په څېر ښکار يدې. په مخ باندې يې پادونو داسې نښې پرې ايښې وې لکه واوره چې ښوئېدلې وي. د هغو د پاسه د سرکو کرښې ليدل کېدې چې د ژويو په تګ سره جوړې شوې وې، خو له دغو لارو پرته زمونږ آسونه تر ځنګانه په شګو کې ښخېدل .

له کانونډ څخه زمونږ لېږدېدل د اکتوبر د مياشتې په ۲۱ نېټه پيل شول او ورو ورو د خپلې پولې (بريد) له سيمې څخه ووتو او د شېخاوتي سيمې ته داخل شو (د شېخاوتي نوم د راجپوتانو د هغې لوټمارې قبيلې له نوم څخه چې د ځای يې استوګنځی دی په دې اسيمه ايښودل شوی دی.) هر څومره چې مونږ وړاندې تللو د اسيمه هم بېدياکېدله. د اکتوبر په ۲۲ نېټه د سينګانا ((Singauna)) ښکلي ښار ته ننوتلو. دغه ښا ُنسته ښار له ډبرو څخه جوړ او د يوې غونډۍ په لمن کې شپږ سوه فوټه لوړ پروت دی.

په دغه سيمه کې مونږ د شېخاوتي د قبيلې له مشر راجا اوبي سنګ سره د پېژندګلوۍ کتنه او کړه. روبي سنګ په ځان ورکوټی او ستر کې يې غټې وې چې د ترياکو د کارولو له امله سرې ښکاريدې، د هغه ډېره پوره ته خواله کړه او تردوار و

غوښتونکي ارولي وه چې د ده ځیرونې او پروونکي کړو لې وه، کالي يې ساده، خوړېدل او کړه وړه يې د خپلو وطنوالو په څېر زړه راښکونکي وو، خودی د پرمؤدب او پرتا نو پانو ته يې در ناوی څرګند اوه.

ملاخو څله دی وليد، څوهروار د تر پاکو او پرنډې د کار او لوله امله يې څخه اونشه ښکار ېده. په حقیقت کې د تولو شيخاووتی سردار انو هم همدغه حال و او تول له ترياکو سره نشه اوروږدي وو، په نتيجه کې دوی پوازې د مطلق خمراو په حال کېدو (له نشې څخه خلاصېدل) او قفې ترمنځ د معاملې لپاره ور دي. له سينګا نا څخه تر جونجوانا پورې په دوومزلو (دميو) کې وا اوړسېدو. جونجوانا د پر ښکلی او سمسور ښاروو، په هر ځای کې يې ښو نه اوونې وې چې په ېږد يا کې د پرې ښې ښکارېدې. د دغه ځای د مشر انو شمير پنځه تنه او پر هر يو يې ځانته کلالوي، او کله چې په ولسي کار وکې د مرکې اړتيا وې وي، دوی د لته رالتو لېږي په هغه ځای کې ملځاور شيخاووتی مشرانو وليدل او دوی تول ساده خلک وو، په دوی کې يوتن شام سنګ نومېده چې نوم سری واوښه سلوک يې لاره، څو د خپو نورو له ستر ګو څخه د ترياکو نشې نښانې څرګند پدلې. د دغه ځای تول مشران سره د تره زامن وو او داسې ښکارېدل چې له يو بل سره په ډير صميميت ژوند کوي، خو مونږ لا له د غې سيمې څخه پوره نه و، ووتلی چې واميورېدل شام سنګ د رې تنه نور راجاګان په يوه سيمه سيمه کې ووژل، د اسې چې له هغو نه يې لومړی په خپل لاس په چاره وواهه.*

په شکوکې تر يوه نيم مزله وروسته له جونجوانا څخه د چورو د سيمې په لور روان شوو. د شيخاووتي سيمه موږ تو له شا ته پرېښو د له. د چو رو سيمه له شمال څخه تر سوېل پورې اتيا ميله اوږده ده. سوړېي تراوږ د والی لږ څه کم دی. د دغې سيمې سوېل ته د جيپور د راجا د ومنوون پروت دی او ختيځ ته يې د بريتانيا د حکومت له خوا ښکېل شوي ځمکې (مقبوضات) لويديځ ته يې د ابيکا نير ځمکې او شمال لويديځ ته يې د باتيې يانو په نوم لوتمار خلک وو چې په پياده تلو سره به يې لوتماري ترسره کوله. دوی د پياده لوتماری او د لرې او چټکو پرغلو له امله د پر زيات نامتو وو د دغه ځای شمال ته د هر يا ناميسه پرته د چې جا ړج تو ما س يکې سختې ښخرې کړې دي. که څه هم د ځای د بيدويا په څنډه کې پروت دی، خو پيا هم د پر سمسور دی چې نوم يې هم له شين والی (هريانا ـ شنه ځمکه) څخه اخيستل شوی دی.

* د غه راپور پاپه مبالغه آميز وي، ځکه له کلونو نو د زړو اسناد و نه څخه څرګندېږي چې ابو سنګ په ۱۸۱٤ م کال کې لاژوندی و.

دغه راز دا ځای د غارو یو په لر لو سره چې په وښو پټو سیمو کې روزل کېږي، د زمریو په درلودلو سره چې ښکې پیدا کېږي او د خلکو د مړانې او آزادۍ خوښو لو سرۀ ډېر نامتو دی. دا سیمه اوس د برتانویانو لاس ته ور غلې ده. په خپله شیخاوتي نومې سیمه شګلن میدان دی چې دلته او هلته د برېښې غونډۍ ښکې لیدلې کېږي، لږې او په لږ اوبه ناوړه ډول کښت سومی ؛ سره ددې هم دا سیمه ښوا وی ښارګوټي لري؛ لکه سیکور، فتح پور، کهاتري او ګوده.

په دغو ریګونو کې د بابل (Baubol)
کوریل (Kureel) (۱) او پوك ((Phoke)) (۱) لوی بوټي په ډېره پیمانه شول او شنېشو بیې ته ورته بوټي هم لږ ود پر لیدل کېږي. د غوښو پیدیا ته بل ډول بڼه ورکړې وه.

شیکاوتیان د جې پور راجا ته نظامي مرسته او باج ور کوي د هم دغه حکومت د مرستې په برکت وچې لږ څه پخوا دوی خپله اوسنۍ سیمه د کیامخانیو څخه چې آوښتي هندي قوم دی، په زور ونیوله. د شیکا وټي سیمې ته خومیله هغې خواته مو د بیکانېرو دراجا سیمې ته نږدې تللو. دغه راجا ښاهي دراجپوتانو د نورو پنځو تنو شهزادګانو څخه ډېر بې ارزښته وي. د جې پور او جاد پور راجاګان د ښاهسته او پخودولتو مشران دي. دا نډیور د راجا کم شوی قدرت ښائي دده د لوړشان او دغه د رناوي له امله چې ده ته ښوول کېږي، له کم ارزښتي څخه ژغورل شوی وي؛ خو د بیکانېر او جیسل میر دراجاګانو سیمې هوازې د اوسېدو وړ دي، نو ځکه د وګړو او طبعي شتمنۍ له پلوه کمزورې دي. د بیکانېر دراجا بودیجه یوازې پنځوس زرو (۵۰۰۰۰) پونډو ته رسېږي مګر څرنګه چې دغه راجا خپلو لښکروته د معاش په ځای ځمکې ور کوي، ده وکولای شول چې دوه زره آسونه او اته زره پلي عسکر ولري. دغه راز پنځه دېرش ۳۵ توپونه یې په توپخانه کې ساتلي وو. سره ددې چې زما له راتګه نه د مخه یې ماتې خوړلې وه او تاوانـونه یې ګاللي وو، بیا هم دده د دربار ډول ښود له چې د ده حکومت ډېر کمزوری نه دی. د شیکاوټي

(۱)- پوك یو ډېر شین بوټی دی چې څلور یا پنځه فوټه لوړېږي، پاڼې نه لري، ښاخونه یې تنکي وړې لښتې لري چې په دغه وروستي برخه کې وړې پاوانښکي هم لري. دغه وړې تر لښتو پاسته او له شیرې څخه ډك دي. دغه بوټي ګلان هم کوي چې بومیان یې خوري. ددا نود پټوکي په منځ کې یې مغز او تخم هم شته. دا بوټي داوښانو لپاره ښه خواره دي، ځکه په ښدیا کې پیداوبو د کموالي او اوږدې تندې سره مقاومت کولای شي. دا بوټي لومړی دکانونو په لوړه بڅ کې ولیدل شول او د ریګه په تو له تګلاره کې مو تر سترګو کیدل.

په لوړو ده سرحدي سيمه او په پای (نتيجه) کې د ده د سيمو په لوړې برخه کې چې موږ ورته ورسېدو د چوړو ښار پروت و چې ښايي د ده په قلمرو کې دوهم ښار او سي. د دغه ښار چاپېر چال له پراخه او خوار شاو خوا څخه پرته يو نيم ميل ته رسېده، سره ددې چې د پر بند وغونډيو په منځ کې پروت وو، بيا هم ښايسته ښکار يده. کورونه يې چوتره لرونکي دي. ټول کورونه او د ښار ديوالونه دواړه له سپينو او سوچه خښتو او يا چونې څخه ښکلي جوړ شوي وو. داخاوره د يوه پسته او د سپين پوډر په څېر توته توته کېږي او ځای په ځای ورسره چونه شيل (Shell) ګډوي.

دا ډول خاوره د بېديا په ځينو برخو کې د سترو توتو په څېر پيدا کېږي. د چوړو مشر د ښکلا ښوراجا ته د يوه بشپړ رعيت په ځای ور سره ترلې يا باج ورکونکي مرستندوی ګڼل کېږي.

که د شيکاووتي سيمه له هغې منطقې سره چې د شيکاووتي د لوېديزې سرحد ې کرښې او بهاولپور ترمنځ د ۱۸۰ ميلو په اوږدوالي پرته ده، پرتله کړو شيکاووتي داسې ورته برېښي چې د بېديا نوم په ور څخه ايسته شي (يعنې هغه سيمه چې د ۱۸۰ ميلو په اوږدوالي د شيکاووتي په لوېديز کې پرته ده تر شيکاووتي ډېره صحرايي او شګلنه ده. مترجم) حتی يوازې وروستی سل ميله مځکه يې د ځلکو، او بوا و بوټو څخه خوازه برېښي. له شيکاووتي څخه تر پوګول (Poogul) پورې منزل چې ټول ۸۰ ميله واټن کېږي د ډېرو شګلنو غونډيو او ناوو په منځ کې ترسره شو. د دغه ځای غونډۍ کټ مټ د سمندرګۍ په څاره په باد وسره جوړ و شوې غونډيو ته ورته دي، يوازې په دې توپير چې د دغه ځای د غونډيو لوړوالی ډېر او له شلو څخه ترسلو فوټو پورې دی، ويل کېږي چې د وی د باد ود اغېزې له امله خپلې ښې او موقعيتونه (ځای) بدلوي. داسې ښکارېږي چې په اوړي کې له هغو نه اوښتل په زيا تو برخو کې د ريګو د ښو ئېد ودتو پاڼ له امله خطرناک دي، خو کله چې ماد غه غونډۍ وليدې (د ژمي په وخت کې) داسې برېښېدلې چې ډېر ثابت او زيات پايښت لري ځکه د پوک، (Phoke) بابل (Baubol) بېر (Bair) او جوجوب (Jujub) اغزي لرونکو بوټو ترڅنګ يو ډول نورو ابڼه ور باندې شنه شوي وو چې ټول لو داسې ښه ور کړې وه چې کله کله شنې او زرغونې ليدل کېدلې. د دغو ډېرو شګلنو او پرنده غونډيو په منځ کې کله کله سرې له کلې سره هم مخامخ کېږي کورونه يې ګردی بوسې څېرې دي او تيټ ديوالونه او مخروطي ډوله بامونه لري او د جوار و دوږې ډلې په شان برېښي. د دغو کلو کورونه د بوټوله ډنډرو او اغزيو څخه جوړ شوي د ي د د غو کورونو په شاوخوا کې د اغزيو احاطې جوړې شوې دي چې يو کور له بل څخه جلا کوي او د دا اغزي د و مره وچ دي چې که په يوه خونه کې اور ولګېږي نو ټول کلی به په يو څو دقيقو کې ايره کړي.

د دغو خوا روکاښو په شاوخوا کې د کروندو څو وریږي تو تې شته چې د باران او . پرخې څاڅکو ته اړې دي . په دغو کروندو کې دباقلې ، باجوار ، د ولونه او ، باجرا (Holcaspicatas.L) (Bajra) چې د پرلې حاصل کوي ، کرل کیږي . سره د دې چې وروستنۍ وا ښه په زیاتر و ښند و سمکو کې په بنه شان لوییږي ، خو دلته په دیر کړاو سره هر یو تی یې له بل څخه څوفوټه لیرې وده کوي . څاګان زیاتره ژورا ودرې سوه فوټوته رسیږي ، حتی ماليوولمدچې ۳٤٥ فوټه ژور والی یې درلود . ددغه زیات ژور والی سرهسره د څینو څاګانو قطر یوازې دریو فوټوته رسیده هرې یوې څاه یوې لیرې اوبه درلودې . د دوو غوایانو یو بکار اچولو سره کیدای شو ل چې د یوه څاتو لې اوبه په یوه شیبه کې وا یستل شی . او په یې ما لکینې او ښیاك یې زیات نیښونکي دی . د څا او به لوړا ایستلو وروسته په داسې د نډو او ذخیرو ځایو کې تشوي چې ترشا وخوا یې تې تاودي . کله چې زموږ د له (هیئات) یوه ګلی ته ورسیده ، نوسملاسي یې دا دول یودنډ له ځنډلو وروسته وچ کړ . څاګان په تیرو ګردچا پیره سنګاریدي . یومې خلك خپل څاګان په تختو سره پوښي او د دغه تختو په سر شګې کوته کوي څو په دې توګه د دښمن له سترګو څخه پټ شي . په دغه سیمه کې هندوانې دیرې او به لري . داډیره دهیښتا خبره ده چې په دغه د یرم وچه او بېدیابې سیمه کې د هندوانې له حادې د نډر او تا نګ څخه د اسې هندوانې پیدا کیږي چې درې و اخلور فوټه محیط لري .

هندوانې کرل کیږي او ښایې چې ، یو کرنه (زراعتي) زیار هم وغواړي ، خو د دوی بوټی تمت و پرک دي او داسې بریښي لکه چې وحشي شنې شوې وي .

تول او سیدونکی یې جتان او پاسنی پارکی (طبقه) یې دراتهور راجپوتان دي . جتان په ونه ټیټ او تور پوستکی لري ، له څیرو څخه یې خوارې اوبې وزلې بریښي ، په داسې حال کې چې راجپوتان ښیتلي ، یوزې بې بوخی اومهودي د وله څیرې لري . دوی د برکبرجن اولټ دي اوزیاتره یې د تریاکو د استعمال له امله نشه وي .

غوایې او اوښان د دغې سیمې غوره څاروي دي چې د ګلو په څیر ساتل کیږي او د سپرلي او باروړلو لپاره یې کار وي حتی په یوې کې هم ترې کار اخلی . صحرایي موږکان په پوکول کې خوراېي شمیره اود باد ونې وردي . دا دول موږکان د خپل شمیر له پلوه د یادونې وړدي نه د تنی له امله . په دغه کلکه ځمکه کې یې شمیره څاروته جوړوي دا په حقیقت کې د سپرو لپاره ترشګوهم زیانمن دي . دغه موږك ((Squirel)) دلکی په پای کې د وهیښتا نو یوه غوټه (ګیډۍ) لري او د پرځله د کانګاروه* ((Kangaroo)) په څیر نیغ کښیني چې د مخ پښې یې هم په بل را تورې شوې وي . دا موږك دجربووا (یو دول موږك د وله حیوان) سره توپیر لري ، خو

* کانګارو یو حیوان دی چې په افریقا کې د بر پیدا کیږي .

لېوړو کې او په تنګه کې تولې ښې په کار اچوي. دا حیوان نه ږوازي په بېديابې سیمو کې شته، بلکې د جمنا لویدیځ خوا ته په ټولو یکینو ځمکو کې لیدل کېدای شي. ښکروو غرڅه (ګوزن) ګوره خر او وحشي خره هم په دغه بېديا کې لیدل کېږي چې د جاب (Job) (۱) په کتاب کې د ېرښه بیان شوی دی. دا خره زیاتره وخت ږوازې وي خو په ګلو کې هم لیدل کېږي. دا حیوان تر خره کچر تعزیات ورته دي مګر ښې له مخې خر کڼل کېدای شي. دا خره نه ږوازې ډېره ارزان او بې زړه دي، بلکې د چا ښکي له پلوه ډېر غوره برېښي. په چابکه ځغاسته چې د دغه ځانګړتیا ده، کولای شي خورا تیز آس هم شاته پرېږدي.

ګیدړې هم په دغه سیمه کې پیدا کېږي، که څه هم دغه ګیدړې زموږ له ګیدړو څخه وړې دي، خو د هند تر ګیدړو اوږدې دي. د شا رنګ یې نصواري و زمه او زموږ د ګیدړو په څېر دي، خو ښپو او ګېډې رنګ یې تور او کله کله سپین وي. د دغو رنګونو او نصواري ترمنځ بېلوونکې کرښه خورا څرګنده ده او داسې برېښي لکه چې یو ډول یې ترخېټې پورې په تور رنګ کې ننه ایستل شوي وي او بل ډول یې داسې چې په سپین رنګ کې ترخېټې رنګ شوي وي.

له پوکول څخه تر بهاولپور پورې د سلو میلو په اوږدوالي یوه صحرایي سیمه خوره شوې ده چې د مخ خاوره یې ډېره کلکه او د لاندنۍ ځمکې په نسبت متینه (کلکه) ښکاره کېدله، کله چې زمونږ آسونه له دغې ځمکې څخه تېرېدل، نو له ځمکې څخه به داسې یو غږ پورته کېده لکه چې آسونه په تختو باندې روان وي. د دغې سیمې په ځینو ځایو کې وړې غونډۍ د ریګونو د ښوېدلو او لېږدېدلو له امله منځ ته راغلي وي، د دغو غونډیو پر سر ځینې بوټي لکه سپاندنه، پوک (Phok) او لانا (Laana) (داسې یو بوټی دی چې له سوځېدو وروسته الکل ترې لاس ته راځي.) لیدل کېدل. دغه بېديا له زړا تو بوټو څخه بې برخې وه، حتی له دوو ځاګانو او د موجګور له ډله څخه پرته دلته نه اوبه وې او نه د استوګنې ځایونه لیدل کېدای شوای، په دې ډول د بهاولپور تر شپاړس میلې پورې بې د کاروان له لارې بلې خوا ته موږ ونه کړای شول چې لاړ شو ځکه همدا لار چې موږ پرې روان وو د سفر د امانتیا یوازنۍ لار وه.

---

(۱) وحشي خره چا آزاد واستول یا چا د وحشي خرو وندرې سستې کړې بېدیا مې د دوی کور او شنه او بې کتی د اک مې د هغو استوګنځی وګرځول. د ښار له ګڼې ګونې څخه کرکه کوي او د چلوونکي چیغې ته هیڅکله پام نه کوي، د غرو لمنې یې څرځای او په هره یوه شنه ځای پسې ګرځي او پلټنه کوي.

جاب (۳۹) فصل ۵- ۶- ۷- او ۸.

دا هم جوته ده چې له داسې وچې او بېديا څخه چې ما ياده کړه تېرېدل څه آسان کار نه و، موږ له لومړي سر څخه د بېديا د تېرېدو لپاره ترتيبات نيولي وو، او له دې ترتيباتو سره په کنوندکې اوښان په کرا ونيول شول چې اوبه او نورې ارتيا وې يوسي او په دې ډول زموږ د اوښانو شمېر شپږ سوو ته ورسېد او له دوی سره دولس يا ديارلس پيلان هم وو. د اوبو د لېږد ولو لپاره موږ د ژېو او غرګو څخه استفاده وکړه، دغه راز مو څېنې ستر ژې چې د غوايانو له څرمنو څخه جوړ شوي وو له ځان سره واخستل. دا ډول ۲٤ ستر مسين لوښي چې هوا زې له دوو څخه يې د اوبو بار بشپړ کېده هم د سفر د تجهيزاتو په لړ کې زموږ سره وو. په دغو لوښو کې د ژېو په نسبت اوبه ښې خوندي کېدلې، له بلې خوا په دغو کې د اوبو خوند هم نه خرابېده، دا ډول لوښي د پر دهندې سپاهيانو لپاره جوړ شوي وو، د غاروبو د اوبو کولو په برخه کې مو د اوښانو ته ډېره پاملرنه نه کوله ځکه دا لوی حيوان د تندې په مقابل کې بې ساری مقا ومت او حوصله لري.

هغه ښځې چې زموږ سره په هيأت کې شاملې وې، د لوېديځ هند د راجستان د بېديا او د ناوړو شرايطو له امله په چوروکې تم او بېرته له ساتندو يانو سره واستول شولې او زموږ زيات شمېر نوکرانو ته هماغه وخت اجازه وشوه چې بېرته لاړ شي، خو دا کار زموږ د پاتې نوکرانو په خدمت کې موږ ته زياتوالی رانه ووړ ځکه له دوی سره د بېديا نو دومره وېره پيدا شوې وه چې د هرې ډلې سړي د شلو او دېرشو تنو په شمېر هغه وخت تښتېدل چې موږ دومره لېرې شوي وو چې دوی ته بېرته تلل به ناممکنه وګرځېدل.

دغه راز د بوټي د قبيلې د لوټمارې او د بېکانېر په سيمه کې د شخړو پېښل کېدل هغه عوامل وو چې د هيأت ستونزې يې لا پسې زياتې کړې. په دې ډول دې ته اړ شو چې د شيخاووتی په سيمه کې سل تنه سپاره او پنځوس تنه پلي پيش خدمتان له ځان سره ملګري کړو. دغو خدمتګارانو د کاروان اوږده لېکه څارله.

دا ټول تياري چې بشپړ شول د اکتوبر د مياشتې په دېرشمه نېټه د چورو له سيمې څخه وخوځېدو او شيخاووتی ته ورسېدلو پورې به د شپې له سخې مو منزل کاوه. په اکثر ډول مو د ورځې په دوو يا درېو بجو وري بارول، خو زموږ منزل ډېر وخت نيوه او زموږ د اوږده کاروان وروستۍ برخه د شپې تر د ولسو او يا يوولسو بجې پورې د خيمو ځای ته رسېدله. په ډېرو وختو کې موږ خپل ټاکلی منزل ته ناوخته رسېدلو. يو يا دوه واره موږ مخکې له دې چې خپل پړاو ته ورسېږو، د ورځې رڼا خپره شوې وه. زموږ منزلونه به د پړاو اوږده وو. د پړ

اوږد مزل موشپږو ويشت ميله او لنډ مزل به مو پنځلس ميله و. سره ددې هم زما ملګري له اوږده مزل څخه دومره ستومانه نه پرېښودل.

کله چې به کاروان سره نږدې شواو داوښا نو کرې به سره ونښتله نواوږد والی يې دوو ميلو ته رسېده. هغه لاره چې موږ ورباندې تلو، د غونډ يوله اصله ډېره کږه وږه وه، د تنګ لاره دومره نرۍ وه چې که دوه اوښان به څنګ په څنګه سره ودرېدل نو لاريه بشپړه بندېده له خو که يو اوښ به ګرځنډ په لارکې ودريد نو ټښې يې هرومرو په ريکو نوکې دواوريه خيرنو تلې، يعنې د لارې پلان والی دېر لږ و او کاروان د يوې ليکې په څېر وورباندې تګ کاوه. که د کاروان په سرکې به لږه ګډوډي راغله د کاروان ترپايه پورې دا حالت اوږد يده، يعنې که کاروان دسراوښ به ودرېدنو د کاروان ليکه ترپايه پورې درېدله، له بلې خوا د کاروان دسراوښ له پاتې اوښانو څخه دومره ګړندی تلای نشو، څکه دسراوښ حرکت دشاداوښ د تګ تابع و. که داسې نه وای نو د کاروان ليکه شلېدله او يوځای کول يې ګران و.

ددې لپاره چې د کاروان ګرې له يوبل څخه ونشلېږي، نو يو ډول علامه د(ډول) په وهلو سره څرګېدله چې دهغې په اورېدلو سره به کاروان خپل تنظيم ساته، يعنې کله چې به دودرېدلو نښه په ډول کې وغږول شوه، نو ټول کاروان به په يوځل ودرېد. له بلې خوا د کاروان په سرکې وخت په وخت يوه شپېلۍ غږول کېدله څود کاروان د شاکسان د کاروان جهت او طرف تعقيب کړای شي. د ريګ د زياتوالي له امله زما ملګري او عمله ډېر ستړي شول او موږ دې ته اړ شو چې د پلمو لپاره په نوبت او وار سره اوښان دسپرلۍ لپاره وټاکو هر اوښ د دوو تنو پلمو دسپرېدو لپاره شو د غه راز موږ د نارو غو کسانو لپاره داوښانو کجاوې درلودې. د لارې په اوږدو کې يو ډول بې ګټې اغزي شنه شوي ووچې د تنګ په وخت کې يې کاروان ته زيان رسا وه، خوسره ددې هم ددغواغزيو تخم دهيات دخوراکي شيانو په څير او و اښه يې دڅارو ايو دخوراك لپاره ګټوروو. داويو لږوالی زموږ ستړ کړاو ګټل کېده، خو سره ددې هم دهند وانو شته والی په دغه دښتي سيمه کې زموږ لپاره دتندې دماتېدو غوره نعمت و، دهندوانو خوړل نه يوازې د تندې د ماتېدو سبب ګرځېده بلکې د هيا ت شاملو کسانو رو غتيا ته يې هم ګټه رسوله. سره له دې چې پرلپسې ستړ تياوې د ناوړه او بو څښا ك او دهند وانو زيات خوراك ددې سبب شو چې زيات کسان په يوډول کمزورو تبو او اسهال اخته شي، د غه ډول ناروغۍ په ځينو کې دومره زيان ښونکي شوې چې موږ د مجبور يت له مخې په رنځ اخته د يرش تنه په نا توسر (په بيکا نيرکې هوورو کي کلی) کې پرېږدو،

په نتیجه کې د بیکانیر په هېواد کې د یوې اوونۍ په تېرېدو سره موږ ځلو پېښت تنه لهلاسه ورکړل. دغه رازدشپې اوږدې تودوخې توپیر په دغه سیمه کې د مړینې دزیاتوالي لپاره ناوړه شرایط پیدا کړل. حتی انګرېزي ځوانانو د شپې دېخې څخه په عذاب وو، کله چې به شپه شوه دوی خوښ وو چې او ربل کړي اوځانونه ورته تاوده کړي.

دروځې تودوخې دومره زیاته وه چې حتی موږ به په سهار کې لمړنو سړي شملې په خپریدو او راختلو سره راویښېدلو او تر لمر پر یوتلوپورې په تناره کې اېښېدلو.

داهم باید ووایو چې اروپاییان د پېډ پادناوړه ناروغیو سره سخا مخ نه شول زموږ یوازینۍ شکایت دستړګو پر سوب و.

بیکانیر ته موږ په راتلو کې له لیوپېښو سره مخامخ شو و. دوهواره مو دیرغلګرو او لوتمارود لي ولیدلې، خو زموږ په مال پالمي یې حمله ونه کړه. دغه راز ځینو خلکو خپله لاره ورکه کړه او دیوې پادووځولپاوه په بیدیا کې سرګردانه وو، دوی ته ددې خطروچې کې د شاا وخوانږدې کلیوا و استوګنځیو ته دکومک او رهنمایۍ لپاره ورشي، خوکلیوال دوی ته لار ونښیي په مقابل کې به دبیدیا او سېدونکي دخپل ځان له ویرې هغوی ووشتل او پایې شړل. په دې ډول دبیکانیر په لاره کې موږ له یوشمیر ستونزو سره سخا مخ وو.

بالاخره د نوامبرد میاشتې په پنځمه نیټه موږ د یوې ویجاړې لارې په منځ کې د بیکانیرد یوه ښار دیوا لونه او برجونه ولیدل. دغه ښار په صحرایي سیمه کې یوه پر باعظمته اوستر ښارو چې د بیدیا پنه هې بل ډول اړ ولې وه. کله چې موږ خپل تاکلي تم ځای ته ورسیدلو نوپه کمپ کې دا مباحثه پیل شوه چې آیاد هلی ستر ښار دی او که بیکانیر؟ په هرصورت له یوې څه آشنایي او پلټې وروسته دا سوال حل شو، دا ښار دیوه شکلي پاخه برجداره دېوال په واسطه چاپېر (احاطه) شوی ود دېوال په اوږدو کې هندي کنګرې هم ځای شوي وې. په دغه ښار کې ځینې لوړې ماڼۍ چې یوې یې جګ برج او په یوه ګنج کې پخه کلا درلوده، ودانې شوې وي. د دغه ښار ښایسته کوروته په شنوونو کې پټ وو. دبیکانیرد ښار ښایست نه یوازې د ښار په دننه کې و، بلکې د ښار څخه بهر ښایسته کورو نه ودان شوي وو.

په دغه وخت کې بیکانیرد پنځو پیلو لښکروتو یرغل لاندې راغی. د دغو لښکرو په لړکې یو هم د جود پورد راجا لښکر و چې شمېر یې ۱۵۰۰۰ تنه تکړه سپاهیان وو او ددغه ښارڅو میلوته یې ځانونه رارسولي ؤو. یو ه بله ور ته نظامي قوه هم د ښار څو میلوته راپیدې شوې وه. نورو لښکرو هڅه کوله چې

د بېلو بېلو لارو څخه د بيکانير د ښار د نيولو لپاره ځانونه را ورسول (۱) يوه د له مست او ډاړونکي اسمان خوشي شوي وو چې د دغه ښار شا و خوا سيمو چې هلکې د بيکانير څوندي پوښار پروت وخصل، کښت او کرښې لوټ کړي. له بلې خوا د بيکانير راجا د خپل پايتخت په لس ميلي کې ټولې ځا ګانې د خاورو نه ډ کې کړلې څو دښمن د اوبو له پلوه تنګ شي.

د دغه حالت زموږ د هيأت لپاره ناوړه شرايط برابر کړل او موږ په دې فکر کې وو چې که په يوولسو ورځو کې له دغه ځای څخه ځانونه و باسو بختور به وو.

په دغه وخت کې د دښمنو د لوترمنځ شخړې پيل شوې. د بيکانير سره نږدې دير غلګرو عسکرو يو کوچنی لښکر د بيکانير د راجا د لښکرو له خوا د ماتې سره مخامخ شو. يو ډله يرغلګر د ختيځ له لورې څخه د ښار په خوا راد مخه شول او غوښتل يې چې د يوې بلې ډلې سره د دښمن په مقابل کې ځان يو کړي، خو د راجا لښکرو ماتې ورکړل. په دغو جګړو کې زيات خلک ووژل شول او ډېر زيات شمېر غوريرغلګر په بريالي توب سره وتښتول شول. د دغې جګړې ننداره زموږ د کمپ څخه ښه کېدله او زما يو ملګري دا حالت په ښه شان داسې بيان کړ: په يوه ځای کې يوې ډلې يرغلګرو د مخه کړې وا او ځغلاوه يې، په بل ځای کې څو تنو کسانو ډار کړې کراچۍ رواني کړې وې، د لته په آس سپرو سواره يو نيول شوي او بند يزې په سرچخولو، په هغه بل ځای کې پنځلسو يا شپاړسو غوايانو يو توپ په ډېر ګړو کې په کراره کشولو. د راجا يوې ډلې عسکرو په بېلو بېلو برخو کې له خپل ځان سره لوټمار يرغل نيول او په خوښۍ او د بريالي توب په روحيې سره يې د ځان سره روانول.

په عين وخت کې د وارو د دښمنو لوړ له پسې زما څخه غوښتنه کوله چې د دوی په کټه په جګړه کې برخه واخلم. د جودپور جنرال پرماتينګار کاوه چې د دغه ښيمی ته لار شم او له ده سره د راجا په ضد په ميدان کې پرو دانګم. د دغه جنرال يوازې دا راته ښودلای شول چې که هر وړو د دې ملاتړونه کړم او له دغه کار څخه سر وغړوم، نو دا عمل به زما په زيان تمام شي، خو له بلې خوا راجا دا توان درلود چې زموږ د خاوريو خوراکي شيان چمتو او يا يې معطل کړي او دکو مې پر سر يې د يوه کتونکي په کومار لوسره چې هغه ځا زموږ په واک کې راکړي، يوازې يوه ورځ موږ ته ليره ناراسي هم و نه ښودله. په داسې ترخ کې چې زموږ واک په بشپړه

(۱) دا يرغل په هغه وخت کې وشو چې د بيکانير راجا په هغه جګړه کې مداخله وکړه چې د جودپور او جيپور د راجا ګانو ترمنځ د اوانه يې پور د شهزادګی د واده ګولو له پاره روانه وه

تو که دده په لاس کې و، خو دغه ډول څارنه د یوه اعتراض په ترڅ کې له منځه ولاړه او اوبه هرچېرې په نوبت سره ترلاسه کېدلې، څنګه چې موږ د سفر لپاره اوبه زېرمه کولې، نو مجبوراً به یې یو تن ساتونکی زموږ پرسر ودراوه څو د هیأت د دوو یا درېیو ورځو د تم کېدلو په وخت کې دلته اوښان د اوبو له څکلو څخه منعه کړي .

په بیکانېر کې زموږ د استوګنې وخت په بېلو بېلو شیانو تېرشو. په لومړي سر کې یو زیات شمېر محلي خلک زموږ د کمپو خواته راغلل او را نه نو تل او او زموږ ننداره یې په هیښتیا سره کوله. په کمپ کې ګڼه ګوڼه زیاته وه، د وی ته له هرڅه نه زموږ خبرې او زموږ حالت د حیرانتیا وړو. د غو محلي خلکو نخی جامې اغوستې وې، خو رنګونه یې د نورو هندیانو څخه یو څه بېل وو. دوی په راجپوتی ښه خپلې غټې لونګۍ پرسر وې زموږ له ډلې څخه یو شمېر د ښار لوري ته ولاړل دلته په دوی باندې زیات خلک راټول شول او دوی ته یې په حیرانتیا کتل. یوه د له نورد ښار څخه بهر ووتل، خو ډېر ژر ستړي شول ځکه د ښار څخه لېرې بهر ښاره یو یادغر بستان د بېدیا په څېر لیدل کېدله. د ښار شمالي خواته داسې یو څه ښکاره کېدل لکه یوه دره چې ځنګل په کې ولاړ وي د بیکانېر په ښار کې د یرپه زړه پورې شی د خوږو اوبو کوهي وچې د راجا د کلا په تل کې ایستل شوي و. د غه کوهي (څا) د ری سوه فوټه ژور و اوله پنځلسو څخه تر شلو فوټو پورې یې ارت والی (د قطر او یږدوالی) درلود. څلور بوکې په یوه وار وراچول کېدلې او هره یوه یې یوې جوړې غوا یا نورا ایستله. کله چې به بوکې په یوه وار اوبو ته وراچول شوې، نو داو بو سره د لګېدو په وخت کې به یې د توپک په څېر غږ کاوه. زموږ زیات وخت له راجا سره په کتنه تېر شو او دده د مانۍ په دننه کې موسره خبرې اترې کولې راجا زما خیمې ته په داسې ډول راغی چې د عسکري قواوو ټوټولګی د لارې په دواړو غاړو کې ولاړو او د کمپ له لمنې څخه زما د خیمې تر لمنې پورې یې دده د رتګ او ساتنه په ځای کړه. دی د خلکو په اوږو د یوه تخت پرسر زما کمپ ته راورسېد. دده تخت یوې پخوښکلې څوکۍ ته ورته و، د نوموړي راجا په مخکې یوه ډله لرګي لرونکي چې په لاسو کې یې د سپینو زرو امساوې نیولې وې روان وو. د دغې ډلې د امساوو په سر کې یوه ګردی غوټه وه او ټولو خپلې امساوې له سرو څخه اوچتې په هوا کې چورلولې. دغه راز په راجا پسې زیات شمېر راروان وو، دی پرمسند (یو ډول تخت چې د بالښتونو څخه جوړ وو) باندې کښېناست. دده پرسر یوه چترې او یادامې ستر سایه وان (چترۍ) وه چې سور رنګ یې درلود او له بخمل نه جوړه شوې وه. دغه چترې په څلورو نقره یي ستنو باندې دده پرسر دروول شوې وه. راجا یوه ګړی زموږ سره په بېلو بېلو موضوعاتو باندې خبرې اترې و

کړي د نورو خبرو په ضمن کي د برتانيا د پاچا د عمر او زموږ د هيواد د آب او هوا په هکله پوښتنې وکړې د دغه راز ده زموږ د هيواد د وګړو سياسي ژوندون وهم وپوښتنه. ده د انګلستان او فرانسې ترمنځ د اړيکو په باب خپل معلومات او پوهه څرګنده کړه دده له ملګرو نه يوه زما څخه پوښتنه وکړه چي آيا د هيواد راتګ په زموږ د جګړي په هکله له مقابل ملت سره نه وي؟ د راجا او دده د دربار هانو سوغاتونه کيښودل شول، خو دهندي رسم سره سم وروسته د غه سوغاتونه ځای په ځای پريښودل شول.

راجا صورت سينګاري او هغه سړی چي موږ هې پورته بيان وکړه په ونه بنه جګ او ښېره هې يوه ښکلې هندي ته پاتې کېدله. دی تورې وروځې او توره ږيره (د زنې له منځنۍ برخې څخه پرته) او اوږده پزه لري. دی راجپوت ښکاره کېده او د ښکلی مخ او د خوشحال او خندان حالت خاوندو. دی په حقيقت کې يو ډېر زورور او ظالم شهزاده ګڼل کيږي. راجا په دې تورن دی چي ده خپل يو مشر ورور زنداني کړی او د هغه پرځای پر تخت ناست دی. داهم ښکاره ده چي ده هغه استازی چي د هندوستان دوزير له خوا د کابل پاچا ته استول شوی و، وواژه. بر سيره پر دې څرنګه چي دی په خپلو مذهبي چارو ډېر ټينګ دی او خپل خوراک په هغه ډول کوي چي د مذهب له خوا يې سپارښتنه شوی ده، نو خپل پيروانو هې د يوه ولي او بزرګ په ډول ګڼي.

بله ورځ زه دده ليدني ته د يوا زيني ځل لپاره هلته لاړم. په دغه وخت کي زه دده د دويم زوی له خوا چي که څه هم ماشوم و دعوت شوی وم او هغه دد غه مقصد لپاره د ګڼو خلکو سره استول شوی و. د راجا کلا ډېره ښکلې وه د دغه کلا پر سر ډېر کورونه وو چي موږ ته هې د کلا د برجونو او مورچلونو ترمنځ د توپير کولو په برخه کې شک پيداکړی و. دغې پلن والي د يوه مربع ميل څلورمې برخې ته رسيده د کلا ګرد چاپېره د ډېر شو فوټو په جګ والي يو ديوال او يوه ښايسته وچه ويالـه را ګرځېدلې وه. د امانی په پخوانی بنه يو ډېر حيرانوونکی تعمير و چي په هغې کي له څو دريا يو (زينو) څخه د پورته کېدلو وروسته دربارته ورسيدلو.

دربار د خونو په منځ کې ځای درلود. وروسته له سلو کامو موږ داسې يوه ځای ته ورسيدلو چي هلته يو ډېر برېښناک سالون جوړ شوی و. د سالون چت د ښکلو ستنو په واسطه ولاړ و. د دغه سالون په منځ کې راجا د چترۍ لاندې په تخت باندې ناست و د دربار له هر څه نه چي ما پخوا ليدلی و توپير درلود، هغه کسان چي د دربار شا وخوا ته ولاړ وو د نورو هندوستانيانو څخه بې توپير درلود او زياترو پهو دي ځېرې درلودې او غټې لونګۍ هې پر سر وې. د راجا او دده دربار يانو لونګۍ په ښايسته رنګونو ښکلې شوې او په بشپړه توګه د جواهراتو نه ډکې وې.

راجا په داسې حالت کې ناست و، چي لاسونه يې د فولادي ډال پر سر ايښي وو. دغه ډال ګرد چاپېره په الماسو او ياقوتو باندې سينګار شوی و. وروسته له يوې مودې

راجا پېشنهاد وکړ چې له دغه سالون څخه بلې خونې ته د تودوخې له امله ولاړ شو او په خلوت کې وغږېږو. د سالون ترڅنګ یوې ښایسته خونې ته ننوتلو چې دېوالونه یې ښایسته پلاستر شوي او د ګچ په شان ځلېدل. د دېوالو پر مخ بانډې تزئیناتي شیان ایښل کېدل. دروازې د چینی اطلس (ساټن) د پردو په واسطه پټې شوې وې. په دغه خونه کې موږ د هندیانو په څېر کېناستلو او راجا په وینا پیل وکړ. هغه وویل چې موږ د ډیلي د پاچا تر لاس لاندې وو (ډیلي اوس زموږ په لاس کې دی) ما غوښتل چې هلته لاړ شم او د خپلواکۍ غوښتنه له هغه وکړم، خو دی په دې وخت کې ونیول شو او زما راتګ ته موقع پاتې نه شوه. راجا په دغه وینا پسې د کلاد کلمو (کونجیو) راوړلو څېړو کړ کلې راوړل شوې او ما ته یې ټینګار وکړ چې کلې له ځان سره واخلم، خو ما او نه منل په دې چې دغه واک موږ نه درلود، وروسته له زیاتې لاجې او خبرو کلې بېرته راجا واخستلې، له څو شېبو وروسته یوه ډله نڅېدونکې ښځې را ننوتلې او په نڅا یې پیل وکړ او تر هغه وخته چې موږ هلته ناست وو، د نڅا او ساز او محفل تود و.

په پای کې موږ د نوامبر په شپاړسمه شپه له بیکانېر څخه وخوځېدو. په لومړیو دوو شپو کې موږ له یوې داسې سیمې څخه تېر شو چې په طبیعي جوړښت کې یې له ایډل شویو ځمکو څخه توپیر نه درلود او زموږ سرې له دویم منزل وروسته دومره ستړي شوي وو چې موږ غوښته چې یوه ورځ تم شو چې د دوی ستړیا ووځي، خو په دغه وخت کې د بیکانېر د راجا بدرګه وال موږ د یرغلګرو ډله له خوځښت او حرکتونو څخه خبر کړو، د بېډیا څو یرغلګرو او لوټمارو قبیلو دې ته اړ کړو چې د شپې په ځای د ورځې له خوا سفر جاري وساتو، نو په دې ډول د کالیو او مالونو ساتنه په ښه شان ترسره کېدا شوه.

د حرکت د وخت د دغه بدلون په نتیجه کې د نوامبر په نولسمه نېټه د سهار په دوو بجو د تګ نغاره وغږول شوه، خو مخکې له دې چې زموږ اوبه او نور توکل شیان برابر او چمتو شي د ورځې رڼا یې خپوره شوې ده او څلېرویشت میله منزل له څخه وروسته چې په یو ګل کې ځېل ټاکلي ځای ته ورسېدو، تږاره وه. دا ټوله سیمه د موج لرونکو شګو غونډیو څخه جوړه شوې وه چې ځینې غونډۍ پکې ډېرې جګې وې زموږ سرې په ټوله ورځ کې د اوبو لپاره په کړاو کې وو. په یو کول کې موږ په ډېره سره ډېرې ښې اوبه پیدا کړې. دغه اوبه له باران څخه لاس ته راغلې وې او په پاکو ډنډو کې داسې خوندي وې چې پر سر یې ګونبزې ودانۍ او هوا لونه یې له پخو خښتو او چونې څخه جوړ شوي وو. په دغه ځای کې څاګان (کویان) هم وو چې اوبه یې مالګینې وې، خو د روغتیا لپاره زیان نه یې نه رسېدلې. د یو کول څاګان دومره ژور نه وو او د هر یوه عمق د بیکانېر د څاګانو تر نیمایي پورې رسېدل.

د نوامبر په شلمه ورځ موږ په دغه ځای کې د اوبو د چمتو کولو لپاره تېره کړه، زما لپاره دا ورځ یو ښه فرصت وه چې د دغې سیمې په هکله معلومات راغونډ کړم. که زه وکولای شم چې خپل لوستونکو ته د شګو د اوړو وغونډیو مخامخ ځمکې، د کلي له د کواو ښځاو څخه جوړې شوې کوډۍ او کوډلې، د کلا د ختیځ څخه د ویالو نه چې ځمکه یې بادونو وړې وه او مخ په زیږدوو او د شګو سمندر د شمالي له کوم اړخه پورته چې د دې سیمې پاتې برخه یې تشکیلوله، تمثیل او وړاندې کړم، ښايي چې هغه به هم لکه ما غونډې د هغو خلکو په باب چې په یوه داسې غم لړلي بیابان کې استوګنې لري او-هغې وړې ته چې په ژوندانه کې د دوی ته ور په برخه ده، حیران پاتې شي.

د نوامبر په یوویشتمه نیټه د ورځې په اوږدو کې مو منزل وکړ او زموږ منزل لوسړی لس یاد و لس میله په هغو شګو کې وچې پاس یادې شوې. له دې منزل نه وروسته موږ سختې میداني سیمې ته ورسېدو له هغې سره سم چې د شګو له غونډیو څخه پورې وتو، د لارې په سور او ارت والي کې زموږ اوښان د دولسو پنځلسو په شمېر په یوه لیکه په حرکت کې وو او زموږ بهیر په زیاتې چټکتیا سره په تللو پیل وکړ. کاروان په ډېره چټکۍ سره د کلکې مځکې پر مخ روان و. دا ځای تر ریګي ځایو په غوره توګه حیرانوونکی و. د دغې لارې په اوږدو کې موږ د بهاول خان له افرادو څخه یو تن ولید چې خپله لارې ورکه کړې وه. نوموړي سړي په هغو اوښانو پسې چې د راجپوت اوتمارو خلکو تښتولي و، دوه ورځې تیرې کړې وې، خود اوښانو د پله په پیدا کولو سره دا اوښانو ځای وویني، خو بې له نتیجې په بیدیا کې سرګردان واو د دوو ورځو راهیسې یې اوبه او ډوډۍ هم نه درلودل. ډېر ستړی او ناتوانه شوی و. موږ دی په اوښ سپور کړ او یو څه اوبه او ډوډۍ مو ور کړه له تیارغونې څخه مخکې موږ د بهاول خان یو سلو پنځوس تنه عسکر چې په اوښانو سپاره وو، ولیدل. بهاول خان د کابل د سلطنت د یوه ختیځ ایالت مشر او حکمران ګڼل کیده. په هر یوه اوښ باندې دوه تنه توپک لرونکي (فتیله لرونکي توپک) سپاره وو. دوی راوړاندې شول او په دریوو څلورو کرښو باندې د سلامی لپاره ودریدل. د دوی اوښان د اسونو په څېر ترادارې لاندې را تللای شول. دا ډول اوښان ډېر ښکلي او حیرانوونکي وو او غوره بڼه یې درلوده. د دغه تولی مشر یوه بروږو چې ارت کالي یې اغوستي وو، په کالیو کې یې د سرو زرو تڼۍ یوري او یوه لنډه خولۍ چې تاج ته ورته وه پر سر وه، نوموړي په یوه ښکلي، چابک، وړوکي او پاسته اوښ چې ځلېدونکې زین یې درلود او د جلب د واره مزي یې له پزې سره وصل کیدل، سپور و. ده په خبرو باندې زما ملګري په ډېره سختۍ سره یوه یل. ده موږ ته د اوبو د لېږدولو لپاره سل اوښان چمتو کړل چې څلور-سوه ژي یې له موجګور څخه بار کړي وو. د غه راز زموږ د څښاک لپاره ده

څلور د زیږو مرتبانو نه له او بوډك كړي وو . په مرتبانو كې د خان مهر هم
وهل شوی و موږ له پوكول څخه شوږو یشت میله لرې خپل كمپو نه ژرو
درول . موږ د هغه پاسیس د مرتبانو نو او به په ډېر خوند وڅښلې او له نویو خلكو
سره مو په ډېره مینه لیدنه كتنه وكړه ، نه یوازې له نویو خلكو سره یو ځای
كېدل خوند وروو، بلكې د نوې ځمكې لیدل هم ډېر په زړه پورې و .

د نوامبر په دوه ویشتمه نیټه موږ د موجګور په لور د پرش میله واټن وواهه .
له غرمې وروسته تودوخه ډېره زیاته وه ، خو موږ په عادي ډول په لوڅ پرپنډ
میدان پاندې وا ړول څو خپلو ملګرو ته یو څه د څښاك او به او یو څه استراحت
وركړو . د ورځې په تیریدو سره موږ ته له موجګور څخه د آوبو په سلګونو ژي
را ورسیدل . په موجګور كې بهاول خان زموږ د استقبال لپاره یو شمیر افسران
چمتو كړي وو . د ماز دیګر خواته زیاتره كسان د یوه اوږده جهیل په ښكاره
كیدو سره چې څوڅو تاپوګان هم پكې ښكاره كیدل حیران شول ، خو څنګه چې
د دغې سیمې له طبیعي بڼې سره زما ملګري اشنا نه وو ، نو زیاترو دا حكم وكړ
چې هغه جهیل دی ، یوازې یوه ملګري دا حالت له ما نه ځكه دا یوازې یوه
غولوونكې او یا سترګې پټوونكې پدیده وه چې په فرانسوي كې ورته میراژ
او په پښتو كې ورته سراب وایي . ما داسې تصور وكړ چې دا داوبو بخار ، یوه
نرۍ پرده ده چې د هند په زیاترو تودو سیمو كې لیدل كېدای شي خو كله چې
موږ ځمكې ته وكتل نو ځمكه ډېره متینه كلكه او وچه وه او د بخار د پیدا
كېدو سبب نه ښكاره كېده . د دغه میدان پر مخ بوټي شنه وو چې په ټیټ او پرك
ډول په یوه او بل ځای كې په ګڼه توګه شنه شوي وو ، د دغو بوټو په لړ كې
سپانده یوه ښه نمونه ګڼل كیږي . په هغه برخه كې چې دا وابنه او بوټي شنه
دي ، داسې معلومیږي چې ښایي او به دي كه دا منظره له منځنۍ حد څخه تر
پایه وكتل شي د سراب بڼه په پرلپسې توګه لیدل كیږي .

زه د دې هڅه نه كوم چې د دغې منظرې په هكله څه محاسبه وكړم او پوه شم، خو
یوازې دا یادوم چې دا ډول منظرې په پرتو، وچو او خوارو او اوارو ځمكو كې
لیدل كیدای شي . د لمر موقعیت او د كتونكي دریدل دغه غولوونكې بڼه (د ما دي
موجودیت نشتوالی) ښكاره كوي . په لومړي سر كې ما دا فكر وكړ چې دلته به
زیاته تودوخې د دغې بڼې سره مله وي ، خو وروسته مې هغه په داما ن كې هم ولیدله
چې د تودوخې اندازه تر انګلستان اوچته نه وه .

د لمر پریوتو خواته موږ د موجګور لوړ دیوال او برجونه ولیدل . د ښار
د دروازې په مخ كې یو ښایسته او لوړ جومات او یوه ګنبزه لرونكې مقبره وه ودان
شوې وو . د مقبرې ګنبزه په رنګینو او ښكلیو كاشیو سره جوړه او ماته وویل شول

چې د فارس د امام زاده ګانو ګنبزو ته ورته ده له ټيارڅونې لرې څه ور وسته د لته راورسېدلو او له کلاسره نږدې موکمپونه ودرول. دا کلا ډېره کوچنۍ او کمزورې ښکاره کېدله . دلته دا وېو دا خستلو لپاره دوه ورځې پاتې شو د بهاول خان ديوان (شاهي نماينده وي ژباړن) او يو بل افسر دوا ړه هندوان وو. د ريم سرى د ملتان د ملايانو څخه وچې ژبه، کالى او کړه وړه يې د فارسيانو په څېر وو . حتى هندوانو هم په خپلو خبرو کې د فارسي اصطلاحات پکارول او د هوان زيات تره ديوه فارسي ملا په څېر دېوه هندي په ځای ښکاره کېده د نوامبر په پنځه و يشتمه نېټه له دغه ځايه څخه وخوځېدلو او د بېديا دو وڅاګانو ته د رسيدو لپاره مو او وه و يشت ميله واټن وواهه. د لارې په اوږدو کې مو يو ستر سراژ (سراب) چې يوه جهيل او يا درياب ته ورته و، وليد. په دغه لار کې مو يو ښکلى او کوچنى برج هم وليد ، دا سې و ويل شول چې دا ځاى د پناه ورونکو لپاره جوړ شوى و ، په تيره بيا هغه لاروي او مسافر خلک چې د صحرايي لوټمارو څخه په وېره کې وي، نو هرومرو به دلته راتلل. په دغه سيمه کې ځينې وچ شوي بوټي د ميمو سا ارابيکا په نوم هم ليدل کېدل. د لارې په اوږدو کې ځينې شيان چې شا بې ونې وي هم کتل کېداى شول .

د نوامبر په شپږويشتمه نېټه د ورځې له خوا وخوځېدو او د دولس ميله واټن په اوږدو کې مو بيا هم د بېديا وچ غولى او شګلنې او وچې غونډۍ تر شا پرې ښودې ،خو له دغه واټن وروسته دا سې ځاى ته ورسيدلو چې په هغه کې د ونو په څېر ځينې شيان ستر ګو ته راتلل ،کله چې لږ څه نږدې شو ،د ونو په مو جوديت با ندې مو بيا ور پوه دا کړ. ور پسې مو پوه په ډېره چابکى دا سې ځاى ته ځانونه ور سول چې هلته بېديا پاى ته رسېدلې او کروندې پېل شوې. د شکو د خلاصېدو د کر ښې په اوږدو کې قطارونې ونې ولاړې وې ،شا ته يې سمسورې او باغونه ښکاره کېدل د ټا زه اوبو څاګانې او ځاى په ځاى کورونه و ترشا و خوا راتاو شوي وو. دلته زراعتي ښه پرمختللې او خاورې ډېرې ښې وې. د تولو شيانو څخه مخکې مو هوڅاو ليدله چې د پارسي څرخ په واسطه يې اوبه را ايستلې. د راپور ته شويو اوبو اندا زه په هره ګړۍ کې ډېره زياته وه . د دغه ځاى ونې په تيره د ګز (بوډول او ښيته) ونې ډېرې ښکلې او زړه وړونکې بريښېدلې. د پنځو اونيو له سفره وروسته مو ددغې ښايسته او آبادې سيمې ته راغلو او ټول شيان سوړ ته غوره ښکاريدل . په بهاول پور کې مو يو نيم ميل تر ديوالو لاندې منزل وواهه او د لارو په اوږدو کې ګڼ شمېر خلک زموږ د ننداړې لپاره په حيرانتيا ولاړ وو ،له بلې خوا د وى ته موږ هم په تعجب سره کتل .

د پېډیا او سیه ونکو او د دغو خلکو ترمنځ په عادت کې ډېر توپیر و ، د دا خلك په تنه قوي او توربخن و ښېتان يې در لودل . ددوی ډېرې اوږدې او د سرو ښېتان يې لوی وو . په دې ډول دوی د پېډیا تروکر وځېره معلومېدل . د لونګیو په ځای يې خولی په سر کړې وې . ددوی ژبه په بشپړه توګه د پوهېدلو لپاره چمتو نه وه ، حتی زما هندوستانی ملګرې هم ورباندې پوهېدای نه شول .

جامې يې ښکلې اودعاداتو له مخې پارسیانو ته ورته وو . له څو کو چنیوو بالو څخه تېر شو او د ورو کرونډو په شاته پر ښېود لو سره د هېپاسین غاړو ته ورسېدلو . د دغه دریاب سوراو غاړو زه مایوس کړم ، خو يوې ويالې ته چې د سکندر بېړی يې لېږدولې وې ، يې له د لچسپې څخه کتل کېدلای نشوای .

يو ه ورځ وروسته د هېأت د بېه راغلاست او درناوي په ځا طر بهاول خان له ځلوېښت مېله لرې ځای څخه راورسېد . په حقیقت کې له هغه ځایه چې موږ دده سرحد ته ورننوتلو دده مېنه او مهربانی له موږ څخه و نه سپمېدله او تر هغه وخته چې دده له هېواد څخه بهر وتلو په لطف کې يې بې حده ډېر والی هم راغلو ، دغه شان له پاملرنې څخه يې بې برخې هم نشو . دده مېلمه پالنه د هېښ والی وړوه او دسند د دریاب تر غاړو پورې دهغه له خوا پر لپسې د مېنې او پاملرنې خبر را رسېده ، په نتیجه کې ويلای شو چې دی د يوه ډېر خواخوږ ی ، پوه او مدبر شخص په څېر له موږ سره په خپله سیمه کې وچلېده . په دې ډول ترپایه يې خوشحاله وساتلو . په لومړي سر کې موږ هغه ته د سوغاتو په برابرولو او تیا کلو پېل و کړ ، په دې هیله چې دده د حرص په مقابل کې پر لپسې مبارزه وکړای شو او هغه ته ځواب ورکړو د اکار موږ د هغه په زیاتر و برخو کې د شرائطو سره سم کړی و ، خو په دې ژر پوه شو ، چې له يوه کړ او سره به هرو مرو مخامخ شو هغه دا چې بهاول خان له مذاکرې پر ته د هېڅ شی اخستلو ته تیار نه دی ، دغه راز دی تر هغه سرحده په خپله خپلواکی او استقلال جدي و لاړ و چې زموږ لپاره د قبلولو وړ نه و . هغه ورځ چې دی را ورسېدا تیا پسو نه ، سل بوجې او ړه او داسې نور خوراکی شیان يې موږ ته راواستول . بله ورځ نو موړي خان سل کاسې خوږې غوښې د نا رنجو يو زيات شمېر تو کړی ، لس کڅوړې بادام او ممیز او پنځه کڅوړې (امیانی) چې په هر يوه کې يې زر روپۍ (پوه لوشلو پونډو معادل) وې خو يې خپلو مز دورانو ته وو هشم ، راولېږل . د پالنې په دې وروستی عمل يې زه لېږ قلولی غوندې شوم ، خو مجبور وم چې ويې منم په دې شرط چې د خان نوکران له ما نه هم د غه رنګه يوه بسپنه ومنی .

د نوامبر په نهو ښتمه نېټه مستر ستراچی او کپتان راپر له خان سره کتنه وکړه دوی په ډېره خوښی سره له خان څخه راستانه شول او ښکاره يې کړه چې له دوی څخه يې په استقبال وکړ دغه شان زما دغو دووتنو استازيو د خان له مېلمه پالنې او مؤدبانه

وضعې څخه بې حده ستاینې کولې. دده په خبرو اترو کې ترټولو غوره ټکې داو، چې هغه د کابل د پاچا د پر صفت او تعریف کاوه، خوده وویل چې هغه بې هیڅکله لیدلی نه دی. هغه د کابل دوړ وروڅخه ویره ښکاره کړه او هم دارنګه د بیابان دیوه او سېدونکي په څېر یې ځان دومره بې ارزښته ګاڼه چې د هغه لوی واکمن (د کابل پاچا) سره د کتنې ورتیا نه لري

د دسمبر په لومړۍ نیټه بهاول خان زما خیمې ته راغی. دی د پر پوست دورین تندي خاوند او سپور بانه سړی و، عمر یې له پنځه شلو پښتو څخه تر پنځوسو کلو پورې اټکل کېده هغه سپین کمیس چې د سرو زرو څوټې (تڼۍ یا ټکمې) یې درلودلې اغوستی و د کمیس پر مخ یې څادروچې ګڼه ګاڼد وزې او زرې بافت شوي و. دده پر سر د زرتارو خولۍ وه چې پرشاو خوا یې ور یښمینه لونګۍ په کراری سره پېچل شوې وه. دده شپږ تنه سړي کیناستل او نورېې ولاړوو. دغه ټول له ډېر له په ښاپسته جامو ښکلې شوې وه. زموږ خبرې د هند او انګلستان په شاو خوا کې وې او تر هغه وخته یې اوږدوالی وموند څو خان یاده کړه چې ناوخته شوی دی.

د دسمبر په دویمه ورځ زه دده لیدنې ته لاړم. کوڅې او لارې په انتهایي درجه له خلکو څخه ډکې وې د خونو پر بام مو هم زیات شمېر ننداره چیان زموږ لیدلو لپاره ولاړوو. موږ د خلکو له منځ څخه داسې تېر شو چې لاره یې موږ ته خوشې کړې وه، د ډېرو خلکو د تعجب نښې مو ولیدلې، زیاتره یې ډېره چوپتیا سره د هښتیا په حال کې زموږ ننداره کوله. خان په ډېر ښکلې کوټه کې چې کمان ډوله کړکۍ یې درلودلې په داسې حال کې موږ ومنلو چې یو څو له ګرد چاپېره په پاکه پارسي غالۍ باندې په ښه ترتیب ناست وو. هغه له ټولو رعایاوو سره په آزاده توګه خبرې کولې. هغه وویل چې «ما تراوسه پاچا لیدلی نه دی او که خدای کول هیڅکله به داسې ونه شي. زه صحرایي سړی یم او خوښ یم چې تر پایه په د غه سیمه کې د هو سې ښکار وکړم او هیله من یم چې په دربار و پسې ونه ګرځم. خان ماته یو داسې عجیبه دیوالي ساعت وښود چې ډېر ښه ښکلې جوړ شوی و، داد ده یوه تن رعیت جوړ کړی و. د ساعت د ماشین اوستنو لاندې زنګ لیدل کېده د غه راز ساعت په یوه طلایي صندوق کې چې دواړه مخونه یې له پنډې شیشې څخه جوړ شوي وو اینبو دل شوی و او پکې ساتل کېده، په همداشان خان یو ښکلی توپک چې په بهاولپور کې جوړ شوی و ماته وښایه او ور پسې یې دوه ښکلي بازان، څو تازیان، دوه آسونه (یوه یې طلایي او بل یې جلا لرونکې کېزه درلوده) یوه ډېره ښکلې فتیله (پلته) لرونکې توپک چې مینا لرونکې واود بار وتو (دارو) یو ګوډی هم ورسره و او څو د کالیو او توکرانو ډکې پتنوسونه یې راکړل. دغه ټول سوغاتونه د بهاول خان د میلمه پالنې په لړ کې شمېرل کېږي.

د دسمبر په څلورمه ورځ مو حرکت وکړ. بهاول خان د خدای پامانی د کتنې لپاره زموږ ارخ ته یوه خیمه راواستوله، په داسې ترځ کې چې د کاروان وروستی برخه د هیپاسیس دریاب څخه لا تېرېدلو په حال کې وه. هغه یو تن مېخانیک چې ساعت یې جوړ کړی و، هم ما ته راوښود، دغه راز بهاول خان زه یو شمېر دیني پوهانو او علماوو (د محمدي مدرسې ښوونکو) ته ور وپېژندلم. وروسته له هغه دی له مستر ستراچي او ما سره له خیمې بهر په یوه غالۍ کېناست او هلته مو په بشپړه توګه په زیاتو موضوعاتو باندې خبرې وکړې. ده په خپل وس سره ما ته ډېر معلومات او مشورې را کړلې. ده خپلې خبرې په دې پای ته ورسولې چې هغه د خراسان لومړی فردی چې له موږ سره یې ملاقات وکړ. بهاول خان هیله ښکاره کړه چې د ده یادګار به د اشنایی د اوږدو لپاره ساتو. موږ په ډېره خواشینی سره له ده څخه بېل شو. دی یو ډېر آزاد منش او مهربانه سړی وه چې زموږ د اقامت په وخت کې یې له رسمیاتو او مراسمو پرته ډېر نېک سلوک کاوه. ده مهربانه څېره درلوده او په هره وینا او خرګندونه کې یې د مینې او ملګرتیا نښې لیدل کېدلې لنډه دا چې د ده شخصیت ډېر اوچت و. د استوګنې په وخت کې موږ د بهاولپور د ښار شاوخوا ځایونه له نږدې څخه ولیدل او د طبیعت د مناظرو ننداره مو کوله. د ښار محیط څلور میله او د دېوالو په دننه کې ډېر ګڼ باغونه برېښېدل. کورونه له اموو خښتو جوړ او خاورینې چوترې یې درلودلې. د ښار دېوالونه ډېر زړي او له خټو څخه جوړ شوي وو. بهاولپور د لونګیو وریښمینو کمربندونو او پټکیو د جوړولو له پلوه د یادونې وړ دی. د دغه ښار او شاوخوا ټول اوسېدونکی جټان او بلوڅان دي چې د محمدي دین پیروان ګڼل کېږي. په بهاولپور کې تر نورو ولایاتو زیات شمېر هندوان و دا حال هیات د خپلو تېرېدو په وخت کې ولید. افغانان د لته د خارجیانو په څېر مېشته وو. د هیپاسیس دریاب شاوخوا څلور یا پنځه میله ځمکه د خړو او خټو څخه جوړه شوې وه، له دې کبله ډېره څر به او پسته وه او په سپرلي سره له هغې نه تېرېدل ګران وو. د دغې ځمکې ځینې برخې ډېرې ښې ګروندې درلودې، خو ځینې نورې برخې یې د ګز په ګڼو ونو پټې وې چې په هغو کې نرخوګ، غرڅه، وحشي بتې (قاز)، ځنګلي مرغان لکه مرز، زرکې، فلوریکن او داسې نور ښکاري مرغان هم د سین په غاړو کې ډېر دي. د هیپاسیس دریاب غاړې د لته ډېرې کږې وږې او د دریاب اوبه خړې دي. کله چې اوبه چاڼ او صافې شي، نو خوند یې ډېر ښې په دغه ځای کې دا دریاب ګارا بلل کېږی او دد و ښاخو (یعنی هیپاسیس یا بیار او هیسودروس یا ستلج) له ګډېدو څخه منځ ته راغلی دی.

هوات دسمبر په پنځمه نېټه دهیپاسیس درياب له ښي غاړي څخه وخوځېدلو اوددغي مياشتي په يوولسمه نېټه داوبا ميله واټن له وهلو وروسته ملتا ن ته ورسېد . ددغي لاري په اوږدو کي يو پنځو پاشپږو میلو کي بیا هم ځمکي وچې ، شیګلني اوخواري بريښېدلي ، بوټي لږ او په ټيټ او پرك ډول ښکاره کېدل و ړېسي سهلاسي دغونډيو په لمنواوشاوخوا کي بې شمېره ښا يسته پټي وليدل شول چي غنم ، پنبه اوتېپر (منګرېټي) په ډېره مستۍ پکې شنه شوي وو . دلته يو زيات شمېر لوښي اوژوري ويالي په ډېرله پسې تو ګه زموږ مخې ته را تللې او د دغه سفر په ټول واټن کي له دغه شان کروندو او نهرو سره مخا مخ کېدلو . له دي املهدا سي ويل کېدا ی شي چي دا سيمه د ډېره پخه زراعتي بنه لري . مخکي له دي چي ملتان ته ورسېږو ، د بهاولخان له خوا پنځه ويشت اوښان زموږ د سرستي لپاره را واستول شول . دغه مشرد خپلو اوښانو له امله د پر زامتوو ځینې بي د- خپلي استفادي لپاره ساتل او تل به يې په ښکار کي له ځان سره دغه اوښان در لودل . اوښان په صحرايي سيمو کي په عمومي توګه د ډېر پکاريږي ، په تېره بيا په اوږ- دوسفرو کي د ښي يادوني ورشه ډېرل کېدا ی شي ، د ښکا ندردرا جا يو مشروزيو چي ماور سره سينګا نا کي و کتل هم دغه وخت کي له ښکا ندر څخه (دهوسل و پنځه اويا ميلو په يوه واټن) په اوښ باندي په دريو ورځوکي را غلی و . زما ملګرو داوښانو د نورلی سره د ډېر ميغه درلودله ، په تېره بيا د اندو س څخه داو ښتلو په وخت کي دهيات ملګري دساعت تېری لپاره هم په اوښانو سپرېدل ، داوښانو سپرلی اوځغاسته هيڅکله ړېروونکي او ناوړه نه برېښېدله . د ملتان ښار دچناب يا آسيسېن درياب په کينه غاړه باندي څلو رميله ليري پروت دی . د دغه ښار محيط له څلور نيمو ميلو څخه زيات اندازه کېدا ی شو دښار څخه ګرد چاپېره يو ښکلی ديوال چي څلويښت او پنځوس فوټه جګوالی يي درلود راتا وشوی وا و ديوې تاکلي فاصلي نه وروسته يي برجونه درلودل . په دغه ښار کي په يوه جګ ځای باندي يوه نظامي کلا (چونی) اوځو ښکلي مقبري جوړي وي ، په تېره بيا دوه مقبري يې چي دجګو ګونبزو لرو نکي او ښا يسته مز ين شوي و ي ، دیادوني وړ دي ، د ګونبزو خپتي هم د پېري ښکلي اوځلانده برېښېدلي ، له دي امله دلېري څخه يې يوه برېښنده بڼه نيولي وه . ملتان دخپلو ورېښمو او غا ليو له پلوه د پر نامتودی ، خو که غالی يې له فارسي غاليو سره پرتله کړو ، نو کيفيت يې دويمي درجي ته راتېټېږي . د ملتان ترشا وخوا سيمه اوهيواد د ډېره سمسوره وه و هر بې خاروي يې لرلي . کروندي د ځا ګا نو په وسيله ښي او به کېدلي . د ملتان ځلك د بهاولپورو ګړو ته ورته وو . يوازي د وسره تو پېر موجود و چي په دغه ځای کي زيا تره نارينه داسي برېښېدل لکه چي د فارسيا نو سره يې اختلاط کړی وي ، سره د دي

هم جلاوالی یې په منځ کې موجود او زیاتره داسانو سوار کاران وو . هیأت نولس ورځې په ملتان کې پاتې شو زما ملګري به هره ورځ د ملتان په شاوخوا کې د ښکار لپاره له اوو یا اتو بجو څخه تر درې یا څلورو بجو پورې په وېشتلو ، ښکار یا د بازونو د ښکار لپاره وتل نو په دې ډول مونږ ته د دغې سیمې د کتلو او مشاهدې ډېر ښه چانس په لاس ورغلی و . د ملتان ځمکه هواره او خاوره یې ډېره ښه وه ، خو زیاتره کلي او یاد کلیو ډېره برخه وېجاړه او د کنډوالو په څېر وه . دغه را زد دغې سیمې او پراخې زراعتي سیمې د خرابېدو وځینې نورې نښې هم لیدل کېدلې سره د دې هم د دغې ځمکې نیمایي برخه تراوسه پورې کرل کېدله او داوبو لګولو غوره وسیله یې فارسي څرخونه (ارټ) کڼل کېدل . د ملتان زراعتي تولیدات غنم ، ارزن (پدن) پومبه (مالوچ) تمبر ، ګازرېبې او نیل وو (یو ډول بوټی چې نیلي رنګ ځینې باسي . مترجم .) د غه راز د لته د نیم (۱) Neem او خرما ونې د پیپل (Peepul) (۲) د ونو سره هغې او دغې خواته لیدل کېدلې .

د در یاب د غاړې څېر زراعتي ځمکه د تا ما رسك Tamarisk (غز) په ګڼو ونو پاندې پټه شوې وه . د دغو ونو په منځ کې ولې (د شلو نو تو په شان الی) هم ځای په ځای ولاړې وې . د دریاب له غاړې څخه لرې لوڅه ځمکه نظر ته راتله چې په تیت او پرك ډول بوټي په تیره بیا او بده غوټه غوټه (ګیدی ګیدی) وابه او بوخه د خرماونې خورې شوې وې . د جنګي مرغانو بیل بیل ډولونه پیدا کېدل . - زمونږ د استوګنې په وخت کې د ملتان هوا ډېره په زړه پورې وه ، د لمر ختلو په وخت کې د تودوخې درجه ګښته در جه ۲۸ وه د شپې به پرخه و هل کېدله ، خو د ورځې هوا څه نا څه توده وه .

مونږ په دې ډول په ملتان کې داوږدې مودې لپاره د اوښانو د پیرودلو او کرا کولو د ضرورت له کبله او . . . . دغه راز مو دلته د کابل د پا چا میلمه پال (۳) په هیله او هم د پاچا په هکله د معلوماتو د پیدا کولو لپاره زیاتې ورځې تېرې کړې . میلمه پال د دې لپاره استول کېده چې مو د افغاني قبیلو سیمو ته له ننوتلو وروسته پدرګه کړي . همدا شان په ملتان کې مو له هند و ستا ن څخه راوستلي اوښان د ملتاني اوښانو سره بدل کړل . د سپاهیانو لپاره د تودوجامو چمتو کول او دهوات د زیات شمیر ملګرو لپاره د آسانو رانیول بل فعالیت و چې د دغې سیمې له عادت سره سم مو ترسره کړ .

(1)— Melia Azadarchta

(2)— Ficus Religio sa

(۳) هغه افسر او منصبدار چې پاچا په له خولی خوا نه د میلمه د ښه راغلاست لپاره لېږه ، په تېره د هغه میلمه لپاره چې شاه به د زیاتي پاملرنې غو ښتنه ورته کوله .

PROPERTY OF ACKU 1370

زموږ د تم کیدو دوخت لویه پېښه د دې ولایت له گورنر سره ز موږ کتنه وه د دغه نامتو حکمران نوم سرفراز خان وه، څرنگه چې د هند په سیمه کې یې حکومت و، د نواب لقب یې درلود . دی په ختیه د سدوزیو د شاهي قبیلې په افغاني کورنۍ پورې تړلی و، خو پلرونه یې د برېخوا په ملتان کې میشت او خپل آرې مشخصات یې په زیاته اندازه له لاسه ورکړي وو. دې د هیأت په رسیدو سره څنبت زیات اندېښمن شو او د دغه خبر په اورېدو سره یې د بې باورۍ او بدگومانۍ حالت غوره کړ. له دې امله یې د ښار دروازې زموږ په مخ وتړلې او هوښیو سړي او یا زما پدرگه والو ته د ننوتلو اجازه نه وه مگر په هغه صورت کې چې چا به اجازه نامه ښکاره کړه نو ښار ته یې د ننوتلو امکان درلود دغه راز هغه د خپل کار د یا محافظینو شمیر دوه واره زیات کړ او موږ له یوې کره منبع څخه واورېدل چې د ده په دربار کې جرگه والو په دې ټکي باندې چې هیأت به ښار د کډوالو تیا لور ته و هڅوي او یا به له پاچا نه د دې ځای پر ښېو د ل خپل ځان ته وغواړي و د یرې خبرې آترې وکړې. سره د دې هم سرفراز خان موافقه وکړه چې د دسمبر په پنځلسمه نېټه له ما سره وگوري، له دې امله ما یو ه ستره خیمه د ده پذیرایی لپاره و د رولې . د خیمې یو لوری خلاص و، او د ننوتلو له ځای څخه د شلو گزو په اوږدوالی دوه نرې تسوکران د خیمې په مخ کې وغوړول شول او په دواړو غاړو یې یو شمېر پیش خدمتان چې ځانگړي کالي یې اغوستي وو، ودرېدل. د دغې د لې د لیکې ترشا نور کارکوونکي هم ولاړ وو. په دې ډول د میلمنو ننوتلو لپاره د خیمې ترخولې پورې یو شل متري دالان جوړ شو. د خیمې په لورغزېدلې سړك باندې هم د عسکرو لیکه ولاړه وه. مستر ستراچي د ملتان والي (سرفرازخان) د ښه راغلاست لپاره لاړ او بېرته یې راوست.

او ویې لیدل چې نوموړی په یو سپین آس باندې چې د سرو زرو لوموني (یراق) یې درلودل سپور او افسران او درباریان یې په اړخ کې له سترو بیرغونو سره لیدل کېدل. له ده سره دوه سوه سواره او دری زره پلي عسکر هم بدرگه وو، د ښه راغلي او ملاقات کتنې گونې او د کتنې بې نظمي د مستر ستراچي له خوا له هر څه څخه د زیاتې یادونې وړ دي گورنر ستراچي ته د فارسي دستور سره سم هرکلي وو او په دوی دواړو یو ځای د خیمې لور ته راروان شول کله چې دوی خیمې ته نږدې راورسیدل نو گڼه گونه فشار او بې نظمي زیاته شوه. په هغو برخو کې د افرادو ترمنځ اخوډب وشوه او دیوه بل مخې ته ودرېدل په بل ځای کې سپاره لاندې ولوېدل، مستر ستراچي هم نږدې وچې ځمکې ته گوزارشي، خو په ربړاو خواري یې ځان ټینگ کړ. کله چې دوی د خیمې شاوخوا ته ورواندې راغلل، نو لاره یې ورکه کړه او د سپرو د کرښې منځ ته یې په داسې کړ ندیتوب ورودانگل چې د بېرته ستنیدلو توان یې نه درلود ځکه چې د تیریدو لاره ورکه شوه نو په دې ډول د خیمې په لور څپه راوخوځېدله او د پیش خدمتانو د له

بې تېت او هرك او له منځه يووړه، ښې پاكوونكې غوږ يدلې توكران هيرې او تر ښنتو لاندې شول. دخيمې پرې د زيات شدت له مخې بې ځايه شول. او نږدې وو چې ټوله خيمه زموږ په سر را ولوېږي.

دخيمې په دننه كې ازدحام دومره زيات شو چې سملاسي يې تياره جوړه كړه. والي او ده لس تنه ملګري كيناستل، پاتې كسان وسله وال افراد وو، ګورنر دا دله دخپل ګارد په څېر تاكلې وه او بل هدف يې نه درلود. والي دلنډې مودې لپاره كيناست خو په دغه وخت كې يې په ډېره بېړه تسبيح (تسپې) اړولې او ماته يو څو ځله د (ښه راغلاست، د ډېر ښه راغلاست) كلمې تر هغه حده تكرار كړلې چې خو يې كولاى شول. په پاى يې داوويل چې ګنې ګوني داويره پيداكوله چې زحمت او كړاو رامنځ ته كړي. ته دغې ځر ګندونې وروسته هغه بېرته ستون شو، سرفراز خان د ډېر ښايسته ځوان سړى و، هغه فارسي ډوله كالي اغوستي وو، پر سر يې خولۍ او د خولۍ په شا وخوا يې د شال لونګۍ تاو كړې وه، ده په رواڼه فارسي خبرې كولې.

دده ملګري تندرست، ښكلي او د كتنې وړ افغا نان وو، چې اكثرو يې ښې جامې اغوستې وې، خو ددوى په لباس كې كوم تنظيم او ترتيب نه ليدل كېده. په همدغه ماز ديګر زه هم دوالي كتنې ته ورغلم، دى په خپل يوه باغ كې د سترې چترۍ لاندې په يوه چوتره (ټېراس) كې ناست وه.

دده شا وخوا كې يوه ستره ډله په ښه نظم سره ناسته وه، ددوى په څېر و كې تر هغه دي آريايي او سيدونكو بيل ځرګنديدل، خو د فارسيانو په شان په فاخره جامو پټه نه وو سينګار شوي نه درلود. نوباب Nobad (ښايي نواب به وي مترجم) (سرفراز خان) اوس د هر ډول خطرې څخه خلاص او اجتماعي و او په زياتره برخو كې منونكى ښريښېده كوم وخت چې موږ په ملتان او د ملتان په ګاونډ يو سيمو كې وو، له ماسره پاچا د هر كاره باشي مرستيال ملاجعفر سيستاني پاخبر ليكو نكى او نور و زياتو كسانو كتنې كولې له يوه تن سره زما معامله د ملتان د دربارد مشخصاتو د ځرګندولو لپاره غوره ده چې يادشي. د نواب تره سكندر خان يوه ورځ زما له كمپ سره نږدې ښكار كاوه، احوال يې را وليږه چې ده درې نرخوګان په لومه كې بند كړي او هيله يې ځرګنده كړه چې زه هم په دغه ښكار كې برخه واخلم ما د اغوره وګڼله چې معذرت وړاندې كړم، خو يو محلي ځوان (آريا او سيدونكى) مې له يوه موډ با نه پيغام يوځه باروتو (د توپك دار و) او يو دور بين سره هغه ته واستا وه. په بدل كې سكندر خان يو بې ساري آس او يو ښكاري شوى نرخوګ زما په ويا ړرا وليږل. له دې امله هر څه سم وو، خو دوه ورځې وروسته سكندر خان زما سوغات بېرته را وستاوه او هيله يې وكړه چې ددې آس بېرته وليږم چې ده ته له انګريزانو سره د معاملې د تور له كبله د بند يا اعدام خطر و.

د دسمبر په شپاړسمه نیټه موږ د آسیسین چې د لته چناب بلل کېده غاړو ته وخوځېدلو (مخکې له دې چې دا دریاب د لته راورسېږي د هایډاسپس او هایدراوتس اوبه له ځان سره راوړي) موږ د دسمبر په یو ویشتمه نیټه له دریاب څخه واوښتو (زموږ باړونه څو ورځې له موږ څخه مخکې واړول شول). له دغه میدان څخه موږ لومړی ځل د افغانستان غرونه ولیدل، دا غرونه لویدیځ خوا ته په ډېره فاصله سره لیدل کېدل او هرومرو د سلیمان د غرو یوه برخه یې جوړوله چې د غرونو دا لړۍ د دیره غازي خان په شمال لویدیځ کې له ملتان څخه او بیا اوږا اتیا میله لرې پرته وه. بالاخره موږ خپل دارتیا وړ وسایل بشپړ کړل، د کندهار په لور د سفر د کړاوو په هکله موږ وشمېر پلانونه جوړ کړل، خو په دغه وخت کې موږ اوریدل چې شاه د کابل په لور روان شوی دی، له دې امله موږ خپل مزل او تګلاره د دسمبر په ۲۹ نیټه بیا ونیول او له یوې وړې بیدیا څخه په تیرېدلو پیل وکړ دغه بیدیا له شمال څخه تر سویل پورې ۲۵ میله اوږده وه، خو سور یې په دغه ځای کې دومره لږ و چې په دوو مزلو کې ترې پورې وتو، له بلې خوا له شمال څخه د سویل خوا ته یې پېچومی درلود. دا هم باید ووایو چې دغې بیدیا داندس او هایداسپس دریاب تر منځ هیواد هغه برخې تولې پټې کړې وې چې د دغو سیندو اوبو خړوبولای نه شوې، دا بیدیا د اوچ (Ooch*) له عرض البلد څخه چې پکې د دواړو دریابو خړوبې شوې ځمکې سره یوځای کېږي، پیل او د مالکې تر غره پورې خوره شوې ده. د خړوبې شوې، ځمکې خاوره داسې بریښېدله چې له بیدیا څخه د سیندو او د هغو د څربو غاړو په وسیله را بیله شوې وي، موږ دغې سیمې ته چې د آسیسین دریاب لویدیځ خوا ته په څو میلې کې پرته وه، ورننوتلو، د بیدیا او زراعتي ځمکې ترمنځ بیلوونکې کرښه په ښکاره توګه لیدل کیدله، زموږ په شا وخوا کې شګلنې غونډۍ او کوچنۍ بوټي (Phoke او burs) خواره وو. د ډول نباتات هم په زیاته اندازه نه وو، حتی زموږ د څاروېو دارتیا خوراک یې هم چمتو کولای نشو.

د دغه ځای غونډۍ د بیدیا تر غونډیو ټیټې وې، خو رنګ یې خړ و، په داسې ترڅ کې چې صحرایي غونډۍ سور و زمه ژیړې بریښېدلې. د دغې سیمې اوبه هم مالګینې غونډ ېوې، په دوهمـارش کې موږ د سند دریاب (اندس) خړوبو شویو مځکنو ته ورسیدو او د دسمبر د یودیرشمې ورځې په سهارما، مستر ستراچي او بریډمن مکارتني درې واړو د دغه نامتو دریاب د غاړو په لیدلو پیل وکړ. له موږ سره په اوښ سپور یو راهنما (ترجمان)، څو تنه سپاهیان او درې یا څلور تنه مزدوران چې په اوښانو او آسانو سپاره وو، مله شول.

---

* اوچ Ooch یو ځای دی او هغه عرض البلد چې له دغه ځای څخه تېرېږي د اوچ عرض البلد په نوم یادېږي. مترجم.

موږ له یوې خړبې ځمکې او خاورې څخه تېر شو چې په هغې کې او ژده وابښه او یو ډول ونې چې ولو (بېد) ته ورته وې په ښه شان لیدل کېدلې. دغه وازدلته ځای په ځای کرونده او ښتې معلومېدل چې د سیمې د مسورتیا یې لا پسې زیاتوله. ورځ خړه پړه او آسمان له ورېځو ډک و، کله کله د باران څاڅکي ورېدل، تږغرمې وروسته شېبه پورې یو تند او سوړ باد چلېده. د ټولې لارې په اوږدو کې غونډۍ په ښکاره توګه لیدل کېدلې، طبیعت ښکلې ښه نیولې وه، له لېرې څخه مودې لړۍ غرونه سترګو ته راتلل، وروستۍ لړۍ چې ډېره جګه وه، د ډېر ځله دوره ځې له امله په دې شک کې ولوېدو چې آیا دا جګوالی په رښتیا غرونه دي او که ورېځې، کله موچې غونډیو ته کتل د ورېځو غټې ټوټې یې پر مخ را غلې او شمالي خواوې یې زموږ له سترګو څخه پټې کړې. لوېدیځ خوا ته د غونډ یو منځنۍ برخې ورېځو نیولې وې، په دې ډول څو کې او تل مې په ښه شان لیدل کېدل. بله ورځ ورېځې تېرې شوې او هوا صافه وه د غرونو او غونډیو سرونه سپینو واورو پټ کړي وو. کله چې د دریاب خوا ته را ورسېدو، نو ډېر خوشحاله شو، خو چې غاړو ته یې نږدې شو، دومره زیاته اغېزه یې را باندې و نه کړه.

اندس د خپل مشهور نوم او د هغې دلچسپۍ په څنګ کې چې لدې کبله یې پیدا کوي چې د هند سرحدي کرښه یې جوړه کړې ده، په ځانی ډول او هم د هغو لوړو غونډیو له کبله چې د دې ځای د شا منظره یې جوړوله، ډېر پر تمین و. سره د دې هم د دغې منظرې په لیدلو سره یو څه خواشیني شوو، هغه دا چې د دریاب په منځ کې یوه غونډۍ داسې پرته وه چې اوبه یې په دوو برخو ویشلې، نو له دې امله داوبو د جریان اغېزه یې خرابه کړې وه، زموږ د دریدو له ځای سره نږدې په دریاب کې نورې غونډۍ او دریکونو مورې هم څرګندېدلې، د دریاب اوبه ترخو کو اوږ یو رسېدلې وې او په ډېر ژوروالي او مستۍ سره روانې وې د دریاب په غاړه مو له یوه آرې و کړې (د سیمې اصلي او سېدونکي) سره خبرې اترې و کړې زموږ ترجمان له دغه سړي سره مفاهمه پیل کړه د دوی خبرې موږ ته ډېرې عجیبه وې او په ډېره دلچسپۍ سره مو اورېدلې د دریاب پورې غاړې ځمکې بلوڅي خلکو د استوګنې لپاره غوره کړې وې، په داسې ترڅ کې چې نږدې غرونه د هوې زړورې قبیلې چې شیرواني نومېدل د استوګنې لپاره ټاکلې وو. د غرونو په یوه بله څنډه کې ځینې خلک او کلي وو چې موږ یې له نوم سره بلد نه وو او یوازې د نقشې له مخې موږ سره اشنایي درلوده. ترجمان هم په دغه باره کې کومه پېژندګلوي نه درلوده. هغه څه چې موږ درک کړل دا وو چې د غرو څخه هغې خوا ته ځینې عجیبه وحشي او نوي شیان شته،

هیله مو وکړه چې یوه ورځ یې لیدنې ته لاړشو او په هغو کې پلټنه وکړو او خپل معلومات بشپړ کړو .

دلومړي ځل لپاره موږ اندس له اودوداکوت (Oodoo da Kote) څخه ولیدل . له دغه ځای څخه د کاهیري Kaheree تر گودره پورې څه اوږه میله واټن و ، چې دد ریاب او بېدیا ترمنځ یې بېلوونکې کرښه جوړوله دښکار په وخت کې به کله چې دسړك لویدیځ لورته ولاړوو ،نو دد ریاب څنډو،ښاخونو او لندوشکو دغز ونو او یاد یلو (نیزاریانې) په گڼون تکڅ لږ څه دڅنډو سره مخامخ کاوه . کله چې به ښې خواته ولاړو نوشگلیځو غونډیو وار په وار زموږ ویره له بېدیا څخه زیاتوله ،نو فکر مو کاوه چې بیا بیدیاته ننوتلو ،سره دد ې هم په دغه برخه کې په ډېر زیاتره زراعتی ځمکې چمتوشوې وې چې په هغو کې د ېرښه غنم ، اوربشې منگرټې (شلغم) او پنبه (مالوچ) لیدل کېدل. د پټیو په گردچاپېر کې د بوټو او یا دولو (بېد) دښاخونو وه کتاره تاوشوې وه ، دغه راز کله کله د کلکو بزیو په واسطه پټی چارچاپېره بند یدل. ددغې سیمې کوروونه د پورتنیو موادو څخه جوړ شوي تر نظر راتلل. د کرو ندو تر اړخ موږ د کرنې دځایونو د پاکوالی په لیدلو چې د هندوستان په خلاف ډېر پاك وو ،هك پك او ریان پاتې شوو. دغه ځایونه په ډېره منظمه توگه چاپېره (احاطه) شوي او په هر یوه کې داسې دروازې کښېنول شوې وې چې هره یوه یې له دریوڅلورو لرگو یا میلو څخه جوړه شوې وه . په دغه راز محوطه کې دسرود پران (انبار) ، دځارویو لپاره یې سیوري او داسې نورشیان موجود وو. دلاسې زمبیلو نو لیدل او څاریو ته منگرېتې ورکول زموږ د پاره نوې شیان ووچې مو ولیدل دد ریاب دغاړې وداني زموږ پاملرنه ځانته واړوله. دادول کورونه د کلکو ستنو (متو) یا (پایو) پرسر له مځکې څخه دوولس یا پنځلس فوټه جگ جوړ شوي وو،داسې راته وویل شول چې دا کورونه دې لپاره جگ آبادشوي چې ددریاب د اوبو د لوړیدو (طغیان) له امله خلکو ته په هغه وخت کې پناه ورکړي چې اوبه په دواړوغاړوکې لس یا دوولس کاسه (Coss) (کروه) (شل یا څلرویشت میله) مځکه لاندې کوي.

ددغې سیمې خلك ډېر مدني او دښو کړووړو خښتن وو دوی څېرې د ملتان او بهاو- لپور خلکو په نسبت ډېرې ښکلې او آرامې برېښېدلې، هرڅومره چې د شمال خواته تلو، نو په هماغه اندازه د وگړو ښې او طبیعی جوړښت د اصلاح خواته نږدې کېده څوچې گودر (له سین نه د پورې وتلو ځای) ته ورسیدو. دوگړو کالې ډېر سم او ښکلی وو. حتی دسهیل خواته هم خلکو سپین او پاشنه نخی اوزده کالی اغوستی وو. د بدن کومه برخه یې لوڅه نه برېښېدله، دوی د ډېرې او د ښه عادت او د رنښت له پلوه دهند د سولویانو (د اسلامي شریعت پوهان) په څیر ښر گڼدیدل. د لته خلکو نصواري خړ و زمه کرتی چې دوړ یوڅه جوړې او ښه جنسیت یې نه درلود ،اغوستې وې اوشمالی

لوري کې دا ډول جامې ډېر عموميت لري هلته ټول خلک رنګه لروڼکي جامې، نيلي سرې او يا چارخانه جامې اغوستلې. د لونګيو په ځای يې ورېښمينې خولۍ په سروې چې دا ډول خولۍ دوه لزې ټوپيو ښخه لېرې نه وې او دومره ښايسته نه معلومېدلې.

زموږ تمځايونه زياتره په ستړو کليو کې وو، د دغو کليو په لړ کې يو هم د لياLeia په نامه بلل کېده چې دا نوم يوه ولايت ته هم ورکړل شوی و. دا کلی په خواره ځمکه کې آباد شوی او پنځه سوه کورونه يې درلودل، په هر يوه کلي کې زيارتونه د هماغو زيارتونو غوندې وو چې پخوا مو ليدلي وو، په دغه لړ کې تر ټولو ښکلی زيارت د محمد راجان زيارت د يادونې وړ دی دا زيارت په هغه کلي کې دی چې په همدغه نوم يادېږي دا زيارت په اته څنډيزه توګه څلور پوړيز ودان شوی او په مخ يې ښکلې او رنګينې خښتې لګول شوې دي.

د لوړې پوړ په هره يوه څنډه او کونج کې يو برج او په سر يې منار جوړ شوی او ډېره په زړه پورې بڼه يې نيولې ده دغه زيارت د ډېر نامتو او د کښې ورشيان اړي چې په پرلپسې توګه ليدل کېږي.

دغه راز بايد هغه ځګه غاړه ياده کړم چې د ليا له شمالي پړاونه تر ګوذره (د سين د پورې وتلو ځای) پورې زموږ د لارې په ښۍ لورې کې غزېدلې وه. داسې ويل کېدل چې دا غاړه يو وخت د درياب ختيزه غاړه وه او دې ځای څرګندونه بڼه له دې څرګندونې سره سمون ښيي. په لياکې له ما سره دوه دراني سپاره مله شول او دا لوړې وارو، چې ما ته دغې کتنې موقع په لاس راغله، دوی دواړه د سيمې د ګورنر (والي) له خوا را استول شوي وو، خو ما خپلې منطقې ته بدرګه کړي، د دغو کسانو او بدې بې لستونو کرتۍ چې څنډې يې چرسی وې اغوستې وې، پوتڼ يې ډېر ښايسته او ځګه پوزه يې درلوده، څېره يې په عمومي توګه ډېره په زړه پورې وه. دويم ملګری يې په رنګ تور او څېره بڼه يې درلو - دله، د دغه سړي پر سر د قره قلي خولۍ د فارسيانو په دود ليدل کېدله، خو د فارسيانو په پرتله لږه ټيټه وه، په داسې ترڅ کې چې لوړي تن د يوې خولۍ په سر ورېښمينه لونګۍ پېچلې وه، دواړه سړي ډېر مدني او جدي ملګرني خاوندان وو. دغه راز ما په لياکې د شاه يو فارسي ملګری او يو ځوان هندو چې د محمد خان ديوان ورور وه وليده دغه هند و سره د دې چې د افغانانو په څېر کالي يې اغوستي وو، خو خپل اصلي علايم يې هم ساتلي وو، د ټولو خبرو په لړ کې ما ته دا ډېره په زړه پورې وه چې د دغو خلکو د حکومت او داخلي شخړو په هکله ډېرې ازادې او ښکاره خبرې کولې، د دغو خلکو په څنګ کې چې په ښار کې مو ورسره ليد نه وکړه، ځينې نور خلک زموږ کتنې لپاره ډېر ليوال وو او موږ ته دا موقع په لاس راغله چې د دغو وګړو سره وګورو او د دوی په هکله څو ټکي ښکاره

کړو، ځینې وخت زموږ سره د تګک په لاړکې یو شمېر خلک په تېره بیا ځینې سپاره مله کېدل. یاداچې له کلي څخه به دوه یادرې تنه زموږ د لېد نې لپاره راڅو ځېدل. دا کسان زیاتره په اسپه سپاره او بېهانې به هې تورشاه ځغاست. اوږدې نېزې به هم ورسره وې.

دوی د ډېر مدنې بریښېدل. زموږ د لېدلو نه خلکو ته په ذهن کې عجیبه خیالات پیدا کېدل دوی زموږ د دین او ملت په هکله معلومات نه درلودل، موږ یې کله سیدان، کله مغل او حتی هندوان ګڼلو.

ځینو خلکو داسې باوردرلو دچې له موږ سره په بکسونو کې سترتو پلک شته او بیا داچې دوی تصور کاوه چې موږ یوه ول ځانګړي کوچنې صندوقونه لرو چې کولای شو دغه صندوقونه منفلق او دهر یوه په وسیله نیما یې د له خلک بیله دې چې موږ ژوبل شو وو ژنو ځینو نورو فکر کاوه چې موږ مړه شیانژوندي کولای شو په بله وینا یې سامو جوداتو ته ساپو کولای شو، په اولس کې د اسې کیسې جاري وې چې موږ په ملتان کې دلرګی یو پسه ته ساور کړې او ژوندی کړی مودی، وروسې دغه پسه مو په یو سړي خرڅ او پېرودونکی تر هغه وخته چې د پسه خو ړلو ته هې اقدام کړی نه و، نه پوهېده چې رښتیا پسه له لرګیو جوړدی او که د غوښې څخه؛ خو کله چې دغوښې خوړلو ته یې شروع وکړه نو پوه شو چې د پسه اصلي مواد څه شی دي.

داندس له ګودرسره مود سکانو یوه د له سودا ګرولیدل چې داماان ته دیو د ول طبي بوټو سدر (madder) در انیولود پاره تللی وو، دغو سکانو د افغاني قبایلو په باب وویل چې داخلک په سما فرو با ندې مهربان دي او په خپلو ګړوو ړو کې د یرپاک او سپېڅلي دي خو د دغو قبیلو په لړکې وزیریو څه سا د ه او بې رحمه وګړي دي او له نورو څخه تو پیر لري.

دجنوري په اوومه نیټه د کاهیري په ګودرکې له اندس څخه واو ښتلو. داندس اصلي جریان او او به یوزرولس ګز ه پلنې بهېد لې، خو له دغه اصلي جریان څخه خوښاخونه بیل او له هغو څخه یو یې په د وه سوه پنځوس ګز ه پلنه مځکې کې بهېده، له درباب څخه په یوه پلنه او سوروره بېړۍ کې چې د نښترله لرګیو څخه جوړه وه تیر شو، د دغې بېړۍ ظر فیت له دیر شو څخه ترڅلوېښتو ټنو (tons) پورې رسېدلای شو. زموږ اوښان ګونډه کړ شول (څلورواړه پښې یې کت او تړل) او د نورو مالو په څیر سو بېړۍ ته وغورځول. آسان موهم په بېړۍ کې پورې باسل یوازې هاتیان پخپله په او بو کې لا هو او لامبو په وسیله ئې خپل ځانونه پورې غاړې ته ورسول چې د دوی ګله یدل په او بو کې مې دسې دخلکو د هېښتیا سبب شول، ځکه امکان لري چې د دغه ځا

خلکو دمخه فیلان په ستر ګولیدلی نه وي. له ګودر څخه تر دیره اسماعیل خان پورې ښځه دیرش میله واټن و، د دغې فاصلې او برده کې ځنګلونه ټپ او ګڼ او غزيدلي شنه شوي ووچې په منځ کې یې هر ډول ځنګلي مرغان او حیوانات له زرګو څخه نیولي ترخوګانو او پړانګانو پورې لیدل کیدل .

دلته کرنه ډیره پرمختللې اوښه وده یې کړې وه ، خو سره ددې هم دساحې له مخې یې دومره پراختیا نه درلوده او به پریمانه او خاورې ډیرې ښې او حاصل خیزې بریښیدلې ، له دې پلوه ددریاب په وسیله خړوبې شوې ځمکې او هیوادونه ډیر نامتو او غوره ګڼل کیږي .

دجنورې په یولسمه نیټه د اسماعیل خان ډیرې ته ورسیدلو او ددغه ایالت له حکمران فتح خان نومي سړي سره چې په ختنه بلوڅ و، وغږیدو او ډیر ژر ګډو ی کتنه موورسره وکړه . نو موړی حکمران د محمد خان مرستیال ګڼل کیده . محمد خان د پاچا له خواد (لیا) د سیمې غونډې د ډیره اسماعیل خان اداره کولو لپاره ګومارل شوی و . فتح خان له شوکت څخه ډک کالي اغوستي وو او دیوې ډلې پلیو افرادوچې خوارې جامې یې اغوستې وې او هوشیر سړو کسانو چې هغوی هم په خوار واسانو سپاره او په اوږدو نیزو مسلح وو ، له خوا بدرګه کیده ، ده او دهغه بدرګه والو دخپل ځښتن دستروالي ستاینه وکړه دغه راز دوی دخپل واکمن دشلوچونیو ، یوشمیر تو پونو او ځلوبیتو ښاخونوچې شپه ورځ دتوپونو دمردکمو په جوړولو لګیا وو او داسې نورو موضوعاتو یادونه او تعریف وکړ . فتح خان دورځې په اوږدو کې شپږ بوتله کابلي واین (یو ډول شراب) او دوه دعطرو ډوګلی(بوتلونه) چې په ختیځ کې ډیر نامتو او له ګلا بو څخه جوړ شوي وو او دبیدي مشکو په نوم یادیدل ، دسوغات په توګه را ولیږل . په اسماعیل خان ډیره کې تقریباً یوه میاشت دمهماندار (میلمه پال) لپاره تال شو.

دډیره اسماعیل خان وړوکی ښار له اندس څخه دسلو متر و په لیرې والی دخجورې (خرما) په یوه ګڼ ځنګله کې پروت دی . دښار محیط یونیم میل او ترې تاوشوی دیوال له اوموخښتوڅخه جوړ شوی و ، نو په زیا ترو برخو کې رنګ او ز وانمن بریښیده . دښار اوسیدونکي زیا تره بلوڅ ګڼل کیدل ، سره ددې یوشمیر افغانان او هندوان هم دلته میشت وو ، ورستی ډلې په ښار کې یو عبادتځی درلود.

دسیمې اولس بلوڅان او جټان وو ، چې ددریاب دمخامخ غاړې او سید و نکو سره یوشان بریښیدل . موږ دلته ددامان زیات شمیر افغانان ولیدل چې له باوځانو څخه یې ډیر توپیر درلود ، دغه افغانان ډیرغټ او ښکلي سړي وو چې ګډ و ډ ویښتان یې لرل . دوی لوېې لونګۍ پرسر او د پسود پوستکي چپنې(شاید پوستین وي . مترجم)یې اغوستې وې ، ځیرې او عادي ښځې یې درلودې خو په کړوو ړو

اوعاداتو کې ډېر پاسته اومهربان وو ،زموږ دکمپ په شاوخوا کې به ز یا تره وخت دسپروډ لې چې له اپرېځا یو څخه زموږ دلیدنې لپاره راغلي وو ، ولاړ ې او په ډېره هیښتیا به یې زموږ پېژندګلوي ترلاسه کوله .

دلته زموږ د کمپ په شاوخوا کې دګرزند شپنو کېږدۍاو زیا تې رمې په یوه پراخه ناوه کې خورې شوې وې . له رسیدو یوه ورځ وروسته ددغو شپنو خواته ولاړو ،خوله یوه سره خبرې اترې وکړو . په دوی کې یوتن چې د خرو توپه کام پورې تړلی و ، زموږ د کتنې لاندې راغی .خروتي دتولو پووندہ قبیلو په لړکې ډېرتروه اوشډل پرېښې . ددوی دکېږدیواو کمپ په لوړ مو کس سمله واتن په سپرلی سره وواهه ،دلته دوی دیو ې دا سې کلکې اومتینې مځکې په مخ چې دیوتو د Jaund او Kureal په نوم یو تې) په واسطه پټه وه ، میشت وو. په ښکاره توګه ددغې مځکې خاورې خړې وې ،خوورته پاملرنه شوې نه وه.دلارې په اوږدوکې مو یوشمیر افغانان ولیدل چې د ځنګوسو په شاو خوا کې داوښانو یوه ګله یې ددېرې خواته روانه کړې وه. داوښانو په لړکې یوه یې سپین رنګ درلود اوستر ګې یې شنې (آسمانی رنګه)وې (۱) دغوافغا نا نو په فارسی اوهندوستا نی خبرې کولای شوې ،دوی ډېر مدنی خلك وو،سپین اوبن یې تر هغه پورې چې زموږ آزموینه بشپړه نه وه درولی و،دوی موږ ته خپلې تو رې راوښولې، په ډېره مینه مووږته وکتل ځکه ددغوتوروموتې له هندي او فارسي تورو څخه جلا برېښېدل . داخلك دهغه هیواد اوسېمې له وګړو سره چې لږ شه مځکې مووليده ، ورته وو یوازې په دومره توپیر چې یوڅه ماهراوښکلی ښکاره کېدل.

بالاخره د لس میله واتن له وهلو وروسته کمپ ته ورسېدو،کمپ په داپروي تو ګه درول شوی و اوخیمه یې له نصواري شړۍ څخه جوړه وه چې ددوو نمغوستنو په واسطه جګه درول شوې وه.دکېږ دی ددوو نیغو (عمودي) ستنو په سر یوه ا فقی (پرته) ستن کلکه شوې وه ، د کېږدی دیوالونه داغزیو په واسطه احاطه شوي وو، زموږ په لیدنه سره ددوی هیښتیا و پاروول شوه اوددوی له لړ څخه یوه سړ ي چې په هندوستان کې اې شپې ورځې تېرې کړې وې په هندوستانیژبه له ما نه پوښتنه وکړه چې تاسو څه شی دې خوا ته راوستلی ء ،خپلو ملګو نو ،کا نپو ر (Kawnpore) اولکنهـو Luknow او نو ر ښا یسته ځا یونو با ندې پسما (قانع) نه شوی ما په ځو اب کې ورته وویل موږ د ملګرو په څېر دلته راغلي یو اودپاچا لیدوته روان یو ،له دې خبرې وروسته سملاسي دوی ته ګـران شولو اوددوی صمیمیت مو تر لاسه کړ ،

(۱) دغه اوبن زموږ دهیات یوه زلمی راونیو اوترهندوستان پو رې یې له ځان سره یوت هلته یې چا ته سوغات ورکړ په پای کې زه خبر شوم چې په لندن کې یې دنغدا رې لپاره نندارتون ته راوستلی و .

د کیږدیو زیات شمیر خلک زموږ په شا وخوا راغونډ شول. د ماشومانو شمیر زیات او ټول یې ښکلي او تندرست وو. جونو بوڅې پوزې درلودې او ترهغه ځایه چې ما ولیدې یهودي ډوله بڼې یې درلودلې، نارینه په عمومي توګه تور وو، خو ځینې یې ډیر ښکلي او روغ رمټ ښکاریدل. یو ځوان سړی په خاص ډول زموږ مخ کې ودرید او په چوپه خوله او هیښتیا سره یې ځیر ځیر کتلو. دده ښه او ځیره یوه آیرلنډي کروندګر ته ورته وه. د غوسړیو په اکثره ول جګې پوزې او ټیټې ونې درلودې، ځینو یې نسواري وړېښنې غټې کرتۍ اغوستې وې، خو زیاترو یې سپینې نخۍ ټوکران لرل، دوی ټول و سپین پټکي پرسرو خوداسې بریښیدل چې ډیره موده یې پریمینځلي نه وي، ددغه یوونده خلکو نارینه د ښځو په مکله ډیر زیات چڼچلي (حسود) نه معلومیدل، نارینه، ښځې او ماشومان زموږ په شا و خوا کې راغونډ شوي وو.

په کرتیو یې لاسونه راتیرول، د اسونو رکابونه یې د ازموینې لپاره کتل او په ډیره هیښتیا یې د آس په زین باندې د توپانچو ځړیدلې کڅوړې خلاصولې، خو دوی هیڅکله د اذیت لپاره کوم کار نه کاوه. دوی له پښتو څخه پرته په بله هیڅ یوه ژبه ګړیدلی نه شول، د دوی عادات ډیر مدني او په ډیره خپلواکه او آزاده توګه یې د ټوکو او صمیمیت ښه ځرګندوله، ما ته دا معلومه شوه چې دلته دوی درې میاشتې تیرې کړې وې او دوه نورې میاشتې یې هم دلته مالونه پوول، خو د دغې مودې له تیریدو وروسته اوړي غزني ته رسوي. دوی وویل هغه ځای د دامان په نسبت ډیره لوړه او باندې سیمه ده. سره ددې چې له ما سره زیات شمیر افغانان او انګریزان د دوی د محاور په هره خبره او اوړونه باندې پوهیدل، خو زه یې خپله ډیر لږ ور باندې پوه شوم، په بله وینا سره ددې چې زما ملګري هر ډول خبرې را ته ترجمه کولې، خو بیا هم زه ډیر لږ پوهیدم.

مخکې له دې چې د دیرې څخه روان شو زما له ملګرو څخه دوه تنه یعنې مسټر فریزر او لفټنټ (دوهم بریډمن) ها ریس د کړاو څخه په یوه ډک سفر ووتل. د دوی مقصد دا و چې یوې څوکې ته چې تخت سلیمان نومیږي وخیژي، تخت سلیمان یا د سلیمان تخت یوه څوکه ده چې د سیمې د خلکو د عقایدو په اساس د نوح (ع) بیړۍ له توفان څخه وروسته هلته دریدلې ده، دوی په یوه لوخ میدان کې له دوو ورځو سفر څخه وروسته پیچومي ته ورسیدل. په دغه ځای کې له څلور میله پیچومو وهلو وروسته د دیراو بند په نامه کلي ته ورسیدل، دا ځای د یوې وړې قبیلې میانخیلو (Meeaunkhals) ستر مرکز بلل کیږي. دا یو ښایسته وړوکی ښار او د یوې سړې ویالې په غاړه له غره څخه شپږ میله لرې پروت دی. دوی ته د دغه ځای د مشر د وړور له خوا چې نوی له ښکار څخه راغلی و، ښه راغلاست وویل شو دی یو تندرست

اوښایسته ځوان سړی و چې لږ څه سپیلي (یوڅه زړې) جامې یې اغوستې وې، خو
کالي یې په ځان کې جوړ او ښه معلومېدل، اوږدې او د غشیو کږوږه یې په شا او د سوي
د وله حیوان نیغه لکۍ یې په لنګۍ برسېره ځوړېدلې وه. دوه ښکلي تازیان هم ورپسې
روان وو. هغه له مېلمنو او ناآشنا خلکو سره ښه ستړې مشي کوله، ده زموږ د خېمې
ملګرو ته د غرمې ډوډۍ حواله ورکړه، ده دا هم ښکاره کړه چې د ده ورور به
د دوی ډېره پالنه او هر کار وکړي، خو د خپل ورور لیدلو ته یې د دوی د تګ په باب
ډېر تېښګا وونه کړه. د غرمې په شا وخوا کې ډېر ښه پلو او د پسه د لم یوه ټوټه په
قابو کې راوړل شول، چې خپله ډوډۍ ورسره لنده کړي، بله ورځ سهار عمرخان د دغه
ځای مشر د خېمې خواته راغی، خوشبینی د باندې ولاړ و، ځکه د هیأت ډلې کالي
اغوستل، نو وروسته له دې چې دوی ملبس شول، دی خېمې ته ورننوت، دی یو ډېر
ښایسته، روغ رمټ خو کم ډېرش کلن ځوان و چې توره غټه لونګی یې په سر او سپکه شنه
چینه یې اغوستې وه، د چینې د لستونو سره نږدې د ورېښمو کرښې د تیرېږه سخ لیدل
کېدلې، د ده خوی ډېر پوست او ډېر ښه نورمال عادت څښتن و.

وروسته له دې چې دوی سره معرفي شول، د هیأت تعویل چې د دوی د راتګ
په وخت کې د قوم په منځ کې له یوې ډلې سره په لانجه اخته وو، نوموړي مشر له
هیأت څخه وغوښتل چې هغه ته په دغه کشاله کې سلا ورکړي، حتی له دوی نه یې
هیله وکړه چې ده ته بریالیتوب لپاره یو تاویز هم ورکړي، په دغه وخت کې چې د ډېراو
بند کې* وو، دوه تنه سواره زلمیان له دوو دریو تنو هندوستانیانو سره چې دوی
هم ورپسې په آسونو سپاره وو، او په لاره تلل، ناڅاپه د سلیمانخېلو د قوم یوه ناآشنا
او نامعلوم سړي یوه هندوستاني د اوښې چړې په پښه خوا درې چړې ووهلې د دغې
پېښې علت معلوم نه شو ځکه افغانانو یوازې په پښتو خبرې کولې په بله ژبه نه
پوهېدل، عمرخان پخپله په کابل کې ښه فارسي زده کړې وه، ځینې ملایان هم د فارسي
په یو شمېر لغتونو پوهېدل، عمرخان هڅه کوله چې زموږ له، له دې سفر څخه منع کړي
ځکه چې دا ډېر خطرناک سفر و، چې په دې هڅه کې بریالی نه شو داسې لارې چارې
یې پیدا کړې چې دوی د ده د خپلو ښمنانو څخه یعنې شېروانیانو څخه چې د دوی په
سیمه کې د سلیمان تخت څوکه پرته وه په امن کې وساتي. عمرخان د هیأت ملګري په
داسې کالیو کې پټ کړل چې د سیمې له خلکو سره یې توپیر نه درلود او دا، سلا یې
ورکړه چې ټول هندوستانیان شاته پرېږدي او بیا نو دوی د غر و لوري ته
وخوځېدل. هیأت د غره داسې ځای ته ورسېد چې هلته د نښتر ګڼې ونې (په شمالي
لمڅو کې) ولاړې وې، دغه راز د لته د پودېنې په ډول (ښایي د ګرانیت ډبرې وي)

*– ډېراو بند یوه سیمه ده. مترجم.

د برې پرېمانه پرتې وې ، په شاوخوا کې زيات شمېر کوچنۍ خوړې (درې) خوړې شوې او هره يوه له بلې څخه د يوې نرۍ ژۍ (پوله ، موره او يا غونډۍ) په واسطه بېلېداله ، په دغو خوړو کې روڼې او پاکې او به جاري وې ، هغه لار او پېچومې چې هيات ورباندې روان و . د هر کوږ کږڼ او مارپېچې وهتي په غره کې د لس ميله واټن له وهلو وروسته بيا هم ځوکې ته ختل درې ورځې نور سفر هم غوښته ، له بلې خوا دوی په دې پوه شول چې دغره ځوکې ته تلل د واورې له امله امکان نه لري ، د دغو ټکو په نظر کې نيولو سره هيات دې ته اړ شو چې بېرته راوګرځي څو د خپل اصلي ستر هيات سره ژر يو ځای شي . دوی يوه شپه د شېروانيو په کلي کې پاتې شول . شپه يې په يوه ټيټه جونګړه (ښايي دا د ولخونې داوړي د موسم د تېرولو لپاره په غره کې جوړې شوې وي مترجم) کې چې دغو لې يوه برخه يې ژوره شوې وه ، تېره کړه ، د کلي اوسېدونکو دوی ته ډوډۍ او غوښه ورکړه ، خو د غوښې خوند دومره خراب و چې دوی څکه ورباندې ونکړه ، غوښې يې په وروډکو کې اېښولې وې (ښايي يخې شوې نه وي مترجم) د خونې درڼا کولو لپاره دوی د سېردونې غوړ لرګی (ايژې) لګول چې رڼا يې لږه او د يوې په څېر لګېدله او زيات غوړ يې شاوخوا ته توی وو (د دغو لرګو له غوړو څخه رڼا يا زرنه جوړوي . مترجم) دوی د دير او بنډنه بېرته ستانه شول او د دغه ځای د مشر له کتنې او هغه ته له سوغاتو ورکولو وروسته د خپل اصلي کمپ په لور وخوځېدل . دوی د عمرخان د مهربانيو ستاينه وکړه ، دغه راز د وی د عمر خان د مخالف ګوند د يوه مشر د پاملرنې له کبله خوښ شول .

د ستنېدلو په وخت کې کله چې دوی د يوه زاړه کلي د کنډوالو څخه اوښتل ، نو په دغه وخت کې دوی هسکې نېزې ولېدلې او اوه تنه سپاره د دوی مخې ته وړاندې راغلل ، د دغو ځلميانو نه مخ کې يو تن او ، او له نيکه مرغه دی د عمر خان له خوا استول شوی لارښوونکی و . دا د له د مشردوراره په مشرۍ د لارې څارلو لپاره په مورچل کې ناست وو ، د ډلې مشر هم د نوروز لميانو په ګډون مېلمه پالونکی بريښېده ، خو دا ځوان ټولګی د مشردوراره مېلمانه وو ، نو څنګه چې خپل ځانونه يې بشپړ خپلواک تصور کړل داسې تصميم يې ونيو چې د قوم له سيمې څخه د وتلو په وخت کې د هيات مالونه لوټ کړي ، سره د دې چې د مشر له خوا استول شوي لارښوونکي ډله دې ته وهڅوله چې هيات ته کوم زيان ونه رسوي ، سملاسي وروسته د هيات په غږ وباندې د يوه تن پلې له خوا غبرګه شو چې ودرېږي ، خو هيات بېرته له کومې پاملرنې خپل تګ ته دوام ورکړ ، دا سړی ځای په ځای په مځکه ولوېد او خپل ټوپک يې د هيات په لور په څخه (نښه ، نشانې) کړ په تېره دده د ټوپک نشان په مستر هاريس برابر شو د لته بيا هم لارښوونکی مخکې توب

وکړاوهيأت بې له کومې ناوړه پېښې څخه اصلي کمپ ته راورسېد. د دېراو بندخېني خلك څه وخت وروسته کمپ ته راغلل او دهيأت د هغو غړو له خوا يې چې ورسره کتنه يې کړې وه، تود هرکلی وشو.

د جنورۍ په پای کې د محمد خان له خوا خبر راورسېد چې په يقيني توګه يا چا د پېښور په لور خوځېدلی دی، د دغه راز ده دا هم موږ ته جوته کړه چې د رتبې والا يو سړی تر رسېدو پورې ملا جعفر سيستانی شاه له خوا مؤظف شوی دی چې له هيأت سره يو ځای شي. د دربار څو تنو استازو او ځريوله تګ را تګ څخه وروسته ملاجعفر راورسېد او د حرکت د پېل لپاره موځانونه چمتو کړل. ملاجعفر په خپله آری سيمه کې د ښوونځي سر ښوونکی و چې څه موده وروسته دربار ته د خپلې شتمنۍ د ښه کولو لپاره راغی، ده د سوداګرۍ په برخه کې ډېره مهارت درلود او زياتې ډېرې يې په لاس کې درلودې، د موقع څخه په استفاده کولو سره يې د پاچا خوښه داسې حاصله کړه چې د پاچا د بدمرغی او غرو ته د تېښتې په وخت کې ډېره جواهرات له هغه څخه وپېرودل او په دې ډول يې پاچا خوشحاله او ځان يې شتمن کړ، په دغه وخت کې دی سره د دې چې د يو عادي سوداګر چالچلند يې لاره، بيا هم ډېر امتيازات يې درلودل دی يو غښتې پوخ سړی، هوښيار، چالاك او ټوکی و، خويو څه اندازه قهرجن او تند خويه هم بريښېده د ده په لار ښودنه موږ د فبروری په اوومه نېټه له ديره اسماعيل خان څخه وخوځېدلو، د دغې لارې په اوږدو کې د درياب د مخکنۍ غاړې په څېر کنې ونې شنې شوې وې، کله چې موږ د مارش (تګ) د پای ته رسېدو ځای ته نږدې شو، د فارسي ياد را نی آسانو يوه ګڼه موږ د لارې په سر ولېدله، ډېر ژر و پوهېدو چې سل امان د شاه له خوا له يوه مکتوب سره موږ ته راستول شوي دي. له دغو آسانو سره ټول عسکري افراد په فارسي ډوله کاليو، جامې او بوټونه يې رنګينه او د پسه له پوستکي ټيټې خولۍ يې (ښايي قره قلي وي مترجم) پرسروې د دوی د آسونو زينونه د پړانګ په پوستکي او نورو موادوو پوښل شوي وو، د دغه راز د دغو افرادو يو ډول ځانګړي توپك (matchlock) او داسې توري درلودې چې موټی يې فارسي ډوله برېښېدل. د دغو عسکرو له لړ څخه ځينو يې غړبوڼ لرونکي غټ خولی توپك چې کنداغونه يې کوچني وو، هم له ځان سره درلودل، د دغو توپکو ميلی نري او سپيني وې چې په کمربند پورې يې تړلې وې، په عمومي توګه دا ډله ډېر منظمه او ښايسته ليدل کېدله کله چې د خپل تم ځای ساحې ته ورسېدو، نو دوی د کچروشل بار مېوه، د کابل انګور او منې موږ ته راولېږل ما زدېکر د هغې خېمې لورته چې زما له کمپ څخه نږدې سل ګزه ورانده درول شوې وه، ولاړم خود پاچا له خوا راستول شوي

امتیازی کالی لاس ته راوړم ، ځینې له هغو کسانو څخه ډېر که وه ، او داسې په درناوی ولاړ وو ، لکه چې په خپله اعلیحضرت هلته حاضروا وسی ما ته لارښودنه وشوه چې کالیو ته په درناوی خپل ځان تیټ کړم ، وروسته یو زري ډوله ځلیدونکې قبا (چوغه) چې دساتن (داطلس توکر) لیکې یې دراودې راکړله او راته وویل شو چې پاچا په خپله دا جامې اغوستې دي . یو شال زما د توپۍ په شاوخوا راتاو او دپاچا لیك په هغه کې وتوښل شو ، یو بل دستمال د کمربند لپاره راته تقدیم شو تولو حاضرینو یوه لنډه دعا وکړه . دغه کالی او شالونه ډېر باارزښته او قیمتي وو .

بله ورځ له هغې داسې سیمې څخه چې د تیرې ورځې په شان وه وا وښتوا وشګلې ځمکې ته ورسیدو ، له دغه ځای څخه له تیریدو وروسته د بهار پور Baharpoor کلي ته راغلو ، دا کلی له دیرې څخه ډیر لږ کوچنی و په دغه شپه ډیر سخت باران وورید ، چې ورځ شوه نو سلیمان غرو زموږ پامرنه واړوله ، ځکه تر هغې اوونۍ پورې دغه غرونه په لږ وېټ او زموږ له ستر ګو نه پناه وو ، خو په دغه ورځ په ځلانده توګه زموږ په مخ کې لیدل کیدل . د هوا صاف والی او د زیاتې واورې اوریدلو دوی ښردې او تر پخوا ځګ څرګندول ، موږ په شګلینه ځمکه کې روان وو هو د خپل تم ځای د مخه تیټ وږرك غونډیو ته ور سیدو .

زموږ کمپ د پونیالا Puneealla کلی ته ښردې په یوه مسوره او ښکلې ځمکه باندې چې د عربې فیلکس Felix منظره یې انځور ولای شوه ، ودرول شو ، د غه ځای یوه شګلنه ناوه وه چې له شاوخوا یې پانګړو نکې غونډۍ چاپیره شوې وې او د یوې کوچنۍ ویالې په واسطه خړوبیدله . هرې خوا ته تیټ وږرك د خرما ګڼې ونې او د جوار وشنه پټي بریښیدل ، پخپله کلي هم د خرو ماونو د ګڼ ځنګله په منځ کې د یوې غونډۍ تر اړخ پروت و ، له دغه ځای څخه کوچنۍ ویالې راوتلې او د ګڼو ونو په مغارو (سمڅو) کې یې جریان درلود . د دغه کلي اوسیدونکي بلوچ او شیخان وو ، چې دا وروستي ډېر له دعربو له اولادې څخه ګڼل کیدله . دوی زموږ ځینې ماکړي او خلك ولوټل او ځینې نور یې بندیان کړل ، سره ددې چې له دوی سره د آشنایۍ وروسته دا لا نجه او لوټماري ختم شوه او موږ د خپلو مالو د ساتنې په هکله یوه ساتونکې ډله د دوی له منځ څخه جوړه کړه ، خو بیا هم دوی زموږ او ښان غلا کړل او له دغه ځای څخه د وتلو وروسته یې د هیأت ځینې بې درکه شوي کسان هم لوټ کړل .

د سفر نور څلور ښت سیله واتن مو د لارګی Largee ناوې د پاسه چې که څه هم له اندس څخه یوازې دیو لږ غونډیو په وسیله جلا کیږي ، خو داسې شګلنه او وچه ځمکه وه چې موږ دې ته اړ وو چې د ویدیا په څیر او به له ځان سره ولیږدوو . تر دغه ځایه پورې هم د افغاني شپنو خیمې چې د مږ و توپه قوم پورې مربوطې وې لیدل کیدلې . دغه

ځای هم په دغه قبیله تړلی ګڼل کیده. له دووستړي کوونکو خوځیدنو (مارشونو) وروسته له دغې ناوې ځخه ووتلو او یوې ځربې او سمسورې سیمې ته چې قطر یې پنځه دیرش میله اټکل کیده داخل شو دغه سیمه یو داسې میدان و، چې ترشا وخوا یې غرونه راتاو شوي او د اندس دریاب یې په منځ ویشلای و. په دغه ورځ موږ د کورم Korrum (کورمه) د سنید پاسه خپل کمپ ودرواه. داسین پراخه، خوا وبه یې ژورې نه وې داوړي په موسم کې په ډیره چټکۍ سره بهیږي، له دغه ځای ځخه موږ د کله باغ یا قره باغ د میدان په اوږدو کې درې خوځیدنې (مارشونه) ترسره کړل. دغه سیمه د عیسی خیلو په قبیلې پورې تړلې وه، د دغه ځای خاورې ځربې او په ډیره پراخه اندازه ترکزني لاندې راغلی دي. د اوبولګولو لپاره دلته داسې ویالې وې چې ځلور فوټه یې سور او په همدغه کچه ژورې بهیدلې، د دې سیمې خلك تور رنګه وو، نو ځکه موږ د دوی د ملت د نورو خلکو ګومان وربانده ونه کړ په داسې حال کې چې هیله مو درلوده چې هماغه ډول وګړي به وي. دوی د فارسیانو په خلاف هندیانو ته ورته وو سره د دې هم دا خلك د سرد اوږدو او ګڼوو یښتانو، ږیرو او د لونګیو د تستوو اونو له امله د وروستي ډلې (هندوانو) نه بیلیدای شول او د خپلو اکه سپیڅلو عقایدو او زږورتوب له پلوه د افغانی بڼې ښکارندوی وو. دوی ډیر ناوړه او تماران وو، چې زموږ ځینې اوښان او د پاچا له خوا استول شوي آسان یې وتښتول خو د دوی طبیعي او عادي خوی ډیر سړی او پوست و، زه د دوی سادګۍ او برابرۍ ته حیران شوم، سره د دې چې د دغې قبیلې خلك شتمن او پرمختللي دي بیا هم دومره ښکلا پسنده نه دي. د دوی یوه سشرچې زموږ سره یې بدرګه کوله، ډیرې ساده جامې اغوستې وې او، په خوی کې دومره ساده و، چې د قبیلې له عادي وګړیو ځخه یې توپیر نه درلود.

د عیسی خیلو په سیمه کې موږ د رانیو سردار موسی خان الکوزي چې د پاچا له خوا رااستول شوی و، ولیدا او ورسره موخبرې اترې وکړې. دی زموږ د لارښوونې او بدرګې لپاره راغی، په ونه جګ او خورب سړی و خو ډیره ښکلې بڼه یې درلوده، ږیره یې ښایسته او زرین کالی یې د ښوښا لوسره اغوستي وو. توره او نور شیان یې د سرو زرو په اوبو جوړ شوي وو، آسان یې ښه اولوړونې (آس ګانه) یې ښکلې او ځلیدونکې بریښیده، ښکلي توپانچې یې د آسونو په زینونو کې ټومبلې وې، د توپانچو د لاستي په مخ باندې د زمریانو د سر ځیره په سرو زرو جوړه شوې وه، سره د دې چې د بڼې له مخې ځلویښت کلن هم نه بریښیده، خو شپیته کلو ته نږدې و، ده په نیواو بهرنیو ښخړو کې ګډون کړی او د خپل ګوند او ټولګی له خوا د سرداری مقام ته د یوه اغتشاش په ترڅ کې رسیدلی و موسی خان په خپل ټول هیواد کې ګرځیدلی او د زیاتې مودې لپاره په کشمیر کې اوسیدلی دی. ده د کشمیر ډیره ستاینه کوله، په تیره د دغه ځای د جنسی

خو دوی په هکله یې مبالغې کولې. ما ته یوه ډېر ژوندی او سرمست سړی و بریښېده او په کړوو وړو کې ډېر ښاغلی و له ده سره څلور یا پنځه سوه په آسانو سپاره وو، چې په کالموک ـ دستې Calmuk Dasteh یا کنډک پورې مربوط وو، بدرګه کېدل، سره د دې هم په عسکري یونیفورم ملبس پلټن او کنډک په دوی کې نه لیدل کېده. دغه راز له موسی خان الکوزي سره د ښنګښو او ختکو د قبیلو مشران د قره باغ د ښار د مشر په ګډون ملګري وو. دغه وروستي مشر ساده او د عربو په څېر بې ډوله غونډې بریښېده. د دغو هر یو مشر ځای او سیمې ته به چې ورسېدلو، نو زیات شمېر ولسي پوځ (ملیشه) به زموږ مخې ته راوستل کېده او ډېر تر ناوې پورې په دغه ډول بدرګه شو.

کله باغ یا هغه ځای چې موږ د هوارې او میداني سیمې څخه دلته راغلو یوه لږه تشریح غواړي. د اندس دریاب دلته د غرونو د موجودیت له امله په یوه تنګه مجرا کې چې اوبه یې ډېرې ژورې دي سره غونډېږي او سور یې دری سوه پنځوس متره ته راکښته او په یوه ژوره تنګنا کې جریان مومي. د دریاب د دواړو غاړو غرونه په ناڅاپي ډول (تقریباً عمودي. مترجم) راټیټ (ځوړ) شوي دي. د غرو په امتداد له تل څخه یوه لاره کښل شوې او مخ پورته د دوو میلو په هسک والي په غره کې تللې ده، سره د دې چې دا لار موټر ته یوڅه جوړه او پلنه شوه، خو بیا هم ډېره نرۍ او رږونده (کړنګ ارونکي او یا د ځوړ خواته مایله مترجم) وه، نو له دې امله د رانده بار شوي اوښان وربانده تلای نشول. د دې لپاره چې له دغه کړاو څخه بچ شو، نو اته ویشت بېړۍ موږ د بارونو د وړلو لپاره وګمارلې. د دغه غاښي په لومړي برخه باندې د کله باغ کلی سرخوړند بریښېده کله باغ د یوې غونډۍ یا غره په مخ ودان شوی او هره کوڅه د ګاونډې کوڅې څخه هسکه شوې ده، ما داسې تصور وکړ چې د دننوتلو لپاره به یې هوار بامونه وسیله وي، یعنی له لاندې کوڅې څخه پاس ته ختل به د بامو له لارې وي (له لاندې څخه کوڅې نه معلومیدلې) کله چې د دغه کلی په تل کې تېریدو، ډېر مخ پورته سود خونو کړکۍ او برنډې ولیدلې چې زیات شمېر کلیوال د ننداړې لپاره ولاړ وو.

د کله باغ د کلی تر شا سړک د جامدې مالګې د، کان له امله پورې شوی او د همدې معدن د کړنګ او یا ښوېنده لاښ لاندې پای ته رسیدلی و. د دغه کان مالګه ډېره سوچه، روڼه او کلکه وه. په ځینو برخو کې که چېرې رګ، پټ او یا سره کرښه نه وای، نو د بلور په شان به لیدل کېده. د مالګې تړه له سیند څخه په ځینو ځایو کې سل فوټه هسکه وه، په هغو برخو کې چې د ډبرو له بیخ څخه د مالګې چینې راوزي او د مځکې په مخ اه سوین او ډېر ځلانده قشر څخه چې د یوې پردې په څېر خور شوی دی، تېرېږي. تو له سیمه په تیره بیا د کلی شاوخوا برخه د وینې په شان سره طبقه پټوي. دغه طبیعي پدیده، د مالګې د ډبرو ننداره، د اندس څپانده

سيند چې په دغه ځاى کې دکلي له مخ څخه دجګو غرو په منځ کې روان او مست بهېږي، ټول داسې په زړه پورې منظرې جوړوي چې سارى يې ډېر لږ پيدا کېږي مونږ دکنډو (غاښى) ترشا خپل کمپ د يوې ازې درې په خوړ کې ودراوه. دلته نږدې دمالکي ستر ګټونه دغټو بلاکو په څېر داسې پراته وو، لکه چې په کان کې دننه پراته وي. دمالکي دغه ټوټې هنداو يا خراسان ته د لېږ دولو لپاره تياري وې. دکله باغ کښې ترهوې اوونۍ پورې موږ ځانته راکاږلى شو، خو دباران او دسيلاب له وېرې څخه پاتې نه شو ځکه ښايي په دغه ځاى کې په زموږ ټول کمپ دسيلاو دراتلو له امله له منځه تللى او سيند ته توى شوى واى.

دفبروري په شپاړسمه نيټه په دره کې مخ پورته وخوځېد و هر څومره چې پورته ختلو هومره دره تنګېدله. له اووه ميله مزل وروسته يوه کاږه کږېنې پېچومۍ ته ورسېدو چې لاره ډېره نرۍ او په يوه داسې تنګۍ کې ختله چې پر ډېرو ځايو کې زموږ اوښان په ډېر کړاو سره تېرېد لاى شول. دلته د دوارو خواو تېرې نږدې مل فوټه اوږې شوې وې. دغه لاره د دريو يا څلورو ميلو په اوږ-دوالى په تدريجى ډول لوړېده، خو ددوارو خواوو د برواو اسمان څخه پرته مو بل هېڅ شى ليدلاى نه شول. بالاخره سم په سمه سر لوړى (پېچومى) زيات شو او ددوارو غاړو غونډۍ په تدريج سره ټيټې او سا يلې شوې. ديوه ربونده سړک او لارې له تېرېدو وروسته دکنډو سرته وختلو. ددغه ځاى ننداره اوس موږ ته داسې ښکاره شوه چې په بشپړه او بېساري توګه وحشى، شډله او دا ستوګنې څخه وتلې وه، موږ دغره په ډېره لوړه برخه باندې ولاړ او لاندې زيات شمېر لوښې او پرې شوې څوکې ددغه غره داړې په نورو برخو کې ليدل کېدلې. دغه راز موږ له ورايه هغسې درې وليدې چې مومخکې پکې خپل تګ ترسره کړ. دلته د شمال خواته نور جګ غرونه هم معلومېدل چې په واورو پټ وو. موږ ته اندس سيند وښودل شو چې ديو ډېوړې ويالې په څېر ددغه جګ غره له سرڅخه بربښېده. په دوارو غاړو ويې لوګى هم ځرګندېده او راته وويل شول چې دا دمکد muckud دښار د ځمکې نښه ده. نور ځاى يونه هم راته په ګوته شو ل، خو دشاوخوا دغونډيو او ناوو دګډوډ تيا له امله سوکوم ځرګند اثر او فکر په ذهن کې پاتې نه شو. له دغې نقطې څخه مو په سرخوړ خپل مزل پېل کړ، خولاره ډېره ربونده او ټيټه جګه وه. دلته سودلومړي ځل لپاره غرنى اووحشى زيتون (ښوون) وليدل. موږ په داسې يوه ګوټ کې خپل کمپ ودراوه چې غرونو ته مخامخ او له مخکې تم ځاى څخه يې اتلس ميله واټن درلود. دغه ځاى يې چشمه (چينه) باله چې دځنو ناځرګند واوښا دروښرايطو له امله يې تازه او پاکې او به لرلې. دغه راز دلته ډېرې ښې ګټورې خاورې وې چې بار کباڼو Bau tiks (بوه شله قبيله)

د کړنۍ لپاره تیا کلي وې. داسې هم اوښان پورته په دوی پورې تړلي وو. مخکې له دې چې تم ځای ته ورسېږو، ډېر سخت باران وورېد. د باران د اورېدو لوپه وخت کې ملا جعفر ولیدچې دیو کلک لمڅي چینه یې په ځان اچولی او تر سر پورې یې ځان پټ کړی و، حتی د آس تر لکۍ پورې خوره شوې او دیوې خیمې په څېر معلومېدله. دده تر شاه پیش خدمت و، چې قلیان یا چلم ئې په بکسونو پورې ټینګ تړلی او بیا یې د آس په زین پورې لکه د توپانچې کڅوړه تړلی و، دغه راز د خدمتګار د آس د خپټۍ لاندې د تودوالو لوښي ځوړند او د باران د اورېدو سره سره یې سپرغی کولې.

باران تر له شپې دوام وکړ او تر بله سهاره پورې ددې امکان نه و، چې منزل وکړای شو سره ددې د خوراکي او ضروري شیانو د کموالی له امله دا ضروري برېښېده چې وخوځېږو، نو ددې مجبوریت له مخې بیا په سفر روان شو د لارې په منځ کې د غرو مخ ور یځو پټ او سختو او ږېړتو او د خوړو سیلاوونو غمجنه ننداره پیل کړه زموږ لاره د ریو نده غاښی له منځ څخه تېرېدله، د لته مخ په ځوړ د مالګې د سیلابي خوړ د تنګی لورته ولاړو، سیلاب په ډېر قوت سره روان و، سره د دې چې موږ خپل څاروي تر غرمې پورې بار و لوته چمتو کړل خو د شپې تر ناوختـه پوری مودو سره وکړای شو چې د سیلاب او د ډېرو تر منځ پراته ځای ته هر یو خپل ځان ورسوو، یعنی له لومړی تم ځای څخه مو یو نیم میل منزل کړی و زموږ زیات شمېر ملګري تر له شپې او د بلې ورځې تر غرمې وروسته تر دوو بجو پورې باران او سړو کې لالهانده او سر ګردانه ګرځېدلی او بالاخره راورسېدل. د دغه منزله په اوږدو کې ځینې او ښان مړه شول او بارکیانو * ته ددغې ګډوډۍ او د هیأت له ویجاړی څخه دا موقع پیدا شوه چې زموږ په مالونو یرغل وکړي، د بلې ورځې په اوږدو کې هم د روند باران له اورېدو څخه و نه درېد.

د فبرورۍ په نو نسمه نېټه سهار د لمر ختو په وخت هوا مناسبه و برېښېده او په اوو بجو مو خپل سفر پیل کړ. د غه شپه سیلاب د ړېدلی او د خوړ تل (هغه ځای چې سیلاب بهېږی) د یوه ښه سړک په څېر ځرګندېده، هو اصافه او د غره ننداره زړه راښونکې او د لچسپه ده. د منزله د لارې په اوږدو کې له یوه وار څخه زیات تېـز بهېدونکی سیلاب په خوړ باندې چې ژوروالی یې د تېرېدو لپاره سم و، تېر شو. د خوړ په غاړه مو موسی خان ولید چې له موږ څخه مخکې د فبرورۍ په شپاړسمه دې خواته راخوځېدلی و. خوراکی او ضروری شیان خلاصېدو ته نږدې وو، نو ځکه نه وړاندې او نه شاته تلای شو، دغه راز دده په خیمه کې د غرو تر منځ شخړه وشوه او خوتنه ژوبل شول. ځینې ملګري لا ندې بیول شوي وو، خو د سیلاب د لامبو په

* یوه قبیله وه.

وسله وړي وځي، خو دوی بېرته خپلې غارې ته بې له کوم تلفاتو راورسېدل، ورپسې موږ په غرو او ځنګلونو کې په مخ ولاړو، دوه ورځ پونده غلجي مو ووهل. چې د وروستي کنډک وڅخه په تېرېدو سره مالګین Malgeen ته ورښکته شو. دغه په زړه پورې او سمسوره دره دوولس میله اوږده او پنځه میله پراخه او سووره وه، د شاو خواغرونه په تېره بیا د شمالي او لوېدیځه لوري په واورو پټه وه عسکري افراد او د بارونو یوه برخه تر لمر پرېوتو پورې راورسېدل. په دغه وخت کې خبر راغی چې زموږ د کاروان په شا باندې برید شوی دی، له دې امله خپل ځینې سپاره او یوه برخه د شاله خوا استول شوي کنډک مرستې لپاره هغې خواته ولېږل او مخکې له دې چې کومه ناوړه پېښه او یا زیان ور پېښ شي هلته ورسېدل سره د دې د هر ناوخته و، او یوه ډله سپاهیان د غاښي لوري ته لاړل چې د بارونو تېرېدل له کنډو څخه وڅاري، بل سهار موږ ټول سره راټول شو، او داتوان مو پیدا کړ، چې یوه ورځ له دې سخت او ځنجن سفر څخه وروسته هرومرو استراحت وکړو سپاهیان او پرګډه وال د هوا د خرابوالي سره سره د دې ورځې د منظمو او سمو خوړو څخه بې برخې وو، دا هم ډېره عجیبه وه، چې د غو سپاهیانو د داسې سختو سړو (سره د دې چې یخ نه وو درېدلی) زغم وکړ، چې حتی اروپاییان هم د دې ته اړ شول چې د باران د اورېدو په وخت کې شپه او ورځ په خوشحالی سره پټ لرونکي پوستینونه واغوندي.

د فبروري په یوویشتمه نېټه بیا وخوځېدو او د یوه ټیټ د برین غاښي له اوښتو وروسته د شادي خېلو سیمې ته ورکښته شوا و د دوی له یوه سهم کلي څخه واوښتو، دا کلي په یوه ډېره ښکلې ځمکه باندې د ونو په منځ کې پروت دی د توسېند چې د یوې ښکلې درې په منځ کې ګرندی جریان لري د کلي له ارخ څخه تېرېږي. دا دره مخ پورته د یوې لنډې فاصلې وروسته په واورو پټو غرو باندې پای ته رسېدلې ده. دلته د لارې په سر زیات شمېر افغانان ولاړ وو، او ځینو یې موږ ته ښه راغلاست وویل، د دوی ټول د مدني عادت څښتنان وو، موږ ودې په نامه ستر کلي سره نږدې کمپ ودراوه او په همدې ځای کې مو د بنګښنو د قبیلې مشر له زوی سره چې عمرخان نومېده ولیدل او ور سره مو خبرې وکړې له ده سره اوه یا اته سوه ټوپک لرونکي وسله وال کسان چې ډېلي جامې یې اغوستې وې هم مله وو. دغه ځای د کوهاټ په میدان کې چې یوه ګردې سیمه ده او قطر یې شل میله کېږي پروت دی. کوهاټ د میداني سیمې شاوخوا غرونه د ډېر ښکلي او د لید لوړ کمال که دای شی، له بلې خوا د غرونو هغه برخه چې د کوهاټ له ښار کې څخه پورته لوړوالی لري، په واورو پټه ده. دغه پرته او میداني سیمه ډېره سمسوره او په ښه شان اوبه کېږي. د دغې سیمې د ځمکې په مخ لاندې او باندې کنې ونې شنې شوي دي او به اوهوايي په زړه پورې او د کوهاټ د ښار په ارتفاع برابر غرونه

او غونډۍ له واوره څخه بې برخې دي، په بله وېناد کوهات په تېته اوهواره برخه کې کله کله په کلو کې هم څوك واوره نه وېني. د کوهات له ښار څخه لېرې پورته لمنې هم د واورې د دوام سخته نېسې اوژمی کې ورېږي. د کوهات ښار کې ته بله ورځ ورسېدو، دا ښارډېر ښکلی او پاك و، يوه چونی هم دلته په يوه مصنوعي غونډۍ باندې ورېنېده چې د دغې سیمې دوا کمنی ګټلو په شخړو کې ورانه شوې وه زموږ د تم کېدو په وخت کې ډېر په ندرت سره يکې استوګنه لیدل کېدای شوه. د ښار له ارخ څخه درو نو او پاکو اوبو يوه ويا له تېرېدله، چې له دريو چينو څخه يې اوبه را تللې دغه او به لومړی پلاپه يوه ډنډ کې چې د ذخيرې لپاره جوړ شوی و، توليدې او بيا له دغه حوض څخه کښته بهېدلې. د ډنډ دومره زيات تيټ نه برېښېده دد غوچينو اوبه په اورې سړې او په ژمی تودې وې دسيمې مشرمو يدچينو د کټلو لپاره هغې خواته بوتلو ورپسې يې د سيا ناري لپاره د ډېرښه کوچ، شېدې، هګۍ او شات په پرېمانه اندازه راته کېښودل دغه را زنوموړي مشرد موم يا موميا يوه قطۍ سوغات راکړ دا د ول موميا (موملايي) هغه دول موملايي وه چې (موميايی معدنی) پاکانی موملايي کنمل کېږي دا له يوه ول د بړې څخه چې په اوبو کې اېښود له کېږي، جوړېږي. کوم وخت چې دا يستلو په نتيجه کې د يوډ ر په شکل وا ورې په سر يې غوړ را تولېږي او د سکرو غونډې تور اووچ کېږي . په ختيځ کې دا يوه نامتو دواده چې د پر هارو اود بدن د چاودو ياماتو برخو د رغولو لپاره په عجيبه او سحراميز ه توګه ګټا ربږي دلته مو يو باغ وليد چې زياته خوشحالتيا يې راوبخښله، بيا هم ښايي د دغه باغ د زړه راښکونکو نباتاتو اوجذابيت يوه برخه په باغ کې د انګرېزي او نورو بوټو ليدل وچې له هغو څخه داوېدو مودو راهيسې دهند په اقليم کې لېرې پراته وو. د باغ ښکلاترهغې هم زياته وه چې موږ مملاسې ليدله ،څکه ونو پانې نه درلودې او نوې يې غوټی کړې وې. دغه ښايسته باغ دهغې وپالې په غاړه چې پورته بيان شوه واقع شوی وو، باغ د بوټو په چار کی احاطه شوی اود دغو بوټو په لړکې په خپل سرشنه شوې نباتات لکه د تورو دانو لرونکی بوټي (دا دول بوټي تورې ورې دانې لري) (سپنګور) وانبه اودتوت د کورنۍ يوډول بوټي چې د توت په څېر مېوه لري، هم شمېرل کېدای شول. دد غووناو په منځ کې دشفتالو او آلو ونو غوټی سپړلې او ګلان يې کړي وو. دغه راز د زېړو ولو (مجنون بېد) او (څنار) پانې شنې شوې وې. مڼې او دا سې زياتې نورې ونې هم په باغ کې ليدل کېدلې، خو د پانو او ښاخونو شنه کېدو وخت يې لا راغلی نه و، نو له دې امله يې ژندل يې آسانه نه برېښېده.

په دغه باغ کې بې شمېره تاکونه وو چې د بوټي پندوالی يې د سړي د لينګيو (لنګيو) سره يوشان او په ونو کې تاو شوي اوختلي وو، له دې امله دا سې معلومېدل چې په خپل سر شنه شوي او وحشي دي. د پلمولارې اوروونه په يوډول ښو وښو چې

انګرېزي وښو ته ورته وو پټې شوې وې. د نوي کال په دغو شپو پستو وښو او مرغه
کې ځینې وچ واښه هم لیدل کېدل نو له دې امله د انګرېزي دوله بوټو سره
اړیکې لري .

دغه راز دلته شو تلې بوټول هرزه بوټي چې دانې یې مرغان خوښوي
(Chickweed)، پرهار پاڼې (زوب یا زانده)، (rib-grass) ژېړ ګلان
(dandelions) (ښايي د غوړه بوټي وي. مترجم)، (commondock) او
ځینې نور انګرېزي دوله بوټي برېښېدل. سربېره دلته بوټول مرغه ولېد چې سا بري
ته ورته و، داشان بوبل د سابري مرغۍ په ټولو اړخونو کې هم ښکاره شو چې د بري ښکلې
ښکې یې لرلې، د سراو وزرو څخه پرته چې تورنګه یې درلود نورې برخې یې د بري
ښکلې اوسې وې .

څېړونکو فکر وکړ چې دوی بوټول مرغۍ (Thrush) او نور ښکي مرغان
لیدلي دي.

نامتو بېدي مشکوهم په باغ کې بوټول ونه درلوده چې هغه بوټول ولې ته
ورته وه، زه په دې حیران شوم چې بېدي مشلک په لږ دغې ولې څخه لاس ته راغی. د
ولې ګلان ژېړ او ډېر خوش بوي وو. مچۍ د دغو ګلونو سره ډېره مینه لري. داونه
په برېتانیا کې د پام په نامه یادېږي.

د بېروري په درویشتمه نېټه له کوهاټ څخه وخوځېد و او د دريو میلو واټن
وروسته د بوه لوی غاښي تل ته راورسېدو. بېچومی یا هغې لارې چې په کوتل یا
غاښي کې پورته ختله، بونیم میل اوږدوالی درلود، سره له دې چې د غه لار ډېره کږه
کږنه او کږلېچې یې زیات وو، خو بیا هم د پره ډېر یونده او پرله پسې په غټو ډبرو ختلو
او پښې موور باندې لګېدې، د ښارو پولپاره په دغو ډبرو باندې بر سېره تګ
کول هم د ډېراني ور ګټمل کېده، سر بېره موسیٰ خان سره پوځ ای پورته ولاړو. کله
چې د غاښي سر ته وختو، نو ټول داوښانو دراتیر ندو په هیله او انتظار دلته کېناستو.
د بنګښو ځینې مشران او د موسیٰ خان د ولې بوشېر دراتیان هم زموږ سره یوځای
شول . ورپسې خانانو د غرمې د ډوډۍ پېشنهاد وکړ چې زموږ له خوا تأیيد شو .
دوی د ډوډۍ دستر خوان وغوړاوه او د چرګانو سرې غوښې او وچې ډوډۍ
ور باندې کېښودل شوې ټولو په ډېره مینه وونده واخستله او په دا ډول یې توګه
ګرد چاپېر کېناستو، په لاسونو ډوډۍ خوړل پیل کړل . د ډوډۍ له خوړلو
وروسته موچلم داسې وڅکولو چې د دا ډول ملګرو په لاس بوبل ته سره تېر کړ،
په دغه کار پسې موبیا خپل مزل پیل او ددرې په لور ور ښکته شو . دا ناوه یا
دره ښځه سوه متره پراخه وه او د خېبر په قوم پورې مربوطه وه ، خېبر یان په

لوټماري عادي دي (۱) او ددوی داخوی دمسټر فوسټر Mr. Foster (۲) له خوا ډېر ښه بیان شوی دی، موږ د خپلې لارې په اوږدو کې د د غولو ټمارو خلکو یو شمېر کسان ولیدل، خو زموږ مالونه په ډېره ښه توګه وساتل شول او ددوی ته د یرغل لار خلاصه نه شوه. دغه ورځ مو د زرغون خېلو په کلي کې توقف وکړ دلته غوره ټکی دادی، چې غرونه او غونډۍ ډېر جګ او درې ډېرې ژورې دي. تر دې اندازې چې سروې کوونکو د ټکنده غرمې په وخت کې هم ونه کړای شول چې لمر وویني او د سیمې کتنه وکړي.

بله ورځ سهار د وخته موږ خپل مزل بیا پیل کړ او د ښکلیو منظرو له لیدو او تېرېدلو وروسته د درې خولې ته ورسیدو، په دغه وخت کې مو له لیرې څخه د غرونو یوه پراخه لړۍ ولیدله چې په واورو پټه وه، ورپسې ډېر ژر د غو غرونو بیساري برم او ښکلا لیدلو ته ننداره څرګنده شوه. موږ د لاربنوونکي څخه دا معلومات لاس ته راوړل، چې دا د هندوکش د غرونو یوه لړۍ ده. دا یې هم وویل چې د د غو غر و ترشا سملاسي کاشغر، بدخشان او تاتاري پراته دي په دغه وخت کې موږ د درې په خوله کې د یوه کوچني زاړه برج سره یو زیات شمېر وسله وال خیبریان بیا موندل چې په یوه غونډۍ باندې ناست و، واود اوښانو تېرېدو ته یې لیواله کتل. موسی خان د خپل ځان سره یو شمېر آسان ودرول او له موږ څخه یې وغوښتل چې له برج څخه د مالونو د تېرېدو پورې په برج کې ودرېږو، هلته لاړو په دغه شیبه کې ټول خیبریان زموږ سره یو ځای او یو موټی غونډې ته کډ شول، مشران یې په یوازې توګه پورته راغلل او د سوغات غوښتنه یې وکړه موسی خان ورته په ځواب کې وویل چې د ټولو مالونو او هرڅه له تېرېدو وروسته کمپ ته راشی او هلته

۱- خیبریانو ته د لوټماري نسبت ورکول، معمولاً د باندنیو مؤلفینو له خوا سوی، ښایي دا له هغه معمول څخه مراد وي خیبریان له خیبر څخه د نورو خلکو د تېرولو په غرض د بدرګې په نامه یوڅه اخلي (مترجم)

(۲) هغه کرکه او وېره چې له خیبریانو څخه په زړونو او یا فکرونو کې پیدا شوې وه د مسټر فوسټر په هغه څرګندونه کې چې د یوه ارمني په هکله یې ښکاره کړې، ښه تمثیل کېدای شي. یو ارمني چې کابل ته د تګ په لار کې پېښور ته رسیدلی و داسې یې وویل چې هغه د خیبریانو له ډاره د ملتان له خوا نه تاوشو او سفر یې نهه اوني اوږد کړ، یعنې ددې په ځای چې په یوولسو ورځو کې د دوی په سیمه کې د خطر څخه ډک تګ وکړي، دا یې ښه وګڼله چې د ملتان له لارې څخه په نهه هفتو کې لاړ شي.

په موغوښتنې بشپړې کړو، په دغه ترتیب باندې دوی داسې پرېښېدل چې موافقه به ونه کړي. دغه حالت ما ته په کابل کې د هوه عجیب سیستم او کړ وړو او عاداتو فکر راکړ یعنې چې د غه ښکاره لوتمارد سوغات لپاره څنګه پورته راغلل او غوښتنه یې کړه، بله دا چې څنګه موسی خان د زرینو وسلوا و قیمتي کالیو سره بې له کوم ملاتړ څخه د دوی په منځ کې چې تول وسلې او توپک لري کیناست او سملاسي یې د دوی غوښتنه ونه منله.

اوس موږ د پېښور هوار میدان ته ور ننوتو او د لته مودرې میله نور مزل له غزني وروسته وکړ څو چې د بله ډېرې کلی ته نږدې تم شو، او خپل کمپ مو ودراوه، دا ځای له ښار څخه شپږ میله لېرې دی.

تردې شیبې ما ونه غوښتل چې د خپل مذاکراتو په هکله د چا سره تماس ونیسم ځکه دا کار د پېښور له وکړو سره زما ناسته ولاړه څرګندوي چې په نتیجه کې به د هیات په هکله د دربار نظریات واوري، په بله وینا د خلکو سره د هیات ځانګړی تماس او راشه درشه به د مذاکراتو اسرار ښکاره کړي او دربارته به دا وښېي چې هیات به پته له خلکو سره اړیکې پیدا کړي، نوښایې چې درنښت یې به دربار کې لږ شي. له کندهار څخه د پېښور په لور له حرکت وروسته د هیأت په هکله معلومات حاصل کړل. په لومړي سر کې د سفارت په سویه د غه هیأت په ډېره زیاته بې باوری او تعصب سره تلقي شو. د کابل پاچا په هند کې تل د تولو ناراضو مرجع او منبع ګڼل کیده. د ه ته د ټیپو سلطان د وزیرو اتحادیې او نورو مسلمانانو له خوا چې هغوی به زیا تره له مرهټیانو او سوږسره جنګ درلود پر لپسې شکایتونه ورلیږل کېدل، په ورستیو وختو کې پخپله هولکار هم چې هومرهټی و زموږ په ضد د توي مرستې د غوښتلو لپاره هغه ته یو سفارش واستوه.

د پنجاب راجا رنجیت سنګ چې خپل ځان یې د پنجاب پاچا باله، د دوو ستروقدر تونو (انګریز اود کابل سلطنت) ترمنځ د خبرواترو او مذاکرو پیل کیدلو څخه خورا په ویره کې ولوید ځکه د واړه یې د خپل ځان اصلي او طبیعي دښمنان شمېرل. رنجیت سنګ هڅه وکړه چې د کابل پاچا په هره ممکنه وسیله چې وي په دې قانع او راضی کړي چې د انګریزانو پلانونه په دې سیمه کې د زیا تونو او د سیسواچو لوور وبولي، په بله وینا د ده خبرې به له موږ (انګریزانو) سره د دواړو د لوبه زیان تمامې شی. د ملتان او سند حاکمانو تولو د هیأت په هکله ډېرا چا په زړه کې شك اچولی و، (د غه حاکمان په دې ویره او تصور کې وو، چې انګریزان به د دوی تر واك لاندې سیمې او ولایت امتیاز (مالیه او نور) د خپل دولت او امپراتورۍ په ګټه ترلاسه کړي، نو تر هغې اندازې چې دوی هې امکان درلود د هیأت ناکامی بې غوښتله. په همدې وخت کې د رانی سردارانو هم له هیات سره دیوالي او ترون په هکله مخالفت درلود، ځکه په دې ترتیب

د پاچا قدرت لا پسې پیاوړی کېده او د دوی درباري نفوذ او ارزښتو گرامی ته زیان اوښت. پاچا پخپله هم په دې فکر او شك کې و چې مو د (هیأت) په دوی له ننني اختلافاتو څخه گټه واخلو، په بله وینا انگریزان به د کابل سلطنت له کشالو څخه پخپله گټه ناوړه استفاده وکړي او د هغه یوه برخه به پخپله امپراتورۍ پورې وتړي. پاچا ته د هیأت د بې ساري پرم او شوکت په هکله څیني مبالغه آمیز خبرونه لا د مخه رسېدلي وو، دغه را زده ته د ډېر و قیمتي سوغاتو په باب چې هیأت درلودل یو څه ویل شوي وو. دغو اوازو د ټولو شیانو د مخه پاچا دې ته راضي کړی و چې هیأت په دربارکې ومني او په ډېره درناوی سره ورته ښه راغلاست ووایي. کله چې د هیأت او یا سفارت ماهیت پاچا ته جوت شو، نو د خپلې بې باورۍ سره سره یې په زړه کې دا هیله روزله چې گونډې له هیأت څخه به زیاته گټه واخلي، یعنی د هغه څه نه چې یې پخوا فکر کاوه یو څه ورته خوشبین و، سره د دې هم خپله بې اعتمادي یې له ځان څخه لېرې نه کړه. د پاچا د نسبي خوشبینۍ په ترڅ کې د درباري زړبوه وزیرته دا هدف او موضوع پیدا شوه چې په مذاکرو کې د تنظیم او لارښوونې واك حاصل کړي.

په دربار کې دوه گونډه ونه اوډلې وې، د یوې ډلې مشر اکرم خان و، چې دې پولوی درانې سردار او رښتینی صدراعظم و، بله ډله د پارسي ژبو وزیرانو ډله وه او له پاچا سره یې د خپل گونډ په گډون ډېرې ځانگړې او نږدې اړیکې درلودې او د پاچا په التفات یې تکیه لرله، د دوی یوې نفوذ او اقتدار درلود چې د اقتدار به یې کله کله د اکرم خان پرضد کاراوه. د دوی مشر میرابوالحسن و، دغې ورستی ډلې د هیأت په هکله له سخکې نه معلومات لاس ته راوړ، نو یې وغوښتل چې د مهمانداری (میلمه پالنې) په برخه کې ترتیب او تنظیم د دوی په واك کې وي، خو سره د دې هم تراوسه دا معلومه نه وه چې په مذاکرو کې به په چا باندې اعتماد وشي. پارسي ژبو وزیرانو زیار ویست چې ماته دا وښیي چې پاچا له اکرم خان او نورو درانی لویانو سره حسد لري او هیله یې لرله چې د خپلو خاصو استازو په واسطه له موږ سره وغږیږي. اکرم خان را ته د خپلو سرو د یوه تن په لاس پیغام راولیږه چې دی د هیأت ښه غواړي، دا یې راته ښکاره کړه چې زموږ سره به خبرو کې مامور شي، خو وېلي و چې که چېرې ده ته برخه ور نه کړل شي، نو بیا به هر څه چې د لاسه یې وشي د هیأت په برخه کې به ونه سپموي.

له دغه وخته راهسې اکرم خان په ډېره صمیمانه او طبیعي توگه زموږ سره چلند کاوه او هڅه کوله یې په موږ دا ټینگار نه کاوه چې د مقابلې ډلې څخه دده په برخه کې څه پټ کړم، بلکې په ډاگه یې ویل چې له ده سره هیڅ یو خبره د پارسیانو له ډلې څخه پټه ونه ساتم. ددغې هیلې او نیکې رویې له مخې چې اکرم خان ښکاره

ګړه. د هېواد بېره او وارخطايي يې ور که کړه. د سفارت د رسېدو نه وخت کې اکرم خان
د کشمير په لور روخوځېد. زما زياتره مشکلات او خنډونه دده په مرسته مخکې له
مخکې له منځه وړل شوي وو.

موږ دې کډوډۍ او وارخطايي وروسته چې د خپل هر کلي د دول له کبله مو
درلوده، د فبروري د مياشتې په پنځه وېشتمه نېټه د پېښور ښار ته ورننوتلو. ښار
ته د داخلېدو په وخت کې زيات شمېر خلک ټول شوي او ګڼه ګوڼه يې جوړه کړې وه. د
سړک دواړه غاړې ګڼ شمېر خلکو نيولې او يو شمېر لوړونو ته ختلي وو، څو زموږ
د ننوتو ننداره وکړي. کله چې ښار ته نږدې شو نو د خلکو ازدحام نور هم زيات
شو، خو هېڅکله موږ ته خنډ نه کرزېدل او کړاو راته نه پېښېدلو، په بله وينا
د خلکو څخه دومره زيات په عذاب شو، ځکه د پاچا له خوا استول شوي سپاره هرې
خوا ته په فعاليت لګيا او وګړي يې د لارې له منځ څخه شړل. د غو سپرو په ډېر برېښتګي
سره خلک له ګڼې ګوڼې څخه منع کول او د بر خلاف يې د ستروکو په وهلو سره وګړي شاته
تمبول. يوه سړي زموږ پاملرنه په ځانګړي توګه ځان ته راکښله هغه يوه جګه
مخروطي د وله خولې چې سور رنګ يې درلود په سر کړې وه، د خولې په لاندې څنډه
باندې يې ګرد چاپېره يوه ګوټۍ لرونکی توکر تاو شوا او پکې د بنګي سپينه جوړه
تومېل شوې وه د ده د پوستکي لغړه کرتۍ يا جاکټ، تور پتلون او نصواري بوټونه
درلودل، په ونه جګ نري او غير عادي څېره يې لرله. د دغه راز يوه يې جګه، غوړې يې
د ده او بنه يې ژوندۍ او پاروونکې برېښېدله. د اسې په يوه ښايسته خروزمه آس
باندې سپور او د اوږدو رکابو او نازسره يې په ډېره ښه توګه ځغاسته کوله! د ده سره
په لاس کې يوه اوږده نيزه چې څوکه يا سرې يې نه درلود، لېدل کېدله او په يوه جګ
او تېز غږ سره يې په خلکو چيغې وهلې او له لارې څخه د ګوښه کېدو امر يې ور کولو. دده
نه يوازې د سړک له منځ څخه خلک شړل بلکې هغې خوا ته د غونډۍ او موږې په سر ناستو
وګړو باندې چې په ډېره غصه کې برېښېدله هم آس وروځغلولو، هرې خوا ته چې به
ځغاست نو هغه لوري به له خلکو څخه خالي کېده. دې رسول د هوانه (ليونی رسول)
نومېده. دې د يوه زړه ور او تکړه عسکر په څېر نامتو و، خو يوه کډوډ سوداي
او غير عادي خوی يې درلود. ورپسې دې د هېواد له زياتو ملګرو سره آشنا او مينه
يې ورسره درلوده او خوشحاله و. ده به انګرېزي خول (تاج) په سر او د سواره
نظام په يونيفورم به يې ځان چمتو کړ او ډېر ورسره ښه برېښېده. دا وخت د ښار
منځ ته ننوتلو او سړک ته د برتنګ شول ترڅو چې د ننداره چيانو تبصرې مو
اورېدلې. د دوی څرګندونې د هېواد د تېرېدو او د له يېز تګ په هکله د دوی
د هېښتيا څرګاړندوی وې. موږ په کراره تګ کولو او کتونکو راته سترې مشي
کولې او ښه راغلاست يې وايه، خو سره د دې چې جمعيت او ګڼه ګوڼه ډېره زياته وه

موږ نشو کولای چې په جوت ډول د ټولو کتنه او ننداره وکړو، بالاخره هغې خونې ته چې موږ ته چمتو شوې وه، ورسېدلو. دلته د یوه اپارتمان لوري ته رهنما یې شو، چې غالۍ او لمڅۍ پکې غوړول شوې وې. موږ د دغه فرش په سر په پارسي دود کېناستلو او سملاسي موږ مخې ته د شرینیو (د شلمې او نور خواږه) پتنوسونه کېښودل شول، په دغه خوږو او شرینیو کې نقل او د شربت لپاره قند یوه توته د پتنوس په منځ کې اېښودل شوې وه. سملاسي وروسته زموږ میلمه پال لارښوونکي داحس کړه چې موږ استراحت ته اړتیا لرو نو راڅخه پهښت ووت.

اوس موږ دې ته وزګار شو چې خپل استوګنځی له نږدې څخه ترکتنې او آزموینې لاندې ونیسو. دغه خونې د پاچا دابدار باشي (مترخانه سامان) له خوا په داسې وخت کې جوړې شوې وې چې دی لږ څه وخت وروسته د اغتشاش او اړو دوړ خواته ولاړ. دغه خونه سره ددې چې په پوره ډول جوړه شوې نه وه، خو سره ددې هم ډېره غټه او په یوه داسې ښار کې چې د پاچا دربار پکې ټل نه و، ډېره مناسبه او غوره ګڼل کېدله. له بلې خوا په ممتازو کسانو پاندې د دوی د استوګنې په وخت کې دلته په زور کورونه آباد شوي وو. د دغو شرایطو په نظر کې نیولو سره هغه خونه چې زموږ د استوګنې لپاره ټاکل شوې وه، بده نه وه.

زموږ ټول استوګنځی او خونې د اوسو خښتو یوې څلور کونجه احاطې چاپېره کړې وې. د دغې مربع ډوله احاطې په منځ کې یو بل څلور ضلعي جګ دیوال له خونو څخه تاو شوی و. د احاطې او دغه دیوال ترمنځ ساحه په څو برخو او انګړو ویشل شوې وه، چې په یوه انګړ کې یې یو وړوکی باغ و. په دغه بڼ کې کوچنۍ ونې، د ګلابو بوټي، د شبو ګل او نور ګلان ښکارېدل. د منځنۍ مربع یا څلور ضلعي جګ دیوال په منځ کې ساحه د یوه جګ دیوال په واسطه په دوو انګړو ویشل شوې وه، چې د هر یوه انګړ، یوې وروستۍ څنډې ته یو کور ودان شوی و. هر کور دوه غټ دهلیزونه چې جګوالی یې د کور جګوالي سره یو شان و، درلودل. د دهلیزو دواړو غاړو ته زیات شمېر کوچنۍ کوټې په دوه پوړیزه توګه داسې جوړې وې چې د څېنو مخ د دهلیز لورته و. یو انګړ یوازې یوه خونه په دغه بڼه درلوده په داسې ترڅ کې چې د بل انګړ درې نورو اړخونه هم داشان اپارتمانونو نیولي وو. د دغه دویم انګړ خونو ټولې کړکۍ په وړسېو پاندې چې د ساده لرګیو څخه جوړې شوې وې، مجهزې لیدل کېدلې، له دغو وړسېو څخه هوا او رڼا کوټو ته ننوتله، په داسې ترڅ کې چې د بهر څخه د کوټې د ننني برخه ورڅخه نه معلومېدله. د دواړو انګړو د خونو په زیاترو کوټو کې نغري او یادا وړ ځایونه موجود وو، تر ټولو څخه زموږ زیاته پاملرنه

دغو کورو زړو خانو ځانته واړوله چې داوړي د تودوخې څخه د ژغورلو لپاره جوړې شوې وې. د هر کور لاندې یوه زېرخانه وه چې، یوه یې ډېره پراخه او ښایسته بریښېدله او د پخو خښتو او ګچو څخه جوړه شوې وه، بله یې هم په دغه شان د خونې د تعمیر په څېر لویه او دوه دهلیزونه یې لرل او د هر یوه دهلیز په اوږد وکې دوه پوړېزه اپارتمانونه او کوټې د اسې لیدل کېدلې لکه چې د مځکې د مخ څخه پورته ودانې شوې وي. د مځکې لاندې داتوله ماڼۍ او زیر زمینۍ په ډېره ښه توګه د هغو پراخو مګر ټیټو کړکیو په واسطه چې د مځکې له مخه څخه د مځکې لاندې ماڼۍ په پاسنۍ برخه کې جوړې شوې وې روښانه کېدله. د هغې زیر زمینۍ چې زه یې بیان کوم کارنیمګړی و، خو کله چې جوړه شوې وای نو رنګه امېزې او تجهیزات یې د خونې د پاسنۍ برخې په څېر وای نو د دهلیز په منځ کې به یې یوه فواره د اوبو د ننه ولو لپاره لرله. دغه اپارتمانونه د زیر زمینۍ او یا (ته خانې) په نوم یادېدل د پېښور خوار او نیستمن خلك هم دا ډول زړ زمینۍ ځانو ته جوړوي، خو دا ډول (ته خانې) لرې شمال لوېدیځ ته د هوا د معتدل والي له امله نه لیدل کېږي. په تود هوا کې زه پخپله په زړ زمینۍ کې کېناستم چې د روغتیا او طبعې برابر ولو لپاره یو شان بریښېده، په بله وېنا هم موږ په کې طبیعت سم و، او هم د روغتیا لپاره ور ګټل کېدله.

د رسېدو په ورځ پاچا ماښام د ډېرښه خواړه موږ ته راولېږل چې د ټولو ډېر خوښ شول ورپسې موانګرېزي خوراکونه په زیاتره وختو کې لګول، خو سره د دې هم پاچا د دوه ورځې استولو ته دوام ورکړ او د سهار، غرمې او د شپې له خوا یې د دوو زرو تنو لپاره (دا شمېر د سفارت د ګډون کوونکو تر شمېر اوښت) خوراکي شیان چمتو کول د غه راز فیلانو او نورو شاروېو تر څنګ یې د دوو سوو آسانو د اړتیا ور خوراکي مواد را لېږل. ما چې د پاچا په هکله د یوې میاشتې په پای کې د اشیان اندازه کړل نو بې له تکلیفه نه بریښي، د دغو جلا جلا لګښتونو او مصارفو توزیع د ده د میلمه پالنې ښکارندوی ده. له رسېدو وروسته مې د رتبې والا یو شمېر کسانو سره چې پخپله او یا د پاچا له لوري څخه راغلي وو، خبرې اترې او ملاقات وکړ. ما زیاتره وخت د اکرم خان له ورور شېر محمد خان او د هم دغه وزیر له دېوان مېر زاهې خان سره د زړه خواله د رلوده. دوی دواړه د هیأت او سفارت د ښه راغلاست لپاره راغلي وو. دغه راز زموږ میلمه پال یعنې میرابوالحسن خان زما زیاته میلمه پالنه وکړه، نوموړی پارسي نژاده او د ده کورنۍ د زیات وخت راهیسې په کابل کې مېشته شوې وه. دی پخپله د یوه عسکر له رتبې نه (رپوټونو ښودل چې حتی د یوه درزي یا خیاط له رتبې نه) د صندوق دار باشۍ (یا د کالیو ساتونکی او قولر آغاسي (د ګارد قوماندان) ته په سلسله راجګ شوی او یو وخت د

پېښور کو رنړهم و. میرزا بوالحسن خان د ډېره ښکلي ځېره او سره غمبوري (باړخو ګان) لرل خوونه یې ټیټه، غوږ یې کمزوري او خوی یې د ډېر پوست او مطیع بریښېده، نو ځکه په لومړي سر کښې د پرتکړه راته معلوم نه شو، خو وروسته په دې پوه شوم چې دی د خپل ملت د ډېر نامتو او عالي سړی او دده په ځېر په ساده ګۍ کې هیڅ یو پارسي نژاده موندل کېدای نه شو.

پېښور ته له رسېدو وروسته تر هغوې او وني پورې له پاچا سره مو د پېژند ګلوۍ کتنه ونه کړای شوه، ځکه په دغه وخت کې زموږ د ور پېژندنې یا معرفي د بڼې په هکله یو څه کشاله پېښه شوې وه. د سفیرانو منل په دربار کې دغه بیان له مخې چې ځینو زړو انو وکړ تر یوې اندازې بې دلیله و بریښېدل، په تېره ځینو وزیرانو د دربار وضع د فارس او د ازبک تارتاري د پاچاهانو له خوا استول شوي سفیرانو او حتی د پاچا د ور ور په باب څرګنده کړه. دوی وویل چې کوم سفیر چې پاچا ته ور پېژندل کېږي لومړی پلاې دوه منصبداران په دوار و سته او غږیږي کې ټینګ نیسي او د پاچا مخامخ ځای ته یې بیاېي، هلته پاچا د یوې جګې کړکۍ څخه خپل مخ ښکاره کوي، سفیر په دې وخت کې زیاته فاصله ور اندې ځغلي، په تیا کلی ځای کې یوه شېبه تم او د پاچا لپاره دعا کوي، ور پسې بلې مغلږه اخلي او دا پلاهم پاچا ته د خیر لاس پورته کوي د یوې بلې ځغاستې وروسته پاچا غږ کوي چې خلعت (یود ول کالی)، په دغه کلمه پسې د (د جتشین getsheen) ترکی کلمه د دولت د یوه منصبدار نه چې (لیرې شه یا ځه) معنی ورکوي او ریدل کېږي یعنی په دې دول یو خلعت د شاه له خوا هغه سفیر ته چې کتنه ورسره نه غواړي ورکول کېږي او د دربار نه یې باسي، په دې ډول سفیر تر هغه وخته پورې چې پاچا د خصوصي کتنې لپاره په رسمي توګه خپلې خلوت ګاه ته ونه غواړي نه شي کولای چې پاچا ووینی.

تول شیان په پای کې برابر او موږ د مارچ په پنځمه نېټه په دله یېزه او رسمي توګه د پاچا د ماڼۍ په لور وخوځېدو، موږ د یوه میل درې په څلور برخې واټن د کوڅو په منځ کې وواهه او ورڅخه تېر شو، په دغه لارکې دخونو په کړکیو او بامو کې زیات شمېر خلک او ننداره چیان د لیدنې لپاره سره تول شوي او زموږ سیل یې کاوه، بالاخره د کلاپا ماڼۍ لاندې خالي ځکې ته ورسېدو چې هلته پاچا استو ګنه درلوده. دلته د هغې غونډۍ چې د پاچا کلا پرې پرته وه، په خوا کې زیات شمېر خلک سره راغونډ او داځای یې د اسې د ګڼ کړی و، لکه چې په تیا ترکې د ننداري لپاره خلک ناست وي. کله چې موږ هغې دروازې ته چې پاچا د موزیک بانډ سرود غږ اوه ورسېدو، نور اسونه و غوښتل شول چې خپل زیات شمېر سا تونکي تر ښت پرېږدو او دلته پکاروو چې موږ د خپلو دولونو او ترمپټو نو غږونه بس کړو. کله چې د غه مدخل ته ور ننوتلو نو له اسانو کښته او دسل ګامه واټن له وهلو وروسته په یوه پوړۍ لرونکي زینه باندې

پورته وختلو او پوړۍ نورې او پردې کوټې ته داخل شو، چې دلته پوسلو پنځوس کسه په یو ځای سره د دیوال په اوږدو کې په یوه رسم ترتیب او خاص نظم سره ناست وو. دغه کوټه کشیکخانه یا دکارد اتاق بلل کېده، دا دومره ښایسته کوټه نه بریښېدله او اوس له ترمیم څخه وتلې وه، په مخ باندې یې دغالیو او لمڅیو فرش غوړول شوی و.

موږ د اتاق پورته خواته رهنمایي شو، او دلته یو شمېر سړي چې ښې جامې یې اغوستې وې سلامي زموږ په نږدې کېدو سره پاڅېدل، په دغه وخت کې یوه تن چې ډیر عالي شخصیت او ډیرم خاوند و، موږ ته ښه راغلاست ووایه، دا سړی وروسته وپېژندل شو، چې د پاچا امام او یا د دیني موسسو مشر و. ده په ډېر رڼاوي له ما سره روغبړ وکړ او په عادي توګه د ښه راغلي او پوښتنې وروسته یې زه کښېنولم. ما ته مخامخ د دربار اشراف او ستر شخصیتونه چې ځینو یې په جواهراتو سره مزین شوي خولۍ په سر او جوغې یې د خولۍ د پاسه تومبلې وې ناست وو، یو څه لاندې نور کسان چې ځینې پارسیان او ځینې نور یې درانیان بریښېدل ځای وو او له هغه نور کښته د پېښور سره نږدې غرنیو سیمو قبیلوي مشران لیدل کېدل. بیخي لاندې یو شمېر داسې خلک وو، چې عجیبه خولۍ یې په سر او داوله په دربار کې د کهول د منصبدارانو په څېر استخدام او جلادول لباسونه یې درلودل.

دوی په عمومي توګه توراو سره وو، خو د دوی د پېلو پېلو وسواسي کوونکو څېرو بشپړه تشریح مناسبه نه بریښي. په دوی کې سلیقه لږه او ښه اغیزه یې شیندلای نه شوه.

امام یا مذهبي مشر یو ډېر خوش طبیعته سور سپین سړی و، چې یې لستوڼو شال ډوله کالي یې اغوستي وو. د جامو څوکو یې د پوستکي لیکې لرلې او د عادي او عام سړي په څېر بریښېده، عمر یې د څلوېښتو کالو په حدود کې و، ده د دیني مباحثو په پېل کولو سره موږ ته خپل ځان نور هم ښه وپېژاند. ده د عیسوي دین د پېلو پېلو مذاهبو په باب پوښتنې وکړې، دغه راز د خپل دین فرقې یې هم بیان کړې. موږ ته مخامخ له څه لږې د کوټې په هغه غاړه باندې یو ښایسته سړی په ښکلیو جامو کې ناست او په انګلستان کې د تعلیماتو د څرنګ والي، د پوهنتونو شمېر او په هغو کې د دیني علومو د تدریس په هکله یې پوښتنې وکړې، له ځواب اورېدلو وروسته یې بیا هیله وکړه چې د نجومي سیستم په باب یو څه توضیحات ورکړو، خو په دغه وخت کې باشي (Chauos —Baushee) راننوت او څو کلمې یې وویلې چې په هغو سره د امیر ابوالحسن خان او ده زوی څخه پرته نور ټول حاضرین پاڅېدل او په ده پسې ولاړل. له دې نه مخکې مو هم نه یوازې یو وار بلکې څو واره د سپرود کړ پا په څېر اوازونه اورېدل چې په حقیقت کې د کار د عسکرو د بوټونو د اوسپنو پوندولو-هلو نه پیدا شول. داله افراد د پاچا د راتګ په مناسبت د ده د سلامي لپاره، د چا-وش باشي په واسطه چمتو شوي وو، کله چې ده دا مراسم بشپړ کړل، نو په ځغاسته سره

موږ ته بېرته راغی. موږ دغو شپږو لپاره په کېشیک خانه کې پاتې شو دا وخت میرابوالحسن خان په خبرو اترو بوخت وساتلو ده زموږ په هکله ډېر غوره حقایق چې د مخه وربانده نه پوهېده لاس ته راوړل. دی په دې فکر کې و، چې کلکته په انګلستان کې ده او اوس دا ورته جوته شوه چې د هغې ټاټوبی په هندوستان کې له انګریزي والیانو څخه پیدا شوی دی. بالاخره چاووش باشي زموږ خواته راغی او په ډېر کراو سره یې زموږ دنو مونه لست کړل، خود نومونو په لیکلو کې دومره ستړی او اندېښمن شو چې لست یې په ډېره مایوسۍ پرېښود او په دغسې عجیبه نومونو پوهېدل یې ګران وشمېرل.

په دې وخت کې یې د مراسمو په هکله موږ ته توضیحات راکړل او ویې ویل چې په ډېره مؤدبانه توګه باید مراسم ترسره شي. څو ځله یې په دې ټینګار وکړ چې د پاچا سره د معرفۍ په وخت کې خپل نومونه راته په غوږ کې ورو ورو تکرار کړي. وروسته هغه موږ مخ پورته رهنمايي کړو، له یوې دروازې څخه تېر شو او یو ډول پښو پاکوونکو ته وکړانو په مخ پاس خواته وختلو، څو چې ناڅاپه د دربارستړې خونې ته ورننوتلو، د دغه انګړه پورته نې لور ته مو پاچا په یوه هسکه ماڼۍ کې ولید.

د پاچا ماڼۍ او دربار اوږد مستطیل شکله وه او جګې دیوالونه یې لرل چې په مخ یې د سېرونو انځوروته رسم او رنګ آمیزي شوي وو، د دیوالونو په منځ کې یو حوض او فوارې بر ښېدلې د هر یوه دیوال په اوږدو کې د پاچا ساتونکې افراد (ګارد) درې قطاره ولاړو او د شاهي ماڼۍ او انګړه په بېلو بېلو ځایو کې د دولت درباري منصبداران له پاچا څخه د خپل مقام او رتبې په اساس نږدې او لرې دریدلي وو. د انګړه په وروستي څنډه کې یوه جګه ماڼۍ ولاړه وه چې لاندنۍ پوړ یې یوازې یو پوخ دیوال وچې د طاقونو په څېر یې مخ ښکلي شوی، کړکۍ او دروازې یې نه درلودلې، د دغه لاندې پوړ پرسر بل پوړ داسې جوړ شوی وچې چت یې د ستنو او مراکشي ډوله طاقونو په واسطه ټینګ ساتل کېده. دغه پوړ ډېر زیات ښکلی کړل شوی و، په منځنی طاق کې پاچا د سرو زرو او مرصع ستر تخت باندې کښېناست د پاچا شېره له برمه ډکه او شاهانه لیدل کېدله، د ده ټول کالی او تاج د جواهرا تو له املا پرک کاوه او شغلې ترې ختلې. پاچا د تخت له اړخ سره ولاړو کسانو (سرپي هلکان غلام بچه) له سرو څخه پورته ناست وو. د ده ترشا وخواسرې (سرپي هلکان چې د خانانو زامن او په دربار کې د زده کړې عملي تعلیم لپاره ساتل کېدل. مترجم) ټول غلي او ارامه ولاړو وو، او داډ له ده د کښېناستلو په سالون کې یوازېنی خلک وو. د پاچا په ښکاره کېدو سره موږ ټولو ټوپۍ له سره ایسته او په ډېر تعظیم سره سوسرونه ورته ټیټ کړل، ور پسې مو خپل لاسونه ده ته د دعا کولو په هیله پورته ونیول. پسې د نوار ې خواته ورانده شو، د لته خاص

باشي زموږ نوموړنه له کوم لقب او دړناوي څخه پرته قرائت کړل او په دې جمله چې «دوی له اروپا څخه دسفیرانو په څېر تاسو اعلیحضرت لپاره راغلی دي ستا بلادې په سا ولګېږي (۱)» خپلې خبرې پای ته ورسولې. پاچا په ځواب کې په ډېر لوړ او کړنګېدونکی آواز وویل «په خیر راغلیء؟» په ښه راغلاست پسې مو بیا د ته دخیر د عا وکړه. دامراسم بیا تکرار شول، څو چې ده موږ ته دافتخاري کالیو هدایت ورکړ او په دې توګه زموږ درناوی وشو. له دې وروسته ددربار منصبدارانو په ترکۍ ژبه یو څه وویل چې په هغې سره د هر لوري څخه یوه ډله عسکر قطار شول او سلامي له دربار څخه بهر ته ووتل. د لاري په کلک او ډېرین مخ باندې ددوی د بوټونو کړپاد دوی دزغر وله شرنګهار سره یوځای غوږو ته را تله.

په افرادو باندې ناره یا غږ نور دوه واره تکرار شو او دهرې یوې ناري سره یوه ډله افراد له دربار څخه ووتل. په څلورم غږ باندې خانان هم ووتل او په ترتیب سره ودرېدل. یوازې یو محدود شمیر کسان دلته پاتې او هغوته امر وشو چې وړاندې راشي پاچاهم په دغه وخت کې په ډېره شاهانه توګه له تخت څخه پورته شو، په داسې حال کې چې په دوو تنو (سرای هلکانو یا غلام بچه ګانو) باندې یې تکیه درلوده د باندې خواته یې ګامونه کېښودل او زموږ له ستر ګو څخه پټ شو. غوښتل شوي خانان هم په همدې توګه ولاړل، په داسې ترځ کې چې موږ د زینې بېخ ته چې په قیمتي غالیو فرش وه وړاندې شو، دلته موږ دخانانو تر کتاره دلو پورې تم شو، ورپسې سلامي پورته او هغه سالونته ورننوتلو چې پاچا اوس هلته په یوه نسبتاً کوچنۍ تخت باندې دروازې ته مخامخ ناست و.

موږ کتار په ډول ودرېدو او د کابل پاچا زموږ د پاچا په باب پوښتنه وکړه او بیا یې د ګورنر جنرال دروغتیا پوښتنه وکړه، بیا یې په مفصل ډول زموږ د سفر په باب پوښتنې وکړې او هیله یې وکړه چې ددواړو خوا وو ملتو تر منځ دوستي او ملګرتیا دې پیاوړې او زیاته شي، تر لودغو پوښتنو ته مالنه ځوابونه ورکړل. دسفارت غړیو او ښاغلیو زه او مستر ستراچي دې ته پر یښو د لو چې له پاچا سره نږدې کښېنو، نو ځکه دوی لږ څه شا ته شول. اما م او منشي باشي (مشراولوسړی سکرتر) موږ ته خرمه ودرېدل نورخانان دسالون دیوې غاړې په اوږد و کې ولاړ لیکه شول. داوخت د ګورنر جنرال فارسي مکتوب د منشي باشي

(۱) دغه ډول دعا ګانې معمولاً د پاچاهانو لپاره کېدلې. دغه راز لرغونو پارسیانو هم په دې څېر «ای پاچا د تل لپاره ژوندی اوسې» دعاګانې درلودې.

له خوا په ډېره خوږه ژبه اوښه ګنده توګه ولوستل شو، پاچا ډېر روغ ځواب ورکړ او د انګلیسي ملت سره يې دوستي اعلان کړه، ده زما هر ډول خبرو ته تیاري وښوده او دیو کلک تړون هیله يې وکړه. وروسته له دې چې ما هغه ته ځواب ورکړ، نو سملاسي يې خبرې او موضوع واړولې او زموږ د سفر په هکله يې ځینې پوښتنې پیل کړې دغه راز زموږ د آرې هیواد په باب يې سوالونه طرحه کړل. کله چې دی په دې پوه شو چې د انګلند او کابل اقلیم یوشان او سره ورته دي نو يې وویل چې طبیعت هم د واړې پاچاهۍ سره یو کړې دي، د دوستۍ په باب يې خپل باور بیا څرګند کړ. وروسته ما پوښتنه وکړه چې د اعلیحضرت خوښه ده چې په دغه موضوع او معامله باندې د اوخت رسیدګي وکړو. د وخت په هکله هغه په ځواب کې ما ته وویل چې ته پخپله د مساعد وخت په هکله سلا وکړه او دهغې په اساس به له ما او یا له خوا انتخاب شویو وزیرانو سره مفاهمه وکړو، وروسته ما دهیات او سفارت د اهدافو په هکله پر لپسې توضیحات ورکړل چې اعلیحضرت ورته په ډېره عاقلانه او صمیمانه توګه ځواب ورکړ. له دې وروسته زه له پاچا څخه رخصت او له دربار څخه راستون شوم.

د کابل پاچا ډېر ښایسته سړی او ګڼه توره ږیره يې درلودله. څیره يې غنم رنګه او عمر يې د دېرش کلو په شاوخوا کې و. دده د څېرې تشریح ډېره په زړه پورې او له امتیاز څخه ډکه وه. دده غږ ډېر صاف او خطاب يې شاهزاده ګونډې و. په لومړي سرکې موږ دا تصور وکړ چې ده د جواهراتو زغره اغوستې ده، خو کله چې مو له نږدې څخه ورته وکتل دا فکر غلط او دده رښتیاني لباس و، چې شین رنګ يې درلود او د اوږدې کرتۍ پاشړی په څیرهې په مخ د سرو زرو او کریمه ډېر وستر ګلان بریښېدل. په دغو ګلانو برسیره دده په ټټر د الماسو د رسي یوه زغره وه چې د واورو په څیرېې شکل درلود. د هغې ګانې په شان يې د هر وروانه په سر یو پسول (ګانه) لیدل کیده. د څنګلو د پاسه يې په متو نو باندې د زمرود و وړې تړلي وو. دغه راز د بدن په بیلو بیلو برخو کې يې نور جواهرات بریښېدل. د یوه وښې (لاس بند) په مخ یې د کوه نور نامتو الماس چې د نړۍ ډېر ستر الماس دی (۱) لیدل کیده. ده د مرغلرو ستر امیل چې یو په بل پرې شو یو تسمو په څیر بریښیده په ځان کړی و. د اشی (امیل) سست او ځړېدونکی اچول شوی و، تاج يې نه انچه جګ و، د اروپایی پاچا یانو په شان مزین شوی نه و، خو په ظاهري توګه ټول د اسې لیدل کیده چې د قیمتي او کریمه موادو څخه منځ ته راغلی دی. دا تاج د پخوانیو او ارغونو تاجونو په څیر شغلې کوونکی و، چې دوړانګو ترشا يې دا رغوانی بخمل څوکې

(۱) د تاورنیر سفرونو په کتاب کې Taver, Travels د هغه انځور و ګورئ.

بریښېدلې. د لښتیو ماڅوندیو (گوشواره، پوپک) کوچنۍ ځانګې داسې بریښېدلې چې له تاج څخه غزول شوې دي. د تاج ټول خصوصیات ډېر پېچلي او سترګې بریښیوونکي وو، چې په ټولو باندې پوهېدل او تشریح کول له امکان څخه لېرې وو. تخت په یوډول توکر باندې چې په مرغلرو سره ښکلی شوی و پوښل شوی او په هغه باندې یوه توره واخوړنده، او د جواهراتو یوه وړه امساهم په کې لیدل کېدله. د پاچا د کښېناستلو کوټه هرې خوا ته خلاصه او د څلورو ځکوستنو په واسطه ټینګه شوې وه، په منځ کې یې د مرمرو د ډبرو یوه فواره هم وه. د کوټې غولی په ډېره عالي غالي باندې فرش و چې د څنډو ګرد چاپېره یې د ورېښمو او زر تارو د توکرنۍ ګلداره ځېره (ټوټه) د خانانو د دریدو لپاره تاوشوې وه، له سالون څخه ننداره کول ډېر په زړه پورې ګڼل کېدل.

لاندې خواته یو ستر بڼ و چې پکې هر ډول ونې په تېره د سیروونې ولاړې وې. د ونو تر شا یو شین چمن او ځلېدونکې ویالې لیدلې کېدلې. دا ټول باغ او چمنونه د تورو غرونو په منځ کې چې څینې یې په واورو پټ وو، محدود شوي وو. کله چې د پاچا څخه راستون شوم، نو د کېشیک خانې خواته یې بوتلم، د لته د هیأت ټولو ملګرو دویارنې شتمن او قیمتي کالي اغوستي وو.

په پوروتنی بیان کې زه زیاتره هغه لورته متوجه وم چې په مراسمو کې غوره او ځلېدونکي بریښېده. مخ کې له دې چې د اخېرې پای ته ورسوم دا باید ښکاره کړم چې ځینو شیانو (په تېره د پاچا بڼې او ځېرې) زما هیله منه دي او پاملر نه زیاته کړه چې نور شیان ور څخه شا ته ځای لري. دا ټول شیان د دولت د برما لېتوب د ښکاره کېدو نښه نه شمېرل کېږي بلکې په بدل کې د ا پراخه پاچاهۍ ورانېدونکي څرګندوي. (۱)

---

(۱) کله چې موږ په کېشیک خانه کې وو او پاچاته زموږ سوغاتونه د ماڼۍ په لوړ پوړ ل شول. د هغو افسرانو چې د هغوی په امر دا سوغاتونه وړل کېدل حرص دومره زیات و چې هېڅ شی ور ته رسېدلای نشي. دوی هغه اوښان چې دا سوغاتونه ور باندې استول شوي وو، له ځان سره وساتل حتی د سورلۍ هغه څلور اوښان چې په غلطي سره ماڼۍ ته ننوتلي وو، ونیول. دوی د هاتیانو چلوونکي د دوی په طویله کې لوټ کړل او په جدي توګه یې ټینګار وکړ چې هغه دوه تنه انګرېزي مزدوران چې د پالکۍ د ساتلو لپاره استولي شوي وو، د دغو سوغاتو په یوه برخه کې وګڼل شي. د هغو ټولو سوغاتو په لړ کې چې پاچا ته و استول شول یو جوړې هالي توپانچو (د اتو پانچې د ګرانډسیګنو*

د کابل د دربار عمومي تشریفات هغسې چې وو بیان شول. ور پسې ما فرصت درلود چې له پاچا سره په نېږدې لیدنو کتنو کې د دربار د مراسمو نورو لونه چې پاچا ترسره کول، وګورم. پاچا هیله کړې وه، چې له ما او مستر ستراچي سره په ځانګړې توګه په هوا پارتمان کې وګوري چې په سیر اګلنېو پورې یې اړه درلوده او څرنګه چې دا هغسې ځای نه و چې پردیو ته ورته په معمول ډول د تللو اجازه وي، نو موږ ته وویل شول چې د شپې له خوا دغه ځای ته د لږو کسانو سره راشئ. له دې سببه موږ د مهماندار زوی د بالاحصار خوا ته رهنمایي کړو. بالاحصار د هغه ځای (دربار) مخامخ لوري ته پروت دی چې زموږ تشریفات پکې په ځای شول. کله چې د غونډۍ تل ته ورسیدو هغه کم شمېر کسان چې تر دغه ځایه موږ سره ملګري وو، همدلته پاتې شول او موږ په یوه نرۍ کې (پټه) لرونکې زینه (پوړ) باندې پورته وختلو، د شپې د تیارې له امله زموږ رهنما په ډېره سختۍ سره د زینې لاره وموندله. د دغو ړکیو په سر یوه کوچنۍ کوټه د ماڼۍ لور ته خلاصه شوه، دلته موږ یو شمېر هندي ساتونکي (ګارډ) ولیدل چې د انګرېزي سپاهیانو په څېر جامې یې اغوستې وې هېرداډول ننداره او منظره بیا ما هیڅکله و نه لیدله. ور پسې د بېلو بېلو انګړونو څخه چې ساتونکي پکې ولاړ وو تېر شوو، دغه راز پورته خوا ته له څو زینو (پوړو) څخه چې لږه اندازه نااوې واوښتلو څو چې د یوې نرۍ او اوږدې کتاره لرونکې زینې لاندې یوې تیارې کوټې ته چې د انتظار لپاره وه راورسېدو. دلته موږ یو شمېر کسان د میرابوالحسن خان په ګډون ولیدل چې ځینې یې ناست او ځینې د پیشخدمتانو په څېر د خپل بادار په دالان کې ولاړ وو. یو څه وخت وروسته یو ښکلی ملبس شوی سړی راغی او موږ یې د پاچا لور ته وبللو. په یوې کم سورې کتاره لرونکې زینې پورته وختلو او یوې وړې کوټې ته داخل شو. دا کوټه په یوه ډېره ښکلې ورېښمینه غالۍ فرش او شاوخوا یې په عالي توګه رنګ آمیزي شوې وه. ور پسې د همدې کوټې په څېر له نورو کوټو او لارو څخه تېر شوو. د ټولو کوټو دروازې په ګلداره او ښایسته پردو پټې وې.

دا پردې له داسې ورېښمینو ټوکرانو څخه جوړې شوې وې چې په مخ یې انځور ونه او ګلان ښکل شوي وو. ټولې کوټې لږې رڼا او خالي وې، یوازې په یوه کوټه

*(Graind Signior) (د لوی مشر لپاره جوړې شوې وې) او ور سره موسیقي سامان ته ډېر خوشحاله شو، د غه راز د زموږ ورېښمینو جرابو (مسېو) ته پام مه‌ړنه واوښتله او د یو څه نورو لپاره یې پیغام راولېږه چې په هغو سره دی ډېر خوښ شو.

کې د پاچا قلیانچي (چلمدار) د دېوال په یوه تاقچه کې ناست و. بالاخره د ډوې پردې
په ځنګولو سره مو یوه داسې کوټه پیدا موندله چې ډېره رڼا وه او دلته پاچا
پکې ناست و. د پاچا کوټه ډېره ښایسته او مستریح کوچنۍ استوګنځی
(اپارتمان) و، چې یو محراب لرونکې او د کمان په څېر کړکۍ یې درلوده.
دا کړکۍ د کوټې له پاتې غولي څخه څوانچه جګه او له همدې ځای څخه اتاق په
دوو او یا درېو مټو (ستنو) ویشل شوی و. پاچا د کړکۍ منځنۍ برخې ته برابر
داسې ناست وو، چې د دغه ځای په شپږو کونجو کې یو یو تن مریی هلك پاچا ته مخامخ
لاس په نامه ولاړ و. موږ د کوټې لاندینۍ خوا کې مټو ته نږدې کښېناستلو.
امام موږ ته خرمه میرابوالحسن او درې تنه نور زموږ شا ته دېوال ته مخامخ
ودرېدل. د پاچا بې لستوڼي شال په زرتار و ګلدوزي شوی او څنډې یې په ډېره
ښایسته توګه په جواهراتو سینګار شوې وې. د ده تاج له هغه څخه چې مو لومړي
ځل ولیده بر تو پېر درلود، دا وارېې یوه جګه توپۍ وه چې د لاندینۍ خوا ګرد چاپېري
د تور بخمل په یوه ټوټه باندې د جواهراتو پراخه څنډه راګرځېدلې وه، په داسې
ترځ کې چې د مخکنۍ برخې په مخ یې یو له برمه ډك پسول بربښېده. له دغې برخې
څخه د سروزرو او جواهراتو دوې نرۍ لېندۍ ډوله شیان د اروپايي تاجونو په
څېر راوتلي او نېغ جګ شوي وو. د پاچا کوټې ته د ننوتلو په وخت کې موږ خپل
سرونه پاچا ته د درناوي لپاره ټیټ کړل پاچا ښه د راغلاست ویلو وروسته ووېل
چې تاسو ته مې خبر وا لېږلی و چې په خپلو منځو کې به په ډېره ازاده او ښکاره توګه
خبرې اترې سره کوو، ور پسې یې هیله څرګنده کړه چې په پېښور کې به د استوګنې
په وخت کې خفه شوي نه یاست. ده په خواشینۍ سره دا هم زیاته کړه چې د ده د هیأت
درسېدو په وخت کې دلته نه و. پاچا د خپل هیواد د برترۍ او پراخوالي په باب څېنې
شیان بیان کړل، خو د ده خبرې امام تعقیب کړې او د ښکلاوو په هکله یې څه
ور باندې زیات کړل. وروسته امام د پاچا تر واکمنۍ لاندې هر ولایت د ده په
مستعمرو (د وسنیونو) کې یاد او د هر یوه ستاینه او لمانځنه یې وکړه. د امام په
لوړغږ او وېنا باندې پاچا مسکی شو او و یې وېل چې دا خبرې د ده مینه او لورینه
د خپل اري هیواد سره څرګندوي. ور پسې هغه دا هیله ښکاره کړه او و یې وېل
چې موږ (هیأت) به د کابل او د هغه سر بوطې سیمې چې اوس د ده خپلې ګڼل
کېږي وګورو. ده وروسته د هغو ځایو په هکله چې ما لیدلي وو، څېنې پوښتنې
وکړې او ور پسې یې مسترستراچي ته وویل چې زه په دې پوه شوم چې ته پارس

ته تللی بې، نو ېې له هغه ځخه د پارس په باب خوسوالونه و کړل . د دغو خبرو اترو په ترځ کې دد ه مریی هلك د اعلیحضرت چلم راننه ایست، ما هیځکله د اسې مجلل او ښکلی شی نه و لیدلی، دا د سرو زرو ځلاروونکی چلم و، چې زیات جواهرات پکې لګول شوي وو .

د تما کیو ځای د کوترې په غټ والی سره د تاوس ښیره در لوده چې ښکې یې د جواهراتو او مینا لروونکې وې. شپه ډېره ناوخته شوه خو چې په دغه وخت کې امام موږ ته د تللو اجازه ورته ستنیدلو اشاره وکړه. په راغلې لاره بېرته وګرزېد و اورخصت شو و.

په شپه کې ښارډېر آرام او چوپه چوپتیا هر لورته خوره وه. له پاچا سره زموږ خبرو اترو راباندې دیره ښه اوخوندوره اغیزه وکړه . د ختیزې نړۍ په پاچا هانو کې داسې یو پاچا ډېر کم پیدا کیږي، ده خو مره دیوه ښاغلی عادات درلودل او خومره زیات یې خپل برم ساته، په داسې حال کې چې دی یوازې په مهمانۍ او لطف مین و او په ډېره ډېره ښه توګه یې زموږ عزت کاوه .

د پاچا سره د پیژند ګلوۍ د کتنې تر بشپړیدو پورې د هیأت ښاغلی له یوه وار ځخه پرته چې د تفریح لپاره یوې خوا ته لاړل، په نورو وختو کې ځای په ځای و، او کوم چېرې په سیل و نه وتل، خو کله به چې له پاچا سره د کتنې موده خلاصه شوه، نو له هغې وروسته به د پېښور د سیمې د لیدلو لپاره خوساعته په سهار او ما زدیګر کې ګرزیدلو، دغه رازموږ د ښار بیلو بیلو برخو ته دورسره معرفي شویو لو یو کسانو دغوښتنې د تر سره کیدو لپاره لاړو. په دې ډول د پېښور او د هغه د شاوخوا سیمې سره ډېر ژر بلد شوو.

د پېښور ښارتقریباً په یوه د اړروي میدان کې چې قطر یې پنځه دېرش میله کیږي پروت دی. د ختیزې وړې برخې ځخه پرته له دې ښار نه غرونه چاپېره شوي دی، شمال خواته یې هندي قفقاز او د سوېل لوېدیز لورته یې د سفید کوه غرونه او خو کې په څو ګنده توګه بریښي . شمالی برخې د کابل سیند د دریو ځانګو په واسطه ویشل کیږي، خود ریاب د اباخونه د میدان ځخه د وتلو په وخت کې بیا سره یو ځای کیږي، دغه ډول دا ځای د باړې او بدهنې د رودونو په واسطه او به کیږي . دا دواړه رودونه د غرونو ځخه راوتلی او د کابل دریاب ته ور ګډیږي .

کله چې موږ د نارچ په میاشت کې د پېښور سیمې ته ننوتلو نو په دغه وخت کې د غرو سرونه په واوروپټ وو، په داسې ترځ کې چې د لاندې میدانی سیمو مخ شنو سرغو او ګنو واښو نیولی او هوا ډېره په زړه پورې وه .

زیاترو ونو پانې کړې وې او له سرو ځخه خلاصې وې، په دې ډول د لید نې لپاره یې متنوع او ښته منه ننداره برابره کړې وه. د دوو او ونو په تیریدو سره

بې شمېره باغونه اوتيت او پرکوڼي په پانو پټې شوې، دغه حالت دامې تازه ګي اوځلا پيدا کړه چې د هندې موسم په پرلپسې اوريې کې هم شکله ليدل کېدای نشی. د پېښور په پرتمه سيمه او ميدان کې ډيرې ويالې بهېږي، غاړې يې د غزاو ولو په ګڼو ونو پټې دي. په دغه سيمه کې باغونه هرې خواته خواره شوي چې په هغو کې ګيلاس، شفتالو، مڼې، ناک، بهي او د آنارو ونې پريمانه وې. د غرونو تر هغې اندازې نه چې زه مخکې شاهد وم، زياتې غوټی غوړولې او ګلان يې کړي وو. په غير زراعتي برخو کې ګڼ پاسته شنيلی چې له انګلند څخه پرته سو په نوروځايو کې يې ډول ونه وليد، د مځکې په مخ څرګنديدای شول. د پېښور هواره او ميداني سيمه په ډېره بشپړه توګه تر کرنې لاندې وه او زيات شمېر وياله او کانالونه يې اوبه برابرولې. د دغه ځای دارت والی په اندازه په بله يوه سيمه کې دومره زيات شمېر وګړي نه ليدل کېدل. لفتننت مکارتني له يوه لوړځای څخه د دوه ديرشو کليو اندازه واخستله چې ټول محيط يې څلورو ميلوته رسيده، کلی ډير ستر پاك او ښکلي وه، او ټول په ونو پټ بريښېده. د دغو ويالو د پاسه د لرګيو او خښتو پلونه جوړشوي وو، چې د هريوه په دواړو وروستيو څنډو کې کوچنی برجونه د تزيين او ښکلا لپاره آباد شوي وو. د پېښور د پرتې ميداني سيمې زياتره ونې توت او پانو رې ميوه لرونکی ونې وې. د خرما له ښکليو باغو څخه پرته نورې ځکې ونې د پيپل او غزو ونې ګڼل کېدې چې د اوروستي ډول ونې تر دیرشو لخلویښتو فوټو پورې د لته جګوالی درلود. د دغو ونو پانې د سېرد ونې په څېر وې او ډېرې پنډې بريښېدلې. څنګلونه يې ډېر ګڼ او ونې دومره پکې سره نژدې وې چې تپه توره تياره يې جوړه کړې وه. پخوله د پېښور ښار په يوه نا هموارې مځکه باندې ودان و. محيط يې له پنځو ميلو څخه زيات او د وګړو شمېر يې يو لك تنو ته رسېږي. کورونه يې له خښتو (اکثراً اومې خښتې) څخه د لرګو په چوکاټو (سنجونو) جوړ شوي دي. دا کورونه په عام ډول په درې پوړيزه توګه جوړشوي وو، د دغو کورونو د لاندني پوړ په زياته برخه کی هټی وې سړکونه او کوڅې معمولا تنګې وې، ځکه په دغو ځايو کی عرابه لرونکي ګاډی نه تللې، نو کوڅې ډېرې نرۍ وې. سړکونه او کوڅې تر يوې اندازې پاخه او مخ باندې يې ډېرې هوارې خو دغه پخه شوې برخه له دواړو غاړو څخه د منځ خواته ژوره شوي ريونده او ښويه وه. په دې ډول سره سړکونه ښوی او غير مستريح بريښېدل. په ښار کې دوه ويادرې ويالې بېلو بېلو برخو ته بهېدلی او حتی دلته هم ولې او توتان يې په غاړو کې ولاړ وو. د ويالو په مخ پلونه تړل شوي وو، خو هيڅ يو يې د لږی يادونې وړ هم نه ګڼل کېږي.

د پېښور په ښار کې ډېر جوماتونه جوړشوي وو، خو دا جوماتونه او نورې عامه ودانۍ د يادونې وړ نه دي، يوازې بالاحصار او يو ښکلی کاروانسرای پکې

استثنائي ګڼل کیدای شي، بالاحصار په یوه غونډۍ باندې د ښار شمالي خوا ته پروت او دومره زیاته کلکه او پخه ماڼۍ لري، خو هو خو ښکلي سالونونه لري، چې د شاوخوا په زړه پورې او غټو باغونو ور ته رومانتیکه ښه ور کړ شوې ده، په بله وینا د غه دالانونه په د غورو رومانتیکو منظرو باندې ښکلي او ښایسته بریښېدل. څنګه چې بالاحصار د پاچا یوازې موقتي استوګنځی و، نو له دې امله اوس زیات له پامه لویدلی و. شمال خوا یې ډېره غوره ښه ښکاره کوي، خو که د ښار له ډېر نږدې ځای څخه ورته وکتل شي نو د خرابوالي او زړو لتیا غوره نښې څرګندولي. د څینو لویانو خونې ډېرې غټې او له برمه ډکې وې خو ډېرو کمو اشرافو د لته کورونه درلودل.

د پېښور اوسیدونکي هندي منشا لري، خو په پښتو او همد غسې هیڅکله (شاید هندي یا اردووي مترجم) خبرې کوي، د غه راز د لته د نورو ډېرو ملیتو اوسیدونکي میشت دي. د پاچا د راتګ په وخت کې پېښور ته زیات خلک راټولیږي. له سهارني سپرلۍ او ګرځیدو څخه د ستنیدو په وخت کې موږ ته ډېره ښه موقع وه چې د خلکو غونډېدل او ګڼه ګوڼه وګورو. د سهار د لومړیو ساعتونو په وخت کې چې موږ خپل ګرځیدل پیل کول سړکونه او کوڅې خالي او پکې چوپه چوپتیا وه، خو د راستنیدو په وخت کې د خلکو ټولیدلو او ازدحام د غه چوپتیا او سوکالي له منځه وړه او شور ماشور په محیط کې حکمفرما کیده. د لمر ختو څخه لږ مخکې خلک د سهار لمانځه لپاره په جوماتو کې غونډېدل. کله چې به لمونځ وشو نو وروسته به یو کم شمیر په کوڅو کې د چارو کولو او د خونو د مخ د پاکولو لپاره جوتېدل. دغه راز په همدې شیبه کې څینې لویان د دربار په لور په آس سپاره او خپلو لسو یا دولسو تنو نوکرانو سره هغې خوا ته تلل. مزدوران په ډېره چټکۍ په پښو منظم ځلي او چوپړ روان وو، یوازې د دوی پښو له کړپا څخه پرته نور څه غږ ترې نه خوت د کله چې موږ د ښار په لور ستانه شو، نو د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته او د هر یوه ملیت نارینه د بېلو بېلو کالیو سره څرګندیدل. په دغه وخت کې د دوکانونه ټول خلاص وو، وچې میوې، چارمغز او نور مغز باب، ډوډۍ، غوښې، ساقداره بوټ، نور بوټونه، زینونه، د لوښو او ټوکرانو ښه لونه، فلزي سامانونه، تیاري جامې، پوستینونه، کتابونه او داسې نور شیان د دوکانونو په مخ کې لیکه ایښودل شوي او یا د هټیو په چت پورې په چنګکونو کې راځوړند وو، د ښار د ډېرو ښکلو دوکانونو په لړ کې د میوو د خرڅولو دکانونه وو (په دې دکانونو کې منې، ختکي، آلوچې او حتی نارنجان سره د دې چې په پېښور کې کم دي لیدل کیږي او داسې وې په زړه توانده از و د هندي میوو سره یو ځای او ګډې ایښودل شوې وې) او په هوټلونو کې هر څه په خاورینو لوښو کې خوړل کیدل او دا لوښي داسې رنګ شوي وو، چې د چینۍ لوښو غوندې ښکاریدل، په کوڅو کې داسې خلک وو چې د سبوا و مستو د خرڅولو ناري به یې وهلې یو شمېر نورو خلکو چرمي

کښوړې (ژې یا غړکې) له اوبو څخه ډکې په شا ګرزولې او د خپلې متاع اعلان یې کاوه دوی یو ګېلاس یا پیاله اوبه په یوې وړې او د نیروپۍ سره لا رویو ته ورکولې له دې سره یو ځای د ښار
یې دیوه برنجي ګېلاس او پیالې په ګړنګولو سره
وګړو سپینې لونګې، غټې توري، سپینې او یا آبي چپنې او د ځینو نورو د پسه د پوستکي چپنې لیدل کېدلې، پارسیانو او افغانانو وړینې نصواري اوږدې کرتی واشری او یا بې لستوڼي اوږدې چپنې د پسه د پوستکي او درنګه وریښمو خولۍ استعمال لولې. خیبریانو سزرینې خپلې او ساده کالي چې د دوی د غرونو فضا یې څرګند وله درلودل. هندوانو د خپل ملت ځانګړي مشخصات او دودونه او د هیواد د خلکو د اوږدو ږیرو او جامو سره یوراز ګډ ځولی و. هزاره ګان نه یوازې د پوستکي او یا وړیو د مخروطي ټولیو چې د ښځې شا و خوا یې حاشیه او چرمه درلودله، له دې امله غوره وو، بلکې د غټو مخونو، کوچنیو سترګو او دږیرې د لږوو ویښتانو له پلوه ځانګړي بریښېدل، چې په مقابل کې د ږیرې ویښته په ښار کې د هر یوه بل په مخ لیدل کېدای شول او د سینګار نښه وه. د خلکو په منځ کې لږ شمېر سپینې بوکره لرونکې ښځې چې بوکرې یې اوږدې او ترپښو یې رسېدلې هم څرګندېدلې، دغه راز د پاچا عمله د عجیبه خولیو او جلاخوی سره چې د دوی د طبقې ښکارندوی وه، خلکو په منځ کې جوتېدله. کله به د وسله والو سپرو یوه ډله افراد په لاره تېرېدل. د دوی د آسانو د نعلونو لګېدل د پاخه سړک په منځ او د ملونو شرنګهار داسې غږونه او کړپا پیدا کوله چې هرې خواته یې د دوی د څرګندېدو آوازه خپروله. ځینې وخت چې به پاچا بهرته وتلو کوڅې به د پلیو او سپرو افرادو او دیو بوك (کاوه، کو) لرونکو اوښانو چې سره او شنه رپېدونکي بیرغونه یې ورل بندېدلې او په ټولو وختو کې بارشوېویو کاواو کوپان لرونکو اوښانو (غټ د روند وزنه باختري بیراوښان چې اوږدې وړۍ لري.) خپل تګ په کراره سره د کوڅو په منځ کې ترسره کاوه، دغه راز د سړك په منځ کې اته او یا لس کچرې په یوه کړۍ کې یو په بل پورې تړلې لیدل کېدلې چې له کاره وروسته دستړیا د کمولو او خولو وچولو لپاره په کراره اړخ په اړخ تللې، په داسې حال کې چې د دوی څښتن او ساتونکي به د کوڅې په غاړه د خوراك او یا اجوره یې چلم څکولو په خاطر یو څه تم کېدل، د دغې ګڼې ګوڼې په منځ کې موږ بېله کومې څرګندونې او پام څخه تېرېدو یوازې موږ ته د لارو یو سلام اچول او د درناوي په خاطر لاس په نامه سر کښېته کول د یادونې وړدي او یادا چې د سوالګرو مرسته غوښتل چې موږ ته به یې د فرنګي خانانو خطاب کاوه او موږ به یې دې ته رابللو چې ژوند فاني دی او خیرات ورکول ابدي، ښکاریږي دا به یې هم را په یادول چې زموږ لږه مرسته دوی ته ډیرشې دی.

ډیر ځله دا پیښ شوي دي کله به چې ماشوم له کړکۍ څخه ولیدلو نو ناري به یې کړې چې اپ، فیر نکړی! ور سره به د کور ټول کوچنیان او ښځې د کړکیو مخې ته ودریدل او تر هغو به یې ځیر کتل او چې خوبه ورڅخه غایب شو.

د دغې سیمې په سړکونو باندې په ندرت سره زیات شمیر خلک لیدل کېدل، خو کله کله د هغو سپرو له امله چې دوښو لپاره په ډله ییزه توګه وتل او پکې به وه تن په فارسي او پښتو نورو ملګرو ته سندرې ویلې په سړکونو کې به ګڼه ګونه پیدا کېده. په دغه سیمه کې دا ښه ډېره رواج وه چې د ټیټې طبقې له یوه سړي سره د کتنې په وخت کې به هغه باز په لاس کې نیولی او ښکاري سپي به ور پسې روان و، ډېر ځله مو ښکاریان ولیدل چې په لویو اوسترو غنمو کې یې مړزان (بټیران) نیول دوی به د پټي په یوه څنډه کې جال ټینګ کړ او د پټي له بلې خوا به دوو تنو د یوه پړي سره ونیول او ورو ورو به یې د جال خوا ته د غنمو په مخ پړی کش کاوه، په نتیجه کې د غنمو د ښو- ریدو له امله مړزانو د جال په لور ځغاستل جال ته به چې ورسیدل، نو به پکې بند شول دا وخت به ښکاریان سملاسي ور ته راورسیدل.

هغو ښکاریانو چې دا ډول ښکار یې کاوه شمیر یې ډېر زیات و*.

د سیمې دوګړو ښه سلوک او تهذیب تر هر څه زیات و. مو به زیات وخت باغونو ته بلل کېدو او په هر کلي کې به هر سړي چې ولیدو، نو ښه ر اغلاست یې راته وایه. ډیر ځله د هیأت له ښاغلیو څخه دوی غوښتل چې د یوه کور به په خیر هغوی ته د ورتګ افتخار ور وبخښي. ځینې وخت به د غو میلمه پالونکو خلکو د سفارت غړو د آسونو ملونه تر هغو ټینګ نیولي وو چې، له دوی څخه به یې د راتلونکې ورځې د سبانري وعده تر لاسه کړه او حتی د وعدې د ټینګار لپاره به دوی د هیأت د غړو سره لاس په لاس کې ور کړ (یعنې قول به یې ورسره وکړ) (۱).

---

*افغانان له بازاو ښکار سره ډېره زیاته مینه لري. پاچا پخپله د نورو عامه وګړو په څیر له باز سره علاقه درلوده او په دې منظور به بهر ته ووت، معمولا له ده سره به په دغه وخت کې باز په لاس او یو تن ملګری به ور پسې روان و.

(۱)-لاندنی څرګندونه د دغه ډول میلمستیا وو او سرګرمیو په اړه کې ده چې د هیأت ځینو ښاغلیو د یو سند په څیر لیکلې او کلکتې په اخبارو کې یې نشر کړې ده:

«ټاکل شوې ورځ را ورسیده له او موږ د خپلې وعدې تر سره کولو لپاره کلي ته ولاړو د دغه ځای د وګړو مشر په ډیره دوستانه توګه زموږ هر کلی وکړ او د توت د ونو په یوه په زړه پورې باغ کې چې تر لاندې یې ویاله روانه وه، منل شوو، او د یو شمیر*

د سیمې له طبیعت څخه چې را کاږنې او ننداري یې په زړه پورې او بې ساري توګه زیاتې شوې، دا امید وار یم صابیده چې ټکي به هرو مرو دسا ده او خاصو (ځانګړو) خلکو سره مخامخ شو او ددوی تر منځ به کړه وړه وو هغو نود اسې تصور کیدای شو، چې سیاړنی د له هېز سفرونه او لنډې ګرځېدنې ډېرې په زړه پورې او خوشحاله وګڼل شي. زموږ ما زیګوني سپړلی او ګرځېدل هم له دې څخه لږ په زړه پورې نه بریښېدل. دا وخت به موږ د ښار د شاوخوا باغونو وخوا- ته ولاړو، د طبیعت آرام او الې او ښتهنی ته به مو په ډېر په زړه پورې توګه اوار یانوالی کتل په داسې حال کې چې موږ د هوا ر سېدان له لمر څخه خوند اخیست په مقابل کې د شاوخوا ځنګلونو، ښکلو او تور بخنو غرونو په سر باران او واورې او توفانی وریځې ځرګندېدلې. باغونه د مانیو او تعمیرونو په واسطه لا زیات سینګار شوي او ښایسته شوي وو، په تېره بیا د مسلمانانو د زیارتونو ګومېزو ور ته ځانګړې او غوره څېره ور کړې وه. د دغه طبیعت په غوره شیانو کې یو لوړ او پراخه تعمیر و چې ځنډې یې په یو شمېر برجو باندې پای ته رسېدلې وې ما تصور نه کاوه چې له نږدې څخه د لرې په څېر به دا مانۍ ستره ښکاره شي، خو له نږدې څخه هم په هماغه شان له برمه ډکه ځرګندېدله. دغه باغ لرونکی مانۍ یو وخت ډېره ځلانده او د ننداري وړ وه او دیوه پارسي نجیب سړي په واسطه چې علیمردان خان نومېده جوړه شوې وه، نوموړي سړي له دې هلی څخه تر مشهد پورې ملک بشپړ کړی (فتحه کړی) و، او دده په ویاړ او یادګار دغه ځای منځ ته راغلی و. ځینې نور د یادونې وړ مذهبی ځایونه او زیارتونه ددې د پاره جوړ شوي وو، چې تر یوې مودې پورې

* کتو په مخ چې ساده پزی وړ باندې هوار وو کښېناستلو، د کلی زیات شمېر خلک هم را سره ګرد چاپېر په کتو کښېناستل.

(۱) پاتې برخه

موږ یو ساعت د پاچا په باب سره خبرې وکړې د دغه راز د هېواد حاصلاتو او نورو موضوعاتو په هکله سره وغږیدو. دوی له موږ څخه وغوښتل چې د ښکار لپاره بهر ته ولاړ شو خو د زیاتې تودوخې له امله د غسې سرګرمۍ ته حاضر نه شوو. کله چې د ډېر غږ په باره کې خبرې پیل شوې، نود کلی سرښوونکی او ملا یو په بل پسې د حافظ شعرونه او بوللې د سندرې په څېر وویل. دا منظره په عمومي توګه ډېره په زړه پورې عجیبه او خوشحالوونکې وه، د کلي سرښوونکی ډېر زړنګ او هوښیار و. ملا به یوازې په اهانت سره تېوکي کولې، بلکې دوی پرلپسې د یو او بل په خبرو کې سره لوېدل او یو بل ته یې وار نه ورکاوه، کله چې سبا ناری تیار شو، نود دوی خونې ته لاړو، دلته ډېر عالي پلو او ښې شېدې برابرې او په ډېره خوندوره توګه مو ډوډۍ*

قبرونه پکې وساتل شي په بله وینا داډول ساختمانونه د سړو شویو کسانو دغوره توب له امله آبادشوي نه وو، بلکې د دوی د قبرونو د خوندي ساتلو په هیله آبادوو. نامتوا مپراتور بابر، د ډېښورد شاو خوا سیمې د طبیعي ښکلاوو او رنګونو څخه په ډېره خوښۍ اومستی ګرځېدي او داسې یادونه یې کوی چې پکې د غاټول او نوروحشي ګلان د مرغو په شاوخوا کې شنه شوي او دا ګلان بریښوونکی رنګونه او ښکلا لري. د دغه نامتو او پیاوړي مؤلف (بابر) یادونې ډېرې سمې او ورته په درنه سترګه ګورم د اعتراف بایدوکړم چې دده په تشریحاتو کې مې د بد لولو هیڅ شی ونه لید، خو د دغو شتمنیو اوعالی منظرو د یادونو نیمګړ تیاد زیړو ګلانو (dandelion) اونورو هر زه بوټو په زیاتو لوسره زما په نظر بشپړه اوجبران کېدای شي. داډول واښه او ګلان په انګلستان کې زیات دي، د ګلاب د ګلانو پر یمانۍ هم د یادونې وړ او په ساباندې یې ښه اغیزه وکړه. په دغه وخت کې مې داسې یو سوال کړا و د غریبې خیرې او کالیو لرونکی هلك ونه لید چې لاسونه یې په دغو ګلانو ډك نه وو. په بڼونو کې رښتیا هم هر ډول ګلان پریمانه او په یوه ډېره عالی سلیقه سره تنظیم شوي وو. د دغو باغونو په لړ کې یو هم چې په پاچاپورې یې اړه درلوده او د ډېښور د ډېرښکلی بڼ و، د نمونې په توګه شرحه کېږي، څو د پاتې بڼونو په باب د دغې څرګندونې په اساس قیاس وشي.

دغه باغ چې اوږد مسطیل شکله دی د شاه زمان د بڼ په نوم یادېږي د بالاحصار د سویلی خوا څنګې ښکلی تعمیرونه او غونډۍ یو برخه چې د بالاحصار سانۍ وړ باندې ولاړه ده په دغه بڼ کې شامل دای شي. د دغه باغ خوا د دیوال په واسطه چاپېره شوې ده. د شمال لورې یې چې له ونوډك دی د پاتې برخې څخه جلا او په غیر منظمه توګه پروت دی. نور پاتې باغ دا ډول ښه لري او د سړکونو اولاروپه واسطه جلا شوی دی چې داسړ ګونه د باغ په منځ کې یو بل سره قطع کوي. هغه سړك چې له ختیځ څخه د لویدیځ پورې ایستل شوی د سبراوچنار ونې په متناوبه توګه له برمه ډ کو قطارو په څېر ولاړې دي. دا سړك د پلیودرې لارې او د ګلانو دوه اوږده پټی (کوړه کی یاکیاری)

---

* وخوړله موږښارته په ډېره خوښۍ سره له دغه ځای او وګړو څخه راستانه شو، وخت موخوښ تیر شو، دوی سره موعده وکړه چې بیا به کوم سهار دلته راشو او له تاسو سره به ښکار وکړو، دغه راز دوی ته به د مرغانو د ښکار کولو طریقه ور زده کوو. دلارې په اوږدو کې مایو سپین ږیری سړی ولید چې هغه د پانی پت په جګړه کې له احمدشاه بابا سره برخه اخستې وه، نوموړي سړي د ډیلۍ، متراو اګرې د ښارونو په یرغلونو باندې افتخار ښکاره کړ، دی پنځه نوي کلن و، په سترګو یې ښه لیدل کولای شول او تر اوسه پورې یې حافظه او یاد ښه وو.»

لري په دغو کوره ګیو کې د کوکنار بوټي کرل شوي وو . د دغې پلې لارې ختیز لوري د ننوتلو د روازې سره پای ته رسېږي، په داسې توګه کې چې په لویدیزه وروستۍ څنډه کې یې یوه ښکلې ماڼۍ ده چې هودالان او دوه اپارتمانونه لري. د هغې په اوږدو کې چې له شمال څخه سویل ته ځي هم د سبر او چنار ونې ولاړې دي چې ترې لاندې د سرو، سپینو او ژېړو چینې د ولې د ګلابو بوټي په ډېره ګڼه توګه کرل شوي دي، د دغه راز د لته سپین او ژېړ یاسپین ګل لرونکي سیستوس (Sistus) او نور ګل لرونکي بوټي چې ځینې یې ما په انګلستان او یا هند کې لیدلي او ځینې نور یې راته نوي وو څرګند هدل. د دغه سړک په وروستۍ شمالي څنډه کې هم هغسې ښکلې ماڼۍ چې مخ پورته بیان کړه ولاړه وه، د دغې لارې او سړک پلیولا روټر منځ شپږ او یا ده یو په بل پورې تړلي د ډنډونه داسې جوړ شوي وو چې په پر له پسې توګه یې او به د څړوبې په څېر یوه او بل ته تویېدلې. د اوډ ډنډونه د باغ په منځنۍ نقطه کې په یوه ډنډوکي کې پای ته رسېږي د دغه ډنډوکي په منځ کې یوه دوه پوړ هږه ښکلې داوړي ودانۍ ولاړه او ګرداګرد یې فوارې تاوشوې وې. د غه راز په یوه لیکه سره پورته د ټولو ډنډو په منځ کې فوارې لیدل کېدلې. د ټولو فوارو شېبه شپږ نوې ته رسېده چې په باغ کې د تم کېدو په ورځ ټولې فعالې وې د غه فوارې داوړي د تودوخې په زیاتوالي سره ډېرې په زړه پورې ګڼل کېدای شوې. له ډنډو او د سړکو د غاړو وله ونو څخه پرته د باغ په نور ټول کې پریمانه میوه دارې ونې ولاړې وې چې ډولونه یې هغسې چې ما یو څه مخکې یاد کړل د پښبورد نورو میوه لرونکو ونو په څېر وو، ځینې میوه دارې ونې د یرې ګڼې وې چې په غرسه کې یې د لمر وړانګې نه پرېښودلې چې مځکې ته تیرې شي، له دې امله په زړه پورې سوړ سیوری او ښایسته ګوښه یې برابروله. مود برېګر (سهار او غرمې ترمنځ وخت) په دغه ګوښه او یو څه په اوږنۍ ماڼۍ کې تېر کړ. د غرمې ډوډۍ مو په دغه ودانۍ کې د پریمانه کباب شویو غوښو سره وخوړه. له ډوډۍ وروسته یوې کوټې ته د دمې کولو لپاره ولاړو، د لته غالۍ او لمڅۍ غوړول شوي او له کښېناستلو وروسته یو څه میوه راته راوړل شوه. په دغه کوټه کې مود دیوال و په مخ د اشعارو په لوستلو ځان بوخت کړل . دغه پارسي شعرونه ځینې د پاچاهانو او سنیو رښتینو حالاتو پاندې تطبیق کېدل او ځینې نور یې په غیرمستقیمه توګه د بخت په بې ثباتۍ پورې اړه لرل شوي وو. له غرمې وروسته په دریو بجو د ګردش لپاره بهرته ووتلو هغه سړک او واټ چې له لمرختیځ څخه لویدیځ ته کښل شوی وه او دواړه څنډې یې ځنګو غرو ته نږدې وې د ډېره په زړه پورې ننداره یې درلودله، په داسې حال کې چې د شمالي او سویلي نقطو ترمنځ سړک د آسیایي هغو باغو په نسبت چې ما لیدلي وو هر څه زیات درلودل د بالاحصار لاندې ودرېدو، د اخوا یې د یره ښکلې وه فوارو د لمر د لګېدو په واسطه

پرك کاوه د لمر وړانګې د ونو یوتر او ګلانو په منځ ځلیدلې، په داسې ترځ کې چې
بلې خوا د دغه ځای په نسبت تورسیوری غوره کړی و (یعنې د بالاحصار هغه خوا چې
د باغ لوري ته مخامخ نه وه.) ودانۍ او تعمیرونه له باغ سره د یرښتمن، روښانه
او مناسب بریښیدل، ترشاسیمه دیره ښنه، سمسوره او ځای په ځای پکې موټې موټې
او بیا جلا جلا ونې لیدل کیدلې (وریسې جګو غرونو دغې منظرې ته دیر ښکلی انجام
ورکړی و) داغرونه په خوځایو کې په یوازې ښاخو ویشل شوي او په زیاته اندازه
بیل بیل تت رنګونه او شکل بندې یې ښکاره کوله، په باغ کې له چکر او ګرځیدو
وروسته له هغه کسانو سره یو ځای شو، چې زموږ د تفریح کوا و په وخت کې
ګومارل شوي وو

دوی د یوه د نه سره نږدې ناست او دخپلو لاسو په خیښتو لوسره یې ځانونه ساړه
کول له دوی سره له یوڅه خبرو اترو وروسته د لمر لویدو نه لږ مخکې له باغ څخه
ستانه شو.

دهغو لیدلو کتنو په باب چې له موږ سره وشول او بیا موږ د نورو دلیدلو لپاره
لاړو توضیحات یې بې شمېره او یادول یې خوا وهونکي دي. په دغو وختونو کې زما
د مشاهداتو نتایج به په بل ځای کې ښکاره شي، زما دوه تنه غوره ملاقات کوونکي
میرزا ګرامي خان او ملا بهرمند وو. لومړی تن د یوې ستړې رتبې والا شریف سړي
زوی او په هندوستان کې یې وخت تیر کړی و. له دې امله زموږ د رواج او دود سره
په دیره ځیر کې او بیامار نه اشنا و، دی هندوستان ته له دې امله شړل شوی و چې ده د
شاه محمود سره په ځانګړې او فامیلی توګه اړیکې درلودې، ګرامي خان د اکرم
خان په مرسته له هندوستان څخه راستون او په دې مکلف شو چې د احتیاط په لار باندې
روان شي، ځکه تر دغه وخته دی د پخوانی ګوند سره چې په رښتیانی توګه ورپورې
تړلی و، په ارتباط تورن و. ده په هندوستان کې داستوګنې په وخت کې داروپایی
ملتونو د هغوی په باب داسې عجیبه معلومات لاس ته راوړي وو، چې د هر لږ شمېر
افغانانو ور باندې پوهېدل حتی د نوموړی میرزا داروپایی تاریخ داسې پېښې په
یادولې چې چا په هندوستان کې هم اوریدلې نه وې. یوه ورځ ماد خپل هیواد د سمندري
واکمنۍ او تفوق په باب د ځینو میلمنو او ملاقات ته راغلیو کسانو د هیښتیا لپاره
وویل چې له ۱۷۴۵ کال راهیسې زموږ په ملت کې کوم اړودوړ او اغتشاش نه دی
پېښ شوی له میرزا ګرامي خان څخه پرته کله چې نوره ملاقات کوونکې ده ولاړه،
نو میرزا په مسکا سره واته وویل چې تا د امریکا جګړه هیره کړه،
وروسته یې په دیر جدیت پوښتنه وکړه چې د فرانسوي
جګړې بېړیو په مقابل کې ولې تاسې د بېړیو بېړه لوړ بوتله او ددې کار علت څه
و، په داسې حال کې چې تاسې د سمندري واکمنۍ په هکله د لوړتیا خرګندونه وکړه.

دغه ښاغلی د اوخت په کابل کې د دولت منشي باشي یا سکرتر و. ملا بهرمند ډېر زړه ور کښن (د زده کړې په برخه کې) سړی او په رښتیا سره د نبوغ خاوند و، د علم لاس ته راوړو ته یې نه ستړی کېدونکې تنده درلوده. دی د میتافزیک او د هیواد په اخلاقي پوهنو کې ډېر برلاسی خاوند او متبحر سړی و. ملا بهرمند د ریاضیاتو زده کړې ته ډېر لیواله او زیاته مینه یې ورسره درلوده. دغه راز ده سانسکریت (هو ژبه ده چې د دې هیواد والو یې نوم هم نه و اورېدلی) د دې لپاره مطالعه کوله چې د هندي د زده کړې او پوهې خزانې برخېره کړي. زموږ د ملاقات کوونکو په لړ کې نور ملایان هم وو، چې ځینې پوه، ځینې یې تش په نامه ملایان، ځینې د ییستان (هغه خلک چې خدای مني، خو په پیغمبرانو او نورو دیني مسایلو باور نه لري. مترجم) ځینې نور کلک مسلمانان او یو شمېر داسې ملایان هم وو چې د صوفیانو په روحاني طریقه کې ډوب وو. دغه راز زموږ د خوشحالی لپاره یو شمېر شاعران هم راتلل، له دې وی سره د ایلچی (سفیر) او یاد نورو فرنګی خوانینو (اروپایی خانان) په هکله یادونې موجودې او داوول خطابی به په پرلپسې توګه دوی له یوې او بلې څخه نقلولې چې دا په حقیقت کې د دوی د ځانګړې یوکار و نښې ګڼل کېږي، زموږ د ملاقات کوونکو په لړ کې د پېښور د ښار خواصو قبیلوي مشران د درناوي وړ ځینې درانی یا پارسی سوداګران، ټیټ رتبه درباریان او د لویو خانانو استازي هم شامل وو. په دغو خلکو کې ډېر د منځنۍ او خبرو وړ کسان پیدا کېدل چې ما د هغو سره د خبرو په ترخ کې ډېر مهمه پېژمعلومات لاس ته راوړ-لای شو. هغه سمه موضع او امتیاز چې موږ د خلکو سره د کتلو په وخت کې درلود زموږ په هکله د عمومي تعجب د موجودیت په هکله د خلکو لیواله هڅې زموږ لیدنې لپاره او بالاخره زموږ ازادی څخه د ګټې اخستلو په هیله زیات شمېر خلک له هرې خوا څخه د کتنې لپاره راتلل چې ډېرځله موږ د هغوی د شمېر د زیاتوالی له امله د اتوان نه درلود چې ورسره و ګورو، زموږ د روازې د عامه او ټیټې طبقې د زیات شمېر خلکو له خوا ډکې اوډې ته اړ شو چې د پاچا دوه تنه کاپوچیان (محافظین) هلته ودرېږي څو خلک دروازې ته ډېر رانږدې نه شي.

د هغو کسانو په لړ کې چې زه یې ملاقات او لیدنې ته ورغلم یو هم د ډېرې یادونې وړ ناستو پېر (ولی) و، چې شیخ عوض نومېږي. پاچا او صدراعظم به په ډېرځله د نوموړي پیر لیدنې ته ورتلل، تر هغو چې ده به په تاکرار سره دوی ته د کښېناستلو امرونه کړ، دوی هیڅکله نه کښېناستل، زه د دغه پیر د لیدنې لپاره د هغه کوچنی باغ ته ولاړم، کله چې نږدې فاصلې ته ورسېدو، نویوه ډله د ښایسته کالیو درلود-ونکی خلک مې ولیدل. دوی ته د سلام اچولو په خاطر هغې خوا ته تلم چې په دغه وخت کې یوه سړي راته ښه راغلاست وویله چې په هغې سره زما پام ملړنه واوښته او یو سپین ږیری سړی مې ولید چې د کاریګرانو په څېر یې زړې جامې

اغوستې وې، داسې بریښېده چې په باغ کې یې کوم ځای کېنډلی وي، دا هماغه پېرو، پاتې
کسان د جګو رتبو والا سړي وو چې د در ناوې په سبب په یوه لېرې فاصله ولاړ وو،
د دغو کسانو له اړخه د پښتوانۍ او زېرو وادارخان زوی او د ملکې ورور هم و. شیخ
و یې په داسې لوټو باندې کښېنولو چې نوې اړول شوې وې، ده له مذهب څخه پرته
نورو ډېرو موضوعاتو باندې په زړه پورې او مناسبې خبرې وکړې. نوموړي شیخ ما ته
وویل چې د پېښور خلکو څخه مې واورېدل چې له تا څخه په ډېر تېنګار او پستۍ سره
سوغاتونه غوښتل شوي دي (۱). سره د دې هم ده د پاچا ډېره ستاینه وکړه، ده پرته له دې
چې ځانته د یوه پیر او مقدس سړي ځېره ورکړي د هرې روانې او په معنا یې خبرې کولې، ده
هېڅ ډول ښکاره نکړه یوازې دومره یې وویل چې متأسفانه په کور کې څه نلرم چې د غرمې
لپاره یې تاسو ته درکړم، پیشنهاد یې وکړ چې موږ د پخلنځي او خوړو هټۍ ته ولاړ شو
هلته د غرمې ډوډۍ لپاره له ده سره میلمانه شو. یو بل ډېر نامتو ملنګ هم و. خو ده په
لېدنه ډېر پام لی نه شو مځکه داسې وویل کېدل چې هغه دنیا پرېښودلې او په بشپړه توګه
په عبادت او تفکر لګیادی. ما ده ته د پېسو یوه غټه تحفه ورواچوله هیله مې وڅخه وکړه
چې دا پېسې د سخاوت له مخې ده ته استول شوې دي او هم د دې
لپاره چې پاچا ته دوعا وکړي، لیکن ده دا پېسې
په بشپړه توګه ټولې مسترد دې کړې پرته له پېسو یې پاچا او ما ته دوعا وکړه، دغه
راز زما د پاملرنې له امله یې د مننې یو پیغام راواستوه.

زه اوس دې ټکي ته راځم چې د دولت کړه وړه په دربار کې تر کتنې لاندې
ونیسم څو هغه زما د کار جریان وښیي.

شاه شجاع الملک په خپل سیرلی ورور شاه محمود باندې هغه وخت بریالی
شوی و چې شاه محمود د یوه عامه اړودوړ او اغتشاش په نتیجه کې معزول شو.
زما د راتګ په وخت کې د ده د سلطنت شپږ کاله تېر شوي وو، د سفارت له رسېدو
یو کال مخکې هغه د خپل یوه وزیر ناڅاپي اغتشاش مات او له هغې وروسته
داسې معلومېده چې ده خپل سلطنت ډېر پیاوړی کړی و. زما له راتلو نه لږ مخکې
شاه محمود د بارکزیو قوم مشر فتح خان په مرسته د خپل تاج او تخت د نیولو
لپاره یوه کمزورې هڅه کړې وه، پاچا په لوړه بزکې دا اړودوړ د ماتولو لپاره
په خپله لومړنی لته کې بریالی شو او د خپلو طرحو څخه ډېر مطمئن بریښېده،
خو د هغه سوقیات د پېښور ختیځ لور ته د اکرم خان په ناڅاپي لېږلو سره یله
پنه درلود له، په کشمیر کې د ده د یوه یاغي وزیر زوی د لښکرو په مقابل کې

(۱) د الفنستن د راتګ په وخت کې دربارته ځینو مشرانو او دربارېانو د ده
سوغاتونه لوټ او یوه یې په زور د هغه له مزدورانو څخه واخستل، دلته شیخ هم
دغو حالاتو ته اشاره کوي (مترجم).

اکرم خان د زیاتو قواوو مشرهغه لورته و لیږه خو کشمیر د باغي وزیر د زوی له خوا ونیول شو.

د اکرم خان له روانیدو څخه لږ څه وروسته داسې اوازې خپرې شوې چې قندهار د شاه محمود له خوا ونیول شو د دغه خبر په لومړي سر کې د پېره الدهشته پیدا کړه خو وروسته د لویدیځ له لوري د سمورا پورونو په رارسیدو سره دغه تشویش له منځه ولاړ. په همدې وخت کې له اکرم خان څخه هر ۰ ورځ پېښور ته دغه ډېر سخت تک او بریالیتوب خبرونه رارسیدل. په پېښور کې تولو داسې گومان کاوه چې کشمیر به د شور شیانو له لاسه ووځي او شاهي لښکر به بېرته راوگرځي یا دا چې په لویدیځ کې داړودو ړاوشورشیانو د تیت وپرك کید و سره سم به د کشمیر لښکر هم پېښور ته حاضرشي، خو دغه تولې هیلې شنډې او د اپرېل په ۲۳ نېټه د اکرم خان د لښکرو د بیخي ماتې او له منځه تللو خبرو اورسید.

دغه وزیر (اکرم خان) د مظفراباد دغرونو په مشر (متوالی) باندې د زیات باور او ډېر اتکاد رلوده او د تجهیزاتو او لارښوونې برخه په هغه پورې تړلې وه، خو په عین وخت کې د نوموړي مشر (متوالی) سرکښ غروراو حرص د دې سبب شو چې د اکرم خان غوندې ډیر زیات میړه سړی څپه او سپك کړي. د اکرم خان د تول پوځ امنیت د دغه مشر په لاسو کې ورکړل شوی و.

د دغو اشتباهاتو اغیزې ډېرژر د خوراکی مواد واو تجهیزاتو په لږ والي کې حس شوې، خو اکرم خان او س وروستی معبرته رسیدلی و او یوازې د دهوالو اوبر-جو په واسطه یې د خان څخه د فاع کو له چې احتما لا له هغو څخه هم ژر وشړل شول، په دې ډول لویدیځ نیا زمند پوځ دخپلې بقا لپاره د سمسورې درې په مدخل باندې زور واچوه چې دغې روحیې برغل کوافراد لاپسې ژوندي کړل سره د دې هم اکرم خان د متوالي تشویق ته غوږ کیښو د هغه دا چې دغر و نو نوموړی خان په اکرم خان ته داسې یو معبراو د تیریدو لاره وښیی چې د دښمن پوځ په اړخ کې وي او دښمن ورباندې پوه نه شي.

له دې امله لښکر د یوې کندې له منځ څخه د دریو لورته واوښت او مخ پورته حرکت یې وکړ غلجا یې او خیبري پلیوا فراد و دغرونو د دوار وخوا و وهارنه او امنیت ترسره کو لو. سره د دې د دښمن د دوی په خوځید وخبر او لیږ د یدنه یې کشف شوه؛ د دوی پلی زیات وو او د ننه خوا ته ترفشار لاندې راغلل، له بلې خوا داسې ریښتیا نی خبراو یا افواه هم وه چې د دریو پاسنی برخه د سختې واورې له امله بنده شوې ده اکرم-خان او س خپل باور له لاسه ورکړی او یوه ورځ په دره کې یې له خوراکی موادو او تجهیزاتو پاتې شول د غه راز د دښمن ترضربې او ډ زو لاندې و، خو د فاصلې د لیرې والی له امله د ده لښکر ژوبل نه شو، لیکن په ځنگ کې یې د ده د قواوو د روحي کمزوری

او د معنو یا تود یا یلو لاراو اروله. د دغو شرایطو له امله زیات شمېر افراد له لښکر څخه وتښتېدل او ددې په څنګ کې د متوالي خیانت اکرم خان زښت زیات وېراوه سره ددې چې دی په لښکر کې ډېر محبوب و، بیا هم په دې وډار شو چې و به نیول شي او د کشمیر مشرته به یې لاس تړلی وسپاري. له بلې خوا د کشمیر د مشر د پلار وژنه او رسوایي هم دده له لاسه شوې وه، نو ډېر زیات دوهم او ډار ولاندې راغی. په نتیجه کې یې فیصله وکړه چې له میدان څخه وتښتي. له دې امله د لښکر ټولو مشرانو د شپې په اوږدو کې پوځ پرېښود او جلاجلا هر یوه د تېښتې او خلاصون د لارې خوا ته مخه وکړه، د غرونو او کندوونو له لارې یې خپله تېښته غوره کړه. د مظفرآباد نه د تېرېدو مخکې د اکرم خان ډېر مشران ملګري د متوالي د غرنیو لوټمارو خلکو له خوا لوټ شول. اکرم خان پخپله هم محاصره شو خو د لوټمارو په منځ کې یې د سرو زرو دسکو په وېشلو سره ځان خلاص او د دوی په تېت و پرک کېدو سره یې فرار وکړ. بالاخره دی له اندوس څخه واوښت او اکوړې کلي ته راورسېد، دلته یې د پخواني جلال او غرور په څېر پرته له کوم لږوالي ښه هرکلی وشو. د اکرم خان په ګډون د لښکر د مشرانو په تېښته سره د لښکر یو شمېر افرادو خپلې وسلې کېښودلې او تسلیم شول او یوې ډلې د غرونو له لارې د خپلو مشرانو په څېر خپله د تېښتې لاره ونیوله، خو زیاتره د خپلو بادارانو په سرنوشت اخته شول.

د اکرم خان د ټول لښکر له جملې څخه یوازې دوه زره تنه بې وسلې، پلي او تقریبا لوڅ پېښور ته راورسېدل. سره ددې چې ددغې ماتې مصیبت زیات و، خو په پېښور کې د هغې د لوړې کچې اوازې خپرېدنه مبالغه امیزه وه، داسې ویل شوي وو، چې ټول لښکر له منځه تللی اکرم خان ورک او محمد خان تښتېدلی دی. په دغه وخت کې د کابل نیول کېدل او د شاه محمود د پرمختګ رښتیاني خبر راورسېد، له دغه خبره سره دغه راز پورهم علاوه شو چې د شاه محمود ځیني طرفدار قبایل چې د پېښور سره ګاونډي اوسېدل هم دې ته چمتو شوي دي چې په مجرد د خبرو لوسره دوی د شاه محمود په ملاتړ حرکت کوي. د یوې الې ګولۍ د پیل په څېر لښکرې راغونډې شوې. داسې افواه وه چې پاچا خپل قیمتي جواهرات لېږلي او له ښار څخه د تښتېدو په حال کې دی. حقیقت دا دی چې په دغه وخت کې داسې یوه شپه نه وه چې په هغې کې یو سړی د ښار نه مخکې په اړودوړ او د اغتشاش په نه پیل کېدو باور وکړي. زموږ وېره د مهماندار په څرګند اعتراف او لیک سره په دغه وخت کې لا زیاته شوه مېلمه پال موږ ته خبر راکړ چې د غـمـو مـی ګـډ و ډ تـیـا د پـېـښـېـد و پـه و خـت کـسـې بـه په موږ باندې خېبریان او نور لوټماران پرته له کومې مطالي یرغل وکړي خلکو د موضوعاتو په حالت باندې په ښکاره توګه خبرې کولې خو هېڅوک داسې نه ښکاره کېدل چې په رښتیا اغتشاش او انقلاب پیښ شوی وي. بالاخره دا وېره

او ګډوډ تياله منځه ولاړه او معلومه شوه چې دښمن په کابل کې پاتې شوی دی، داهم جوته شوه چې دوی په خپل منځ کې په اخ ودب لګيا دي اکرم خان هم راګرځېدلی و، او د کشمير توتې توتې شوی لښکر يې بيا سره راغونډ کړ، دغه راز ځينې هغه افراد چې د کشمير له جګړې څخه په پېښور کې پاتې وو، د يوشمېر نورو افرادو په ګډون يې خپل پوځ بيا وړی کړ د پاچا بڼه او حالت تر او سه پورې اميد بښوونکی نه برېښېده ځکه هر څه په پيسو پورې تړلی و، او پاچاله دې پلوه کمزوری ګڼل کېده، زياترو مشرانو د دغه نمګړ تيا او زيان سملاسی جبران و کړ، خو لږ شمېر لويانو د دغه کار سره پوره مينه درلوده حتی اکرم خان چې د پاچا په ډېر و سختيو کې يې مرسته کوله او په دې پوهېده چې جګېدل او لويدل يې له خپل باد ار (پاچا) سره تړلی دي، هم دا و خت د خپل حرص له امله بېخي ړوند شوا و د خپلو زياتو خزانو او شتمنيو له ورکولو څخه يې چې د پلار څخه ورته پاتې وې ډډه وکړه او له پاچا څخه يې ځان يوڅه ګوښه کړ. د دغه ناسی مشر و زړ ور کړ کتر او دا شان خاصيت د پاچا د کمزوری لوی عامل و. سره د دې چې اکرم خان په سياسي هڅو کې يوڅه نيمګړی و، خو حتی د ده د ښمنانو هم دا منله چې دی د زياتي زړ ورتيا خښتن دی. دی په علاقو کې ډېر مهربان او صادق، په ژبه رښتونی، د عدالت کلک ځا رونکی او په کړوو ړ و کې په بشپړه توګه صاف او سم و. خو له بلې خوا فوق العاده حريص کبرجن، نيولی (ترهو تندی) او د بد ګمانی خوی يې درلود. دغه راز ځان ستا يونکی، په خپلو ملګرو باندې قهرجن، احترام کلک غوښتونکی او د نورو د ډېري او نفوذ په مقابل کې سخت ګير و.

له اکرم خان سره د خبرو اترو په و خت کې دار اته جوته شوه چې ده ته منسوب ټول ښه صفات په رښتيا سره پکې موجود وو. او موړ ی د ډېر غښ او قوي هيکله سړی و، چې په ونه له شپږو پوټو څخه زيات ليده کېده. ښه يې نيولې او په ظاهره توګه يې چوپتيا ته طبعي ميلان در لو د، سره د دې داحالت يې واوښت او په ډاګه سره يې د خولې ماتې په باب خبرې و کړې، دغه راز د ده د خپل شکست عامل د لښکر په منځ کې تګي وښودله، په همدې شان د ځينو نورو په زړه پورې موضوعاتو په هکله يې توضيحات ور کړل، د ده علا دې کالي اغوستل او د ساده خوی څښتن و. له اکرم خان سره په لښکر کې ټول د راني مشران راستانه شوي وو، او ما له دوی سره ليدني کتنې تر سره کړې. د دوی د له ډېره په زړه پورې او خوندوره وه. دوی په عمومي توګه د ښکار، بازنيولو، اسانو او وسلو په باب خبرې وکړې، دغه راز د هندوانګلنډ او په او هوا او توليداتو په باب يې له ما نه و پوښتل، په بدل کې يې د خپل هيواد د هوا حالات او توليدات راته بيان کړل، ځينې

وخت دوی لنډې کیسې کولې او یاد هغو وقایعو او پېښو په باب چې دوی پخپله پکې شامل وو ، حکایتونه غږ کندول . د لیدنو کتنو په وخت کې زمونږ او د دوی ترمنځ سوغاتونه هم تبادله شول . مادرانی خانانو ته د هند ي او ارو پایي مصنوعاتو شیان واستول ، په بدل کې دوی آسان ، سپی او بازان ماته وبښل .

د دغو مشرانو او خانانو له رسیدو څخه مخکې او د ناوړه خبرد لومړی و یرې څخه وروسته کابل ته د تګ په لارکې یو هندو په یوه غاښی کې و نیول شوچې ور سره جوخت یوراپور په پېښور کې خپور شو ، په راپور کې ویل شوي وو ، چې هغه زما له خدمتګارانو څخه دی او د شاه محمود په عنوان مې ده ته مکتوبونه ورکړي دي ، څو هغه کابل ته یوسی ، نو په دې وسیله مې شاه محمود په پېښور باندې د برغل لپاره تشویق کړی دی ، خود بالاحصار د تصرف او د شاه شجاع د نیولو لپاره اقدام وکړي . له دغې کیسې سره داسې افواه هم خپره شوې وه چې پاچا په دغه تکی باندې زمونږ شتمنی لوټوي . په نتیجه کې د ښار تول وګړي پاریدلی او په ښار کې لاندې او باندې ځغاستل ، وسلې یې اخستلې او خپل توپک یې پاکول . زمونږ له دروازو سره زیات شمیر خلك د یرژر راغونډ شول . د سفارت ټول ښاغلی په سالون کې د اوخت د میلمنو د ښه راغلاست لپاره ولاړ وو . خو کپتان پیټما ن د ساتونکو شمیر دوه چنده زیات او د دفاع لپاره یې نور تدابیر ونیول . په عین زمان کې ملاجعفر او زمانو رملګري په ویره سره راورسیدل . زیا ت تحر یك او ګنګوسې په ښاو خوا کې حس کیده . د غه موضوعات په خپل او ج کی و وځو ، چې اکرم خان زما د لیدنې لپاره رانغوت او داسې اټکل شوه چې لمسید لی خلك به نور زیات هلته راغونډ نه شی .

نور داسې د یادونې کومه پېښه ونه شوه چې په دغه ځای کې یې راوړو ، بوازې د جون په څلورمه نیټه د هیأت او سفارت سره تړلیو عسکرو د پا چاد زیږیدنې د کلیزې په ویاړ تمرین وکړ . په دغه وخت کې اکرم خان او د نورو ټولو مشرر تبو ـ والاکسان حاضر وو . هغه نقطه چې د اتمرینونه پکې ترسره کیدل ، د کوچنیو غونډیو په منځ کې یو وړوکی شین چمن و ، چې د لږ شمیر کسانو لپاره په کې ځای بر یښیده .

په دغه وخت کې پاچا په دې لیګاو ، چې یو لښکر سره راغونډ کړي . د هغو عسکرو له جملې څخه چې په کشمیر کې نیول شوي وو ، زیاته برخه خوشې کړل شول او بیرته پېښور ته راستانه شول ، د دغو بیرته راغلیو کسانو له لږ څخه نیمایی یې بې وسلې او پلی وو ، په داسې ترخ کې چې پا تې برخه یې د کشمیر له حکمرانانو څخه د یرخوښ او داسې معلومیدله چې د پاچا په نسبت هغه ته ډیر ما یل دي . لښکر زیا تره ناراضه وو مشران له اکرم خان څخه متنفر وو ، ټول افراد در سوایی او بد مرغی له امله غمجن وو او د خپلو استحقاقونو د لږې رسیدنې له امله خواشیني وو . دوی خپله

هرچنه ښه او طبیعت ډېر ابن بدلولو او په کوښښو کې د هیأت له غړو سره په ډاګه یو ځای کېدل او د اکرم خان غندنه یې کوله او حتی په دغه سپکونه کې یې له پاچا څخه هم ډډه نه کوله.

په رښتیا سره د اکرم خان د ر نسبت کم شوی، حتی د پاچا په نظر کې هم د ده خپل موقف بایللی و، میرابوالحسین خان کله کله دا هیله ښکاره کوله چې د اکرم خان د لیرې کولو توان به پیدا کړي او د چارو لار به ور ښوونه به محمد خان ته وسپارل شي دغه تغیر د پاچا په جرګه باندې هم بې اغیزې پاتې نه شو، په دغه جرګه کې د جرګه والو قبیلوي مشرانو نظریات د ډېرې پاملرنې وړ وو، خو په دغه وخت کې هیچا ډیر زیات نفوذ نه درلود، په نتیجه کې د دوی مباحثې په کومې پرېکړې باندې نه ختمېدلې او اکثره وخت به په یوه او بل باندې په تور اچولو سره پای ته رسیدلې، بالاخره تصمیم ونیول شو چې د کابل په لور حرکت وشي او د پاچا د خیمو د اېستلو لپاره امر ورکړل شوی و. په هغه وخت چې د امام له خوا وټاکل شو، د تو پلکیوه زشوی و، چې له هغې سره سم د پاچا منزلنما هم درول شوې وه، منزلنما یوه ښلوونکه ستن وه چې ځلکوالی یې دېرش فوټه او ترشا وخوا یې د تاتې سره ټوټه په ځانګړي توګه تاو شوې وه، په پاسنۍ څوکه باندې یې د سپینو زرو غټه پنډوسکه بریښېده. منزلنما د کمپ وهلو د میدان د څرګندولو لپاره یوه نښه ګڼل کېدله، وروسته د پاچا خیمه د باندې راوتلې او درول شوې وه چې په هغو کې ډېره ښایسته زیاته اوږده او دېرش فوټه پراخوالی یې درلود. دا خیمه د لرګینو چوکاټو په واسطه جوړه شوې او په منځ کې یې په بېلو بېلو رنګونو د تاتې ټوټې پکار شوې وې، چت یې ګلابي رنګه او د ښلورو ستنو په واسطه ټینګه شوې وه. د هرې ستنې په سر کې د سپینو زرو یو پنډوسکی برابر شوی و. د دغې خیمې ترشا نورې وړې خیمې هم وې چې د پومبه یې تو تود یوال ترې تاو شوی و.

د دغې خیمې په شان دوه خیمې تل له پاچا سره لیږدول کېدلې. په دغه خیمه کې د لرګیو یوه دوه پوړیزه خونه وه چې سلو تنو کارېګرانو په یوه ساعت کې دروله. ښار د شورما شور څخه ډک او د بالاحصار د ماڼۍ لاندې یو شمېر عسکر په کمپونو کې ځای په ځای شوي وو. په کوڅو کې سوارو زیاته ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه، که نه نو د ښار آرامي دومره زیاته د اخلال سره مخامخ کېدلای نه شوه. بالاره پاچا د خپل کمپ خواته وخوځېد. د بریتانیا د حکومت پالیسي دا نه وه چې د چا په کورنیو شخړو کې برخه واخلي نو له دې امله دا پکار و، چې یو ځای وټاکو او له هغې نه هیأت بیرته ستون شي. ټولو وزیرانو هم دا غوره وبلله چې په داسې بحراني او له کړاو څخه ډکو وختونو کې په پېښور کې پاتې نه شو. اکرم خان هغه پلان چې موږ د یوسفزیو غړو نو ته په ښاشو رد کړ او له مطالعې وروسته یې امر وکړ چې موږ د اټک په چونۍ کې ځای ونیسو ځکه دا ځای په هر ډول

خطرناك وخت کې خوندي ګڼل کېده . دا هم ونه منل شو او دا سې وټاکل شوه چې د ختیزو سرحدي کرښو خواته چېرې چې د پاچا کهول هم استول کېده لاړشو دا پلان ترتیب شو او پرېکړه وشوه چې په دولسمه نېټه د پاچا د کمپ خواته د خدای پامانۍ لپاره ولاړو کوڅې ډېرې ډکې او ګڼه ګوڼه له هر وخت څخه ډېرې زیاته وه د لته موږ پوشمیر ښه سپاره او اعلی اسان ولیدل .

د پاچا خیمې په یوه باغ کې د ډنډ تر غاړه ودرېدلې چې ګرد چاپېره د ختو جوړ شوی تېراس (چوتره ، صوفه ، کوچنۍ غونډۍ ګی) څنې تاوشوې و . د ډنډ زیاته برخه غټې خټې ونیوله په داسې توګه کې چې د دربار د لویو خانانو خیمې د ډنډ په دوو نورو برخو باندې په دې ترتیب ودرول شوې چې د پاچا ښې لاس ته د لویو دربار یانو او کیڼ لاس ته د کوچنیو ځای و . څلور مه غاړه د پاچا خیمې ته مخامخ خلاصه وه . څو پاچا هغه سړك ووینی چې په دواړو غاړو یې د ساتونکو (ګارد) ډله ولاړه وه . دا سړك د باغ له عمومي دروازې څخه د حوض تر څنډې پورې غځېدلی و ، موږ د یوې فرعي دروازې له لارې بڼ ته را ننوتلو او د ډنډ په ښۍ غاړه د لویو خانانو په ګڼون د پاچا په وړاندې ودرېدلو . کله چې موږ د لته وو د دښمن څو ډلې راغلې او په پړ لپسې تو ګه پاچا ته ورو پېژندل شوې . دغه کسان پاچا ته د دوعا کولو نه وروسته بېرته په شا کېدل ، د هرې یوې دوعا په پای کې ساتونکو (ګارد) آمین ویل . کله چې د دغو کسانو کار خلاص شو نو زموږ څخه وغوښتل شول چې پاچا ته نږدې راشو زموږ سره یو ځای اکرم خان او مدد خان هم ملګري شول . وروسته پاچا ما ته په خطاب کې وویل چې موږ به هرو مرو له داسې یو نا ارام حکومت سره آشنا نه وو لکه چې د دی بې اوس لري . سره د دې چې د ه په ډېره سره تو ګه د موږ سره په خبرو کې برخه واخستله خو بیا هم هیله یې نه لرله چې په داسې نامساعد او ناارام وخت کې موږ له ځان سره مله کړي ، نو یې له موږ څخه وغوښتل چې د سرحد کوم ځای ته ستانه شو او بیا هلته دا فیصله وکړو چې آیا له د ه سره یو ځای شو او که هندوستان ته لاړشو هر یوه لارچې موږ ته مناسبه وي هغه غوره کړو ، د خبرو اترو په لړ کې پاچا د برتانوي سلطنت په هکله ښه ټکي څرګند کړل او هیله یې څرګنده کړه چې د ی به موږ کندهار او هرات ته کوم وخت له ځان سره بوځي .

کله چې پاچا خپلې خبرې بشپړې کړې نو ورپسې اکرم خان ، مدد خان او د پاچا امام پاچا ته په خطاب کې خوږې ټوې وکړې او د هغه د څرګندونو په تائید یې څینې مطالب بیان کړل ، دغه رازدوی د برتانوي حکومت د نظامي لوړوالی ، عدالت او وفاداری په هکله خپلې خبرې اوږدې کړې او د غسې خلکو سره تړون او یووالی یې د دواړو خواوو په ګټه وباله . په دغه غونډه کې د پاچا د یوې سرې

ساده ټوټې چکه ټوپۍ په سروه چې پر لاندنۍ څنډه باندې یې د تور بخمل یو ټوکر راتاو شوی و. په دغه خولۍ باندې جواهرات نه لیدل کېدل. مخې ته یې په یوه با ابیت باندې امساً، توره او لنډ ټوپک (کارابین) ایښودل شوي وو. دده سره په خیمه کې زیات کسان وو او هر یوه په وار سره په ده باندې بیوزی (پکه) واهه، د دوي په لړ کې میرابوالحسن خان هم لیدل کېده. پاچا ښايي د دماغي تشویش او تودوخې له امله خوار او رنځور بریښېده.

دوه نورې ورځې سوهم دا کرم خان او نورو کسانو سره د خدای پاماني کتنې درلودې خو چې بالاخره مودجون په څوارلسمه نېټه مازیګر د اندس لوري ته خپل تګ اعلان کړ. اوس د پاچا کارونه ډېر ښه بریښېدل، هغه یوه ډېره ښه لښکر چمتو کړ او دې ته تیار و، چې په دښمن باندې ورودانګي. د ده د دښمنانو په منځ کې اختلاف پیښ شوی و، فتح خان د دربار په منځ کې خپل سیال (شاه محمود ـ منوچم) تر تاثیر لاندې نیولی او دا کار د دې سبب شو چې د درانیانو د دوو سترو قبیلو تر منځ بې باورۍ او ناکامی منځ ته راولي. له دې امله ټولو ګوندونو د شاه شجاع د دریا لمیتوب اتکل یقیني شمېره او په خپله دعوا کې یې دی موفق وګڼه. د خلکو له دعوا څخه هم دا نتیجه اخیستل کېدله ځکه د شاه شجاع عدالت او نرمی په خلکو کې ډېره مینه پیدا کړې او دی ورته ګران و.

سوږ لومړی د چمکنی کلی خواته چې د پېښور په څلورمیلی کې پروت دی حرکت وکړ، دا سیمه ورو ورو غیر مسکونی شوه او ځای په ځای د پلیو کوچنی ډلې لیدلې کېدلې د غو خلکو به چې یوسړی یوازې ولیدنو به یې لوټ کاوه. دا سې برخې ته دلته ورسېدو چې د لوټمارو ډلې زیاتې او د وی زیات شمیر بار کړي اوښان له هغه ځای څخه تښتول چې به کمپ ته بې له ښتن او ساتونکي څخه روان وو. د هیأت محاسب خپل یو کچرچې یو ښه شال او د زرو پونډو په ارزښت زر روپۍ ور باندې بار وې شاته پرېښود، کچر خپل کچروالا ناڅا په په ځکه باندې وغورزاوه او بې سده شو، ورپسې دغه کچر د ننډار چیانو د ټولنې خوا ته وروځغاست او خپل بار زښته بارېي واچاوه چې سملاسی د سیل کوونکو له خوا لوټل شو.

د جون په پنځلسمه نېټه موخپل تګ پیل کړ، زموږ د کاروان لیکې د میوشمېر زیاتو بار وړونکو کچرو او یابوګانو له امله بل ډول ښه ونیوله، د دغه رازیو څوښه آسان چې ځینې تش او ځینو یې سپار کار درلودل، له موږ سره یوول کېدل. د پارسی او زبکی ملونو او زینونو پکارول، د هندې ملګرو په لوړ و طبقو کې د شالونو او بوټونو استعمال او یو شمیر هغو خلکو چې په بېلو بېلو مهارتونو یې زموږ سره بدرګه کوله (دوې ځینې پېښوریان او ځینې نوریارسیان وو) د

کاروان بنه اړولي وه. هغه خلك چې له ښارڅخه زموږ د هرستې لپاره راوتلي وواود همدې ورځې په اوږدو کې يې هم خپله ملګرتيا دموږ سره وساتله زيات روږدي دا خرګندوله چې موږ ته پاملرنه لري، خوددې په څنګ کې دوى له موږ نه دسوغاتو دغو ښکلو تينکارکاوه چې په دې ډول د پېښور دلوړې طبقې له خلکو پرته نور ټول د يرزيات حريص ګڼل کيداى شي. د دغې ورځې سفر موږ د غز په ګڼوونو کې تېر سره کړ.

دجون پنځلسمه نيټه له ځنګل څخه ووتلواو: مرغوپه يوه پراخه ميدان کې سوخپل ټګ ته دوام ورکړ.

په دغه مرغه (کوچني فرشي واښه) کې يوازې يو ډول تيت بوټى چې افغانانو ورته ځوز اوپارسيانو ورته خارشتري ويل ځاى په ځاى ليدل کيده. دغه بوټي په انګليسي ژبو کې په وښوکې دوپل (ظالم، شرير-مترجم) په نامه ياديږي.

موږ خپل کمپ په يوه داسې په زړه پورې ځاى کې و. دراو مچې د کابل د رياب پې اړخ ته بهيده، د مځکې سخ په شنو مرغو پټ او د ونو ځانګو ور باندې سيورى کړى وو، دغه رازدو نوښا خو نه د دري ياب خوا ته ځوړند پرېښيدل. دکابل درياب په دغه ځاى کې ډلو رسوه متره سورودى. په دغه ځاى کې زموږ مخامخ غاړه باندې دنوشيرا Noushehra کلي ليدل کيده. پوزيات شمير يوسفزيان زموږ د ليدني لپاره له د رياب څخه را پورې وتل، ددغې ورځې سپيده چاودنه پره اويده او زما جدي پاملرنه يې ځان ته راو اړوله، ددغې اوږدې سپيده چاودې سره دورځې اوږدوالى يوه هندي مسافرته دهر عجيبه غونډې څر ګنديده دشپې په دريو بجو او پنځلس دقيقو سپيدې وچاودې (د جون شپاړسمه نيټه) خود پنځو بجواو لسو دقيقو پورې لمر راو نه خوت.

دکابل در ياب په اوږدوکې دويمه خوځيدنه موداکوږې کلي په لور پيل شوه. دا کلى د خټکو د قوم پوښو ره ځاى او آصفخان يې مشر بلل کيده. آصفخان او دقوم نورو مشروکسانو دموږ سره وکتل.

آصفخان د ډير احترام ورسرى و، ښايسته کالى يې آغوستي وواود زيات شمير کسانو له خوا يې پدرګه کيدله.

دده نور ملګري سپين ږيري کسان وو، چې زياتې شنې رنګې اويا تورې جامې يې اغوستې وې. دوى ښکلي ځيرې، اوږدې ږيرې اود درنښت وړ بڼې يې درلودې.

د پورتني کلي وروسته زموږ لاره په داسې ځاى کې وه چې د کابل در ياب يې شمال اوغرونه يې سوپل ته پراته وو. غرونه اودر ياب ونه دنو شپږ په برخه کې

دوسره سره نږدې شوي وو، چې یوازې زموږ د کمپ د رولو لپاره یې یوه توته مځکه درلوده.

د جون د اتلسمې ورځې په اوږدو کې د اندس دریاب ته ورسېدو. غونډۍ د کابل سیند ته ډېرې نږدې شوې، له دې امله موږ مجبور شو چې له هغو څخه واوړو. د غونډیو او غرونو الرې د هغو غرو سره اړیکه لري چې موږ د کوهاټ تراړخ له هغو څخه تېر شو.

زموږ د مالو د ساتلو لپاره په کنډوکې د ختکو د قوم څارونکو مرسته وکړه خو د خیبر یانو د لوټمارۍ څخه وژغورل شو. د ختکو د غه څارونکی په کنډوکې تانه دار او د کوهاټ ختکو سره بوشان وو. له څو کې څخه سود شمال خوا ته د اندس دریاب د بخارد کالکې طبقې او تیوتې (وریځ) په منځ کې ولید چې د خو ښاخو (چینل) په ډېر بهېده او موږ هغه غرونه چې دریاب ېکې روان و، په سختۍ سره د د غو وریځو له شا څخه لېدلای شول. د هغې غونډۍ په تل کې چې موږ ور باندې ولاړو و د کابل دریاب د هغه له دوو ښاخو سره یو ځای کېده. د دریا بود یو ځای کېدو په نقطه کې زیاتې د برې وې چې د دواړو دریا بو اوبه په ډېره تندۍ سره ور باندې لګېدلې او له هغو څخه د ډېر په زړه پورې غږونه پورته کېدل. له دې وروسته دریابونه سره یو ځای کېدل او د یوې ژورې او نرۍ ویالې په شان د غرونو په منځ کې بهېده. د اټک کلا هم له د غه ځایه لیدل کېده، له غونډۍ څخه د کښته کېدو وروسته سو د غه ځای ته مخامخ خپل کمپ ودراوه.

د اندس دریاب د لته د وه سوه شپېته متره پلن لیدل کېده، خو د ځښت ژوروالی او زیات ګړندوالی له امله یې د پلنوالی د اعدد دومره زیات سم نه برېښي. د دواړو غاړو د برې یې توري او داوبو د لګېدو د فشار په واسطه ښویې شوې وې، نو ځکه د تور مرمر په شان ځلېدلې او تل داسې برېښېدلې لکه چې لندې وي. د د برو تراړخ سپینه شګه هم لیدوله کېده، د سیند په منځ کې د جلالیه او کمالیه په نامه نامتو د برې هم وې خو هغه ګرداب چې د هغه په هکله مو زیات څه اورېدلي وو، په دغه موسم کې دومره د ډېر د غضب وړ نه لیدل کېده.

د اټک کلا. د اندس دریاب په کیڼه غاړه باندې د یوې غونډۍ ګې په سر ولاړه وه، د اچونې د متوازي الاضلاع په څېر بنا شوې چې کوچنۍ ضلعه (هغه چې د سیند سره موازي برېښي) څلورسوه متره اوږدوالی لري، په داسې ترخ کې چې نورې یې دوه واره له دغې څنډې څخه اوږدې ګڼل کېږي. د دغې دېوالونه د تراشل شوې د برې څخه جوړ او سره د دې چې ځای یې د ډېره ښکلې ننداره برابروي، خو په سر یې یوه شله له غونډۍ حاکمیت لري چې یوازې یو خوړ د دوی دواړو تر منځ بېلوونکې کرښه منځ ته راوړي، په دې ډول کلا د غونډۍ په لمن کې ځای نیسي. د کلا منځنۍ برخه اود

دریوواړو دیوالو ترڅنګ برخې د مخامخ غاړې څخه لیدل کیدای شي. داټک کلي چې یو وخت ډیر ښا متو او اوس وران شوی څرګندیږي.

په هغه کلي کې چې موږ کمپ ودراوه، ډیر وړوکی و، چې دیوې چوڼې له امله ځانګړی معلومیده، داسې ویل کیدل چې دا کلا د نادرشاه په واسطه جوړه شوې ده. دغه کلي ته دڅټکو دخوړ خوانیو مشرانو له خوا یوه ناوه (سیفون) جوړه شوې وه چې دشاوخوا ځمکو په خړوبولو کې یې سرسته کوله.

د دریاب د اوبو تېزو بهیدو سره سره د لته بېړۍ په دومره چټکۍ سره پورې وتلې چې تر وسه پورې موږ د نورو سیندو څخه په دغه شان تېرشوي نه وو. دغه راز موږ یوشمیر خلک ولیدل چې له سیند څخه تېریدل او یا دغوی په پړ سول شویو ژیو (خیګانو) باندې په اوبو کې لاهو او بلې خواته پور یوتل. په خیګانو باندې داسې کښیناستل چې دواړه پښې یې تړې تاو او د بدن نیمایي برخه به یې هم په اوبو کې ډوبه وه او په دې ډول دوی د سیند نه پوریوتل. دغه ډول الات دامو دریاب په برخه کې د سکندر له زمانې څخه راهیسې استعمالیږي.

موږ له سیند څخه دجون په شلمه نیټه پوریو تلو او د کلا څخه تېرشو. هلته د ننه وتلو په هکله موږ ته دراسره ملګرو افغانانو له خوا هر کلي وشو. موږ په اټک کې دوه ورځې تم شو او دشاوخوا مشرانو موږ سره وکتل.

د دغه ولایت حکمران یو ښاغلی او د درنښت وړ درانی وو، چې (خراساني کالي او ځیره یې ارله، خود دغې سیمې او سیدونکي درانیان او یوسفزایان ـ د دغو قبیلو زیاتره اوسیدونکي او وه نسله پخوا د لته میشت شوي وو) چې د هندیانو په څیر بریښیدل او هماغه شان کالي یې اغوستي وو. یوه هندي سړي زما زیاته پاملرنه وار وله دی د اټک دسویل ختیزو غرنیو سیمو کې د کاتریانو (Kautris) په هندي قبیله پورې مربوط و. دی ډیر تور او اوږده ږیره یې ارله. دده ځیره بې له دې چې ځیره وي، ډیره حیا ناکه او ساده بڼه یې څرګندوله. کالي یې خیرن، لونګۍ یې لنډه او په عجبه توګه یې پیچلې وه، کله چې کښیناسته ږیره یې داسې وښوله لکه په لاواتیر (Lavater) کې د اسکار یوت نومی یهود (Iscaroit) انځور چې ښکاره شی.

په اټک کې د دوهمې شپې د تم کیدو په دوران کې تودوخې ډیره زیاته وه. زموږ د کمپ سویلي خوا ته دغونډیو په سر ګرم او تند باد چلیده او سهار د دریوا و څلورو بجوتر منځ ترمامیتر د تودوخې درجه د فارنهایت ۹۶ و ښودله.

له اټک څخه تر حسن ابدال پورې موږ دري پړله پسې منزلونه وکړل. لومړی خوځیدنه دچچ دمیدان په اوږدو کې تر سره شوه. دلته ځمکه هواره او یو ازې هغې خواته کوچنۍ غونډۍ چې کلي یې په سر پراته وو، لیدل کیدلې. د دغې سیمې

تولې مځکې دغو کروندو نیولې وې. دوه نورې خوځېدونکې د موج لرونکې لوړې ژورې مځکې په امتداد وشوې چې په ژورو مځکو او کندوکې معمولاً ژور خوړونه منځ ته راغلي وو، دا سیمه په عمومي توګه وچه او له کروندو څخه وزګاره وه. دغه ځای ورو ورو د هندوستان سیمو ته ور ته کېده چې هغې اودې خوا ځای ځای و لې څرګندېدلې. وګړې سملاسي بدل شول، په سلو کې یو کلیوال هم په پارسي خبرې کولای نشوې. افغانانو ورو ورو د پښتو ژبې استعمال له لاسه ور کړی و. د اخلک ډېر ساده او دومره ناپوه وو، چې ما تر اوسه هېڅ لیدلي نه وو، زه یې په لیدلو ډېر حیران شوم. له اټکه څخه زما سره د بوران او حسن ابدال د سیمې مشر ملګرتیا و کړه نوموړي مشر حبیب خان نومېده. له ده سره سل تنه په آسانو سپاره بدرګه وال سړي وو، چې په هندي ډول کالي پټ وو، سپینې لونګۍ او د پوستې تلتلک (بړستن) ډول کرتۍ یې اغوستې وې. د تورو موټي او د اسانو اسباب او لوازم یې هندي وو، بوټونه یې نلرل، خو دوی ټولو ښه مینه زغرې او د زغرو کمیسونه اغوستي، او اوږدې نېزې یې له ځان سره وړ لې. له هندوستانیانو څخه دوی په خپلو ساده عقاید و او اوږدو ږېرو سره بېلېدل، د دوی ښېرې په عمومي توګه ځانګړې برېښېدلې د دغو ټولو هندي علامو په منځ کې د حسن ابدال درې موږ ته د شا ته پاتې شوې سیمې خاطره بیا را په یاد وله.

دا سیمه په ټولو دورو کې د خپل ښایست له امله د ډېرنامتو او کشمیر ته د ستړو مغلو د کلني لېږ دیدلي په وخت کې د استراحت ډېر مناسب ځای ګڼل کېده، په دغه سیمه کې بل داسې هوسا او عیاشۍ له پاره د شوکت نه ډک مناسب ځای لیدل کېدای نه شو. د هندوستان بارانونو اغېزې اوس د لته رارسیدلې وې او دغه ځای ته یې په زړه پورې، پسته او ځانګړې هوا ور کړې وه، دغې سړې شوې هوا موږ د دغې سیمې د ښکلا و څخه خوند اخستلو ته نور هم مایل کړو. دغه راز د لته داسې یو باغ و چې په بشپړه توګه د کوهاټ بڼ سره یو شان ګڼل کېدای شي، د دغه باغ تر اړخ د حسن ابدال زیارت وچې د سیمې نوم هم له هغه څخه نیول شوی دی. دغه زیارت د یوې څلورځنډیزې احاطې په منځ کې جوړ شوی او د تعمیر یوه برخه یې د مرمر ډبرو پوښلې وه. د اشان د احاطې په غولي کې د سپردوم ډېرې جګې زړې ونې هم لیدل کېدلې. ابدال چې د حسن لقب و، په پښتو کې په ساده لیونی او مست معنی کېږي، نوموړی د کندهار نامتو پیر او هلته د باباولي په نوم شهرت لري. دوه میله وړاندې سلطنتي باغ برېښېده چې د اوخت د ویجاړېدو خوا ته تللی و، د دغه باغ په هرڅه کې زړه خپه کوونکې نښې څرګندېدلې، ځکه د هغه پخوانی برم او ځلا اوس ډېره لږه پاتې وه او دومره اغېزناکه نه برېښېدله. په دغه بڼ کې ځینې سترې ندوکې هم وو، چې

دغو ناڅیو د پاکو او بوښخه د کیدل دغه راز ځینې زاره تعمیرونه هم لیدل کیدای شول (دغو په لړ کې یو هم د یو ظریف او غوره ګنمل کیږي). د لته موږ د وروستی محل لپاره د چنار ونه ولیدله چې د لوید یزو بڼونو د ښکلا یوه په زړه پورې نښه شمیرل کیږي .

داسې بریښیدله چې د کابل پاچاهی د سرنوشت ترمعلومیدو پورې به هیأت هرومرو په حسن ابدال کې پاتې کیږي ، خومخکې له دې ما ته داسې او امررا ورسیدل چې برتانوي ولایاتو ته په شاستانه شو ، په دې هکله موږ پاچا ته هم خبر لیږلی و ، سره د دې هم دا ضروري وه چې دا علیحضرت ځواب ته انتظار و باسو . له بلې خوا دې ته هم اړ و و چې له سکانو سره د خپلو تیرید و په هکله لانجه حل وفصل کړو ، ځکه په لومړي وار سکانو زموږ تیریدل د دوی د سیمې له منځ نه ونه منل . دغو مسایلو ته لس ورځې ځنډیدل ښکار وو ، په دغه موده کې ما د شاوخوا زیاتو مشرانو سره و کتل دغه راز د کاکړیانو د سلطان له خوا یو لیك او یوه زیاته اندازه انګور چې دده په سیمه کې په طبیعی توګه پیدا کیږي ، را ورسیدل . کاکړیان له دې امله زیات نامتو دي چې دوی د ستر و مغلو په مخ کې زیات خنډونه او کړاوونه پیښ کړل . دوی یو وخت داندس او هیدا سپس ترمنځ سیمه په لاس کې اړله خو وروسته د سکانو له خوا مغلوب او واکمنی یې له منځه ولاړه . دوی تر اوسه پورې لوړ نظامی برم او حیثیت درلود .

دغه راز ملاجعفر چې د پاچا حرم سره اټك ته راغلی و ، له ما سره یې و کتل ملاجعفر ته امر شوی و ، چې د پاچا د عملیا تو او چارو د ویجاړیدو په وخت کې حرم د سکانو سیمې ته وتښتوي .

لږه موده وروسته د پاچا ځواب ژر را ورسید ، د سکانو سره هم لانجه حل شوه او زه دې ته چمتو شوم چې خپل تګ اعلان کړم ، خو چې یوه شپه مې په هیښتیا سره د پاچا د حرم د ړومبیو خیمو یا پیش خانی په هکله وا وریدل چې زموږ کمپ خواته را نږدې شوي دي . دا ښه نښه ونه ګڼل شوه ، ډیر ژر ور پسې دا خبر خپور شو چې پاچا ماتې خوړلې ده .

بله ورځ د دولتی چارو په باره کې لوي بدلون ښکاره شو او دغه خبر باندې په یقینی توګه باور کیدای شو . د پاچا تو له ډله او جګړن تیت و پرك او وتښتول شول ، له بلې خوا دده دغه دښمنان چې ور څخه د قیام هیله نه کیدله ، دا وخت ټول و پارېدل او دده په ضد یې بلوا جوړه کړه .

ملاجعفر دهمدغې ورځې په اوږدو کې را ورسید او د پاچا له خوا یې مکتوب یې را وا یستاو په دغه مکتوب کې وهل شوي وو ، د پاچا لښکر و په ډیره وفا داری

په جګړه کې عمل وکړ، خوده بیا هم ماتې وخوړه، بلدا چې فلا نی او فلا نی مشر روغ رمټ خلاص شوي دي. نوځکه خونديځاى ته دحرم دسپارلو اورسولو په لټه کې بايد وسونه سپمول شي. داسې چې دپاچا لښکرې هغه وخت چې په غرونو کې بې اوږدمزل اوجګړه کوله دفتح خان ديوې ورې قوې له خوا ورباندې برغل وشو. دپاچا ددغه پوځ سره مالونه هم ليږديدل. پاچا او اکرم خان دلښکر شاته روان وو، خواکرم خان سملاسي زغره په ځان کړه او دسلوېا ودوسوو څخه لږو کسانو په حدود کې ورسره دجګړې مخامخ ځاى ته وخوځيدل. خوده له همدغو کسانو څخه ځان وړاندې کړ او دوى يې شاته پريښودل. دده له رسيدو نه وړاندې غليم برياليشوى و، خواکرم خان سره ددې هم دفتح خان لوري ته وړاندې ولاړ، ليکن دغه ناسي شخصيت له سخت مقاومت وروسته ډير ژر مغلوب او همدلته ووژل شو. پاچا غرونو ته وتښتيدا او له هغه ځايه دکندهار په خوا ولاړ، خو هغه ښاروني سي، خو په دغه هڅه کې هم ناکام شو. دوه ځله وروسته بې هم دا لټه وکړه او دوه واره يې پښو رو نيو خو اوس بيا دتبعيد په حال کې اوسيږي.

دجولاى دڅلورمې نېټې دناوړه خبر له اوريدو وروسته سهار موخپل مزل بيا پيل کړ د پخواني ترتيب شوي پلان له مخې دحرم کمپ لور ته ولاړو څو د ميرابوالحسن خان څخه خداى پاماني واخلو. دغه کمپ زيات شمير احاطې درلودې چې دتاڼ له توتو څخه جوړې شوې وې. دغه راز داوښانو يو زيات شمير کجاوې پالوې تکرې مو وليدلې چې دښځو دسفر لپاره يې چمتو کړې وې. دخان ترځاى پورې مو زيات واټن دهغوله منځه وواهه. ترهغه اندازې چې ما فکر کاوه حسن خان هغو سره غمګين نه برېښيده، دهٔ د پاچادخواشينيو اودسکانو له خوا دحرم دمنلو بې باورۍ په هکله په ډاګه موضوعات څرګند کړل. موږ له هغو سره په ډيره غمګينۍ خداى پاماني وکړه او ترې راستانه شو خپل مزل مو پيل کړ اودناوې دسوهلي غونډۍ څخه واوښتلو، په دې ډول دکابل پاچا له دوميڼو (مستعمرو) څخه موځانونه تيراوږوې نوې مځکې ته ورننوتلو. داسيمې په حقيقت کې په سکانو پورې تړلې وې.

کله چې دسکانو له کرښې څخه ددوى سيمې ته داخل شو، نو ددوى له خوا سملاسي راته ښه راغلاست ووېل شو. له دغې شيبې وروسته بيا موږ ددرانيانو ژبه او کړه وړه دخلکو په منځ کې ونه ليدل. سره ددې چې په سرحدي کرښه باندې دسکانو په ليدلو باندې خوښ شو او ليدل يې په زړه پورې وو خو وروسته ددوى له هغو خلکو سره مخامخ شو چې ژبه يې په بشپړه توګه نا آشنا وه او د هغوى ساده او نارسيدلو کړو وړو غمجن کړو، دوى لوڅ لغړ برېښېدل

چې دعا داتو له مخې له هغو هندوستانيانو سره چې موږ ليدلي وو ورته نه معلومېدل. په بله وېنا سره ددې چې موږ ته د هندوستانيانو په هېر ښکاره شول خو هغوی ته ورته شمېول کېدای نه شول. ددرېو پرلپسې خوځېدنو اومزلو وروسته راولپنډۍ ته راورسېدو. دغه مزلو په اوږدوکې موږ له يوې داسې ځېږ زراعتي او شارې ځمکې څخه تېرشو چې پراخه او ژورې ناوې پکې ځای شوې وې. ددويم مزل په دوران کې موږ د غرونو او غونډيو له داسې برخې څخه تېرشو چې که په لومړي سر کې شوکت غوښتونکو او په جلال مېنو امپراتورانو د دغو غونډيو په سختو درو کې يوه لاره جوړه کړې نه وای، نو اوښتل به ورڅخه گران وو. دغه سړك ديوه مېل درې په څلور برخې اوږده والی درلود او د ښو كلكو ډبرو په واسطه يې سخ پوښل شوی و. دالارتر اوسه پورې په ډېره ښه توگه ترمیم شوې گڼل کېدای شوه او د ټکك لپاره مناسبه وه.

د راولپنډۍ ښار په يوه ښايسته ځای باندې ودان شوی او يو ستر پر نفوسه ښار گڼل کېږي. د دغه ښار کورونه زياتره ځكه چوتره (برانډه) لرونكي جوړ شوي دي دا ښار د لويديځ اندس له ښاروسره د پرورته و. د شاوخوا سيمې يې ډېرې زياتې زراعتي اوارتې بريښېدلې چې پکې تيت وپرك غونډۍ پرتې وې. دلته شپږورځې پاتې شو څو د خپل وراندې ټكك په هكله له رنجيت سنگك څخه اجازه واخلو. په دغه ښار کې موږ يوات شمېر مکان وليدل چې د مدنيت خواته نږدې او هېڅكله د پر ځوړه او بې خونده نه معلومېدل. د دوی ځكك اونـري وو، خو پوا هم توي ليدل کېدای شول. د دوی څوري هم د ډېرې جنگيالي او زوړې بريښېدلې دوی د پراړ كالي په ځان وو، لينگی، نيمايي ور نونه، ستونه او پڼو نه يې (ښايي پورته تنه يې په بدن کې لوڅه وي. مترجم) لوڅ برېښېدل. په او پو باندې يې ستر څادرونه په زنگيدونکې اوسست ډول اچولي وو. لونگی يې دوسره غټې نه وې خو څوكې يې توسېلې او په سخکې برخه کې يې ولونه او ار تاوشوي وو. د دوی پېرو، سراو بدن وېښتانو هېڅکله د پياتی سخ ليدلي نه دي يا داچې تيچې ور باندې لگېدلي نه ده.

دوی په عادي توگه ماشه يې توپك او غشي له ځان سره درلودل، خو د غشو سره يې سپنه زياته اوښه وسله گڼل کېدله. ترڅو چې د دوی په لاس يو ښه غشی او د غشيو گلداره كڅوړه په اوږه نه وای له چا سره يې ملاقات کول نه غوښتل. د دوی خبرې زياتره په پنجابي ژبه وې خو کله کله په هندستاني هم کړېدل، خو زه پرته له يوه ترجمان څخه د دوی په خبرو هېڅكله نه پوهېدم له فارسی سره په بشپړه توگه اشنا نه وو، سره د دې چې درانيانو د دوی سيمه څو ځلې نيولې وه، پوا

هم دوی له دغه نامه سره بلدیت نه درلود. دوی په عمومي توګه ځانونه خراساني بلل، خو کله به یې په غلطۍ سره ځانونه د غلجیانو نوم ورکاوه. د راولپنډۍ مشر جیوان سنګ ځینو سیدو چې د پنجاب دستور کسانو څخه شمېرل کېدای شو. نو سوري زمله لیدنې ته راغی، دی د پښتو ستړی وه دنورو ملګرو څخه په ښه خوی او حمیده صفت بېلېده. دده سره مله ملګري ټول په غیر منظمه داېروي توګه کښېناستل.

دوی ټول د موقف له مخې پوشان بریښېدل. یوه ورځ زما یوه خدمتګار سک له دغه سردار (جیوان سنګ) سره د ماښام په ډوډۍ حاضر شو. د ځه خدمتګار د ډوډۍ په سر دوه نیم سوه تنه نور ملمانه هم ولیدل چې زیاتره دده له خوا مستقیماً د افرادو په غیر استخدام او هره ورځ یې له ده سره په ډوډۍ خوړلو کې برخه اخیستله. کله چې ما له ده سره د کتنې غوښتنه وکړه، نو دا وخت دی او دده ټول ملګري بې سده او نیشه وو. خودغرضي وروسته په ښلو ږېدو دوی له خوا احوال راغی چې له نیشې خلاص شوي دي او موږ یې په یوه وړه لوګی ارونکې خونه کې چې د باغ په منځ کې ودانه وه، ځان ته ومنلو دده ملګري کسان د پخوا په شان ګډوډ ناست وو حتی په هغه شپه کې چې جیوان سنګ زموږ د روغبړ لپاره لا ولاړ وه چې ملګرو یې په کښېناستو پیل وکړ، موږ په راولپنډۍ کې وو، چې د شاه حرم د شاه زمان سره یو ځای په موږ پسې راورسېد د جولای په لسمه نېټه مو له شاه زمان سره وکتل. دده لیدنه موږ ته د پاچا له کتنې څخه لږه په زړه پو- رې نه وه. دی یو وخت په هندا و پارس کې ډېر نامتو او د غټ اعتبار خاوند پاچا و دی په یوه وړه خېمه کې چې غالۍ او لمڅۍ په کې هوار وو، په یوه ښکلې ارت کوچ باندې ناست و. موږ دده په وړاندې تر هغه وخته ودرېدو، څو چې ده له موږ څخه د کښېناستلو هیله وکړه. دده جامې ساده او بې لستونې ارت کوټ یې په ځان و، چې په مخ یې پارسي ډوله ګلدار وریښمین توکر ایښودل شوي و. په سر یې ارته توره لنګۍ او څېره یې ډېره شاهانه وه، کله چې دی موږ ولیده خلویښت کلن معلومېده دده غږ او حرکت یې په کره توګه شاه شجاع ته ورته وو، خو تر هغه جګ او منظم او پر د مخ او ښکلې ږېره یې درلوده. دده څېره په هیڅ ډول پوړ انده سړي ته نه پاتې کېدله. سره ددې چې سترګې یې ډېرې ژوبلې وې. خو بیا هم توري بریښېدلې او دده څېرې ته یې تازه ګي ښېله. کله چې به چا ورسره خبرې کولې، نو خپلې توري سترګې به یې هغې خوا ته ورو ګرزولې. سره ددې هم دده څېره غمجنه او له خپګان څخه ډکه وه. کله چې موږ کښېناستلو، نو زیاته چوپتیا په خېمه کې خوره او جوړه شوه، خو ده پخپله دا چوپتیا ماته کړه او د خپل ورور د بدمرغیو په هکله یې خبرې پیل کړې دا یې وویل چې دی هغه زموږ سره د کتنې او پامرنې په هکله وژغوره، که نه نو ده دا کار خوښته. ده ور پسې د حالاتو په باب یو څه وویل او د دغو شرایطو پر لون هیله یې ښکا- ره کړه. ده څرګنده کړه چې دا دولتي د ټولو پاچاهانو په برخه دي. ده د ځینو

شاهزادګانو په برخه حیرانوونکې تاریخي انقلابونه بیان کړل. په تېره بیا د ګوډ-
تیمور په هکله یې هو څه ښکاره کړل. که ده د اسیا ټول تاریخ بیان کړی وای، نو بیا
به یې هم یوه کې د خپل ځان په څېر بې بخته څوک نه وای ښودلای. دی په داسې ملک کې چې
دوه واره یې نیولی و، ړوند، له تخته غورځېدلی او شړل شوی و.

د جولای په دولسمه نېټه موږ له راولپنډۍ څخه خپل مزل پیل کړ او له لسو مزلو
وروسته د هایداسپس غاړې ته ورسېدو. لومړی شپږ مزلونه او څو ځنډونه په هغه
ډول ځمکه کې ترسره شوې چې مو پورته څرګنده کړه. یعنې زیاته شنډه او
د سیلاب د بهېدو او خوړو د شته والي له امله ځای په ځای ژوره پرې شوې وه.
دغه راز دا سیمه د اندس او هایداسپس ترمنځ د ټولې ځمکې په څېر د ډېر ښه نسل
د آسانو پووندګانو وربانذې د آسانو ګلې پوولې. ختیځ خواته پرته برخه
یې تر نورې پاتې ځمکې ډېره زراعتي بریښېده په لومړي مزل کې د سوان په
نوم ویالې څخه واوښتلو. دوهالې او بهداس ترګیله بند پورې رسېدلې، چې ډېر
ځله د زیات تیزوالي له امله وربانذې پورې وتل د خنډ سره مخامخ کېدل. زموږ
زیات شمېر اوښان او بوی ووړل، پاتې څلور مزلونه په داسې سیمه کې ترسره
شول چې زیاتره غرنۍ او غونډۍ پکې د دغه ځای په څېر خوړې وې چې مو وړاندې
بیان کړې. شمالي جګ غرونه او غونډۍ ډېرځله د وریځو له امله زموږ له ستر-
ګو نه پټېدل، خو کله کله چې به ښکاره شول، نو به د وریځو څخه ډېر پورته
معلومېدل. د اندس او هایداسپس ترمنځ ټول مزل یوسلو شپېته میلو ته رسېده چې
دا برخه د دغې سیمې ډېره سخته ځمکه ګڼل کېږي. زموږ د تېرېدو په لار کې
سختو بارانونو کړاو ونه لا هم زیات کړل. یو وخت د هیأت د څېنو ښاغلیو
(د وروستي ګارد (ساتونکي) په ګډون) اړیکې د ویالې نه د تېرېدو په وخت سملاسي
له موږ څخه وشکېدې. په لومړي سر کې ویالې ته د ګډېدو په وخت کې یو فوټ ژورې
اوبه هم د دوی په مخ کې نه وې، خو د تېرېدو په حال کې د ویالې اوبه ناڅاپه
زیاتې شوې چې د دوی د تېرېدو په مخ کې خنډ او له موږ څخه یې ارتباط قطع
شو. په دغه وخت کې زه په بیړه سره کښته راغلم، خو کله مې چې ویالې ته وکتل،
نو، اوبه یې په یوه دقیقه کې لس فوټه جګې شوې او بار کړي اوښان یې له ځان
سره اخستي او ډوب کړي وو. د دغه سیلاب څخه هیڅ شی زورور نه و، په داسې
قوت سره روان و، چې د سمندر ګې په څېر یې څپې وهلې او د ویالې په دواړو غاړو
باندې د موږې په شان جګ شوی او د کرومندل د ساحلي څپې په دود بریښېده.

په غرنیو سیمو کې زموږ لارې له داسې سیلاب لرونکو ځایو او خوړو څخه
تېرېدلې چې پورته بیان شول. په لږو غرنیو برخو کې هم د افغانستان د غرنیو

ځايو اوغاښيو په شان زموږ کړاوونه همداغسې وو . او هيڅکله له هغو څخه کم
نه ښکاريدل . په يوه تنګه دره کې يوې ډلې سکانو چې غرونه يې نيولي وو ،
هيأت ودراوه او په موږ باندې يې د حملې کولو خبرداری ورکړ ، د غولو تمار و
سکانو يرغل داشان وشو چې لومړی به په هيأت باندې د برې ور غروي او پسې به په توپکو
حمله وکړي . د دوی د ګواښ په مقابل کې هماغسې ځواب ور کړل شو ، په بله ورځ د هيأت
او د غولو تمار وترمنځ نښته پيل شوه خو دا جګړه د هغو سکانو له خوا چې
د هيأت سره يې ملګرتيا کوله ودرول شوه له بده مرغه په دغه اخ وډ ب کې
موتن په دره کې مړ او ښاغلی کپتان پټمان د موږ د لې سپاهيانو په مشری غره ته
د ختلو په وخت کې په مټ باندې وويشتل شو .

له راولپنډی څخه د دويم منزل په اوږدو کې داسې ځای ته راورسيدو چې
هلته يوه ډيره غوره مانۍ ښکاره شوه داودانۍ چې له باندا څخه پنځلس ميله
لرې پرته وه ، نه يوازې د دغې سيمې غوره ودانۍ شميرل کيږي ، بلکې ښايي
زموږ په ټول سفر کې د هغې ساری ونه ليدل شي ، دغه ځای ته له رسيدو وروسته
يوه ورځ موږ وغوښتل چې د دغې مانۍ ننداره وکړو ، خو د سختو اوربښتو له امله پاتې
شو ، څنګه چې موږ دغه ځای ته نږدې وو نوميجر ويلفورد تصور وکړ چې دا به
د تاکسيلا سيمه وي له دې سببه يوې ډلې تصميم ونيو ، چې د هغه ښار د کنډوالو
د ليدلو لپاره وخوځيږي ، د څلويښت ميله واټن په تاوولو سره موږ د کاکړيانو
داسې ښارونه وليدل چې پوښه يې د سکانو له خوا له منځه تللې وو او يو څه نور
زاړه يې مسلمانانو ځپلی وو . دلته موږ هادوه کاروانسرايونه هم وليدل چې
رباط بلل کيدل دغه راز دلته موږ د يوې داسې ستنې په هکله چې څلور کونجه يې درلود او
سر يې هرم شکله و ، پوښه واوريدل . د دغې ستې اوږدوالی يا جګوالی پنځوس
يا شپېته فوټه و ، او د يوې ټوټې تيږې څخه جوړه شوې وه ، د استن په راجې
نومی ځای کې ولاړه وه ، د ډير ليری والي له کبله موونه کړای شول چې وې
وينو ، سره د دې هم دلته موږ داسې زړې کنډوالې ونه ليدلې چې د تاکسيلا سره داړيکی په
برخه کې يې ادعا وشي . بالأخره پسې موږ يوه داسې غوره مانۍ وموندله چې په
لومړي سر کې موږ يوازې د يوې ګومبزې ګومان ورباندې وکړ ، خو کله چې ورته
نږدې شو ، نو د يوې غونډۍ په سر يوه پخه ودانۍ راته ښکاره شوله . د غونډۍ
له څوکې څخه د مانۍ تر څوکې پورې جګوالی اويا فوټه او محيط يې داسې
وبرېښيده چې يوسلو پنځوس ګامه دی . د ودانۍ شا وخوا له د کلکو ډبرو له
ټوټو څخه جوړه شوې ده چې په ډبروکې يې د بوټو کلک شوی مواد د شګو د
کوچنيو ټوټو په ګډون ليدل کيدای شول . د باندنۍ مخ ټوله برخه يې د پورته

دول د برې څخه قالب او جوړ شوی وه . دا د برې د بېرې هوارې تراشل شوې
او توله بهر خوا داسې برېښېده چې همدا دول هوار مخ لري خو سره د دې هم
څینې په دغه دول بشپړې شوې نه وې او یا داچې قالبونه یې پا پلنت او بدلي وو . د دغه
ودانۍ توله نخښه په آسانۍ سره بېر سېره شوه، د دغې لوېې ودانۍ د تل خوا ته څینې
پلنې زینې غزول شوې وې . د تل گردچاپېره داسې څېره (د لرگي او خټو توته چې د دېوال
په مخ تاوېږي - مترجم) گرزېدلې وه چې په مخ یې څلور کونجه ستنې د څلورو فوټو په
جگوالي او له یوې او بلې څخه د شپږو فوټو په لېرې والي جوړې وې او د غو ستونو نه
پراخه او له مانۍ څخه گردچاپېره تاوشوې نرۍ توتې گلداریا جمپه لرونکې
لرگي (شر بپه) د ساتلو لپاره یې مرسته کوله . په دغه نرۍ گلداره توته باندې
مرۍ هم لگول شوې وې او موازي کرښې به کې لیدل کېدلې . د پاسنۍ زینې د لومړي
پاتکي څخه د گلداره توتې ترپاسه یې څوکې پورې جگوالی اوه او یا اته فوټو ته
رسېدلای شو . له دغې برخې وروسته د تعمېر دېوال کمسوری شوی او د یوې کوچنۍ
کړکۍ نه چې یو پاد وه فوټه پلنه وه، په تېرېدو سره عمودي پورته شوی او دغه عمودي
دېوالونه شپږو فوټو ته رسېدل . د کړکۍ څخه یو فوټ پورته یوه نرۍ توته چې له د برو
څخه جوړه او د دېوال څخه لېر راوتلې وه، لیدل کېده له دغه دېوال په پاسنۍ سر
باندې یوه گلداره نرۍ څېره ها توته راوتلې برېښېده چې له هغې وروسته د مانۍ
کرویت پیل کېږي . د د دېوال د مخ د برې درې نیم فوټه او د دې او بو نیم فوټه پلنې
وې او په داسې ترتیب یو په بل ایښول شوې وې چې یوازې وروستۍ څنډې یې لوڅې
لیدل کېدی شوې . د مانۍ سراوارا او له هغې څخه د دېوالو تاداوونه لیدل کېدل .
د مانۍ بام او پاسنۍ برخې د یوولسو گامو په اوږدوالي او پنځو گامو په سور یوه
ساحه څرگندوله چې د هغې درېمه برخه د قطعه کوونکي دېوال په واسطه برې شوې
وه د دغې مانۍ د بنې په شان په ټول هند کې هېڅ پیدا کېدای شول، زیاترو
ملگرو دا مانۍ په بشپړه توگه یونانی تصور کوله . په رښتیا سره دا ودانۍ د اروپایي
مانیو په څېر په یونانی معمارۍ سره داسې جوړه شوې وه لکه چې اوس اروپایان
د دغې سیمې په یوه لیرې برخه کې د آری اوسېدونکو د ناآزمایلیو معمارانو په وا-
سطه یوه ودانۍ جوړه کړي (۱) د دغه ځای اصلي اوسېدونکو دغه ودانۍ ته د مانیسېو

(۱) ښاغلي ارسکین په ۱۸۲۱ کال کې د بمبئ د ادبي ټولنې په وړاندې په یوه
مقاله کې داسې ښکاره کړه چې دا مانۍ د بودا په عبادتخې پورې اړه لري، دا نظریه
وروسته په بشپړه توگه ثبوت ته ورسېده .

دغه ودانۍ په ۱۸۳۰ کال کې د رنجیت سنگ یوه عسکري جنرال چېوالېر ونټو-
را له خوا د دې لپاره پرانستل شوه چې د مقدسو شیانو د موندنې په څنگ کې ځینې*

لا تېرېږ نوم ور کړی او وايي چې دا ځای د خدايانو په واسطه جوړ شوی دی. (۲)

د ماني ښځه او ښوا کې زياتې ونې او بوټي شنه شوي وو، چې په هغو کې د هندي
انځورونو ښکلې ونه هم ليدل کيدله.

مخکې له دې چې ها يداسپس ته ورسېږو له موږ سره د روتاس د لاسته راوړنې د ليد-
او نظر موجود و، خو د لانده ځای د پرليږي مجبور و، چې اصلي لاره پرېږدو او د جلم د عا-
دي جالي په ځای پنځلس واټه اوږد لس ميله لاندې لاړ شو او بيا بېرته خوا ته ځان تېر
کړو. د روتاس په مکله موږ دومره پوه شو، چې يوې ورې غونډۍ په سر يوه کلاکه کلاده.

د ها يداسپس له سيند څخه د جلا لپور په برخه کې له پنځو ورځو له تېر يدو
څخه وروسته چې له دوه ويشتمې نه تر شپږ ويشتمې پورې يې د وام و کړ تېر
شو، د سيند د دواړو غاړو مځکو توپير زما جدي پاملرنه واړوله، د کيڼې خوا
مځکه د هندي ميدانونو ټول مشخصات او نښې درلودې، په رښتيا چې دا برخه
د پنجاب په څير هواره او شړه وه او له هغې سره يې زيات ورته والی څرګندا-
وه، په داسې ترڅ کې چې د دغه درياب ښۍ غاړه د مالکينو غونډيو لړۍ
نيولې وه. دا د ول غونډۍ موږ د کله باغ په سيمه کې ليدلې او هماغسې ځيره
او وحشي فضا يې څرګندوله، يا دا چې که له ختيځ څخه يو مسافر دغه سيمې ته
ننوزي، نو هرومرو به د هغې په باب دوړناکې او ډارېدونکي څرګندونې الهام
ورته وشي. دغو غونډيو هماغه سوررنګه ساتلی وو چې د مخه موږ ورڅخه تېر

* پخوانۍ په زړه پورې سکې هم پيدا کړې د ده په څنګ، ذوق او وسيع نظر سره دا کشفيات
خپاره شول چې په نتيجه کې يې د پرژر د نورو سيمو د پلټنې لپاره لار هواره کړه د ښا-
غلی ميسن او داکترمارتين ها نزبرګر په جدي فعاليت او مقاومت سره د هندوکش-
او کابل درياب ترمنځ له کابل څخه تر ها يداسپس پورې ځو د غه د ول غونډۍ بيا مو-
ندل شوې. د پره زړه سکه په هغو مانيو کې پيدا شوه چې د هغو نېټه د وېم تر يوم ور
ات ته چې له ميلاد نه يوه پېړۍ وړاندې و، رسيږي او وروستۍ يې د خسرو پرويز زما-
نې ته چې شپږمه ميلادي پېړۍ کېږي رسيدلای شي. له دې امله د تېږو جوړېدل د دغو
دوو نېټو ترمنځ اټکل کېدای شي ' ۱۸۳۸)

(۲) په لوېديځ کې تر پېښور پورې د تېپې اصطلاح غونډۍ او يا زنبيل ته ويل
کېدای شي. ما نيسيو لا د غه غونډۍ ته څرمه پروت کلی دی° د دغه غونډۍ رسامی
په پونه کې زما ترلارښوونې لاندې وشوه، خوسکيچ يې د هيأت هغو پيلو پيلوښاغليو
برابر کړ چې له ما سره د مانيسيو لا ليدنې ته په هغه ورځ ولاړل.

په داسې شرايطو کې د لرسمو الی هيله هم کېدای نه شي، خو د رسامې څخه
عمومي ايډ يا اخستل زما په نظر سم ګڼل کېږي.

شو. داغونه ی دسیندغاړې ته رسیدلي او دلته په تاپو ګانو ویشل شوې وې چې
ددوی دغې بڼې د پخوانیو لیکوالو لیکنې ښې ښکاره کولای شوې. دا ځای د
کوینتوس هغه بیان چې د هایداسپس د دریاب د دغې برخې د پورو د جګړې په
باب ئې لیکلی ښه څرګند وي چې د هیأت زیاتو ښاغلو هغه وخت چې دد غه
بیان پراګراف نه لوستل داسې په شوق راغلل چې په رښتیا هماغه ځای د دوی
دستر ګو وړاندې پروت دی.

له هایداسپس څخه له تېر یدو وروسته موږ خپل منزل ته د پنجاب په اوږدو
کې د جولای له شپږ ویشتمې نیټې نه د ګست تر (۲۹) نیټې پورې دوام ورکړ.
ددغې برخې په باب زما سفر زیات تفصیلات نه غواړي. د لاهور تر لویدیځ پورې
انګریزي ښاغلو پلټنې او لیدنې کړې دي او س جان ما لکم د سکانو پیژند-
ګلوی په هکله بشپړ معلومات وړاندې کړي دي چې دا له ترتولو نو ر و
او سیدونکو ډیر غوره رول لري.

د پنجاب د مسوزتیا او د خاورو د خوړب والی په هکله زموږ جغرافیه دانا-
نو لېږې مبالغه آمیزې څرګندونې کړې دي. د دریاب له غاړې سره څرمه مځکو
څخه پرته نور ټول پنجاب د هندوستان له برتانوي ایالاتو سره نه برابرېږي او حتی
تر بنګال هم کښته بریښي، په داسې ترڅ کې چې جغرافیه دانانو پنجاب له
بنګال سره ورته ښودلی دی. په هغو ځایو کې چې زه تیر یدم، خاورې شګلنې او
هیڅ کله څربې نه وې، داسې معلومیده چې د غونډیو سره نږدې مځکه لږ څه
ښه ده، خو د سویل خواته خرابه ګڼل کیدای شي. که څه هم له هایداسپس څخه
ختیځ خواته پنجاب په څلورو برخو وویشو نو دوه لومړۍ برخې چې هایداسپس
ته نږدې دي تر ډیرې اندازې څرګندونه ښکاره کوي چې په کې دغوایانو او
میښو ګلې پوول کیږي، په داسې ترڅ کې چې لیرې ختیځ خواته د ې تر هایسو-
دروس او ستلج پورې دوه نورې برخې یو اندازه زراعتي دي، خو بیا هم
زیاته حصه یې شاړه ګڼل کیږي. دوې لومړۍ برخې بشپړې هوارې دي، خو دوې
وروستي برخې موج لرونکې او پند بریښي. د هایداسپس ختیځ خواته یو غونډۍ
هم نه معلومیږي او د بابل له تیت نسل و نې څخه پرته نورې ونې په کې
نشته، په عمومي توګه باید وواېو چې دلته د ریمه برخه مځکه هم ترکرنې لاندې
راغلې نه ده، خو سره ددې هم یو زیات شمیر کلې او یو څو ستر ښارونه په کې
لیدل کیږي، ښارونه تر ډیرې اندازې د ویجاړیدو خواته تللي دي. امرتسر د سکانو
یو مذهبي او مقدس ښار دی چې د پرمختګ په حال کې لیدل کیده، له بلې خوا
دا ښار د سکانو د ملي جرګو مرکز ګڼل کیږي، په مقابل کې یې لاهور چې په پیړه

سره دورانیدو خواته روان وو، د جوماتو د مرمرو لکه منارو او ګومبزو، د چونې
د جګو دیوالونو د شالیمار د باغ د ګڼو چوترو، د جهانګیر د ښکلې مقبرې او د بې
شمیره ورو قبرونو او عبادتځایونو له امله چې د ښار په شاوخوا کې وو د ډیره
نامتو او تر اوسه پورې د یادونې او په زړه پورې شکوه څرګندېدل کېدای شي.
کله چې موږ د ختیځ خواته په مخ ولاړو نو وګړي ورو ورو هندوستانیانو
ته ورته کېدل د دغه برخې زیات شمیر اوسېدونکي جټان او ورپسې هندوان وو،
که څه هم سکان په اقلیت کې وو خو بیا هم دوی د دغې
سیمې واکمنان او باداران ګڼل کېدل. ډېر ځله موږ د خپل اوږده مزل
په اوږدو کې حتی له یوه سکه سره هم نه مخامخ کېدلو او دوی هیڅکله له پاتې
وګړو سره په جمعیت کې تناسب ښکاره کولای نه شو، کله چې له هاید اپس څخه
واوښتلو، نو د سکانو خوی او کړه وړه پر له پسې د خړوالي خواته لاړ، په تېره بیا په
سیاسي لحاظ دوی غمجن بریښېدل، ځکه سکان نطیما ،خوشحاله ،بې اعتنا ،ماشوم
ډوله، د ښکاره رشوتمن، له شرابو او فساد څخه ډک او تو کمار خلک دي. سره د دې چې
په ۱۸۰۵ کال کې رنجیت سنګ د پنجاب له څو مشرانو څخه یو مشر و ،خو په دغه وخت
کې ټول پنجاب په ده پورې تړلی و او زموږ د تېریدو په وخت کې ده د ټولو سکانو
څخه د مشرۍ او واکمنۍ مقام ګټلی او د پنجاب د پاچا لقب یې موندلی و . د رنجیت
سنګ ختیزې خواته لاسلاندې ملکونو د انګریزانو تر ملاتړ لاندې ولایتونو سره
ګډې سرحدې کرښې درلودې. ده د کمزورو ګاونډیو ملکونو په نیولو کې هغه
پالیسي نیولې وه چې د هغې له مخې یې د سکانو مشران هم په یوه خاصه قوه او مهارت
سره په موفقانه توګه د خپل ځان تسلیم ګرځولي وو. د ستلج نه په اوښتلو سره موږ
د لودیانې په نامه برتانوي سیمې ته ورسېدلو او له دغه ځایه هیات مخامخ
د ډهلي خواته پر مخ ولاړ او د دوه سوه میله واټن له وهلو وروسته ډهلي ته ورسېدو.

لومړی کتاب

لومړی څپرکی

د افغانستان جغرافیایي بیان

د افغانستان موقعیت او بریدونه

داکرانه ده چې د کابل د تولواکۍ (حدود و تا کو یو وخت د کابل تر واکمنۍ لاندې سیمې له سرهند څخه نیولې د طول البلد شپاړس درجې پراخوالی درلود چې دا اندازه له ډیلي څخه تر مشهده پورې یو سلو پنځوس میله وه او د کسپین له سمندرګي څخه یې هم همدومره واټن درلود. پراخوالی یې له اکسوس (آمو ـ ژباړن) څخه د پارس ترخلیج پورې غزېدلی وه، چې په دې واټن کې ۱۳ درجې یا ۹۱۰ میله واټن راځي.

خو وروسته په دغه ستره امپراطورۍ کې د برکمښت راغی او د حکومت د دغه ځل شوي حالت د پاچا د قدرت د تطبیق څخه حتی په هغو سیمو کې هم نیسي چې لا یې هم تر- واکمنۍ لاندې دي. په ناثابته حالت کې زه باید پخپله د آسیایانو آزموینه غوره کړم هغه دا چې د پاچاحاکمیت په هغو ټولو سیمو کې موجود وي چې هلته د ده په نوم خطبه لوستل کېږي او هلته سکه د ده په نامه وي (۱).

د دغې څرګندونې له مخې د کابل د اوسني پاچاهۍ لوېدیځه سرحدي کرښه له هرات څخه د طول البلد له ۶۲ درجو کرښې څخه پیل او په ختیځ کې د کشمیر تر ختیځ سرحده پورې د طول البلد ۷۷ درجو ته رسیږي. لوېدیځ خواته د اندس له خولې څخه پیل او د شمالي عرض البلد د ۳۷ درجو پورې تر اکسوس غزېدلې ده.

---

(۱) ـ خطبه د مسلمانانو د مذهبي مراسمو یوه برخه ده چې په هغې کې د پاچا نوم هرومرو یادېږي او دوعا ورته کوي. په خطبه کې د شاهزاده نوم یادول او په جاري روپیو کې د هغه نوم کښل په ختیځ کې د واکمنۍ د پېژندلو ډېره یقیني لار ګڼل کېږي.

د طول البلد او عرض البلد دغو کرښو ترمنځ ټوله سیمه د کابل په پاچاهۍ پورې تړلې نه ده، وروسته به دا څرګنده شي چې د دغې سیمې له جملې څخه چې د ده تر واکمنۍ لاندې ګڼل کېږي، زیات وګړي یې اطاعت منې خو دا اطاعت یوازې تش په نامه سره دی.

د دغې پاچاهۍ ختیځ خواته هندوستان پروت دی، چې د سند کمې غاړې او کشمیر هم پکې شامل دي. د سویل خواته یې باید زړه نا زړه وویل شي چې د پارس خلیج پورې رسېږي. لویدیځې خواته یې د ټول سرحد په اوږدو کې یوه بېدیا غځېدلې ده. شمالي سرحد یې د ختیځ قفقاز غرونه جوړوي، دغه راز د لویدیځ برید (سرحد) په سیمه کې هم دا غرونه برخه لري، د آموسین دلته سرحد منځ ته راوړي او حدود ټاکي. زموږ د وروستیو نقشو (۱) د نوم ایښودلو له مخې په دغه هیواد کې افغانستان او سجستان (سیستان) د خراسان او سیکران له یوې برخې سره، بلخ له ترکستان او ګیلان سره کیوتور (Kuttor)، کابل، کندهار، سند، کشمیر د لاهور له یوې برخې او د ملتان د زیاتو سیمو سره شاملې دي.

د دغې پاچاهۍ د وګړو ټول شمیر له څوارلسو میلیونو څخه لږ ګڼل کېدای نشي دغه احصاییه د هیأت یوه ښاغلي د پلنو الي او د بیلو بیلو ولایتونو د وګړو د پرتله کولو څخه ټاکلې ده. له دغې احصایې څخه ټول ارت بیابانونه مستثنی ګڼل شوي وو. له کشمیر څخه پرته په نورو ټولو سترو سیمو کې د وګړو شمېر په یوه مربع میل کې له سلو تنو څخه زیات نه دی اټکل شوی. او کله کله (لکه د هزاره وو په ټوله سیمه کې) په یوه مربع میل کې هغه یوازې اته تنه شمېرل شوي وو. هغه بېلابېل قامونه چې د کابل په پاچاهۍ کې اوسېږي د نفوسو له ټول شمېر سره په لاندې ډول ونډې لري.

افغانان— ۴٬۳۰۰٬۰۰۰

بلوڅان— ۱۰۰۰۰۰

د تاتارانو ټولې ډلې (۲) —۱٬۲۰۰٬۰۰۰

د پارسي ژبې غږېدونکي د تاجکانو په ګډون—۱۵۰۰۰۰۰

هندیان (کشمیریان، جټان او نور) —۵۷۰۰۰۰

متفرقه کامونه— ۳۰۰۰۰۰ (۳)

---

(۱) اېرو سمت: آسیا

(۲) زما په تصور دا سې څرګندېږي چې په دغه جدول کې د بلوڅو او تاتارانو شمېر ډېر لږ ښودل شوی دی.

(۳)— لیکوونکي د دغو پاسینوار قامو منبع ښودلې نه ده (۷) او په غالب احتمال چې دقیق به نه وي. (مترجم)

د کابل د تشریح په هکله زما د څرګندونې زیاته برخه به د افغانانو په باب وي، خو زه به لومړی د ټول سلطنت خاکه او څو کاټ څرګند کړم. او څرنګه چې دا هم امکان لري زما د کتاب لوستونکي به د دې هیواد د ښا وخوا هیوادونو سره آشنا نوي، نو په دې توګه به د وی د دې توان پیدا کړي چې د سلطنت بریدونه (حدود) وپېژني، یا د دې لپاره چې په ضمني ډول د دې هیواد ګاونډي هیوادونه هم یاد یږي نو زه باید د آسیا د هغې برخې په باب چې دا سلطنت پکې پروت دی لنډ معلومات وړاندې کړم.

که چیرې مونږ د بنګال له خلیج څخه تر هرات پورې د هند وستان او کابل له دواړو سلطنتو څخه تیر شو نو به د شمال خواته هرومرود غرونو یوه لړی چې تل په سپینو واورو پټه ده، په دغه ټولواټن کې ووینو. له دغو غرو څخه د دغو ټولو اکیو (پاچاهیو) ستردریا بونه سرچینه اخلی.

دا لړی د برام پوترا (Burrampooter) څخه پیل او د شمال لویدیځ اور ته تر کشمیر پورې غزیدلې ده. د دغې برخې په اوږدو کې داغرونه د ګا وندیو او یا ورسره څرمه پرتو سیمو د آری اوسیدونکو له خوا د همالیا په نامه یادیږي. له کشمیر څخه د دغو غرونو ټول لوری (سمت) د هندوکش تروا ور یعنې څو کې پورې چې تقریباً د کابل په شمالی لورې کې پروت دی، لږ څه د سویل لویدیځ خواته کږیږي. له دغې څوکې څخه وروسته د لویدیځ په اوږد د غو غرونو جګوالی کمیږي او دا یمی واورې پرله پسې څپل ځای له لاسه ورکوي. د لته داغرونه د یو لړ هغو غرو په منځ کې چې له کابل څخه تر هرات پورې خواره شوي دي، ورک کیږي. په دغه برخه کې د نوموړې لړی سورد عرض البلد له دوو درجو څخه زیاته برخه نیسي له دغو زیاتو غرونو څخه یوه لړی د لویدیځ لور ته خپره شوې او تر هغه ځایه چې څرګندہ ده تر پارس (ایران ـ ژباړن) پورې رسیږي، په دې شرط چې د پښتو انو لیکوا لو نظر یې په د غه برخه کې په نظر کې و نه نیسي څکه سکنیو (قدما و) داغرونه چې مې د مخه بیان کړل، د کسپین د سمندرګی په لویدیځ کې د قفقازیه څوکه پورې نښلول (۱) له کشمیر څخه د هندوکش تر اورې څو کې پورې ټوله لړی د همدې څوکې په نوم (هندوکش) یادیږي.

(۱) په آریان (د ریم کتاب، اته ویشتم څپرکی) کې لاندې عبارت د دغو غرونو هغه اوږدوالی به څرګند کړي چې سبب یې یونانیانو دې غره ته کړی دی. د غه نسبت په دې ډول یادشوی چې کله چې اسکندر د قفقا ز د غره لمنې ته راغی چې د جغرافیې ټول پوهان دا ځای د کندهار په ګاونډي کې ګڼي «ارسطو بولوس و یلی دي چې *

لدې وروسته د هرات د طول البلد تر کرښې پورې د اغرونه د آریا اوسیدونکو په منځ کې کوم عمومي نوم نه لري ، نو زه باید هغه د پارا پامیزوس (۱) په نوم چې اروپایي جغرافیا پوهان یې هم بولي ، یاد کړم . خو که څه هم هغه غرونه چې ما بیان کړل له سویل څخه داسې برېښي چې د هندوستان او کابل تر منځ طبیعي برید جوړوي ، خو موږ به هرومرو لږ څه زیات د شمال خواته د غره هغه لړۍ تر کتنې لاندې ونیسو چې په هغه کې دغه هیوادونه پراته او طبیعي وېش یې پای ته رسوي . دغه راز د دوې دسترو دریابو ډېرې لوې سرچینې هم په هغو کې موندل کېږي . زموږ ځکه پوهان (جغرافیه پوهان) یو لړ غرونه د موږ تاغ تر نامه لاندې راولي چې په شمالي خواکې د همالیا د وروستي شمال ختیځې څنډې څخه پیل او د همدغه غرو شمال خواته په موازي توګه پراته دي او د ختیځ طوالبلد تر (۶۷) درجو پورې رسېږي . د کابل هیأت د پلټنو په لړ کې د دغو غرونو د دې لړۍ د اندازې لږه برخه په نښه کړه چې یوه وړه برخه وه . برېدمن مکارتنې داغرونه له اقسو څخه د لېه یا لداخ له لویدیځ نه وړاندې تعقیب کړي نه دي ، خو پاتې شو د لشوی او پدوالي یې اټکلې دي نو له دې امله سره د دې چې د شته والي اثبات یې کولی نشم ، خو شک کولو ته هم دلیل نه لرم نو ځکه دا برخه به په همدغه ډول وښیم او د موزتاغ تر نامه لاندې به یې راولم .

سره د دې چې داغرونه تر هندوکش په یوه ځګه مځکه پاندې ولاړ دي

*د قفقاز غرونه د آسیا د نورو غرو په شان جګ دي ، خو داغرونه په زیاترو برخو کې په تېره بیا په دې برخه کې لوڅ دي . دالړۍ ډېره زیاته غځېدلې او وېش شوي چې د تاوروس څوکه چې فامپیلیا (Pomphylia) له سیلوسیا (Cilicia) څخه جلا کوي ، او همدارنګه نور لوړ غرونه چې د قفقاز د غرونو له نوم څخه په بېلو بېلو نومو بللېږي او دانومونه د بېلو بېلو ملتونو له خوا چې د دوی سیمې ورسره څرمه پرتې دي اخیستل شوي دي ، هم په قفقاز پورې اړه لري . »د دغو غرونو زیاتې څرګندونې د همدې لیکوال د پنځم کتاب په دریم او پنځم څپرکي کې او یاد پلیني د طبیعي تاریخ د پنځم کتاب په ۲۷ فصل کې موندل کېدای شي .

(۱) (سره د دې چې ارغونو لیکوالو ورته دانوم ښکاره کړی نه دی ، خو زه د آسانۍ لپاره دانوم ورکوم . آریان دغې ټولې لړۍ ته دانوم اخستل ، مګر سترابو ډېر زیات لنډیز ورته ورکړی او یوازې د دغو غرو هغې برخې ته چې له اندس (اباسین) سره نږدې دي ، دانوم ایښودلی دی . داسې معلومېږي چې د واړو لیکوالو پاروپامیزادي ملت هغې سیمې ته منسوب کړی چې د کابل په ختیځ کې او د کابل د رواب شمالي اوږې ته پرته ده -۱۸۳۸)

خو بیا هم له تل څخه یې لوړوالی او پاشاهي د څوکو پشپړ لوړوالی یې تر هندوکش ټیټ وي او د دغو غرو اندازې ته بېونه رسېږي . دا ندس در پاب د موز تاغ دغره له سویلي برخې څخه سرچینه اخلي او د همدغه نقطې شمالي خواته دغره په شمالي لمن کې نورې او بهراوتلې چې د چینې ترکستان خواته بهېږي .

د دغو غرونو د دواړو خواوو د هیوادنو بهیدونه د دریابونو د بهېدو له مخې په نښه شوي دي، خو تر هغې اندازې چې ما ته څرګنده ده د شمالي خوا لمنې په تدریجي توګه لاندې خواته ټیټېږي او ناڅاپي انقطاع پکې نه راځي، په داسې ترڅ کې چې د موزتاغ (۱) سویلي خواته پوځګه هواره ځمکه چې د هندوکش اود همالیا په وسیله ولاړه ده، لیدل کېږي . له دغې ځمکې وروسته د غرونو سلسلې سرخوري، د هندوستان د میدانو او بیا د کابل دد ومنهونو د شمال ختیځ خواته لیدل کېږي .

د پورتنۍ ځګې سطحې منځنی پلن والی شاید تر (۲۰۰) میلو ورسیږي، خو لکه چې ځمکې مو وویل د لداخ طول البلد له کرښې نه ختیځ خواته معلومات نه لرم . د دغې ځګې سطحې په ختیزه برخه کې د تبت پراخه سیمه پرته ده، په داسې حال کې چې لویدیځ خواته یې کوچنۍ تبت او کاشغر پراته دي . دادواړه غرنۍ سیمې دومره پراخوالی نه لري . د دغه وروستي سیمې شمال لویدیځ لورته د پامیر ځګه میداني سیمه پرته ده . پامیر او کاشغر دواړه د لویدیځ د ډولړ غرونو په واسطه چې له موزتاغ څخه تر هندوکش پورې غزېږي، چاپېره شوي دي . نو په دې ډول د موزتاغ لاندې سویلي ځګه سطحه د لویدیځ له خوا کلکه شوې ده .

سره د دې چې داغرونه د لوړوالی له پلوه تر هندوکش ټیټ دي، خو بیا هم د ټول کال په اوږدو کې یې څوکې په واورو پټې وي . په بله وینا د دغو غرونو څوکې له موزتاغ سره تر یوځای کېدو پورې دایمي واورې لري . د ختیځ طول البلد ۷۱ درجو په شاوخوا کې داغرونه له هندوکش څخه جلا او تر موزتاغ پورې له ختیځ څخه د شمال په لور غزېږي . موزتاغ هغه غرونه دي چې له شمال څخه د سویل لورته خواره شوي او د پرلرې شمالي څنګ یې د دغه سرك په وسیله چې له قوقان (Kokaun) څخه تر کاشغر پورې ځي، پرې شوي او دا برخه هم د همدغو غرونو

---

(۱) دا نوم او اصطلاح په ترکي کې د یخ غونډې څرګندوي او لږ تر لږه د دغو غرونو هغې برخې ته چې د یارکند او لاك تر منځ لارې سره اړه لري پرته ده، استعمال شوې او په همدغه ځای کې د کنګل په وسیله منځ ته راغلې ده . داغر او په تېره بیا یوه ځانګړې څوکه یې چې د نوموړي پورتنۍ سړك تر اړخ پرته ده په ترکستان کې د تراقرم په نوم یادېږي .

د لړۍ دوام څرگند دوي. په دغه برخه کښې دا غرونه ترمنځگنۍ برخې لږ ټيټ او هواري
په سختو فصلونو کښې واوره داوري په پول کېدو سره هم په مخ ليدل کېدای شي. د دغه
سرك څخه لږ څه د شمال خواته جا گزارت (Jaxar Tes) پيل شوی دی. له دې
وروسته زما (معلومات) بشپړ پای ته رسيږي. سره د دې هم زموږ نقشه د هغه دوام
د شمال خواته څرگندوي چې داسې يوې لړی ته رسيږي چې هغه د سايبريا او چينی
تارتاري ترمنځ بريد ټاکی. له بلې خوا د غه وروستی بريدی لړی (سرحدي لړی)
د هغو اوبو چې ارکټيک (شمالی منجمد بحر) په خواکی او هغه چې د تارتاري په لور
بهيږي، بېلوونکې کرښې منځ ته راوړي.

زموږ نقشې هغې سلسلې ته چې له موزتاغ څخه تر هندوکش پورې غزيږي،
د بيلورتاغ (Belurtag) نوم ورکړی دی. د بيلورتاغ يا (په وريځو پټ غرونه)
د ترکی منحرف او اړول شوی شکل دی. څرنگه چې زه په کوم بل عام نوم خبر نه يم
چې د ترکستان خلك په هغسې نوم دا لړی ياده کړي، نو له دې امله به زه دا لړی
په ځينو لږو حالاتو کی د بيلوت تاغ په نامه ياده کړم.

بيلوت تاغ د خپلواك ترکستان او چينی ترکستان تر منځ بېلوونکې سياسی
کرښه جوړوي، دغه راز دا غرونه د دغو دوو سيمو ترمنځ طبعی سرحد منځ ته راوړي
او د هغو اوبو د ويش له امله چې دواړو ته جلا جلا طبيعی بڼه ورکړې ده، په بله وينا
دا غرونه د دواړو سيمو د اوبو بهيرونه (جريانونه) له يو بل څخه بېلوي او د دواړو
اوبه او سيندونه له هغه څخه سرچينه اخلی.

زه د غرونو د هغو لړيو په باب چې له بيلوت تاغ څخه د ختيځ خواته غزيږي، څه
نه پوهيږم، خو لويديځ خواته ترې څو ښاخونه جلا شوي دي چې د هغو ترمنځه له
پرتو درو سره د قراتگين (Kurrateggeen) شغنان، واخی * او درواز غرنی
سيمې پرتې دي. هغسې چې هندوکش د بدخشان سويلی خواته پولی ده، دغه شان پورتنيو
لړيو د هغه شمالی خواوې چاپېره کړې دي. د دغو لړيو د اوږدوالی او پلنوالي يا خوا
(سمت) په باب لږ معلومات لرم خو يوازې يوه لړۍ يې داسې برېښي چې لويديځ لورته
تر سمرقند پورې نژدې غزيدلې ده. دا غرونه د هندوکش شمال ته غوره لړۍ جوړوي، خو
د دغو غرونو ترمنځ دريابونو او سيمو او يا د کسپين سمندرگی او بيلوت تاغ
ترمنځ منځکې په باب پوخوتکی باید څرگند کړم.

---

* واخې يا واخيان له وخ Wukh څخه د (ان) او (ها) د جمعې نښو په گډولو
سره چې په پای کښې ورسره يوځای کيږي، منځ ته راغلی دي. مارکوپولو دا سيمه،
ووکان Vokan او ابن حوقل وخش Wukhsh بولی (د مارکوپولو مارسدن Marsden
او د ابن حوقل اوسيلي Ouseley وگوری - ۱۸۳۸

ما د جاګزارت دریاب منبع یوځه وړاندې وښودله. دغه سیند د لویدځې خوا
شمال لوري ته خپله لاره تلې چې د هوروال په جهیل کې ترتو یېدو پورې دغې بڼې ته
پاېښت (دوام) ورکوي. دغه سیند د لویدیځ شمالي لوري ته د هوروال په جهیل کې
ترتویېدلو پورې خپله مجرا ساتي.

د آمو سیند د پوشتي خور Pooshteekhur له زړدې سیمې څخه چې د بېلوت تاغ یوه ځکه
څوکه ده او د بدخشان په ډېر وړاندې شمالي سیمه کې پرته، پیل کېږي.

د طول البلد تر ۶۳ درجو پورې د دغه سیند تګ لاره د لویدیځ خوا ته ده، خو له دغه ځایه
وروسته هغه تر هوروال جهیل پورې شمال لویدیځ سمت غوره کوي. د جاګزارت د دریاب
د منبع د شاوخوا په ځېږه سیمه کې کوچي قرغیزیان استوګنه کوي، خو له هغې برخې نه
چې د اسیند د غرو څخه هوارې ته ننوزي، د ختیځ طول البلد تر ۶۶ یا ۶۷ درجو پورې دواړه
غاړې یې د فرغانې ازبکي ټولواکۍ نیولې دي. دغې ټولواکۍ ته د هغې د مشهد استو-
ګنځې په نوم خوقند هم وایي. د ختیځ طول البلد له ۶۶ درجو څخه لویدیځ خوا ته د دغه
سیند شمالي غاړې لومړی قرغیزیانو او ور پسې قزاقیانو کې کړې دي چې دا
دواړه لرغوني قبایل په وندهمالتو نه ګڼل کېږي، د ختیځ طول البلد له ۶۶ درجو څخه
لویدیځ خوا ته سویلي غاړې یې یوه بېدیاده چې سویلي لویدیځ خواې غوره کړې او د
خراسان ترمسکونې سیمې پورې اوږد والی لري. د دغې بېدیا پلن والی توپیر مومي،
خو د څلوېښت درجو عرض البلد په شاوخوا کې یې پراخوالی اوه ورځې منزل ته رسېږي.
په دغه ځای کې دا بېدیا بخارا او ارګنج (ارګنګ) Orgunge ازبکي ټولواکۍ
له یوبل څخه جلا کوي، چې لومړی ټولواکي یې د کسپین په غاړه کې پرته ده
او بله یې د آمو، بېدیا او بېلوت تاغ د لومړني سیمې ترمنځ پرته ده. د دغو
ټولواکیو بڼه په تېره بیا د بخارا ځانګړتیاوې (مشخصات) د بېدیا په څېر دي
چې په زیاتو برخو کې یې په بېل بېل پراخوالي سره خړبې واحې خورې شوي دي.
د بېلوت تاغ لویدیځ او د آمو شمال خوا ته ټوله سیمه د ترکستان په نامه یادېږي.
دا نوم نه د بېلوت تاغ تر ختیځ پورې خواره شوې او له دې امله چې دوګړو
ژبه ترکي ده، نو ځکه ورته دا نوم یادوي، خو څه وخت چې ما ته ددې سیمې
دویش په باب وخت پیدا شو، نو زه به دا برخه چیني ترکستان وبولم او هغه بل
ترکستان به په خپله ترکستان یاد کړم. د تارتاري نوم په دغو سیمو کې څوک نه
پېژني.

د آمو او پاراپامیزوس غرو ترمنځ سیمه سره ددې چې د کابل ټولواکۍ یو
ولایت دی، باید د ترکستان سره ګډه شي (ځکه د هغې او سیند و ذکي زیاتره
ازبکان دي). ددې سیمې په ختیځ کې بدخشان پروت دی او لږ شمېر وګړي
لرونکې سیمه چې د شبرغان په لویدیزه څنډه کې ورسره ګډېږي، په خراسان کې

شامله ده . د دغې سیمې لوړوالی او لمنې د آمو خواته ټیټیږي . که څه هم د اسیمه وړه ده ، خو زیات شمیر واړه شهزاده نشین دولتونه پکې پراته دي . له بلې خوا دا برخه په غرو ، هوارې جبې او بیدیا سره بیلیدلای شي . زمونږ جغرافیا پوهان دا ټوله برخه د دغه ځای د نامتو ښار د بلخ په نامه سره یادوي . دا نوم دومره سم نه برېښي ، خو تر * هغې اندازې چې زه پوهیږم بل پوداسې عمومي نوم د دغې سیمې لپاره نشته او زه به ښایي دغې سیمې ته دا نوم په پر له پسې توګه یاد کړم چې په دې ډول به زما خیړنه د شمالي هندوکش په اب پای ته ورسیږي .

د هندوکش او همالیا (جنوب سره جوخت لګیدلې سیمې داسې غرونې کړي دي چې د همدغو سترو غرو په پرتله ټیټ او له هغو سره غبرګ غزیدلي دي ، په دې ډول په هغو سیموکې چې دالړی پرتې دي ، ډیرې غرنۍ او ځیږې ځای ښکاره وي . په د ځوغر نیو سیموکې آسام ، بوټان ، نیپال ، کاماان (Kamaoon) او سرینګر (Sireenuggar) منځ ته راغلي دي . په هغه ځای کې چې د استر غرونه (هندکش او همالیا) لویدیځ خواته ګرځي ، ټیټ غرونه ورڅخه لرې دي . د کشمیر لوړه ناوه له دې توسنه (سیبه) د دواړو ترمنځ پرته سیمه جوړوي . د کشمیر سویل لویدیځ خواته داسې غرنۍ سیمه پرته ده چې د پنجاب شمالي برخې یې نیولې (احاطه) کړې او د دغې وروستۍ برخې اوبه له همدغو غرنیو سیمو څخه راوځي . د پنجاب له پنځو سیندو څخه چې اوبه پکې بهیږي ، د هایداسپس سیند په یوازې توګه له کشمیر څخه تیر شوی او د شمالي خوا د دیروالو غرو څخه سرچینه اخلي . د کشمیر لاندې غرنۍ سیمه ده چې هلته د هندي نسل بیلا بیل راجاګان استوګنې لري . د پنجاب میدانونه او هوارې سیمې له یوې ورې برخې پرته په سګانو پورې اړه لري . د پنجاب له سویل څخه شګلنې دښتې پیل او د کچ خلیج د سرحد پورې پراخوالی مومي .

دغه بیدیا چې له ختیځ څخه لویدیځ ته څلور سوه میله پراخه ده په زیاترو برخو کې له وګړو څخه خالي برېښي او په ځینو برخوکې یوازې ټیټ او پرک کلي او د کرنې ځمکې لري . که د دغې سترې بیدیا ټوله برخه شګلنې غونډۍ ونه ګڼو ، نو بیا هم زیاته برخه یې له دغه ډول غونډیو او خاورینو کلکو میدانو څخه جوړه شوې ده . دغه میدانونه وچ او بې ګټې ګڼل کیدای شي . د دغې بیدیا شمالي څنډې چې د آسیسین غاړې جوړوي ، په برابره توګه خړبې او حاصل

* ـ دا به ښایي غوره وای چې دغې سیمې ته د باکتریا نوم استعمال شوای وای ، سره د دې چې د باختر نوم هم له دغې کلې څخه پاتې دی بیا هم اوس یوازې په کتابوکې استعمالیږي ، نور یادول یې له منځه تللی دي .

خیژه دي .

ختیزه خوایي دهند له شوکرنیزو ځمکو سره ګډیږي، په د اسې حال کي چې سویلی خوایي لهسمندرڅخهدکچ دسیمې پهوسیله بیلهشوې ده، لو یدیځې برخې به یې د اباسین د بیانو لو په وخت کی وڅیړم. داباسین سیند هند اوهغهسیمې سره بیلوي چې زه بهیې پسې بیان کړم .

اباسین (اندس) دهند وکش لهغرو* څخه سرچینه اخلی چې دالځاي دعرض البلد د پینځهدیرشو (۳۵) درجواو طول البلد له ۷۳ درجو له نقطې سره برابر دی. د اسین لومړی دسویل لورته ځی او بیا یې دسویل لوېد خوا غوره کړې ده، بالا خره په سمندر کې توېږي. داندس سیند (اباسین) دهندوستان اوکابل ترمنځ پنیځ برید (طبعی سرحد) جوړ کړی دی.

خوسره ددې هم په حقیقت کې دا ټول دریاب د کابل ټولوا کی په ولایاتوکې بهیږي اوټول په کابل ټولواکی پورې اړه لري. اندس تر کلهباغ اویادعرض البلد تر ۳۳ درجواو اوو ثانیو پورې په غرنیو برخو کې بهیږي، خولهدغې نقطې څخه دعرض البلدتر ۹ ۲ درجو پورې دا دریاب یوحاصل خیزمیدان چې کرنه پکې دومره زیاته نهده، پهدوو برخوویشی. ددغه ښاربه میدان ختیځ ته بیدیااولوېدیځ ته یې دسلیمان غرونه پراته دي چېر ته چې د شمالی عرض البلد ۹ ۲ درجوږ په شاوخواکې دسلیمان غرونه پای تهرسیدلی دي، په دغه ځاي کې داندس میدانونه دلوېد یځ خواته غزیدلی او نوي بریدونه یې منځ تهراوړي دي. دلته دشمال خواته یې یولړ غونډ ی چې له ختیځ څخه دلوېد یځ پهلوزاوږدوالی لري پرتې دي. دغونډیو دسلیمان غرو له ښې خواڅخه پراختیامونډلې ده. دمیدانونو لویدیځ خوا ته د کلات جګه سطحه، سویل تهیې سمندر اوختیځ تهیې اندوس پروت دی. دمیدانونو دابرخه دسیند په ایالت کې. ګډیږي (دسند ایالت دعرض البلد له ۳۱ درجو څخه پیل او تر سلندرپورې رسیدلی دی. او دسند دواړه غاړې یې نیولې دي). ددغهمیدانونو لویدیځ برخه یوه جغرافیایی سیمهجوړوي چې داکبرپه زمانه کې یې ور ته سیوسر تان (Seeweestan) نوم ورکاوه، اوس د اځای په ښه توګه د کچی (Cutchee) اویا (Catch Gandawa) کچ ګنداواپه نوم پیژندل کیدای شی، خو څنګه چې دادواړه نو مونه سړی پهشك اوخطا کې غورځوي، نو زه به ددغه ځاي لرعونی نوم ته غاړه کیږدم. دغه میدان ټیټ اوهوایې توده ده، په ډیرو

*– داچی هندوکش د سند یااندس (اباسین) سیند لپاره سرچینه جوړوي، دا به سمه نهوي. بلکې داسند د همالیا له سویلي لمنو څخه راوتلی دی .

ځایوکي حاصل خیزې مځکې لري، خو به ځینو ځایوکې داو بوله پلوه خوار دی.
دسلیمان غرونه *دبیلوت تاغ دوروستي سو یلي څوکې له نږ دې څخه چې د
هندوکش سره ګډېږي پیل شویدي اودهندوکش دغرو له سویلي څاخو سره نښتي
پر پښې. ددغو غرونو عمومي سمت دسویل خواته دی او په همدې لوري باندې
دعرض البلد تر ۲۹ در جوپورې دوام لري.

دسلیمان غروڅخه دختیځ خواته درې لړی غزېدلې چې له هغو څخه دوه یې
له اندس څخه اوړي، ددغو لړ یوموقعیت دعرض البلد د (۳٤) او ۳۲ درجو
ترمنځ شمېرل کیداي شي.

دسلیمان غرود پای ته رسیدو له نقطې یعنی دعرض البلدله ۲۹ درجو څخه یو لړ
غونډۍ دلویدیځ لو ر ته خورې شوې دي چې د کلات تر لوړې سطحې پورې
دوام مومي .

د کلات لوړه سطحه خورا زیات لوړوالی لري اود ٤۸ او ٦۷ درجوختیځ طول-
البلد او ۲٦ درجو، ۳۳ ثانیو او دېرشو درجو، پنځلس دقیقو (۲۵) ثانیوشمالي عرض-
البلد کرښو ترمنځ ساحه یې په غاړه کړېده. دا سطحه دجالوان (Jallawaan) او
سهروان (Sehraweun) ولایات، دکلات ناحیه چې دسیستان په ګډون دکابل
سلطنت (تولواکی) پورې مربوط ولایت بلوچستان دومنیونونه جوړوي، منځ ته
راوړي. د بلوچستان زیاتره اوسیدونکي بلوڅان ګڼل کیږي. دکلات لوړه سطحه
هرې خواته غرنۍ او شنډه ده. ددغې جګې سیمې جګه برخه دشمال خواته دکلات په
په نوم شهزاده نشین پایتخت سره پرته ده: په همدې جګوالي سره یې یوه وړه برخه
له سیستان سره هم لیدل کیږي چې د جګې سیمې دتل اوسمندرترمنځ پرته ده. ددغې
جګې سطحې په سویل لویدیځه خوا کې یو لړ غونډۍ او میدانونه دي چې د مکران
سیمه یې شاملیږي. اودشمالي عرض البلد ۲٦ او ۲۸ درجو ترمنځ پراختیا مومي.
دمکران شمال ته دمالګې بیدیا پرته ده چې دهغې وروستی ختیځه څنډه دجګې سطحې
دلویدیځ دیوالالاندې ځای غوره کوي. ددغې بیدیا شمال ختیځه څنډه ښايي په
کمزوري ګمان سره دختیځ طول البلد د ٤٦ او ٦۵ درجو کرښو ترمنځ وګڼو، څو چې
په دې ډول دشمالي عرض البلد تر ۳۰ درجو پورې ورسیږي له دغه عرض البلدو روسته
دابه ګرانه وي چې دهغې پولې وټاکل شي. دغه دښته دسیستان دکوچنۍ سیمې سره

*- آري اوسیدونکي ددغو غرو لپاره عام نوم نه لري اوتقریباً هیڅ یو
نوم یې داسې نشته چې په هر ځای کې ورسره خلک بلد تیا و لري. کو هې
سلیمان یاد سلیمان غرونه یوازې په کتابو کې ورته ذکر کیږي، سره د دې
هم دانوم ونه ددغو غرو نود لوید یځو برخوغونډیو دغر ګندولو لپاره په هغو
(کتابو) کې یادشوي دي.

لګېدلې ده او تر هرات پورې نږدې د پښتنو د اوسېدلو سیمې سره هم پوله لري چې له هغه ځایه بیا د استوګنې ور سیمه پیل کېږي او د یوې نرۍ وچې په څېر له دغې د ښتې څخه تر جاګک زارت پورې پراخته یا موسی دا سیمه په ځینو برخوکې غونډۍ لرونکې او په ځینو نورو برخوکې شګلنه او وچه ده، نو له دې امله په ډېر مشکل سره دا سې وړل کېدای شي چې دا سیمه د ښتې سره جلا کوي.

ښایي د بېدیا ځنډې په تردی و روسته دا سې و برېښي چې ور ته د بېدیا ښه ور کول او ښودل به ډومره غوره نه وي. په ځینو ځایو کې دا بېدیا د مېشت شویو سیمو و خوا ته دروسی، له بلې خوا د هلمند سیند غاړې چې د سیستان د جهیل په لور له بېدیا څخه تېرېږي ډېرې ښې او د کرنې لپاره چمتو دي.

زه اوس کولی شم چې د افغانانو د هیواد پیچلې حدود و کاږم شمال خوا ته یې د هندوکش او پارپامیزاد غرونه پراته دي. (۱) د اندس سیند د دغه هیواد ختیځه پوله د خپل جریان په اوږدو کې جوړه کړې او تر هغه ځایه چې دا سیند غونډیو (هغه غونډۍ چې پاس یادې شوې او د کلات سیمه جوړوي. مترجم) ته نږدې کېږي افغانی سرحد هم ورسره دوام لري په بله وینا دا پوله د سیند په اوږدو کې د سویل خوا ته د عرض البلد ۲۳ درجو او ۲۰ ثانیو پورې اوږدوالی مومی. د اندس سین په ښی غاړه میدانی سیمه کی د (۳۲) درجو او ۲۰ ثانیو عرض البلد لاندې سویل خوا ته د بلوچستان برخه ده چې بلوخ پکې مېشت شوي ي. سره له دې هم د سلیمان غرونه د فرعی ښاخو په ګډون د هغو سیمو سره جوخت د دغو غرونو په لمنه کې پراته ي په افغانانو پوری اړه لري. هغه غونډۍ چې مخکې یادې شوی او د سیستان برید تا کی د افغانانو د هیواد سویلی سرحدې کرښې جوړوي. د دغو غرونو په شمال کې پرتې افغانی سیمې په لومړي سر کې د سملاسی لویدیځ لور ته دومره پراختیا نه لري چې د کلات ترجګې سطحې پورې ورسېږي.

خو لږ څه پاس د شمال خوا ته افغانی سیمه له دغې جګې سطحې څخه لویدیځ خوا ته آوښتې څو چې بېدیا ته رسېږي او دغه دښته د هغې شمال لویدیځه سرحدي کرښه جوړوي. دا به ګرانه وي چې د دغې غیر منظمې سرحدي کرښې څرګندونه تر سره شی، خو یوازې دومره امکان لري چې د دغو سرحدي کرښو په عمومی سپړ نه (تشریح) کې د هغو ترمنځ د پرتو سیمو په باب یو څه مفکوره لاس ته راوړل شی. دا سیمې د جګوالی، اقلیم، خاورې او حاصلاتو له پلوه ډېرې جلا او یو له بله توپیر مومی زه به اوس دا هڅه و نه کړم چې دا سیمې په جلا توګه وڅېړم، خو دومره باید

(۱) دا سی ښکاری چې د افغانانو د هیواد د حدودو په باب د لیکوال معلومات پوره دقیق نه دی، لکه چې پخپله هم د دغې موضوع پیچلتوب ته اشاره کوي (مترجم)

وو ایم چې د سلیمان غرو لویدیځ خوا ته د افغانستان خاوره تر ګاونډیو سیمو ځکه پرته ده. هندوکش چې د هغه شمالي دفاعي سنګر دی د بلخ د ټیټو او پرتو سیمو څخه ډیر جګ او د هغه هواره مځکه ورته لاندې معلومیږي. دغه راز د ختیځ خوا ته هم د اندس سیمه په هماغه اندازه ورته ډیره ټیټه ده او د هغه ختیځې غاړې ورباندې جګې دریدلې دي. سویل خوا ته د اهیواد د سیستان په پرته سیمه باندې جګ پروت دی په داسې حال کې چې د بولان ژوره ناوه په سویل لویدیځ کې د هغه او د بلوچستان ترمنځ غزیدلې ده. د دغه هیواد لمنې ورو ورو د لویدیځ لور ته له بیدیا سره یو ځای کیږي. مځکې تر دې چې د غه خاوره په شمال لویدیځ کې د پاروپامیزاد غرو ته ورسیږي، غرنۍ بڼه له لاسه ورکوي. د کلات جګه سطحه هم باید د دغې برخې چې ما پورته بیان کړه یوه برخه وي، خو هواره سیمه چې د بیدیا لور ته غزیدلې ده د بولان درې په ګډون چې بیلوونکې کرښه ده، د پامنې مځکې څخه ګوښې شمیرل به یې سم وي. افغانان د خپل هیواد د پاره یو عمومي نوم نلري، خو د افغانستان نوم چې ښایي د لویدیځ لپاره په پارس کې استعمال شوی وي (۱)، یوازې په کتابونو کې ښکاریږي او د دغه ځای اوسیدونکي ورسره نااشنا نه دي نو ځکه زه به په راتلونکو بحثونو کې دا نوم او د هغه سرحدونه اوس و نه ښودلای شم د ۶۸ درجو او ۳۰ ثانیو طول البلد لویدیځ ته پراخه سیمه چې د مقر په استقامت سره برابره پرته ده، د هغې سیمې برخه ده چې د خراسان نا ستوا یالت په نامه هم یادیږي. د خراسان پاتې برخه چې (حدود یې د آموسیند او هغه بیدیا چې د اسیند پکې بهیږي د سالت بیدیا او کسپین ترمنځ ټاکل کیږي) په پارس پورې اړه لري. کرمان چې یو وخت په خراسان کې و د سیستان په شان اوس هم غالبا په کې راتلای شي.

---

(۱) د الفنستن په وخت کې د ټولو لویدیځو خاورو د پاره چې د پښتو پلچایانو تر واکمنۍ لاندې وې د خراسان، افغانستان، پښتونخوا، او وه نوم نه پکاریدل، او یو ځانګړی نوم چې د ټولو دغو سیمو د پاره چې د عامو خلکو له خوا په متفق ډول منلی شوی دي، نه استعمال لیده. (مترجم)

دویم څپرکی

دافغانستان غرونه

یوځه مخکې مې دهند وکش د ستروغرونو عمومي سمت او پروتوالی وښود . دغه راز د دغو غرونو لاندې (سویل خواته) ټیټ غرونه مې دختیځ په لور تراندس یا اباسین پورې څرګند کړل . زه په اوس دافغانستان دهغې ځانګړې برخې سپړنې ته دوام ورکړم چې شمالي لوری یې احاطه کړی دی .

له اندس څخه دطول البلد تر ۷۱ درجو پورې داغرونه (هندو کش . مترجم .) لویدیځ پلوته امتداد لري ، خو له دغې نقطې څخه وروسته د هغو لوری نه څرګندېږي . که پوښتنه د دغو غروته له سویل څخه وګوري ، نو دهغو څوکې به داسې ورته وبرېښي چې ګوندې دده لورته یې په زیاته اندازه کوږوالی موندلی ، خو زموږ معلومات په دغه برخه کې شکمن دي چې آیا په رښتیا دغسې کوږوالی لري او که دغه اصلي غرونه دلویدیځ لورته خپله لاره او سمت ساتي او یوازې کوم ښاخ دسویل خواته ترې بېلېږي یا داستر غرونه په دغه برخه کې د بېلوت تاغ غرو په وسیله پرې شوي دي او په هغه ځای کې چې بېلوت تاغ له دغو غرو سره نښلي ، نو مخامخ خوا یې یوځه کوږوالی مومي .

له اندس څخه تر دغه کږوالي پورې د دې غرونو په باب پوره معلومات لرو او داغرونه مې له پېښور څخه څو میاشتې په پرله پسې ډول لیدلي دي .

دغرونو ددغې برخې څرګندونه به ددغې سترې لړۍ د وروستۍ برخې لپاره یوه مفکوره برابره کړي . د ۱۸۰۹ کال دفبروري دمیاشتې په ۲٤ نېټه د پېښور هوارې او میداني سیمې ته په داخلېدو سره شمال خواته د غرو څلور جلا جلا لړۍ لیدل کېدلې چې یوې تر بلې لړۍ یې واورې نه درلودې . د دویمې لړۍ پر څوکو اورې پرتې وې ، دغه راز ددریمې لړۍ تر نیمایي پورې واورې راښکته شوې وې .

څلورمه لړی د هندو قفقاز اصلي غرونه دي چې مخ یې په دایمي واورو او ګنګلو پټ شوی او د باکتریا او د هند له سرحدونو څخه په برجسته توګه لیدل کیدای شي، دغه شان د تار تاري له دیرو لیرو سیمو څخه بریښي. دا غرونه موږ د لومړي ځل لپاره له سل میلی واټن څخه ولیدل، خو که غونډۍ زموږ د تګ په لاره کې نه وای، نو کیدای شول چې له ډېر لیرې واټن څخه هم دا لړۍ وو ینو (۱) له بلې خوا دا باید وو وایم چې په ښکاره خو دا غرونه ډیر نږدې بریښیدل حتی د دوی موږې او ګو ګو نه په څرګنده توګه بریښیدل، دغه ډول څرګندیدنه چې د روڼ والي او چټو والي سره له لیرې واټن څخه سترګو ته راتل، بره په زړه پورې او څرګنده اغېزه یې کوله. دغه واورې لرونکې لړی د اوږوالي له پلوه په ټولو برخو کې یو شان نه دي. په ځینو یو کې یې په ډېر جګوالي او پراخوالي سره څو کې ختلې دي؛ د غرونو دا برخې او څوکې داسې نرۍ نه دي چې په یوه نقطه باندې پای ته ورسیږي بلکې د غرو له ټول څخه په هیښونکې غټ والي او برجسته توګه هسکې و تلې دي.

د دغو غرونو هیښونکي جګوالي، د هغو د اوږو څوکو برم او تو پیرونه، هغه بیل بیل ملتونه چې دا غرونه ویني او همداشې د دوی یو ځای کولو وسیله بریښي، لنډه دا چې و یرونکي ډېر له پسې ځانګړتیا او ګومبې توب چې د دې ځای په دایمي واورو برخو کې وا کمنې لري ټول هغه څېزونه دي چې ذهن د هېنتیا او تحسین خواته بیا یی او په هیڅ ژبه سره یې دغه ټولې ځانګړې تماوې بیانیدلای نشي. د دغو څوکو په لړ کې د یوې لوړوالي د بر یدمن مکارتني له خوا اندازه شوی و او داسې ښکاریده چې ۲۰٤۹۳ فوټه به وي، که دا کچه سمه وي نو د هندو کش د څوکو لوړوالي انديز (Andes) تر غرو زیات دی. هغه اندازه چې برېدمن ویب (webb) د «اسیا یي پلټنې» په یولسم ټوک کې ښودلې، دا څرګندوي چې د همالیا تر غرو د هندوکش جګوالي لا هم زیات بریښي د هند وکش لوړوالي بیله شکه ډېر زیات دی ځکه چې د جون په میاشت کې هم موږ د دغې لړۍ په کومه برخه کې د واورې لیږوالي و نه لید، په داسې ترڅ کې چې په دغه وخت کې تر ما سیتر د پیښور د ناوې تودوخه د فارنهایت ۱۱۳ درجې ښودله.

د هندوکش د فرعي لړ یو لوړوالي د اصلي سلسلې څخه د هغو د واټن د لریوالي په پر تله لږیږي. یعنې هر څومره چې د اصلي لړۍ څخه یې فاصله لیرې وي، په هماغه اندازه یې جګوالی کمیږي. د هندو کش د اصلي لړۍ ډېر ې جګې برخې لوڅې او د نبا تاتو څخه خالي دي، خو لمنې او د فرعي لړیو ټولې برخې په ونو پټې دي سره د دې چې له

(۱)- دا ماس (Imaus) (یا همالیا) غرونه مې د ۱۵۰ میلی واټن څخه ولیدل خو زه باور لرم چې له ۲۵۰ میله واټن څخه هم لیدل کیدای شي.

هوارې سیمې نه یوازې دري لرې بېلې بېلې ښکاري خو که له نږدې څخه ورته وکتل شي او یاد اچې مخکې له دې چې دوا ورو موږ ورته ورسېږو ښا یي چې له دېرو نورو لرېو څخه هم تېر شو. د لومړۍ او دویمې لرې ترمنځ یوه هواره مېداني سیمه ده او ښا يي چې ډېرې لوړې لرۍ هم د تنګو او زیاتو لوړو درو په واسطه یو له بل څخه جلا شوې وي. داسیمه ترهغه ځا یه پورتنۍ لرۍ سره پېلوي خود زیاتې لوړونکی زېږوالی او ناهوارۍ له امله په غر ګنډه ول نه ښکاري او د لرېو تر منځه تر پېرد زیا تو غرو د ښکارېدلو له کبله له منځه ځي .

داصلي لرۍ له موږې څخه درې ښاخو نه جلا شوي او ښی ارخ ته تر ټېټو غرو پورې غزېدلې دي. لومړۍ ښاخ له اندس سره نږدې دی او د توربېلې (Torbaila) په مخامخ نقطه کې پای ته رسېږي. بلهٔ ښا نګه یې ډېره پراخه ارجګه ده چې ایلم Ailam په نوم یادېږي. دا ښاخ له لومړۍ څخه د بونېرد ناوې په وسیله جلا شوی دی . دریم ښاخ له ایلم څخه دسوات د ناوې په وسیله بېل شوی دی. د پنجکوړې ناوه له شمال لو یدیځ څخه دسوات ناوې ته ورګډ یږي .ـ دغه وروستۍ لرۍ تر نورو دوارو ښاخوډېره پراخه ده او دسویل خوا ته دومره اوږده ده غزیدلې چې د سپین غره له تل سره چې د سلیمان غره وروستی شمالی برخه ده لګیدلې ده.

دهندوکش د دې فرعي لرۍ جګوالی لږ دی ، خوډېره زېږه ستوغه او کړنګ و زمه شمېرل کیدای شي. دغه غرونه د نښترو او ځنغوزو په ونو پټ او داتما نخیلو ـ قبیله یکې مېشته شوې ده. د دغه ښاخ او سویلی راوتلې ترمنځ د باجوړ ټیټ او تود او ارمیدان پروت دی .

له یوې غر ګنډونې څخه داسې انګیرل کیدای شي چې داټیټې غونډۍ او غرونه دسوات په برخې پورې تړلي دي . په دغه سیمه کې د غرونو د پاسه ځلور میاشتې واوره د کال په اوږدو کې پرته وي. دغونډۍ یو او غرو سرونه لږې ونې لري ، خو لمنې یې د نښترو، څېړ یو او ځنګلي ښونو (زيتون) په ونو پټې دي. د دغو غرنیو برخو په ښکتنۍ برخه کې ډېرې زیاتې ښکلې وړې درې شته چې پاکې او رڼې اوبه پکې بهیږي او ډېره په زړه پورې هوا لري. د دغو ناوو په غاړو ډېر يمانه مېوې او ګلان شته چې په وحشي توګه د زیاتو ډولو او بشپړې ودې سره لویېږي. په دغو غرونو او غونډیو کې ډېر زیات ښکلي سرخس (هغه پاسته بوټي چې تخم او ګلان نه لري او پنډبنډ نه رلري) او یا هم دغه بوټي ته ورته نباتات لیدل کېږي ، نور پاسته بوټي په تېره بیا په ډېرو باندې د ښا بسته خزو (Mosses) پر يمانه مرغې د دغې سیمې طبیعي ښکلا زیاتوي . د اصلي او ستري درې په منځ کې د سوات سین بهیږي او د دغې ناوې سمسو را او کمسوره میدان او به کوي ، چې په کال کې تری دوه واره حاصلات لاس ته راځي . په دغه میداني حاصل خیزه سیمه کې ډول ډول غلې کیږي.

د کینول شوو میوه دارو ونو په څنګ کې بې شمېره د توتانو او چنارو (Plane) ونې هم لیدل کیدای شي. د بونیر غونډۍ او غرونه هم د سوات غرنیو برخو ته ورته دي. دلته یو زیات شمېر کوچنۍ درې سره یوځای شوي او یوه ستره ناوه یې جوړه کړې ده. په دغه لویه ناوه کې د بورندو (Burrundoo) ویاله د سویل ختیځ خواته بهیږي. د بونیر ناوې نرۍ او د سوات د روپه څیر زیاتې اوبه نلري، نو له همدې امله دومره زیاتې سمسورې او حاصلخیزې ګڼل کیدای نشي.

زه اوس هغه جوت کوږوالي ته راځم چې د هندوکش له سویل څخه لیدل کیږي او د لویدیځ خواته له باجوړ نه پاس او جګ پروت دی. دغه کوږوالی د هندوکش د ډېرو نیږدې برخو او شاخو په ګډون د نورستاني خلکو د استوګنې ځای ګڼل کیږي. دا خلک ډېر عجیبه او په زړه پورې وګړي دي. د دوی سیمې ته ختل د سختو ګړنګو، ژورو او نریو کوڅو له لارې په ډېر ویرونکي ډول سره کیدای شي چې د پر ځاله غره څخه د ډېرو د رغړیدو په وسیله زیاتو نوونه ورسیږي. د ډېرو رغړیدل د باران، باد، وزو او وحشي حیواناتو له امله چې د ګړنګو نو د پاسه ځري صورت نیسي نورستانیانو په یوه زړه پورې سمسوره نقطه کې چې سوربې کم او نرۍ ده استوګنه غوره کړې او په زیاته اندازه انګور تولیدوي. د دغه ځای زیاتره برخې د اورې په ذریعه پټې شوي دي. د نورستانیانو سیمه د هندوکش د دغه کوږوالي لویدیځه زاویه نیسي او لا هم لویدیځ خواته د هرونو موري (ژی) یې تر پاراپامیزوس غره پورې نیولی دي.

هغه ځمکې سیمه چې د هندوکش د سویلي غرمه (فرعي) ټیټو غرو څخه جوړیږي ډېره نرۍ او زیږه ده په تېره بیا د اجالات د سویلي کوږوالي په نقطه کې د پر غرګنډ لیدل کیږي او هم دغه ځای دی چې اوږې لرونکي غرونه سملاسي د جلال اباد ټیټې سیمې ته راکښته شوي دي. کله چې د هندوکش اصلي لړۍ د کوږوالي وروسته بیا خپل لویدیځ ملوغوره کوي نو ورسره جوخت غرمه غرونه خپل پراخوالی او نیږې د هغو په تل کې څرګندوي وروسته دا غرونه د کوهستان یا د کابل جګه سیمه او غرنۍ برخه جوړوي چې پکې زیات سیندونه بهیږي دا سیمه تر سوات هم ډېره زیاته په زړه پورې ګڼل کیدای شي.

د دغو درو طبیعي بڼه په دغه ځای کې تر هغو ښه څرګندیدای نشي څو چې زه هغه سیمه او برخه چې دا ټول سیندونه ورته راوتلي څرګنده نه کړم دا د کابل سین ناوه ده چې د هندوکش سویلي کوږوالي د سلیمان له غرو څخه جلا کوي. دا ناوه د یو لړ پرله پسې مورو او غونډیو د غوځیدلو څخه منځ ته راغلې ده. د دوی ترمنځه پراخوالی اوس په ځینو ځایو کې ۳۵ میلو ته رسیږي.

دا دره ختیځې خواته د غونډیو په واسطه احاطه شوې ده چې پرله پسې له هوې لړۍ غرو څخه د بلې خواته دوام لري، سره د دې هم که د غونډیو له ډېرې ټیټې ارتفاع

ښخه وکتل شي نوکېداي نشي چې دغرونو دلړۍ دوام له هغو ښخه وینو. ددغو غونډ-
یو له یدیځ خواته دجلال اباد هوار میدان پروت دی، له دغه ځای ښخه د لویدیځ لورته
سیمه وروورو غرنی بڼه غوره کوي ،چې که څه هم ګنډمک دسویلي سیمو او باد
سلیمان د غرونو او غونډیو په مقایسه په هواره برخه کې پروت
دی خو د جلال آباد په پرتله په غره کې پروت ښکاري. د کابل سیند
د پورته بادې شوې سیمې په منځ کې بهیږي لکه چې وړاندې مې هم وویل
، په دغه برخه کې دکابل سیند تول سرستیالان او ناوې خپلې او به اصلي
سیند ته توییږي. ددغو سیندونو په لړ کې لومړی دکونړ ناوه ده چې د
باجوړ او یدیځ خواته پرته او په هغه کې د قاشقار سیند خپلې او به
دکابل سیند ته رسوي. دکونړ دلاندنی برخې هوا ډېره توده ده، په داسې
حال کې چې پاسنۍ برخه یې په یو لړ تنګو دروکې پای ته رسیږي.
د دغو تنګو دروند لړ ښخه زیاتره یې شمال لویدیځ خواته یعني دکونړ
غره (Coond)واوړې لرونکو څوکوخواته کږېشوې دي. په کونړ کې یو ٧
دول خلک میشت دي چې ددیګان په نوم یادیږي او زه به یې وروسته وڅیړم.

دکونړ ښخه شل میله د لویدیځ خواته دمندرور (Mundroor) په برخه کې
دالینګار سیند دکابل سیند سره ګډیږي. دالینګار سیند داسې یوه ناوه جوړوي چې په
پاسنۍ برخه کې دوه نورې درې داسې ورسره نښلي چې د(٧) عدد بڼه غوره کوي،
ختیځه دره یې دالینګار او لویدیځه یې دالیشنګ په نوم یادیږي. دواړه درې دشلو
میلو په اوږدوالی دغرونو په منځ کې پرتې دي. دغه درې دجلال اباد (دالفو-
نستون مقصد ننګرهار پاسنۍ برخه ده. مترجم) میدانی سیمې په ګډون د لغمان
سیمه منځ ته راوړي. الینګار یوه پراخه ناوه ده چې غلځي پکې میشت دي. ددغې
درې پاسنۍ برخه دکونډ (Coond) خواته کیږي. دلته هر دول غلې لاس ته
راځي. ددغې درې په شپږ او کینه خواکې ډېرې تنګې ناوې راوتلې چې ځینې یې
یوازې دنر یو څو کو په واسطه دکونړ دناوو ښخه جلا کیږي. الیشنګ یوه نرۍ
ناوه ده، چې په اوږدو کې یې تنګې (فرعی) درې لرې لیدل کیږي. دا ناوه د مسلمان
شوونورستانیانو استوګنې ځای ګڼل کېداي شي په بله وینا دلته هغه نورستانیان
اوسیږي چې خپلې پخوانی عقیدې یې له لاسه ورکړي دي.

داوزبین (Dozbeen) کوچنۍ دره چې غلځي پکې میشت دي، دلغمان لویدیځ ته
پرته ده چې وروسته دتګاو ددرې خوله دکابل سین ته په هغه برخه کې وتلې چې د پنجشیر سین
دکابل له سین سره یو ځای کیږي. دتګاو دره ددغو یادشوو درو ښخه اوږده ګڼل کېداي
شي چې په لاندنی برخه کې یې صافي اوسیږي (صافي دافغانی قبیلو په لړ کې یو جلا او خپلوا-
که قوم دی چې زه به ښایي وروسته وخت ورلرم چې یادې یې کړم. خو پاسنۍ برخه نری او
دومره زیاته حاصلخیزه نه ده. په هغو ځایونو کې زیاتره کوهستانیتاجک ژوند کوي،

د دغو درو خولې په هماغه تناسب چې لویدیځ خواته دي، لوړې دي. په تېره بیا د اوزبین او تګاو د روخولې په دېره ښه اندازه تر نورو لوړې بریښي او د کابل اقلیم لري، له دې امله کله کله دا درې د کابل په کوهستان کې (۱) حسابېږي (۲) په داسې حال کې چې په سمه او رښتیاني توګه د کابل د کوهستان په سیمه کې یوازې د پنجشېر، نجراب او غوربند درو خولې د فرعي درو په ګډون راځي. د خرمه (فرعي) درو په لړ کې د یرې غوره یې سنجن (د نجراب او پنجشېر ترمنځ) او دورنامه، صالح او اونګک او د پنجشېر او غوربند ترمنځ ګڼل کېږي. تر کوهستان لاندې سویل خواته د کوهدامن سمسور میدان د هندوکش د لمنو په منځ کې پروت دی.

د پاروپامیزین لړۍ چې د کوهستان لویدیځې برخې څخه چا پېره شوې له ختیځ نه تر لویدیځ پورې د ۳۵۰ میلو په اوږدوالي او له شمال څخه تر سویل پورې د ۲۰۰ میلو په سور خوره شوې ده. په دغه ټوله ساحه کې داسې حیرانوونکې غرونه پراته دي، چې د یرخاص- څرګند او غوره معلومات هم نشي کولای چې هغوی سم څرګند کړي او سره د دې چې د الحای دایماقو او هزاره وو د استوګنې سیمه ده خو تګ او راتګ وته ګران دی. په دې باب کره جغرافیایي معلومات لاس ته راتلای نشي.

په دې برخه کې به دا څرګنده شي چې د ټه د هندوکش لړۍ هغومره لوړې نه دي چې د هغو غرونو ترمنځه چې چا پېر ترې پراته دي او چټ ښکاره شي او د دایمي واورو له کبله پټې ولیدل شي. د دغو غرونو ختیځه نیمایي سیمه هزاره وو نیولې ده، دا برخه د یره سره، زېږه او بربنډه بریښي چې هوارې نقطې یې لږ څه کرل کېږي. د غونډیو لمنې یې د یرې ریونده او له بوټو څخه لغړې دي د غرونو په لویدیځه نیمایي برخه کې ایماق میشت دي، سره د دې چې دا برخه یې څه پراخه ناوې لري او په ښه ډول کرل کېږي خو بیا هم تر اوسه پورې داسیمه خواره او وحشي بریښي. د دغو غرو شمالي برخه نیغ په نیغه د بلخ د ولایت د هوار و دښتو خواته ټیټېږي چې د دغې خوا ویچومې (مخ په لوړه دده) له سویلي ویچومې څخه زیات دی، یوازې په لویدیځ او سویل لویدیځ کې برعکس احتمال زیات لري (۳). په شمال لویدیځه خوا کې دا غرونه ورو ورو د ېدیا په ځنډو کې په میدانو کې ورک کېږي.

- د تاجک نوم ټولو هغو افغانانو ته چې په فارسي ګړېږي او آره ژبه یې فارسي وي ورکړل شوی دی. (۱) ښایي د کابل کوهستان څخه به یې د کابل غرونه مقصد وي نه دا چې د کوهستان سیمه و ښيي. مترجم.

(۲) د اوزبین او تګاو درې د ختیځ لوري له درومره پرتله شوي دي. مترجم)

(۳)- د الفنستون تحلیل په دغه برخه کې سم نه دی ځکه د هندوکش شمالي ویچومې له سویلي څخه لږ دی او یا په بله وینا د شمالي خوا لمنې په تدریجي توګه د بلخ خواته ټیټېږي نه دا چې په سملاسي او نیغ په نیغه ډول. مترجم.

د دغې ټولې سیمې د غرونو د دې لویدیځ خواته کېږي دي. د سلیمان غرونه د سفید کوه یا سپینو غرو تر نامه لاندې ځکو غرو څخه پیل کېږي . د سفید کوه یا سپین غر نوم له دې امله ورته ایښول شوی دی چې دا غرونه تل په واورو پټ دي (۲) . سپین غر د هندوکش د وتلې برخې په جنوب کې ولاړ دی او له هغه غره څخه یوازې د کابل د سین د وادي (ناوې) په واسطه بېل شوی دی. له دغې درې څخه د سپین غر غروږه په ریوندېتو که پورته شوي او په دغه برخه کې رغړیدونکې پېچومې لري. دا غرونه دا تما ځېلو د غونډیو او نورو فرعي لړیو په واسطه له هندوکش سره لیکیږدلي چې د کابل د سین له یوې خوا نه بلې خواته غزیدلي دي او په ځینو ځایونو کې د اوبو د تېزوالي سبب گرځیدلي و ځروبې یې جوړ کړي دي. د دغې اړیکې له امله د سلیمان غرونه هندوکش او حتی کیدای شي چې د بیلوت تاغ د لړۍ دوام یې وبولو، خو سره د دې هم دا بېد یره ښه وي چې د سلیمان غرونه په جلا توگه یوه لړۍ وگڼل شي. له سفید کوه وروسته د سلیمان غرونو د یرې جگې سوړې د سویلي برخې سویل ختیځې خواته ځي او د ځر یوب (اصل یې آریوب دی . مترجم) سره نږدې د ځایو له سیمې څخه تېرېږي . د دغه ځای په سویلي دوولس میلي کې د کرمې سین دا غرونه پریکړي او څېله لاریې پکې ایستلې ده. وروسته بیا دا غرونه د سویل خواته وړاندې تللي او د ځدرانو غرنۍ سیمه جوړوي چې د اته له ۳۳ درجو شمالي عرض البلد څخه جنوب خواته آوښتې دي. له دې ځای څخه وړاندې د دغې لړۍ موقعیت او د موړولار شکمنه کېږي. د ځدرانو له سیمې نه مخ په وړاندې د هغو تگ لار او حتی دوام د زیاتو پوښتنو وړ دی، خو لکه چې دا یقیني ده هغه جگې غونډۍ او غرونه چې له کانی گرام څخه تر ارگون پورې مسافرین په دوو ورځو کې ترې اوړي په یو کلک گومان سره هماغه لړۍ ده داسې هم انگیرل کېږي چې لړ د سویل خواته وړاندې د گومل د کیڼې غاړې غرونه هم د دغې لړۍ دوام دی. دا هم باوري ده چې له ځدرانو څخه تر گومل پورې یوه غرنۍ سیمه ده چې د ښترو ځنگلونو پرې میوري کړي او د وزیرو غرنیو خلکو لپاره پناگاه شمېرل کیږي. له گومل وروسته د سلیمان د غرو موقعیت او لار بیا ښکاره شوي او د شیراو نیوا و ز مریو په سیمه کې دوام لري. دلته د عرض البلد ۹۲ درجو ته رسېږي او داسې ښکاري چې پای ته رسیدلی ده.

-(۲) افغانان د سفید کوه په نامه غرونه سپین غر غرونه بولي چې لومړی نوم پارسي او دویم یې پښتو دی چې هماغه مانا ورکوي . دا باید ووایم چې ما د خبرو اتو په وخت کې له افغانانو سره د پارسي ژبې عبارت او کلمې بکار ولې، په داسې ترځ کې چې دوی به هرو مرو پښتو کلمې کار ولی .

سره‌ددې چې دسليمان دغرونو لوړوالی ترهندوکش ډېر لږدی، خو بيا هم ديادونې وړدی. دسليمان دغرو ډېره برخه په‌حقيقت کې دهغو د پېل کېدو په ځای کې ليدل کېږي. سپين‌غرد کال په‌اوږدو کې په‌واورو پټ وي، خو ددغو غرونو نورې برخې دپسرلي د پای ته رسېدو وروسته واوره نه‌لري* (مقصدې دسليمان غرونه‌دي. مترجم) سره‌ددې‌هم ددغې لړۍ هغه ځايونه چې دسويل‌خواته دشمالي عرض البلد د۳۱درجو سره پراته دي، دژمي په‌اوږدو کې واوره لري چې په‌داسې ټيټ عرض البلد کې دذکر وړ لوړوالي يو ثبوت دی.

دسليمان دغرونو هغه برخه چې وزيري کې مېشت دي ښايي له‌شاوخوا سيمو څخه دهماغو سيمو په‌اندازه لوړه‌وي چې په‌ځدرانو پورې اړه لري خو بشپړ لوړوالی يې لږدی، ځکه چې ددغو غرو لمنې دسويل‌خوا ته ډېرې ټيټې شوې دي. دوزيرو دسيمې په سويلي برخه کې داغرونه دګومل‌سيند په‌وسيله پرې شوي او په‌دغه ځای کې يې جګوالی په دواړو سيمو کې لږدی، خو دشير او نيو په سيمه کې يو ځل بيا لوړ شوي اودکسي جګ غرېي جوړ کړی دی. ددغه غره جګه‌څوکه دسليمان تخت په نوم يادېږي. دغه جګه‌څوکه چې دسليمان دلړۍ هسکه نقطه‌ده، دکال په‌اوږدو کې درې مياشتې په‌واورو پټه‌وي او په‌شاوخوا غرو کې تردوو مياشتو پورې پاتې مومي. دزمريانو سيمه په يقيني توګه دکسي غره دزياترو برخو په‌شان هسکه ده، خو زه له‌دغې نقطې څخه دسويل خواته دغره نور جګوالي په هکله قضاوت نه شم کولای او دامې وسايل نشته چې دهغو له مخې ددغې سويلي سيمې ځانګړتياوو او جګوالي په برخه کې ترې ګټه استفاده وکړم.

دافغانستان له‌سويلي بريدکرښې څخه دشمال په‌لور دګومل ترسيند پورې دسليمان له غرونه ترهغو ټيټو ځمکو پورې چې داندس (اباسين) په‌ښۍ غاړه کې پرتې دي ځوړوالی او ټيټوالی يې ډېر زيات او سملاسي دي، په بله‌غاړه کې يې که څه هم سر ځوړي هم‌داسې بريښي، خو بيا هم هغومره د پاملرنې وړ نه‌ده. دسليمان دغرونو دلويديځ خوا برخه ترختيځې برخې ډېره جګه‌ده.

دګومل‌دسيند شمال‌خواته دسليمان دغرونو دلويديځ اوختيځ په‌دواړو خواوو کې يو لړ ټيټ و پړک ټيټ غرونه او غونډۍ خورې شوي دي، خو ترهغه ځايه چې زه تصور کوم دختيځې خوا مخ په ځوړې ټيټېدل کټ سټ دلويديځې خوا د ټيټېدلو غوندې ورو ورو او په تدريجي ډول دي په‌لويديځه خوا کې ميداني او پرته سيمه هسکه شوې څو چې دغونډيو له لمنو سره ددغې برخې دنورو زياترو ځايو په څېر چې دسو- يل‌خواته پراته‌دي، يو ځای کېږي.

*- له‌دغې څرګندونې څخه داسې څرګندېږي چې الفنسټون دسفېدکوه ياسپين غرغرونه دسليمان دلړۍ برخه ګڼي. مترجم.

دسلیمان دغرو په ختیځه برخه کې دوه نورې کوچنۍ لړۍ هم شته چې دسلیمان دلړۍ په ختیځه برخه کې د افغانستان له جنوبي سرحد. ونو څخه بېلې او لږ تر لږه دروغزي ترعرض البلد (۳۲ درجې او ۲۰ دقیقې) پورې غزیدلې دي.

دفرعي سلسلو په لړ کې لومړۍ یې تر آروغرو پورې تېره ده، دویمه لړۍ یې تر لومړۍ فرعي لړۍ لا پسې تېره شوې او ددغې او لومړۍ فرعي لړۍ تر منځ ځمکه زما په تصور زېږه ده خو د شیرانو او نورو قبیلې خلک پکې کښت کوي.

دغه تولې لړۍ دهغو ادي ګانو په واسطه دوه ځایه شوې چې د لویدیځې خوا له لوړو برخو څخه غزیدلې او د دامان خواته ویالې ترې بهیږي، خو نورې ویالې له اصلي لړیو څخه بېلېږي او په هغو وادي ګانو کې بهېږي چې کوزنۍ لړۍ یې دوه برخې او نیمایي کړې دي.

سلیمانی لړۍ داسې ښودل شوې ده چې له کلکو تورو ډبرو څخه یې یوځایوالی یا ترکیب موندلی دی، بله لړۍ یې په برابر کلک والي له سرو ډبرو څخه منځ ته راغلې ده، خو ډېره تېره لړۍ یې له ماتېدونکو خړو شګلنو ډبرو (سېنډسټون) څخه جوړه شوې ده. د دغو تولو غرونو سرونه بربنډ دي، خو دجګې لړۍ لمنې او دډې په ګڼو ځنګلو په تیره بیا په نښترو پټې دي او نورې یې د زیتونو په ځنګلو باندې پټې دي. د ډېرې تېټې لړۍ زیاتره برخې لوڅې دي، یوازې په ځینو کوټونو کې یې ګڼ ځنګلې بوټي او وني څرګندېدای شي. زه به اوس ځینې هغه ورې غونډۍ وښیم چې دهغې سترې لړۍ څخه چې اوس وښړل شوه دختیځ او لویدیځ په لور خورې شوې دي. لومړۍ یې دسویل خواڅخه راوړاندې شوې او داسې یوه سلسله ده چې د راغزي (Rughzee) شمال خواته معلومیږي او پونیا لی ته (Punial:ee) ته غزیدلې ده.

دغه ښاخ ریونده، ځیږ او بربنډدی او له یوه ځای څخه پرته چې هلته غرنیمایي شوی په نورو برخو کې په لږه اندازه د تېر یدوونږ بریښي. دغونډیو داښا نګه د. ۹ فوټو په جګوالي د یوه سخت ګرنګ له ارخ سره چې د پونیالی کلی ته مخامخ پروت دی پای ته رسیږي. ددغه لړۍ تول اوږدوالي له شپېتو میلو څخه نه اوړي، خو سره ددې هم د یادوني وړدی ځکه چې دا برخه د اندس او دهغې غرني سیمې چې اوس به یې ذکر کړم، برید او سرحد جوړوي. بله لړۍ چې ښایي دما ګی دغره په نوم به یادیږي دسپین غر له سویل ختیځې برخې څخه راوتلې او سویل ختیځ لورې ته غزیدلې او د تیرې (1) Teeree له سویل څخه ترکاله باغ پورې دوام موسی. دلته داغرونه او غونډۍ له اندس څخه اوړي او د پنجاب په ځینو برخو کې یې پراختیا غوره کړې ده دالړۍ دها یدا سپس په ځنې غاره دجلال پور په برخه کې پای ته رسیږي. په هغه اندازه چې داغرونه دسلیمان له

په نقشه کې دالړۍ دتیرادغره په نامه یاده شوې د۱۸۳۸ ر.

آرې لړۍ څخه لرې کیږي په هماغه اندازه یې جګوالی لږوالی مومي. دا لړۍ د وروستۍ لړۍ څخه پراخه او جګه ده او په زیاته اندازه ماګه لرې چې دهغې په بیلو بیلو برخو کې په ځانګړې لار ترې را یستل کیږي. د دغو غرونو په ختیځه خوا کې د ماګې یوه نمواري ده وله تیږه ده چې د هندوستان خواته ورلګیږي. دا د ول ماګه د لاهورۍ ماګې په نوم یادیږي. شمالي خواته دریمه لړۍ د سفید کوه له ختیځ څخه په مستقیمه توګه د اندس خواته خوره شوې ده، که څه هم له دغه سیند څخه اوړي، خو ترشاه یې دومره زیاته د ختیځ لورته نه تیریږي. څرنګه چې دا لړۍ د خپل مسیر په اوږدو کې د غرض البلد د ۳۳ او ۳٤ درجو ترمنځ موقعیت لري، نو زه ورته د شمالي عرض البلد ۳٤ درجو لړۍ نوم ور کولای شم. دغه لړۍ تر نورو یادشو یو لړ یو د یره جګه ده او دومره ده دې چې درې یې پراخه دي، خو بیا هم ور څخه تیریدل ګران بریښي. دغه وازدا لړۍ د نورو لړیو په شان کله چې د ختیځ خواته ځي نو لوړوالی یې پر لپسې لږ کیږي، خو ختیځ خواته تر کوهاټ پورې د دغې لړۍ په څوکو باندې د پسرلي په زیاتو وختو کې هم واورې لیدل کیدای شي او ختی په هغو برخو کې چې د اندس په لوري دي هم د ژمي په فصل کې لږه اندازه واوره وریږي. د دغې لړۍ جګې برخې د نښترو نې او ټیټې لمنې یې د زیتون (شون) ونې لري.

د شمالي غرض البلد ۳٤ درجود لړۍ او د ماګې د لړۍ ترمنځ یو لړ میدانونه او ناوې شته چې د ختکو او بنګښو په قوم پورې اړه لري. دغه میدانونه او ناوې د اندس خواته ښکته شوي او مخ په ځوړ یې ځي، خو یو لړ غونډۍ دا ځاګونه له اندس څخه جلا کوي. دغه غونډۍ له شمال څخه د سویل خواته اوږدوالی مومي. د دغې برخې په شمالي برخه کې د ماګې غرو او پوزیالي ترمنځ د دوړو، بنو، شیټکو (Shutuk) او عیسی خیلو درې د سلیمان له غرو څخه د اندس خواته لکه د زینو غوندې ښکته کیږي. د همدې برخې په سویل کې د سروتو غونډۍ او ناوې د لارګی (Largee) د دښتې او و چې درې په ګډون پرتې دي، د غه وروستۍ ناوه له اندس څخه د یو لړ غونډیو په وسیله چې د یرش میله اوږدوالی لري، جلا کیږي.

له دغو د یو لړ یو څخه هغه ټیټې لړۍ تیریږي چې له شمال څخه جنوب ته غزیدلی دي چې دوه لړۍ یې د هماغو لړیو دوام ګڼل کیدلی شي چې مخکې یادې شوې چې د سلیمان غرونو سره موازي ځي. د دوړوسیمه له بنو، بنو له عیسی خیلو او لارګی له سروتو څخه جلا کوي چې پخپله له دوی نه هم بیلا بیلې لړۍ د امې تیرې شوې دي چې دغونډ یو د شبکې غوندې د کښت او کرله میدانونه تاوشوي وي، ښکاري. د ریولو یو ځانګو ترمنځه هیڅ یو واټن دامې وادي ګڼل کیدلی نه شي چې سم په سمه او بې له غوڅ شوو برخو وي. د فرعي غرو په څنګه کې چې د دوی له ښې ګوټ څخه تیریږي، دا درې د اصلي لړۍ (د سلیمان غرونه) څخه دراو تلمو برخو

په واسطه په ځا نګړي ډول لویدیځې خواته ځېږي کېږي او لوړې ژورې پیدا کوي. د دغو غرونو او تللو ځېږ تیا او په لړکې هیڅ یوه یې دومره زیاته د یادونې وړ نه بریښي حتی که د دوی په باب بشپړې څرګندونې (معلومات) او مفکورې هم ترلاسه شوې وای بیا هم یادونې یې ضرور نه دي. څرنګه چې د مالګو لړۍ د خلورد یرش درجو لړی او هغه تیټې لړۍ چې د کابل په وادي کې غزیدلې دي، ټولې د سپین غر له ختیځې خوا څخه راوتلې او وار په وار له هغه غره څخه کږېږي نود جلا کیدو په دغه برخه کې هم یوه غرنۍ سیمه منځ ته راغلې چې د خلورو قبیلو استو ګنځې جوړوي او دا خلورواړه د خیبر یا نور عمومي نوم لاندې راځي.

هغه لړۍ چې د سلیمان له غرو څخه لویدیځ لورته خپرې دي د هغه سلسلو په پرتله چې مې مخکې یادې کړې یوڅه ګرانې او څېړل آسانه نه دي.

زه به داسې اټکل وړاندې کړم چې زما څېړل معلومات راته لار ښوونه کوي، شایي دا اټکل سم نه وي، خو امکان لري چې بشپړ حقیقت ته نږدې وي چې په داسې حالت کې به د دغې سیمې د جوړښت د بیانولو په برخه کې مرسته وکړي.

هغه مځکه چې د کابل د سیند د ناوې، د غزنې عرض البلد د کابل طول البلد او سلیمان ـ غرو نو ترمنځ پرته ده ډیره غرنۍ سیمه ګڼل کېږي چې پکې ځینې ستر درې هم لیدل کیدای شي. زه نشم کولای د دغې غرنۍ سیمې د غرو شانګې ښکاره کړم، خو شایي د غرو له آري لړۍ سره یو شمېر موړې په دغه سیمه کې موازي خورې شوې وي، بیا هم په باوري توګه هغه غرونه چې د کابل او غزنې ترمنځ د سړک سره نږدې پراته دي، د یوې نرۍ ناوې په وسیله د پارو پامزین له غرو څخه جلا شوي دي. د دغو غرونو او به لویدیځ لورته د هغه ناوې په خوا بهیږي چې مویوه شیبه وړاندې یاده کړه.

د خرمه (فرعی) غرو نو لوړې لړۍ چې ما ته ډیره معلومه ده د سلیمان آرغرونه د سرفضی (اصل یې سروضه دی) په ختیځ او یا شمال ختیځ کې شاته پرېږدي او د نوموړې سیمې له شمالي برخې څخه اوړي. دا لړۍ د ګومل دریاب د لویدیځې غاړې په اوږدو کې د سویل خواته خوره شوې ده. دغه سلسله د ممی (Mummye) له لویدیځ اړخ څخه تیره شوې او دواړه سیمې له کتوازڅخه جلا کوي. له دغې سیمې وروسته د دغې لړۍ دوام مغشوش کېږي، خو یوه لړۍ غرونه چې په همدغه سمت او کرښه پاندې دوام لري او د سویل خواته لیدل کېږي، شایي د همدغې لړۍ امتداد څرګند کړي.

د پورتنۍ لړۍ سویل خواته درې نورې څرمه (فرعی) لړۍ د سلیمان د ارو غرونو په لویدیځ کې شته چې یادونه یې دومره زیاته د ار زښت وړ نه بریښي له دغو لړیو څخه یوه یې سرفضه له ارګون څخه جلا کوي، بله یې دوانه له شمال څخه

تېرېږي . په دغو لړيو کې هېڅ يوه يې له کومل څخه نور هم د لويديځ لور ته غځېدلې نه ده .

زه د هغو غونډيو په باب چې د سليمان له غرونو څخه د کومل سيند په سويل کې خورې شوي دي خاصر معلومات نه لرم حتى د هغو غونډيو په باب چې د افغانستان په لويديځ خوا کې پرتې دي تردې نو موړيو لړيو هم لږ اطلاعات په لاس کې لرم . يو لړ غونډۍ چې د کلات د جګې سطحې په ورو ستې شمالي څنډه کې پيل شوي دي، داسې په پرېښۍ چې د شمال ختيځ خوا ته د غلزيو د سيمې تر بريده پورې پراخه شوي دي بلکه وينا د شمالي عرض البلد کرښې تر ۳۲ درجو پورې رسېږي . دا غونډۍ لومړی د شوراباک او پښين سيمې له يو بل څخه جلا کوي او د خپل دوام په دغه برخه کې د سپين تيږې په نوم يادېږي . وروسته د کوژک او خواجه عمران په نوم د پښين شمالي پوله جوړوي . پس د توبه نوم اخلي او په همدې نامه سيمې له منځ څخه تېرې شوې دي . د دغو غونډيو ډېره شمالي برخه د کل ناری په نوم غاښې دي چې د ارغسان د ناوې په ختيځ کې پروت دی او ترکاني له غرونو څخه دومره زيات لوړې نه دي .

زه به ښايي دغه ټوله لړۍ چې مو پورته ياده کړه د خواجه عمران تر نامه لاندې ياده کړم ځکه دا نوم د يو عمومي نوم په توګه غوره ګڼل کېږي . دغو غونډيو او غرونو د لړۍ ډېره پراختيا او پلن والی لري، خو جګوالی او سر خوړي يې لږ دی . واوره يوازې د لنډ وخت لپاره د سپين تيږې Speen Taizheh په برخه کې ليدل کېږي خو د شمال ختيځ خوا ته د ورې اوريدل په کال کې تر دريو مياشتو پورې وي

يوه بله لړۍ داسې ښکاري چې له لوړې سطحې څخه په هغه برخه کې جلا شوې چې همدا اوس مې ياده کړه . دا لړۍ د ختيځ خوا ته خورې شوې او د پښين سويلي پوله يې منځ ته راوړې ده، د غه را زدا لړۍ پېشين له شال (کويټه) څخه جلا کوي . د دغې لړۍ هغه برخه چې د جګې سطحې سره نږدې ده د ماسايلوغ په نامه يادېږي او په مرکزي برخه کې د تاکاتو په نوم يادېږي . څرنګه چې دا د دغې لړۍ په منځنۍ برخه کې جګ ځای دی ښايي له دې امله د تاکاتو نوم په ټوله سلسله باندې ايښودل شوی وي . له هغه ځايه چې دا لړۍ د جګې سطحې څخه جلا کېږي ، په يوازني توګه تول اوږد والی يې زه پنځوس ميله د ختيځ خوا ته تعقيبولای شم خو له بلې خوا داهم بايد ووايم چې د الړې له يوې بلې سلسلې سره يو ځای شوې او وروسته د کاکړو له سيمې څخه اوړي چې په دې توګه اوږدوالی يې له هغې اندازې څخه چې ما ياد کړ په زيات ډول په ډيادونې وړ وي .

دا لړۍ ډېره ځيږه، ربړنده او ترشاوخوا غونډۍ يو ځکه بربنډې ځکه په دغه لړۍ کې د نورو شاوخوا لړيو په پرتله واوره تر ډېر وخت پورې پاېښت مومي.
د کلات د ځمکې سطحې څخه بله لړۍ د خاراليکي په نوم له کلات څخه د شمالي عرض البلد ۳۰ درجو سره برابرې پيل شوې او د ختيځ ورته د ختيځ طول البلد کرښې تر ۶۷ درجو پورې غزېدلې ده. دا لړۍ د بېډوله Bedowle ځمکې مېدان د سيستان ټيټې او تودې سيمې څخه جلا کړي.

د غونډيو يوه لړۍ د وروستۍ يادې شوې سيمې د پاسه د شمالي عرض البلد د ۲۹ درجو کرښې سره ځکه شوې چې د افغانستان سويلي پوله جوړوي. د ختيځ طول البلد ۶۸ درجو وروسته يوه ساحه د سليمان تر غرو پورې چې د شمالي عرض البلد د ۲۹ درجو تر منځ پرته ده زيات شمېر غرونه او غونډۍ لري چې زياتره يې په هغو لړيو کې دي چې له ختيځ څخه لوېديځ ته ځي او دا ساحه يې ډکه کړې ده. دا سيمه په ډېرو غاړو کې په تېر بيا په ختيځ خوا کې زيات شمېر مېدانونه او درکونه لري. د دغې سيمې په لوېديځه برخه کې تر ټولې نورې سيمې څخه زيات شمېر ځکه غرونه او لړۍ دي چې شمال او سويل خوا ته غزېدلي او پورتنۍ يادې شوې خرمه (فرعي) لړۍ له يو بل سره نښلوي. د دغو لړيو شتوالي د دغه حقيقت له مخې ښه څرګندېږي چې سيونا داغ Seona Daugh او توبه Toba له ژوب څخه د داسې لړۍ غرونو په وسيله جلا شوي دي چې اوږدوالی يې د لورا Lora سيند تر سرچينې يعنې توبې پورې رسېږي لا هم د سويل خوا ته په هماغه خوا د کند Kund په نوم يو ځکه غر دی چې شمال څخه د سويل خوا ته اوږد پروت دی. له دغه غره سره ورته د غرونو يوه لړۍ هم په همدې سمت خوره شوې چې د چېري Chirry (د کند په سويل کې) او تسوپر Tsupper (د چېري په سويل کې) په برخو کې سره نښلي. دغه راز يوه ځکه سلسله د شال او داودر Dauder تر منځ د سړک په کيڼه غاړه خپره شوې او د پورته يادې شوې سيمې (چېري او کند) تر بريده پورې په رښتينې توګه د افغانستان د دغې برخې د اوبو جريانونه ويشي. هغه ويالې چې په دغو لړيو کې راوځي ځينې يې د لوېديځ او ځينې نورې يې د ختيځ خوا ته بهېږي. يوازې دوه لړۍ غرونه له يادو لړو څخه دلته پاتې دي چې يوه يې له پا-
راپاميزين سره برابرې د قره باغ په سويل کې پيل د ترنک سين د کيڼې غاړې سره موازي د ختيځ طول البلد کرښې تر ۶۷ درجو پورې خوره شوې ده، بله لړۍ د لومړۍ لړۍ له پای څخه پيل او د ختيځ خوا ته دوام لري. دغه لړۍ لوېديځ لور ته د سور غر او ختيځ خوا ته د تور کاڼي په نوم يادېږي. د دغو وروستيو دوو لړيو غرونو په يادو لو سره زه فکر کوم چې د افغانستان غوره غرونه ټول بشپړ ياد شول.

دریم څپرکی (فصل)

دافغانستان سیندونه

افغانستان د خپلې پراختیا برابر دیوه هیواد په پرتله ډیر لږ شمیر اوږه سیندونه لري. له اندس څخه پرته په ټول هیواد کې داسې کوم بل سیند نشته چې د کال په زیاته موده کې د بېړیو تلو امکان ورکړي. د دې سیندونو ډیر لوی شمیر ډیر تیز بهیدونکی دی او سره د دې چې اکثر وختونه داسیندونه په توندۍ راښکته کیږي، خو ډیر ژر وچیږي. د دغو سیندونو اهمیت هم په دې سبب چې اوبه یې د اوبو لګولو له امله د مقصد لپاره پرله پسې جلا کیږي، کم شوی دی، ځکه د دوی اوبه د اوبو لګولو له امله ډیر ځله د بل سیند سره تر ګډیدو وړاندې رسیدلای نشي او تشیږي. په افغانستان کې د ټولو سیندونو په باب دا ویل کیدلی شي چې د هغو په خوله کې اوبه د سرچینې سره یو شان نه وي یعنې د سیند د اوبو اندازه چې له غره څخه راوزي د اوبو اندازه وار په وار زیاتیږي. د سیند د اوبو اندازه چې د ځمکو د خړوبولو لپاره برابریږي او هغه ځنډونه چې داسیندونه د مسافرینو د تګ په لار کې اچوي، یوازینی عوامل دي چې داسیندونه مهم ګرځوي او د هغو اهمیت جوتوي. داندس سیند په یوازنۍ توګه په هر وخت کې د بیړۍ چلولو لپاره وړ دی، خو سره د دې هم له هغه څخه په دغه برخه کې دومره ګټه نه اخستل کیږي.

داندس سیند داوږدوالی او د اوبو د هغې اندازې له پلوه چې سمندر ته یې رسوي باید د نړۍ د لومړي مقام له سیندونو څخه وګڼل شي. د دغه سیند اوږدوالی له سرچینې څخه تر سمندرپورې ټول په ریښتنې توګه معلوم نه دی، خو تر (۳۵۰) میله نښه شوی دی. او داسې دلایل هم شته چې اټکل وکړو چې اوږدوالی یې له دې څخه ډیر زیات دی. داندس سیند مرستیالان هم پخپله د اروپا د سترو سیندونو څخه په اوږدوالي

والی کې کم نه دي. (۱) د دغه ستر سین (اندس) سرچینه تراوسه پوري په رښتیا نی نو څه نه ده تاکل شوي. د اندس سین د سر چینې پاسنی ښکنک (جریان) یوازي د تبت دیوه واړه کلی یعنی دراس (Draus) سره نیږدي اړخ کې په نښه کیدای شی. دغه ځای دویم برید من مکارتنی د ۷۶ درجو او ۴۸ دقیقو ـ طول البلد او ۳۵ درجو او ۵۵ دقیقو عرض البلد کرښو سره برابر شوی دی. په دغه نقطه کې سین د شمال ختیځ لوري څخه ښکاره کیږي، خو له دغه ځای څخه پورته جریان یې نه دی پیژندل شوی، په دغه برخه کې د دراس د پاسه د اندس آر ښکنک (اصلی جریان) سره یوه کوچنی ناوه ګډیږي چې د تبت د رود ك Rodauk له سیمې څخه د دوه سوه پنځوس میلو په واټن تاکل کیدای شی. د اندس سین د کوچنی تبت له پلازمینې (پایتخت) لداخ Ladaukh سره نیږدې تیریږي، له دغه ځای وروسته د لداخ په نوم نامیږدی. له دغه ښار سره نیږدې له اندس سره یو وړو کی سین له شمال لویدیځ لور څخه ګډیږي چې د ښاغلی مکارتنی په ګومان دا مرستیال سین د سري قل Surickol له جهیل څخه راوتلی دی. دغه رازدا ته د فرغانی یو ازبك د سین د سر چینې په باب و یل چې د موز تاغ Mootaugh د کنګلو له یوې برخې څخه یو سین راوزي، ده د دغه سین ښکنک (جریآن) د لداخ ترښار پوري ما ته وسپړه، خو د لویدیځ خواد کوم یوه بل غوره مرستیال او یا شاخي ګډیدل یې څرګند نه کړل. ده له څرګندونو څخه دا جوته کیږي چې د اندس سین سرچینه د کنګلو هماغه برخې ګڼل کیږي، خو زه فکر نشم کولای چې د ده څرګندونې له دویم بریدمن مکارتنی سره پرتله شي. خو بیا هم د داسې یو مخې او کرکجن تکی په باب څرګندونه بې ګټې ده.

ښاغلی مکارتنی په دې خبره نیږدې خواشینی و چې هغه د سند سین د سرچینې د پیدا کولو توان و نه موند خو که سو نیږدې هغو سیمو چې دا سین افغانستان ته له ننوتلو څخه مخکې ښکې بهیږي دلاروورانوالی ته پام وکړو، ده د دغه بري په باب چې د سین د مجراد معلومولو په چارو کې ور په برخه شوي، د سین د ډیري لرې سرچینې په پیدا کولو کې د ده د ناتوانی په نسبت به زموږ دادیانی له پاره نیږدې دلایل وي.

۱- که دا او پوژوروالی او د سین د اوبو دایمی شتوالی په پام کې و نه نیسو، نود هایداسپس ـ هایدراوتس Hydraotes او هایسودروس سینو نه دا اوږدوالی په پلوه تر رون Rhone سین وړاندې دي. د هیپاسیس Hypasis اوږدوالی دا ایب Ebe له سین څخه څلویښت میله زیات شوی دل شوی یا دا چې هیپاس تر راین یوازې. ۶ میله لنډ دی حتی د ـ کاشکار Kashkaur سین تر پوه Po اتیا میله اوږدی. دا باسین، کورمې، ګومل اوسوات سینونه د تایمز سین څخه په اوږدوالی کې کم نه دي، په داسې حال کې چې داسینونه دانلس سین نیږدې یو واړه مرستیالان ګڼل کیدای شي.

د سکارتني کشف او څرګندونه چې د لاداک سین په باب یې وکړه د زیاتې پاملرنې او د لچسپۍ وړ ګڼل کېږي. د ده د معلوماتو یو شان والی د ۱۸۰۸ کال د هغې پلټنې سره چې برید من وب Webbe د سند سین په باب ترسره کړه دا ښکاره کوي چې دا دواړه ښاغلي په خپله څرګندتیا او پوهه کې یا وړي او د بشپړ واک خاوندان دي.

پخوا داسې فکر کېده چې د لاداک سین د ګنګاه د سین له غوره ښاخو څخه یو ښاخ دی او دا نظریه د یوه ستر واکمن او د پوهې خاوند میجر راینل Major Rennel له خوا ملاتړ شوه خو دغه تکړه او پوه جغرافیه دان هم په خپله دغه نظریه کې د لاماس Lamas او پې‌تیفنتالر P. Tiefentaller اشتباهات تکرار کړي او په دغه نتیجه کې یې ځان قانع کړی دی. کپتان راپړ او ښاغلي ویب دواړه د دې مقصد د ترسره کولو لپاره ولېږل شول څو چې د ګنګاه سرچینه معلومه کړي، دوی دواړو دا کار ترسره کړ او د ګنګاه سین سرچینه یې پیدا کړه. د دغه سین سرچینه د هغې پخوانۍ ښودل شوې سرچینې په خلاف د همالیا د سویل ختیځې خوا ته کښته پرته ده*. په بله وینا د دغو دوو ښاغلو د پلټنې په نتیجه کې دا ښکاره شوه چې د ګنګاه سین سرچینه د لادک سین نه دی، بلکې له هغې څخه ډېره ټیټه د همالیا سویل ختیځه ډډه کې موقعیت لري. اوس نو دا ثابته شوه چې د لاداک سین په ګنګاه کې نه تویېږي او تر هغه وخته پورې چې ښاغلي سکارتني په دغه هکله څېړنه نه وه کړې د دغه سین د بهیدلو او تویدلو لار معلومه نه وه، خو کله چې سکارتني خپله پلټنه بشپړه کړه نو یې وښوله چې د دا سین د اندس سین ته په سرچینه کې د دراوس ته نږدې ګډېږي (۱) له دراوس څخه وروسته د اندس سین خپله ګوښې مجرا په یوه غرنۍ سیمه کې تعقیبوي په دغه څېړه او لیرې سیمه کې د مسافرینو تګ او راتګ ډیر لږ دی. ښاغلي سکارتني ته تـه دا خبرتیا چې ده پرې استناد هم کړی ور په برخه وه چې له دراوس څخه کښته له اندس سین څخه یوه شاخه جلا شوې او اوبه یې د کشمیر په لور بهیږي. دغه ښاخ د کشمیر له منځ څخه تیر شوی او د هایداسپس اصلي سین یې منځ ته راوړی. سره د دې چې د سینو نو دا ډول بیلوالی په هوارو هیوادو او پرتو سیمو کې پیښیږي لکه چې د ګنګاه په برخه کې هم دا ډول بیلېدل رښتیا دي، خو بیا هم باید ووایو چې دا ډول عمل په ګړندیو سینو، په تیره بیا هغه سینو نه چې په غرنیو سیمو کې بهیږي یوه غیر ممکن پرېښې د دغه حالات په نظر کې نیولو سره کله

* د آسیایي پلټنې پنځه یولسم ټوک کې د دغو دوو ښو د سفر بیان وګورئ.

(۱) داسې ویل شوي دي چې امکان لري هغه' وبه چې د مانسارور Mansaroor له جهیل څخه (دا جهیل د لاداک سین په سویل کې پروت دی) راوځي ښایي دا اندس سین اصلي جریان او اوبه وګڼل شي.

سوېداسې سينو نه وينو چې د ډبرينو ټاپوګانو په واسطه جلا کيږي او کله چې دا د ول ويش منځ ته راشي نو دا د سيمې د پنځ (طبيعت) له مخې په همدغه شان دوام مومي ، دمالياپي Mullaee په برخه کې کله چې د اندس سين د هندوکش د لړۍ له منځ څخه تيريږي نو د شمال لويديځ له لوري څخه دا باسين په نوم کوچنی سين ورسره يو ځای کيږي، دغه سين د يو سلو شلو ميلو په لېرې والي سره د شاوخوا غرو څخه سرچينه اخلي. د دغه سين شاوخوا اوسيدونکو افغانانو په ګومان سره د اندس اصلي سين ګڼل کيږي دا ندس سين وروسته له دې چې د پنځوس ميلو په واټن سره د هندوکش له ټيټو لمنو څخه د تور بيلې سيمې ته رسيږي ، له هغې وروسته د اندس سين هوارې اوارتې ځمکې ته ننوزي دلته د اسين خپل ځان خپروي او په دغه ميداني سيمه کې له زيات شمير ټاپوګانو څخه تاويږي .

له پورتنی ځای څخه څلوېښت ميله کښته د اټک سره نږدې د کابل ګړندی سين له اندس سره يوځای کيږي، وروسته سملاسي سليماني لړۍ د فرعي شاخو منځنی برخې ته داخليږي. د دغو سينو د اوبو ګډېدل حتی په هغه وخت کې چې اوبه ډيرې ټيټې او لږې وي، بيا هم ځمکې له دې چې غرو ته ننوزي د ډبرو په منځ کې څپې او ګرداوونه په زياته اندازه لري او يو ډول غږ تر ېخيژي چې د سمندر څپو ته ورته دي، خو کله چې دا سين د واورې د ويلې کيدو له امله مست او اوبه يې ډيرې شي، نو په دغه وخت کې ډير ستر ګرداوونه جوړ وي چې غرمبا يې په ډيرو لېرې فاصلو کې هم اوريدل کيدای شي. دغه ګرداوونه ډېر ځله بيړۍ اړوي او يا يې له ډبرو سره وهي. د اندس سين چې به پرته ميداني سيمه کې ډير زيات پلن دی ، د اټک په برخه کې يې سوردري سوه متره ته را غونډيږي حتی د اسين کله چې دغو غونډيو او غرو منځ ته ننوزي نو له دې څخه يې هم پلن والی کم شوی او نری کيږي له اټک څخه پنځوس ميله لاندې د نيلاب له کلی سره يې عرض دومره لږ دی چې حتی د اسې هم ويل شوي چې په لاس د ډبره ترې اوړي ، خو په دغه ځای کې ډير زيات ژور او ګړندی روان دی. له نيلاب څخه د قره باغ تر سيمې پورې د لغړو غونډيو له منځ څخه کوږوږ تيريږي. د قره باغ په برخه کې د مالګې له غره څخه په يوه ژوره رڼه او آرامه وياله کې د هغه اوبه جريان مومي. له دغه ځای څخه د سمندر ګی تر غاړې پورې له کومې وقفې او انقطاع سره نه مخامخ کيږي يا دا چې نور بيا په غرونو او غونډيو کې ډير بند پاتې کيدای نشي. له دې وروسته د اسين د سويل خوا ته په يوه پراخه او وارته ځمکه کې بهيږي او په زياتو ځان ګوجلا کيږي چې په زياتره برخو کې پر له پسې بيا ګډ او يا ويشل غوره کوي ، خو ډير لږ پيښيږي چې د هغه ټولې څانګې بيا سره يوځای او يو واحد جريان منځ ته راوړي .

له اوچ (Ouch) سره نږدې د پنجند Punjnud سين له اندس سره ګډيږي. دا سي

د پنجاب سینو نو له یو ځای کېدو څخه مخ ته راغلی دی، که څه هم د دغه سین اوبه هم ډېرې دي، خو د گډیدو د ځای څخه پورته که له اندس سره پرتله شي نو ډېرې لږ وکې بریښي او ور سره مقایسه کېدای نشي. له دې وروسته دا اندس سین د سویل لوېدیځ خوا ته جریان مومي او د زیات شمېر شاخو په څېر یې اوبه د عربي خلیج خوا ته تشېږي له غرو څخه کښته اندس د خپل مسیر په اوږدو کې دواړه غاړې پرلپسې تخریبوي او خپله مجرا بدلوي او دغه راز دا سین د خپل بستر د شاوخوا ځمکې او سیمه تر څو میلو پورې ډوبوي*.

*څرنگه چې د اندس سین د سرچینې په باب بیان لیکل شوی و نو په همدغه وخت کې ما ته د ډیلي یوه پوه آریا و سیدونکي میر عزت الله له خوا یوه مجله را ورسیده چې د ښاغلي مور کرافټ د هیئات د ټولي د آسونو د ساتنې او څارنې د مدیر له خوا تشویق شو چې تارتاري سیمې ته سفر وکړي او هلته د دې موضوع امکانات وڅېړي چې د بنگال د سواره پوځ له پاره اسونه پیدا کړي نوموړی سړی له کشمیر څخه لاداک او له هغه څخه وروسته یارکند ته ولاړ. لاندینی بیان د هغو سینونو په باب چې دی ترې پورې وتلی دا او مجاپې په بیلابیلو برخو کې راغلی دی.

په ماتاین کې Mutauyen «یو ځای دی چې د کشمیر له ښار څخه خلوېښت کاسه (یوه پیمانه ده چې په هند کې استعمالیږي او له یوه نیم میل څخه تر دریو میلو پورې واټن څرگندوي. مترجم.) د شمال ختیځ لور ته پروت دی. د سین اوبه یو څه د کشمیر او یوه برخه د تبت لور ته بهیږي. هغه اوبه چې د کشمیر خوا ته جریان مومي د سند په نوم یادیږي. (دا نوم د دغې ناوې په ټوله برخه کې په عمدي شان خوندي شوی دی.) بله څانگه یې چې د تبت خوا ته درومي، په همدغه نوم (تبت) سره نامتو ده. دغه سین تر پیشکام Pishkum (د عزت الله د لارې په سر یو کلی و چې د ماتاین شمال ختیځ خوا ته دیرش کاسه لیرې پروت دی) پورې شمال ختیځ پلو تعقیبوي. له دغه ځای څخه وروسته دا سین اوېدیځ سمت غوره کوي او د کوچني تبت له منځ څخه اوړي او د مظفرآباد لاندې بهیږي. په دغه وروستي ښار کې یې په عمدي نامه سره یادوي. له مظفرآباد څخه یو کاس Coss کښته نوموړی سین د کشمیر سین (پورته د سند په نوم یاد شو) سره یو ځای کېږي او د پنجاب په سیمه کې جریان پیدا کوي، دلته د جیلم Jelum یا بیهات Behut هایداسپس نوم غوره کوي نو ځکه دا سین کیشن گنگاه Kishen Gunga هم گڼل کېږي چې ښاغلی مکارتني هغه داسې تصور کړی چې گواکې له اندس څخه جلا شوی دی چې دا خبره او نظریه دومره زیاته د تعجب وړ نه بریښي او دا څرگنده وي چې د لومړي (هایداسپس). پیل او د دویم (اندس) سین بستر څومره سره نږدې دی. له پیشکام څخه د شمال ختیځ خوا ته شل کاسه لیرې د خپلیچ Khillich کلی **

۱۱۹ مخ د لمن لیک پاتې

** پروت دی چې دلته د لومړي ځل لپاره عزت الله خان دلاداك سین ولیداو دغه په
باب یې لاندنی بیان کړی دی: (د خپلیچ کلي څخه دوه کاسه وړاندې د یوه سړك په
کینه غاړه باندې تللی دی چې نوموړی سین داتك سین (اندس) ته کږیږي . دغه
سین له شمال ختیځ څخه راوتلی او د سویل لویدیځ لور ته جریان مومي، دا سیند یل
کیږي چې دا سین د شایوك Shauyook (د دغه سین سرچینه د تبت او یارکند ترمنځ
ده) له سین سره یوځای شوی او د یوسفزیو، بیر Bheer او تورنول Turnoul له سیمو
څخه او ړي او داتك له کلا څخه پورته د کابل سین ته توییږي . دغه سین دلته کوم
ځانګړی نوم نه لري ځکه چې کندوي ، خو د سان پو San Poo په نوم یاد یدلای شي چې په تبتي
ژبه کې ستر سین ته داتوم اطلاق کیږي . میر عزت الله له خپلیچ څخه دا سین ترلاداك
یالی Ley پورې تعقیب کړی دی چې داوروستي ځای د نوموړي سین په شي غاړه
باندې موقعیت لري . ددې لاره لې په لوړو اشارو یعني لاداك یالي د مکارتنې په پرتله
د پرزیات د سویل خواته ځکه کندوي او په نتیجه کې د دغه داصلي او عادي ځای سره
د پرتیدي ښکاره شوې دي ، خو د عزت الله خان مشاهده د نیمګړي آلې په وسیله ترسره
شوې ده ځکه د ((اسطرلاب الی د نشتوالی) له امله دا ځای د شمالي عرض البلد له
۳۷ درجو او څلویښت دقیقو سره برابر بشودل چې د مکارتنې د محاسبې څخه نور هم د شمالي
لور ته لوړ ښکاره کیږي . له لې څخه میر عزت الله د یارکند لور ته وړاندې ولاړ
او تلس کاسه لیرې د شمال ختیځ خواته یې د شایوك سین ولید . نوموړي د دغه سین
لاردخامدان Khumdaun کنګل ترشاه تعقیب کړه او د قراقروم د موړي لاندې د دغه تر
سرچینې پورې په مخ ولاړ چې دا ځای د لې شمال کنګل کیږي او د او اوتن یې د سړك په
اوږدو کې ، په پنځلسو مارشو (مزلونو) کې پای ته ورساوه . میر عزت الله دخامدان
کنګل د قراقروم د غرونو د یوې برخې په څیر بیان کړی نه دی ، بلکې هغه یې
په جلا توګه د کنګل یوغرکنلی دی چې قرا قروم ته له رسیدونه دوه مارشه
(مزله) مخکې یې هغه د سړك کینې غاړې ته لیدلی دی . دا کنګل د دوه سوه
کاسه په پراخوالي د بالتي Balti له تبت څخه تر Surik Kol سوریك قل پورې
اوږدوالی لري . عزت الله د قراقروم د غرونو په باب څه نه وایي او دا نه
ښکاره کوي چې دا غرونه په زیاته اندازه جګ دي ، خو یوازې د دغې لوړې مخکې
د سړو او ګوښه توب په باب یو څو نکي بیانوي . دا سیمه د لې او یارکند ترمنځ
درې ورځې مزل غواړي څو چې جګې برخې ته سړی ور سیږي . د یارکند سین سرچینه
له شایوك څخه د یوې موړې په واسطه جلا کیږي او له یارکند څخه اتلس مزله
(مارشه) لیرې سویل ختیځ سمت ته پرته ده . دا ښکاره ده چې د عزت الله خبر کند ونې
په بشپړه توګه د مکارتنې له یادښت سره سمون خوري یوازې دومره توپیر لري چې
نوموړي د شایوك سین سرچینه د سوریك قل په جهیل کې نه بولي بلکې د موز تلغ **

زه په ښايي په دغه ځای کې د هغو سيندونو په هکله چې له اندس سره د ختيځ خوا څخه ګډ
يږي څه و نه وايم ځکه په دې باب ښاغلي مکارټني بشپړ معلومات وړاندې کړی دی (۱)

هغه سيندونه چې له لويديځ څخه دا ندس سره يو ځای کيږي، يو مې لېوړاندې اباسين په
نوم ياد کړی دی بل سين چې له لويديځ څخه دا ندس سره ګډيږي د کاشقار Kaushkaur
سين دی چې له پښتخ ی چار څخه Poshteekhur پيل کيږي پښتي خار د پاملوت تاغ يوه
څوکه ده چې د اکسوس سين سرچينه هم پکې ده د کاشقار سين د نومو ړې څوکې له پلې
ډډې څخه راوتلی او د آمو (د اکسوس سين .) څخه د پاملوت تاغ د يوې لړۍ په وسيله چې
د همدې سين ښۍ غاړه تر هندو کش پورې تعقيبوي، جلا شوی دی. د کاشقار په کيڼه
غاړه پاندې د کاشقار سيمه پرته ده چې د سين نوم هم له هغې څخه اخستل شوی دی. کله
چې کاشقار له هندو کش څخه تيريږي نو ښی خوا ته يې هغه راوتلې (برآمدګی) پرته ده
چې ډير څله سې مخکې ياده کړله. د دغه سين په کيڼه غاړه پاندې يو لړ غرونه پراته دي
چې د راوتلې سره بوازې پر يښې سره ددې چې دا غرونه ډير جګ دي خو بيا هم دايمي
واورې ور پاندې نه ليدل کيږي. دا سين د ستر وغرو نو لاندې په يوه ډيره غرنۍ سيمه
کې په ډير ګړندي توب او شدت سره د کابل سين د ناوې په لور بهيږي. زه د سخکيڼي
څرګندونې په تاييد د کابل ناوې په هکله دا ويلای شم چې د کابل په ختيځه خوا
څو سيندونه سره يو ځای شوي دي. دوه ډير غوره يې د هندوکش څخه راوزي او د پنجشير
او غوربند په ناوو کې بهيږي چې د سيندونو نومونه يې هم له دغو سيمو څخه اخستل شوي
دي. دا دواړه سيندونه د کابل شمال کې سره يو ځای شوي او تر باريکاب Baureekaub
پورې سويلي پلو غوره کوي. يو بل سين ګی چې د نومو ړو سيندونو څخه کوچنی دی،
د غزني له لويديځې خوا څخه راوزي او د کابل په ختيځه خوا کې له يوه بل واړه
سين سره چې د پارا پا ميزين د يوې لړۍ څخه چې د پا باغرونه يې پولی سرچينه اخلی، يو

** په غرو کې پې ګني. يو بل غوره اختلاف د دوی په څرګندونو کې په آسانۍ سره د سمون
ليا ره ښودلای شو. مير عزت الله د دراس د کلي له منځ څخه تير شوی دی چې د ماتاين
شمال ختيځ لور ته شپږ کامه واټن لري. د لته عزت هڅکله د لاداک سين ګډيدل له
اندس سره نه اوري، په داسې ترڅ کې چې مکارټني د دغو سيندونو ګډيدل د دراس
سره نږدې ښکاره کړي دي. د عزت الله ليکنې څخه دا هم جوته شوې ده چې هغه کله
چې د دراس له سويل څخه واوښت، نو يې د لاداک سين وليد چې پرته له دې چې خپله
لار بدله کړي، نه خيليج څخه په تيريدو سره هم په عين استقامت د سويل خوا ته روان دی.
نو له دې امله دا په ډيره تکلی وي چې ښاغلی مکارټني د پورتنيو نو (لاداک او سند)
ګډيدل د دراس څخه کښته ښودلي دي. د دغه فصل په باب نورې يادونې د سريزې
په نتيجه کې وګورئ. - ۱۸۳۸ .

(۱) – ضميمه وګورئ

ځای کیږي. دغه وړوکی سین د کابل له منځ څخه تیریږي او د هغه نوم د کابل په ټول سین باندې ایښودل شوی دی.

هغه ټول سینونه چې پورته مې یاد کړل د باریکاب په برخه کې سره یوځای شوي او د کابل سین جوړوي. دغه سین په ډېره چټکۍ سره د ختیځ په لوري جریان مومي او د دوارو غاړو د فرعي سینونو په ګډېدو سره یې چې له غرو راوزي، او په زیاتېږي. له جلال اباد سره نږدې په کامه کې د کاشقار (کنړ) سین له کابل سره ګډ شوی او د ختیځ خوا ته د هندوکش د کوچنیو غرو په منځ کې خپله لار تعقیبوي چې دلته زیات ګرداوونه او ځوړوبې منځ ته راوړي. (۱)

کابل سین کله چې د پېښور هوارې او میداني سیمې ته ننوزي، نو دلته د هغه جریان شدت په بشپړه اندازه کمېږي، خو بیا هم ورته ګړندیو یلای شو. دلته دا سین په خوښا خوبا - ندې ویشل کېږي، خو د هغه دوه ښاخیز سین د ګډېدو له امله چې د پنجکوړې او سوات له درو څخه راوتلي، بیا سره یوځای شوی دی. د اټک سره نږدې له اندس سره د ګډېدونه لږ مخکې یې تواپ او په بیا سره ګډېږي.

د کابل سین د اندس په پرتله ډېر وړوکی او په زیاتو برخو کې د دوچ فصل په اوږدو کې تری پوریوتل آسانه دي.

د اندس سین هم د ۱۸۰۹ کال د ژمي په وروستیو وختو کې د شاه شجاع د لښکرو د پوریوتلو په سخ کې د کابل سین سره د ګډېدو له ځای څخه پورته کوم خنډ پیش نه کړ او ټول تری پورې وتل، خو دا کاریوه معجزه ګڼل کېدای شي چې د پاچا د بخت له امله ترسره شوه له اندس سین څخه داډول تیرېدل له غرو نو څخه نیولی ترسمندر ګی پورې ما اوریدلی نه دي چې څوک تری * پورې وتلی وي.

له اټک څخه لاندې له اندس سره د تو toe په نوم اویه اونورې ویالې یوځای

---

(۱) سره د دې چې له جلال اباد څخه خلك د زرګیو په تختو باندې چې د سین په په وسیله په ډېره بېساري چابکۍ او ګړندیتوب ځي، را کښته کېږي، خو بیا هم په دغه حالت کې د چړونو او د جریان شدت بې له پاخه زیانه څخه بل شی شمېر کېدای نشي او هغه باید یو مخطرناکه بېړۍ چلونه وګڼو.

* د ښاغلي برن A. Burnes د څرګندونې څخه د اسې بریښي چې د اندس سین له ګډېدو څخه پاس د ډېرو ناوړه پېښو او خطرونو سره سره د تیرېدو وړ دی. پخپله دی هم د ۱۸۳۲ کال په مارچ کې له ډېر خطر سره پرې پورې وښتی دی. په دغه تیرېدنه کې د سکانو دیوه مشراوه تنه سپارکاران چې له د مسره یې په تیریدو کې مرسته کوله په سین کې لاهواو او بو کښته یووړل یو سړی او دوه آسان له دغه شمېر څخه ډوب شول. (لومړی توك. ۷۵ مخ ۱۸۳۸)

کيږي چې هيڅکله، دسين نوم د رلود لاى نښي او تر اسحاق خيلو پورې دا دول او به يې له کوم غوره نوم څخه ورتو نيږي. په اسحاق خيلو کې د کورمې سين ورسره گډيږي. د کورمې او به دسلما ني غرو تر شا د هاريوب په برخه کې راوزي او دختيځ په لوردسليمان دلړى په يوه ژوره ناوه کې تر باراخيلو Barrakhail پورې په همدې استقامت جريان مومي، خو په دغه وروستي سيمه کې دسويل لور ته کوږشوى او تر هغو چې له اندس سره يو ځاى کيږي، په همدغه لور (جهت) خپل تگ ته ادامه ور کوي. دا سين د کا گلوالا Kaggalwalla سره نږدې له اندس سره يو ځاى شوى دى. دا ته يې او به ډيرې پاڼې بهيږي، خو ژور والى يې ډېر کم کيداى شي.

دغه سين په جنوب کې يوازينى سين چې د اندس (سند) په ورروان دى د گومل سين شمير لاى شو چې د لسين هم له اندس سره ډير ځله نه گډيږي، ځکه او به يې د دامان په شمالي برخه کې د کرنې په چارو کې لگول کيږي، نو له دې امله اندس ته رسيد لاى نشي، مگر په هغو وختو کې چې او به يې د بارانو په وسيله ډيرې شي سند ته تويږي.

د گومل سين دسر نښې (اصل سروضه ده. مترجم.) په سويل کې له دورچلي Doorchell سره پيل او داسې بريښي چې لو مړى دسويل لو يديځ خوا ته ځي. وروسته سملاسي دسويل لور ته گرځي او تر دوماندي Domundee پورې همدغه سمت تعقيبوي. په دغه ځاى کې له گومل سره د ممي Mummye او کوندور Coondoore او به چې د تيروا. Teerwa له شاوخوا څخه سرچينه اخلي، يو ځاى کيږي. له دغې سيمې وروسته د گومل سين سمت دختيځ خوا ته تاوشوى او تر سير ماغا Sirmaugha پورې همدا جهت لري. په دغه وروستي برخه کې د ژوب سين ور سره گډيږي. د ژوب سين تر گومل لوړ و کى او د بورشور Burshore په ختيځ کې د کند Kund له غرو څخه سر چينه اخلي او د ژوب په سيمه کې جريان مومي چې د همدې سيمې نوم په وربا ندې ايښودل شوى دى د سير ماغا څخه لږ څه دختيځ لور ته د گومل سين دسليمان غرو ته ننوزي او د لته يې په غرونو کې خپله لار پرانستلې ده وربسې د راغزي Rughzee څخه اوړي او د دولت خيلو او گندا پوريو سيمې خړوبوي (۱)

(۱) هغه نقشه چې داکتر هوني برگر Dr. Honigberger (نو موړى د ۱۸۳۳ کال د مى او جون په مياشتو کې له (ډير او بند) څخه تر کابل پورې سفر کړى دى) کښلى، داسې څرگندوي چې د گومل سين چې ډير سم او په ښه ډول زمه په نقشه کې ترتونده چينه Tonda Cheena پورې ايستل شوى دى د دورچلى په برخه کې سرچينه نه اخلي بلکې له دې برخې څخه خلويښت يا پنځوس ميله د لويديځ لور ته راوځي. (د کلکتې د آسيايى ټولنو مجله، دريم ټوک ۱۷۵ مخ ۰) ۱۸۳۸

دکومل سین لوړی برخه ټوله په غرنی سیمه کې ده چې په شاوخوا کې یې غیر مسکونی سیمې پرتې دي. دا سین هرچیرې د تیریدو لپاره چمتو دی، خو که او به یې د باران په وسیله زیاتې شی، نو په دغه وخت کې ترې آوښتل ګران دي لیکن د اوبو ده پروالی موده یې لنډه او ډیر ژر بیا لږې کیږي.

د زیر کانی Zirkunee، دیراوبند، چودوا Choudwa او وهوا Wuhooa په برخو کې له سلیمان غرو څخه بیل بیل سینو نه راوتلی دي. دا ټول سینونه په ناوو کې جریان مومی او دوه ورستی سینو نه په بشپړه توګه دسلیمان غرونه پریکوي. له دغو سینو څخه یویې دسپوستا Spusta او بل یې د موسی خیلو له سیمو څخه دسلیمان غرو په لویدیځ کې سرچینه اخلي. دا دواړه سینونه هغه وخت چې د باران په وسیله یې او به زیاتې شی نو سند ته ځانو نه رسولای شی.

دافغانستان له سترو سینو څخه دهلمند یا ایتماندر Etymander سین دی چې د پاراپامیزین له ختیځې مورې یعنې له غرو څخه دکابل په لویدیځه شل یا دیرش میلی کې سرچینه اخلی. دا سین په پاسنی برخه کې ددوه سوه میلو په اوږدوالی په غرنیو ځکو کې بهیږي. له دغه واټن وروسته د درانیانو پراته او زراعتی میدان ته ننوزی. سره ددې هم په دغه برخه کې د هلمند سین ټوله ځمکه نه خړوبوی او ډیر ژر بیدیا ته رسیږي، دا ډول دښتې هلمند تر هغه ځای پورې چې سیستان ته تویږي تعقیب کوي. دهلمند څرمه غاړې او تریوه اویا نیم میل پورې نږدې ځمکې د هغه داوبو له برکته ډیرې خړ بې او زیاتره برخې یې په ډیره زیاته اندازه تر کرنې لاندې راغلی دي. دهلمند سین دخپل مسیر په ټوله برخه کې د پوریو تلو لپاره چمتو دی سره ددې هم دهلمند سین یوغوره سین ګڼل کیدای شی، حتی په وچ فصل کې دهغه ژور والی له غرونو څخه دتیریدو په ځای کې ډیر ژور دی. دوړو دوبلې کیدو په وخت کې د سین اوبه ډیرې ګړندی او ژورې ګڼل کیږي. دهلمند ټول اوږدوالی څلور سوه میله شمیرل شوی دی. د زیات شمیر سینونو په لړ کې چې ځای په ځای ورسره یو ځای کیږي، یو هم هغه سین دی چې له سیاهبند Seeahbund څخه د اتیا میلو په اوږدوالی راوتلی او له ګرشك څخه څوارلس میله پاس له هلمند سره ګډ شوی دی.

ارغنداب دهزاره دغرونو په برخه کې دکندهار په شمال ختیځه اتیا میلی کې دهلمند اصلی سین دسویل خواته روان دی. دارغنداب مسیر چې د هلمند په سویل کې پروت دی، دکندهار څخه څو میله وړاندې دګرشك په برخه کې له هلمند سره یو ځای کیږي. ارغنداب د درانیانو ډیره خړ به سیمه مسوره کړې ده. په ژمی کې دا سین ډیر وړوکی دی، خو کله چې دغرو واورې ویلې شی، نو په دغه وخت کې یې اوبه ډیرې ژورې او ګړندی بهیږي. دپلن والی له امله ارغنداب هیڅکله له یوسلو پنځوس متړونه اوښتی نه دی.

خاشرود د هرات په سویل او سویل ختیځ خوا نوي میلی کې په ساخیر Saukhir کې پیل شوی دی . دا سین د یوسلو پنځوس میله واټن له وهلو وروسته د ګرمسیر د خان نشین Khoonnesheen په برخه کې له هلمند سره یو ځای کېږي . دا سین ډیر ګړندی او تر ارغنداب لوی دی .

فرارود د پورتنی سین سره نږدې سرچینه اخلی او هو د یر غوره سین ګڼل کیدای شی دا ښکاره نه ده چې دا سین د سیستان جهیل ته رسېږي او که په شګو کې له منځه ځی ، خو په دوارو حالتو کې دا څرګنده ده چې د هغه اوږدوالی له دوه سوه میلو څخه لږ دی . د ترنک سین له مقر سره نږدې سرچینه اخستې او د سویل لویدیځ لورته د کندهار په لور سرک په امتداد جریان مومی ، بیا وروسته د لویدیځ لورته کوږ شوی او د کندهار له سویل څخه تیرېږي او د کندهار د ښار په لویدیځ پنځه ویشت میلی کې له ارغنداب سره ګډیږي . ترنک په عمومی توګه داسې څرګندیږي چې په پرته او هواره سیمه کې جریان لري ، نو د ګړندیتوب له امله دومره غوره نه بریښي . د کندهار په سویل کې له ترنک سره دارغستان سین یو ځای شوی دی ، دا سین له کافرچاه Cau Firchauh سره پیل او د ارغستان له سیمې څخه اوري او له دې سببه د ارغستان نوم هم ورته ورکړل شوی دی . دا سین د ګړندي سیلابی سین بڼه لري او د دوو یا دریو ورځو پوري ژوراو زیاتې او به لري ، د کال په نورو زیاترو وختو کې یې بستروچ او له اوبو څخه خالی وي . لږ څه کښته له ترنک سره د شوراندام Shorundaum او دوري Doree ښکلې ناوې ګډیږي چې دا دواړه د رباط له شاوخوا څخه راوتلی دي . د د غومرستیا لو او بو په ګډیدو سره ترنک بیا هم د سیمی د وچوالی له امله د یرې لږې اوبه لري او کله چې له ارغنداب سره یو ځای کېږي ، دیوې ورې ویالې په څېر بریښي .

دلورا سین د ګړند په غروکی له توبی Tubbye سره پیل شوی او د بور شور له لارې د پشین خواته ځی . دلته دا سین د سورخاب Soorkhaub هغه او به چې له ګرنی څخه زیاتېږي ، له ځان سره ګډوي . د سرخاب وړوکی سین د ژوب سین له سرچینې سره نږدې د کند په غرو کې پیل شوی دی . وروسته دا سین (لورا) د سپین تازي Speen Taizheh د غرونو له یوې تنګې درې څخه د شورابک خواته اوړي . دلته د لورا سین په دوو څانګو ویشل کېږي ، خو د همدې سیمې په لویدیځ کې دواړه ښاخونه یې بیا سره یو ځای شوي دي . دا سین په ګرمسیر کې د چوغی Choghye سره نږدې تول له منځه ځی . د لورا سین دوه سوه میله اوږدوالی لري . او پلن والی یې هم زیات دی ، خو ژوروالی یې لږ او په یوه وخت کې د یوې اونۍ څخه زیات د یو رې وتو په مخ کې خنډ نه اچوي . د دغه سین غاړې د پشین په برخه کې د یرې ځکې او به

لوی لوی لکه لوکې ترې کار اخستل کېدای نه شي، خو په شوړابه کې یې غاړې تیټې او په اټکلي توګه د هغه تولې او به هم دلته په ګرنه کې کارول کېږي. *

هغه سیند چې پخوا نیوور ته او خس ویل او په او به کې پیل کېږي، په ډېر کمزوري ګومان سره یې د افغانستان سیند ګڼلای شو. د غه سیند او به په برخه کې له پاراپامیزین له غرو څخه سرچینه اخلي (۱) او له هرات څخه تېرېږي. د اوخس سیند یوه واټن لپاره د افغاني او پارسي خراسان په منځ کې او یدیځ لورته جریان مومندلی او بیا یې د شمال خوا ته خپل سمت بدلوي. دلته له یوه واټن وهلو وروسته د اکسوس کوزې خوا ته په بېدیا کې خپل جریان سخې ته وړي او په شګو کې ورک کېږي. د اسین د مروې او مشهد ترمنځ تېرېږي، خو زه د هغه د ځینې کښتنۍ برخې په باب معلومات نه لرم. د اسین د پېښوا هر پرو د بلل کېده، خو اوس ورته پارسیان او افغانان پل مالان او ازبک ورته تجند Tejeid وایي (۲).

سره ددې چې په افغانستان کې نور زیات سیندونه د هغو سیندونو په اندازه چې ما تر اوسه بیان کړل شته خو زه ددې ته اړتیا نه لرم چې تر هغو چې سترو سیندونو ته د سرستیال په څېر ارزښت ونه ټاکل شي او په همدې شان نور مشخصات ونلري، تر کتنې لاندې ونیسم.

*ــ (د ښاغلي کونولي Mr. Conolly's له سفرنامې څخه د اسې ښکاري چې د اورا په نوم دوه سیندونه شته چې لوی یې هغه دی چې پورته مې بیان کړ بل یې د سیریاب Sireaub سره د کوټې په سویل کې پیل او له شادیزي Shadeezye څخه له تېرېدو وروسته لومړي سین ته ګډېږي. ښاغلي کونولي د لعم اوریدلي چې پورتني سیند نه له ګډېدو وروسته د شوراېک له منځه اوړي او د پښین په لویدیځ یوسلوتنل میلې کې یو د جهیل ته رسېږي. (دوهم توک، ۱۲۸ مخ.) - ۱۸۳۸)

(۱) د اوخس یا هریرو د سین په اوبه کې نه پیل کېږي، بلکې د پاپا له غرو څخه د اوبه په لویدیځه خوسلې کې سرچینه اخلي. مترجم.

(۲) د اکسوس په لور د هرات سین تلل د آنویلي D' Anville د امنې او وایي چې او به یې اکسوس ته رسېږي خو د ادریابرونل Rennell په مقابله توګه د اسې ښودلی چې د سویل خوا ته د سیستان خوزې ته ننوزي او د آنویلي خبره ردوي، د اسوال د زیات اهمیت ورډی څکه چې څه ثبوتکه داوبو دیوې بیلو نکې کرښې په څېر د اکسوس په لور او یا د پارس په خوا او به سره ویشي د اځکه چې د پاراپامیزین غرو نه له تاوروس Taurus او نورو لویدیځو غرو څخه جلا کوي په دغه موضوع باندې د موهن لال Mohun lall's لیدنې کتنې زیاته رڼا اچوي، خو څنګه چې د موهن لال کتاب په انګلیسي کې د پېرزلدر دی، نو ما د هغه په مضامینو باندې ټینګار ونه کړ *

۱۳۶ مخ د لمن لیک پاتې

** چې په هغو کې دا لیکل شوي دي چې ، نوموړي په هرات کې اوه میاشتې تېرې کړې او سین یې ډیر ځله لیدلی دی دد غه معلومات له مخې هغه په داګه وایي چې د هرات سین اکسوس ته تویږي (۱۹۳ مخ) خو هغه دد غه عمومي ادعا په څنګ کې ځینې نور دار زښت ور خصوصیات یادوي په ۲۰۴ مخ کې هغه وایي چې پوزه کفترخانه Pozeh Kafter Khaneh د سویل لوديځ خواته د سین په کینه غاړه ولاړه ده دی د کتاب په ۲۳۴ مخ کې دا څرګندوي چې د هرات سین د هرات له سویل ختیځ خواوړې لاندني بیان هغه مشهد ته درا ګرځیدو په ترڅ کې ورکړی دی هغه مخ کې لیکې چې غوریانو ته ورسیږي له سین څخه واوښت (د کتاب ۱۹۱ مخ) : نوموړی له سین څخه د یوه پل په وسیله په تیرپول Teerpool کې د یوه رباط په لور چې د سین په ښۍ غاړه پروت و ، واوښت بیله ورځ هغه بیا هغه وکړه چې له سین څخه تیر شي ، خو بریالی نه شو او له هغه ځا یه بیرته د پله لورته راستون او له پله څخه پورې وت او سین په کینه غاړه پاندې د کافر کلا Kau Fir kella په لور ولاړ له دغه ځایه د جام او محمود آباد خواته راغی او بیا وروسته بیله دی چې له کوم سین او یا غاښي څخه واوړي مشهد ته ورسید نوموړی بیا له هرات څخه د فراه په لور د تګ په لار کې له شاه باد Shahbed څخه وروسته یوه د هرجګ غاښي ته راغی ، له هغې وروسته نوموړی د رود ګز Rodguz او ادر سکند سیندو ته راورسید دا سیندونه د هلمند په لور چې د سویل خواته دی ، بهیږي ، (۲۵۴ مخ) له دې امله دا جګه موړه او غرونه دا سیندونه سره جلا کوي او لکه چې ده ویلي دا غرونه « په پنجاب کې پند دادان خان Pind Dadan Khan غروته چې د مالګې د کانو له امله لمانځل کیږي ، ورته دي . » له لږ شکه پرته دا غرونه چې موهن لال بیان کړي او د جام او کاف په منځ کې خواره شوي هماغه شان ریوند . (ګرنګ ارونګی او یا نشیب دار) او د مالګې پوګټور کان لري (۲۴۹ مخ) .

دا شا یی هماغه غرونه وي چې د فرخ آباد Furkhabad او تور بوتی حیدري Toorbuti Hyderee تر منځ په ډیر کړا و سره نوموړی تري اوښتي وي ، (۲۰۰ مخ) د غه راز دا هماغه غرونه دي چې کپتان کرستي Christie د چلسار chilsar او نشی Onshy تر منځ لیږ څه د لویدیځ خواته د خپل تګ لارې په ښۍ غاړه کې لیدلی دي چې د شمال لویدیځ په لور خواره شوي دي (د پوتنجر سفرونه Pottinger's Travels ۴۱۹ مخ) شا یی دا غرونه د نیشا پور خواته نږدې تللي وي او هغه سین چې د مشهد په لور ځي ویشلی وي له مشهد وروسته دا سین د پل ابریشم Polee Abreshm په نوم سین جوړ کړی دی ۱۸۳۸) .

لەدې املە یوازې هغه سیندونه دي یادونې لپاره پاتې دي چې دافغانستان یوازینی جهیل جوړوي. په دې هیواد کې مې یوازې د دغه جهیل نوم اوریدلی دی. د سلیمان په غروکې د سرفضې له شمال څخه د پولتسي Pultsee جلګه Jilga اونورواړه سیندونه راوتلي او د جهیل په لور بهیږي. نوموړی جهیل دغزنی په سویل لویدیځه برخه کې د مایبولاک Mybolauk څخه دوه منزله (مارشه) د سویل لویدیځ خواته پروت دی .

د دغو وړو سیندونو په لرکې دیوه د پاسه سلطان محمود دغزنی د ښار د شاوخوا دارتیاوړ اوبولپاره یو بند جوړ کړی و، خو دا بند دافغانستان یوه پخوانی پاچا له خوا مخکې له دې چې دغزنی امپراطوري ماته کړي، له منځه ولاړ او خراب شو. د نورو وړو سیندونو په څنګ کې چې د جهیل په لور بهیږي، یو یې د سویل له خوا راځي چې د ګواشتا Gwashta له برخې سره نږدې سرچینه اخلی. د جهیل تولې اوبه په ګډه سره د دوې یا څلور میله قطر په اندازه وچ فصل کې، لري، په داسې حال کې چې په لاندە فصل کې د دغې اندازې دوه واره ساحه نیسی. د جهیل او به مالګینې دي ځکه ځینې ویالې چې له هغه سره ګډیږي مالګینې او به لري. دا جهیل د آب ایستاده په نوم یادیږي چې په پښتو کې یې معنی ولاړې اوبه دي .

څلورم څپرکی

د افغانستان طبیعي او سیاسي ویش

د اندس میداني سیمه له سمندر څخه تر سونګور Sungur پورې په سند کې شامله ده. د دغه ویش په لړ کې هغه برخه چې له سمندر څخه تر شکارپور پورې پراختیا لري، د سند یا نو د استوګنې ځای دی چې د یوه آري دوړ کمن تر ادارې لاندې ده، خو د کابل پاچا ته باج ورکوي. د دغه ځای اوس په عمومي توګه د انګریزانو له خوا سند بلل کېږي، خو ښايي په دې بر خاصه توګه د کښتني سند نوم ورته ورکړل شي. له شکارپور څخه تر سونګور پورې (د شکارپور په ګډون) کېدای شي چې پاسني سند یې وګڼو. د سند هغه برخه چې د اندس دریاب په لویدیځ کې پرته ده، د بلوچو د استوګنې سیمه جوړوي او د شکارپور په شمالي برخه کې د یوې وړې توټې څخه پرته نوموړې ټوله سیمه د کابل پاچا د حکمروايي لاندې اداره کېږي. د سونګور څخه پاس د سلیمان د لړۍ تر ختیځ شاوخوا پورې د دامان سیمه ده. د مالکې د لړۍ سویلي غونډۍ او هغه میدانونه او ناوې چې د اغونډۍ ترې تاوې شوې، په زیاته توګه د دامان په سیمه کې راځي. د سونګور په شمالي برخه او د اندس له ښۍ غاړې سره په لګېدلي میداني سیمه کې بلوڅ میشت شوي دي چې دا سیمه له دامان څخه توپیر کېږي او په بلوڅي یا هندوستاني کې د مکلواد Muckelwaud نوم ورکړل شوی دی. دامان یوازې د غرونو او غونډیو لمنو ته ویل کېدای شي چې د دامان اصلي معنی هم لمنې دي د دامان سویلي برخه ستوریانیو Stoorecaunees کام نیولې ده چې ورپسې د شمالي لور ته یې بابړیان Bauboors میاخیل (میانخیل)، ګنداپوري، دولتخیل او مروت پراته دي. د وروستي قبیلې (مروتو) په شمال او د دامان په وروستي څنډې په امتداد نورې پښتنې قبیلې د خوست، د وړ او او اسحاق خیلو په سیمه کې خورې شوې دي.

دسلیمان د غرو په برخه کې په همدغه امتداد زمري، شیراوني، وزیراو ځدران او سیږي توري او ځانې په یوه ژوره ناوه کې چې د کورمې درياب دسلیمان په غرو کې جوړه کړې ده مشت شوي دي. دمالګې دلړۍ او دشمالي عرض البلد د کرښې د ۳۴ درجو ترمنځ یو لړ غرونه او ناوې پرتې دي چې په هغو کې د بنګښو او ختکو کامونه ژوندکوي او روستی کام دمالګې دلړۍ سویلي برخوته خورشوی او دمکد په شاوخوا کې حتی له اندوس څخه هم اوړي. د غرض البلد ۳۴ درجو کرښې د غرو په شمالي برخه کې د پېښور پراخه اوسمسور میدان پروت دی چې د کابل درياب یې خړوبوي د غه میدان ختیځې خواته اندوس سیند چاپېره کړی دی. د دغه ښار په اوسمسور میدان سویل ختیځ خواته ختکو نیولې ده په داسې ترڅ کې چې شمالي برخه یې په یوسف زیو پورې اړه لري دغه راز دغه وروستي کام هغه غونډۍ چې ماد بونیر، سوات او پنجکوړې ترنومو لاندې ذکر کړې هم د امتو ګنې لپاره غوره کړې دي ځینې یوسف زي د اندس ختیځ خواته هم خواره شوي دي د پېښورد میدان په پاتې سیمه کې ځانګړي کامونه میشت دي چې غالبا پښور د قبایلو تر نامه لاندې یادیدلای شي.

د پېښورد پرتې سیمې لویدیځه خوا داسې فرعي غرونیولې چې له هندوکش څخه ترسفید کوه پورې آوښتې دي د دغو غرونو سویلي برخه چې لوخه ورباندې ښکاري د مومندو په کام پورې اړه لري په داسې حال کې چې شمالي برخه یې د صافو پر په ونو پټه او د اتمانخیلو کام پکې میشت شوی دی د غونډیو د غولړیو په لویدیځ کې د باجوړا رته ناوه پرته ده چې تر پنجکوړې پورې امتداد لري د باجوړ سیمه د هندوکش د سویلي راوتلې برخې ختیځې خواته پرته ده په بله وینا د غه راوتلې برخه باجوړ په لویدیځ کې د دغې سیمې پر سر ولاړه ده. د پېښورد پرتې سیمې په لویدیځ کې د کابل سین ناوه پرته ده چې د هغې ختیځه برخه پېښور څخه اړه لوړه بریښي، او لویدیځه برخه یې دسلیمان د غرو د لویدیځو سیمو په شان ځکه پرته ده. د کابل سین د کینې غاړې ملکونه او سیمې یوځه وړاندې بیان شول او د هغو اړیکې له هندوکش سره څرګندې شوې. د دغه سین د ښۍ غاړې په سیمو کې لومړی د خیبر یا نوسیمه ده چې ورپسې د لویدیځ خواته لیرې د جلال اباد خوړ ب (حاصل خېزه) میدان پروت دی. د جلال اباد لویدیځ خواته د ګندمک سیمې پرتې دي چې دا برخې د غزني سیمې په ګډون د کابل له میدان څخه د خیبر یا نو تر ملکه پورې خورې شوې دي. دا ټوله سیمه چې د سویل خواته یې سین سفید کوه او شمالي ته یې د کابل سین میدان چاپېره کوي د ننګرهار او یا ننګنهار * په نوم یادیږي. د کابل کوهستان وړاندې بیان شو

* دا کلمه یعنې ننګرهار د نهو د سهنونو د راوتلو معنی ورکوي: ننګ په پښتو کې ۹ نهه او نهر درياب ته وايي.

داسې سووویل چې د هغه په سویل کې د کابل میدان پروت دی. هرچاچې د اسمسور ځای لیدلی، او په زړه پورې یې ګڼلی دی. د کابل شمالی خواته د کهستان یوه برخه او لویدیځ ته یې د پاراپامیزین غرونه پراته دي او د کابل سیند او م د ننګرهار او لوګر څوندی د سلیمان له لړۍ سره لګیدلي. په ختیځ کې یې پراته دي. د کابل سیمه سویل خواته یوې اوږدې ناوې سره لګیدلې ده چې د غزنی خواته خیژي او زیاته برخه یې د ورد کو پښتنی قبیلې نیولې او د هغوی استوګنځی ګڼل کیدلای شي. د دغې ناوې په لویدځه خوا کې د پاراپامیزین سلسله او د ختیځ خواته یې د سلیمان د غرو بیلې شاخې پرتې دي چې په هغو کې یو شمیر درې هم لیدل کیږي، د د غو درو په لړ کې غوره یې د لوګر ناوه یا دره، سپیګه، خروار او زرمل ګڼل کیدلای شي. لومړۍ درې درې د غزنی سین خواته ګډې شوې دي، خو وروستۍ یې د آب ایستاده خواته دروسي. (۱)

دامعی Mummye د غرو په لویدیځ د ګوښتي Ghwaushteh په شمال، د غزنی په سویل او د مقر د طول البلد په ختیځ کې ټولې اوبه اوسیږي او نه د دغه جهیل خواته جریان مومي، له دې امله هغه سیمه چې په دغه حدود کې پرته ده، یوه ژوره او ددننه په څیر ځمکه جوړوي چې څو ندی پکې نه شته او د یوه لوړ میدان په څېر برخه کې د نسبتاً حاصل خیزې ځمکې په شان ښځ ته راغلې ده. په دغه ځانګړي طبیعي برخه کې دیرې وړې سیمې شته چې د سویل له خوا په ترتیب سره ګوشته، کتواز، مایبولاک Mybolauk شلګر، غزلی او نانی Naunee یادولای شو.

د آب ایستاده د حوزې او د مقر د طول البلد د لویدیځ خواسیمې ترمنځ کوم تاکلی شوی حد نه شته، په داسې ترڅ کې چې وروستۍ سیمه د لویدیځ خواته نوره هم ټیټه شوې ده.

هغه ځمکه چې د مقر د طول البلد لویدیځ لور ته ټیټیږي، د خواجه عمران د غرونو او پاراپامیزین د غرونو ترمنځ پرته ده، ښایي دا برخه د ارغستان او ترنک ناوو بیله کړی وي. د دغه راز د دغو دووناوو ترمنځ ځمکه برخه هم په دغه ویش کې شامله ږي. لومړی ناوه دومره زیاته ارته نه ده او شمال لویدیځ لور ته کږه شوې ده، دغه راز دومره زیاته ځربه (حاصل خیزه) نه بریښي. په دغه

(۱) داسې بریښي چې الفنسټون د لوګر دریاب په څو برخو ویشلی چې په هغه کې د خروار او به څپله د لوګر اصلي او به جلا ګڼي په داسې حال کې چې د لوګر سین له سرچینې څخه تر کابل پورې یو سین شمیر ل کیدلای شي. له بلې خوا د لوګر سین سرچینه چې ورد ګو کې میشته دي، د غزنی سین یې بولي چې دا هم سنده نه بریښي. مترجم.

دره کې درانیان میشت شوي دي چې د دري ترخولې یعنې تر کندهار پورې لیدل
کېدای شي. د دغې ناوې سویل ختیځ خواته یو څو ندۍ لرونکې او رشو پرته ده
چې تر شورابک پورې پراختیا لري. د ارغستان او ترنک منځ
سیمه د مقر او تورکاني د غرو نو څخه منځ ته راغلې ده،
دغه راز هغه میدانونه چې د غوغرو احاطه کړي، هم په دغه سیمه کې راتلای شي.

د ترنک د ناوې تولې څوړې له مقر څخه د غلځو تر کلاته پورې سویل لویدیځ
اوړي ته ځړ کند پرې. دغه راز د دغې ناوې لمنې د پاراپامیزن له غرو او له هغو
لوړو برخو څخه چې مخکې یادې شوې د عبدالرحیم له کلاسره موازي د سین خواته
تیتېږي، خو د دغې طبیعي وېشنې د لرې شمالي برخې نه پرته داڅوړې داسې یو
معمولي لوړوالی لري چې د تیت او پرک غونډیو په ګډون یې یو څپاند میدان ګڼل
کېدلای شي. داځای هم بشپړ وچ او بې ثمره نه دی او په هغه کې داسې ځایونه شته
چې په هغه توګه ترکرنې لاندې راغلي دي، خو په عمومي توګه یې وچ ګڼلای شو
ځکه زیاته برخه یې د وچوالي له امله بې ګټې او شنډه پاتې ده، دغه راز دا سیمه له
ونو څخه یې برخې شمېرل کېږي. په دغه غیر زراعتي ځمکه کې په زیاته اندازه
واړه بوټي لیدل کېدای شي چې د سونګ او یا د اوښانو د خوراک لپاره ترې ګټه
اخلي، خو دا باید ووایو چې دا ډول بوټي د هندوستان په څېر دومره ګڼ او په ځنګلي
توګه نه راښېي، بلکې ځای په ځای شنه شوي دي. د ترنک د ناوې پلنوالی شپېتو
میلو ته رسېږي، په داسې ترڅ کې چې د دري د لوړې برخې اوږدوالی چې ما بیان
کړ تر دې واټن لږ څه زیات دی، په دغه ناوه کې غلجایان میشت دي.

دارغنداب سین د غلجیو د کلات له شمالي خوا غرونو څخه راوزي. له دغه سین
څخه تر هلمند پورې یو غرني سیمه پرته ده چې شمالي خوا یې د پاراپامیزین غرو
ته رسېږي او د سویل لوري یې د کندهار عرض البلد سره نږدې پای ته رسېدلی دی.
دغې سمې سویلي برخه شنډه او بې ثمره ده، په پاتې برخه کې یې چې دخا کویز، لام
او ښایي ځینې نورې سیمې پکې شاملې وي) حاصل خېز میدانونه د غونډیو تر منځ شته
چې بادام او نورې ونې پکې لیدل کېږي.

د کندهار شاوخوا سیمه ډېره حاصل خېزه او په ډېره لوړه اندازه ترکرنې
لاندې راغلې ده، خو لږ څه د کندهار سویل خواته د ځمکې حاصل خېزي کمه شوې او
کله د یې څخه د لویدیځ خواته نوره هم ولاړ شو نو د حاصل خېزي اندازه ډېره لږه
کېږي په دې ډول د کندهار څخه د هلمند سین د کیڼې غاړې په لور بشپړه دښته مخې
ته راځي. د هلمند سین دواړه غاړې حاصل خېزې او سمسورې دي چې د ګرمسیر سیمه
یې منځ ته راوړې ده. د هلمند د ناوې ختیځ او لویدیځ حدود د بېدیا په واسطه
احاطه شوي دي او د سویل خواته یې د سیستان سیمه پرته ده په داسې ترڅ کې چې

دشمال خواته يې ددرانيانو سيمه پرته ده چې د ګرشک لاندې د هلمند په غاړو پراخته پرته ده او د ګرشک دښاوخوا مځکې د هلمند سين سره نږدې ډيرې حاصل‌خيزه ګڼل کيږي. دسين له غاړې څخه لرې لېرې داسيمه شګلنه ده، خو بيا هم يې بيا شمېرل کېدای نه شي. دهلمند سين په امتداد پورته دهغه ږرشې غاړه د زمينداور سمسوره او شتمنه سيمه پرته ده چې دشمال‌خوا ته يې د پاراپاميزين غرونه چاپېره شوي دي، دغه راز ددغې سيمې په حدودو کې په پاراپاميزين پورې تړلې ځينې غونډۍ هم ليدل کيږي. دغه ښه او سمسوره سيمه له هلمند څخه لويديځ اورته ځلويښت يا پنځوس ميله لرې والي غوره کوي. د زمينداور شمال لويديځ خواته د پاراپاميزين غرو په تل کې دسيا بند Seeahbund سيمه پرته ده. سره ددې چې دا سيمه حاصل‌خيزه او ښه توکه او به کېدای شي، خو بيا هم په لږ ډول کښت او کرنې کيږي او په زياته اندازه دورشو لپاره کارول کيږي.

دسيا بند په سويل لويديځ او د فراه په ختيځ کې پرته سيمه کله چې له غونډيو څخه لرې کيږي نو زيات وچوالی پيداکوي او په همدې ښه تر ډيرې اندازې دوام مومي څو چې په بېديا کې پای ته رسيږي.

فراه يو غوره ښار ګڼل کيږي چې دښاخوا سيمه يې ډيره سمسوره او حاصل‌خيزه ده، خو دا ډول سمسورې مځکې دومره زياته پراختيا نلري، له دې امله په ختيځ کې فراه او د شمال او يا سويل خواته نورې سيمې يې د حاصل‌خيزۍ له پلوه داسې بريښي لکه چې ديوه بې کښتې او وچ دا ګ په منځ کې چې سمسور تا يو کان وي، سره ددې هم بايد ووايو چې د فراه د سيمې دښتې مځکه داسې نه ده چې د حاصل‌خيزۍ توان نلري، نو له دې امله که او به پيدا شي د تولېداتو لپاره ډيره چټکو بلل کيږي.

له فراه څخه شل ميله شمال ته موږ يو لړ غرونه وليدل چې د پاراميزين له لړۍ څخه د پارسي خراسان په لورخواره شوي دي د دغو غرونو په منځ کې د سبزوار يا اسفيزار Isfezaur (اوسني شين ډنډ. مترجم) سمسور ميدان پروت دی. د دغه ځای دشاوخوا غرونه په ځنګلونو پټ ليدل کيږي .

مځکې له دې چې هرات ته ورسيږو، يوه داسې لوښه او پر بلنه سيمه مخې ته راځي چې د يوه ارت ميدان په منځ کې پرته ده او شاخوا يې جګو غرونو چاپېره کړې ده. د دغې سيمې حاصل‌خيزي په بېلو بېلو برخو کې تو پير مومي او په يوه شان نه څرګنديږي.

له سيابند او سبزوار څخه پرته په هغه ټوله سيمه کې چې له غلجي کلات څخه تر هرات پورې مې بيان کړه، درانيان مېشت دي (دا قبيله په پښتني قبيلو کې ستره قبيله شمېرل کيږي) د دغې امنې د سويل خواته ميلان لري. کندهار او دهغې لويديځ خواته مځکې د دغې سيمې ډيرې ښې برخې جوړوي، په پلمه وينا د نو موړې سيمې پورتنۍ مځکې (کندهار او لويديځ برخه يې) د سليمان د لړۍ له هغو ټولو ځايو

لمنځه چې د غرو لویدیځ ته یې بیان کړل تیتې دي خو د پاره وو وایو چې کندهار او د هغې تر پله پورې سیمه د سلیمان د غرو د ختیځ میدانو څخه ډېره جګه بریښي. د هوتکي شاوخوا ته په راستنیدو سره موږ ته دا راڅرګنده شوه چې زرمل له سرغضي څخه د سلیمان د لړۍ د یو بې ځانګه غرو په واسطه بېله شوې ده.

سرغضه، او رګون او وانه داسې بیان شوي دي چې د ګومل لور ته په تدریج سره کښته کیږي، یعنې ګومل د دغو ځایو سویلي خوا چاپېره کړې ده، دغه راز اسیمې د سلیمان د غرو لویدیځ لور ته خورې شوي څو چې د ګومل سین پاسنې برخې ته ورسیږي. دا ځای د دغو سیمه لویدیځه پوله جوړوي پورته ئی دري سیمې د سلیمان د غرو د ښاخو په واسطه جلا شوي دي. دا سیمې د وړو میدانو په څیر د غرو تر په منځ کې سختو راغلي او شاوخوا یې په ونو پټه شوې ده. دغه دري واړه ځایونه جګ او سار سیمکونه دي، خو دا شرایط د دغو سیمو په سویلي برخو کې لږ لیدل کیږي. سرغضه د غلجیو د کام د خروټو په قبیله پورې اړه لري، دغه راز داورګون د میدان یوه سویلي برخه د سیرو په Seroba په نوم هم د دوی په ملکه کې راځي. پخوا له په اورګون کې فورمولیان (یوه فارسي ژبې قبیله) میشت دي. په وانه کې یوه افغاني دي متانیو په نوم اوسیږي. دوانه تر شا سیمه کې د ممی Mummye غرني سیمه پرته ده چې د غرو لمنې یې د ګومل خوا ته کږې دي. د ممی له لویدیځ څخه ماغه لړۍ تېره شوې چې د سرغضې له لویدیځ څخه اوړي، او په دې ډول د اباخ ممی له آبا یستاده څخه په لویدیځ کې جلا کوي.

د ممې په سویلي غرو کې د اوزده Oozdeh کندور Coondoor وداسې نورې دري پرتې دي، دغه راز په دغه ځای کې د وچینه Doccheena تورو ګغز Turrukghuz او نور میدانونه شته چې د ګومل په لور ختیځ ته کښته شوي دي. د دغو میدانو په لویدیځ کې یوه جګه سطحه پرته ده چې د لویدیځ لور ته میلان لري، د دغې جګې سطحې شمال لویدیځه برخه د خوا جه عمران په په غرو باندې تړنګه ولاړه ده. د لته د کافرچاه صالح Sauleh یاسون، Yesson سیونا داګ Seeoona Daug او توبه په نوم سیمې موقعیت لري. د بورشور دره د دغې جګې سطحې څخه د پښین خوا ته راټیټه شوې ده، دغه راز دا ناوه د توبې په سویل کې هم تېریږي. بورشور یوه حاصلخیزه ناوه ده چې د لوراسین یې اوبه کوي. د پښین سیمه ټیټه ده خو تر کندهار یې جګوالی زیات دی، دا ځای یوه میداني سیمه ده چې دومره زیات حاصلخیزه شمېرل کېدای نه شي. د پښین سویل ته د شال سیمه موقعیت لري چې له پښین څخه د تا کاتو Tukkatoo غرو په واسطه جلا شوې ده د شال سیمه تر پښین لوړه خو تر مستونګ ټیټه ګڼل کیږي. مستونګ یو میدان دی چې د کلات د جګې سطحې لاندې په لویدیځه خوا کې پروت دی. سره د دې چې په شال کې زیات افغانان

او سیمې یې هم شال او مستونګ دواړه د کلات د بلوڅي سردار تر اداري لاندې دي دا دواړه ځایونه ډېر حاصل خېزه دي، خو له شال څخه مځکه ورو ورو د خارلاکي Khurlukee خوا ته هسکه شوې او کله چې غرو ته رسېږي نو وچوالی مومي. دغه اوچو-الی دا هم ښايي چې دا سیمه سره ددې چې د سویل خوا ته په سیستان پاندې لوړه شوې ده، خو بیا هم دومره ډېر لوړوالی نه لري.

د خارلاکي او شال تر منځ پرېنډه سیمه د پېډو له دښتې یا د سپېره میدان په نوم یادېږي. زه دا ګومان کوم چې د دغې دښتې او شال د غرو ختیځ خوا ته یو لړ دوام لرونکي غرونه دي چې د تسوپر Tsupper او چري Chirry له لارې کند Kund ته رسېږي. د دغو غرو ختیځ ته مې یو لړ غرونه او غونډۍ بیان کړې چې د سلیمان غرو په خوا د ختیځ لور ته خواره شوي دي دا لړۍ د افغانستان د ورستۍ سویلي سرحد کرښه جوړه کړې ده. د دغو لړیو او ورپسې غرونو تر منځ د زاوارې Zawureh ناوه او د تال چوتیالی Tul—Chooteeallee پرته سیمه موقعیت لري. دا ورستی سیمې په یوه د پرارت د اکه* چې دا ند سویه څېر له متې خاورې Chy څخه جوړه شوې دی، پرته دي. زاواره تر تال چوتیالي نرۍ ده، خو دواړه یې حاصل خېزې ګڼل کېږي. د اته د سپینو ترینو د قبیلې یوه ښه ژوند کوي، سپین ترین پښین هم په لاس کې لري.

د دغو سیمو په شمال کې د بوري Boree په نوم یو پراخه میدان چې تر مځکینیو میدانو د پررت دی، موقعیت لري. د بوري Booree سیمه د یو ډول غونډیو په واسطه له مځکینۍ سیمې څخه جلا شوې ده چې ډېره حاصل خېزه او اوبه لرونکي ګڼل کېدای شي. دغه راز په شمال کې د غه میدان ځینو نورو غونډیو چې ښايي د تاکاتو دوام وي چاپېره کړی او له نورو ورو کم حاصله او خېړو سیمو څخه یې جلا کوي.

د دغې سیمې په شمال کې د ژوب Zhobe ملک پروت دی چې دا ملک د هغه نامتو سین له پلوه چې دا سیمه خړوبوي، مشهور شوی دی. ژوب یوه مختلف الشکله سیمه ده چې ډول ډول ځایونه پکې لیدل کېږي، خو په عمومي توګه تر کرنې لاندې ده. ژوب د سیمې ځینې برخې غرنۍ او غونډۍ لرونکې دي، په داسې حال کې چې ځینې نورې یې سپېره میدانونه لري د ژوب سین د پاسه داسې میدانونه شته چې د غز په ونو او بوټو پټ دي. د ژوب شمال لویدیځ خوا ته د خیسوري Khyssore سیمه پرته ده چې د یوې درې په څېر د هغو غونډیو لاندې چې د سیمو ناډاکې جګه سطحه جوړوي، ځرګند-یږي، د ژوب شمال ختیځ خوا د ګومل سین لور ته خلاصه شوې ده، د ختیځ خوا ته یې د سلیمان غرو لاندې غرنۍ سیمه موقعیت لري چې د هغې په ورستي شمالي برخه

---

* - ډاکه په پښتو کې میدان ته وایي او سیونا د کاکړو د قبیلې یوه څانګه چې په دغه میدان کې ژوند کوي

کې د شیرانو او بیا نو د قبلې پو شا نګه د هار پیال Hurrepaul په نوم ژوند کوي. دغه د پیاله نو لاندې د باړ یانو پوښاخ او بیا وروسته کاکړ اوسېږي.

چې دا وروستی د له پښتنو څخه یو کې له بلوڅو سره ګډ دي. دامې د مخه بیان کړه چې د بوري او تال چو تیالی له کندهار سره یو شان جګوالی لري. له بوري وروسته سیمه ورو ورو د شمال خوا ته ښکته شوې او د ژوب د سیمې ترسرحده پورې دا حالت ساتي، خو وروسته بیا د ګومل سین لور ته دا لوړوالی لږ شوی او سیمه ټیټېږي. ګومل نري ناوه سره د دې چې د شا وخوا غرونو څخه یو په منځ کې ژوره پرېښې، خو بیا هم دا ندس له میدان څخه ډېره جګه کمل کېږي حتی د کندهار په پرتله هم لوړه بلل کېدای شي. د کاکړ د سیمې هغه برخې چې غرو ته نږدې دي په ختیځه او لویدیځه څنډه کې ترمنځنی برخې جګې څرګندېږي، خو بیا هم زیاته ارتفاع د لویدیځې څنډې خوا ته لیدل کېدای شي.

پنځم څپرکی

د افغانستان اقلیم - باران

څرنګه چې په انګلنډ کې وقتوني بارانونه د کال په اوږدو کې اورېږي او په زیاتره آسیايي هېوادو کې هغه لیدل کېدای نه شي نو د دغو ځایو د اقلیمي حالت د کتنې او آزموېښتې لپاره لومړی مشخصه او ځانګړې لارداده چې د فصل او موسمونو ته یا نوبتي بارانونو ته کلنۍ اندازه وښیو. د دغه اورېښت له امله د کرنې چارې ترسره او په زیاتره هېوادو کې د تودوخې درجه او د فصلونو بدلېدل په زیاته اندازه په دغو حالاتو پورې مخامخ اړه لري.

د یادونې وړ فصل هغه فصل دی چې په هند کې د جنوب لوېدیځ مونسون په نامه یادېږي، دا ډول مونسوني فصل د افریقا څخه د مالي تر تاپو وزمې پورې پراخېدا مومي. سویل لوېدیځ مونسوني بارانونه د عرض البلد تاکلو کرښو په منځ کې پراته هېوادونه د کال په اوږدو کې د غلو رومیا شتو لپاره تر لنډ بل لاندې راولي. په سویلي هند کې دا مونسون د جون په لومړي سر کې ښکاره کېږي، خو د شمال خواته یې ټول له ډې لېتې څخه یو څه وروسته دی. د دغه مونسون نږدې کېدنه د وریځو له هغو خوړولو یو څخه جوته کېږي چې د هند له سمندر څخه جګېږي او د هېواد د شمال ختیځ لور ته مخ په وړاندې ځي او ځمکې ته چې نږدې کېږي، نو پېلوالی او توروالی یې هم زیاتېږي. په دې ډول له یو څو تیلیدو والکوور ځوځخه وروسته اسمان په ناڅاپي ډول کې یوه ربړوونکې څوره نیسي او په ځو ئی توکه د شپې له خوا مونسوني باران پیل کېږي.

مونسون له سخت توفانا او تندر سره یوځای څرګندېږي د دغه حالت سختوالی د هغو کسانو لپاره چې یوازې په معتدله سیمو کې یې هغه لیدلی وي دومره زیات دی چې تصور یې هم کولای نه شي. دغه مونسون له سختو او تندو بادونو سره یوځای پیل او په نتیجه کې یې لوی سیلاوونه منځ ته راځي. د یو

څو ساعتو لپاره پر لپسې تالندې او برېښنا له کومې وقفې څخه پرته دوام مومي . تالندې کله کله یوازې اسمان رڼا او له افق سره نږدې وریځې ښکاره کوي، په ځینو وختو کې بیا ډېرې لیرې غونډۍ جوتوي او د تالندې په کرار یدو سره بیا دا ټول شیان په تیاره کې ورک کېږي. کله چې په یوه شېبه کې ناڅاپه بیا را څرګندې شي نو د پړک او پرلپسې روښنایۍ له امله یې د شا وخوا نږدې شیان د رڼا ورځې په څېر ښکاره کېږي. په دغه ټوله موده کې د شاوخوا لیرې ځایو د تالندې غړهار غوږونو ته راځي او هیڅکله نه درېږي، یوازې هغه وخت چې په نږدې ځای یوه ناڅاپي تالنده او برېښنا ولګېږي، نو د لرې ځایو د تالندې غړهار د یوې لنډې شېبې لپاره ورک کوي. د نږدې ځایو تالنده دومره ستر غږ لري چې حتی د بې حسه زړه هم په نادره توګه د هغه له وېرې څخه نه خلاصېږي. * بالاخره تالنده او تندر توقف مومي او هیڅ شی نه اورېدل کېږي یوازې پر له پسې باران ونه او د کوسېندونو اوبه دوام مومي. بله ورځ یې بیا یوه خوا شینې کوونکې ننداره وي، د باران اوبه لا هم په توندۍ د مځکې مخ ته را کښته کېږي او د تورو آوښتو کروندو مخ له نظره پټوي.

د سیندونو اوبه زیاتې او خړې ګرځي او د خپل مسیر په اوږدو کې ټول جارګي، څېرې او د کروندو هغه پاتې خاشې چې د سیند په تل کې د وچ موسم په جریان کې تر پاتې وي له ځان سره وړي او ټول بل ځای ته وړي .

د ، حالت تر څو ورځو پورې جاري وي چې وروسته بیا آسمان شین کېږي او طبیعت خپل مخ ښکاره کوي او داسې برېښي لکه چې په کومو کوډو او جادو سره دا حالت را غلی وي له مونسوني توفانو څخه مځکې د سیندونو له تل څخه پرته د بوټو پاڼي په ندرت سره لیدل کېدای شي د آسمان شین والی نه یوازې د یوې توتې وریځې له امله ګډوډ یږي بلکې هوا له ګرد څخه ډکه وي چې دا حالت پخپله د لرې شیانو د لیدلو د خړ پړتیا لپاره کافي دی او لمر تر څو چې په آسمان کې ښه پورته شوی نه وي تر هغو داسې تت او بې رنګه برېښي لکه چې په مخ یې لړې پرتې وي. ورپسې داسې تود ، وسوزوونکی تند باد د

* هغه خلک چې زیاته موده یې په هند کې ژوند کړی وي، د دغو تالندو او تندر عظمت هم ورته لږ ګډېږي او ورسره عادت نیسي خو سره د دې هم کله کله د تالندې غږ دومره اوچت شي چې داري اوسېدونکو زړونه هم لړزوي او پرته له آغېزې څخه یې نه پرېږدي. ما ته یوه پاغلي چې څه موده مالا بار کې و (یو ولایت دی چې په هغه کې د تالندې سختوالی او د مونسون تندي تر نورو ځایو خاص امتیاز لري) داسې وویل چې د تندر او تالندې یوې کړپا دیو زیات شمیر افسرانو چوپټیا د یوې شېبې لپاره مخ ته را اوړه او د دوی د ډلې د زیاترو رنګونه زېړ اوښتي وو.

ټتې د تاو په څیر الوزي او په خپل مسیر کې هر شی لکه لرګی، اوسپنه او نور جامد مواد (سخت شیان) تودوي حتی په سیوري کې هم په همدغه شان تودوالی چلیږي، دغه راز له مونسون څخه لږ مخکې د دغو تودو بادونو په ځای یوه دوپجنه او آرامه هوا رامنځ ته کیږي. خو کله چې د تودوبان لومړنی تندوالی پای ته ورسیږي نو په دغه وخت کې د ټولې مځکې مخ ناڅاپه په شنو مرغو او ښستو وښو پټیږي. سیندونه ډک او په کراره خپل مسیر ته دوام ورکوي، هوا چڼ او په زړه پورې وي، آسمان بل ډول او مخ یې په وریځو سینګار شوی بریښي. د دغه تغیر او اوښتون اغیزې د ټولو ساکښو موجوداتو په ژوند کې څرګندې وي. دغه حالت په اروپاکې یوازې د اسې تصور کیدای شی لکه چې د سخت ژمی په منځ کې ناڅاپه د سپرلی تازه هوا وچلیږي او هر څه په ځلیدونکې توګه ډګر ته راوځي. له دغه وخت وروسته د باران اوریښت لږ او په وقفوي توګه وي او دا حالت تر یوې میاشتې دوام کوي. له یوې میاشتې وروسته باران بیا په خورا زور سره پیل او د جولای په میاشت کې تر آخرې اندازې پورې سخت والی مومي.

د دریمې میاشتې په اوږدو کې باد لږیدو خوا ته درومي، خو سره د دې هم باران په پوره قوت سره اوریږي په سپټمبر کې اوریښت په پرله پسې توګه سره له نڅه ځي او د دغې میاشتې په پای کې بیخي دریږي په دغه وخت کې باران له تندرا و تالندې څخه سوا په معتدل له توګه مځکې ته را ځي.

د هند په زیاتره برخو کې مونسون د غه حالت لري، سره د دې هم یو څه توپیرونه لیدل کیدای شي، لوی توپیر د مونسون د پیل وروسته کیدل او د باران د اوریښت داندازې لږوالی دی چې له سمندر نه مخ په وچه راکوزیږي. هغه سیمې چې زموږ د اوسنۍ څیړنې موضوع ګرځیدلی دې د مونسون له هوا څخه د هند په نسبت لږه استفاده کوي او د سمندر هوا یکې په هماغه قوت نه چلیږي نو له دې امله اغیزې یې په لرې ځایو کې لکه کندهار د ومره لیدل کیدای نه شي، د دغې قاعدې څخه یوازې د افغانستان وروستی شمال ختیځ څنډه سوا ګڼل کیږي او د دې هیواد په دغه ځای چې له سمندر څخه ډیر لرې پروت دی د مونسونی هوا آغیزې د هندوستان په څیر شمیرل کیږي او په فوق العاده توګه له ختیځ څخه ځان د لته له یوه اوږده واټن وروسته را رسوي چې له سمندر څخه د ا فاصله د کندهار په پرتله زیاته ده. د مونسون په برخه کې دا ډول بې قاعده ګۍ او ګډوډي په لاندې ډول څرګندې ولای شو. دا مې لیدل کیږي کله چې وریځې د هند د سمندر د او بو له تبخیر څخه منځ ته راشي، نو د سویل لویدیځو بادونو له امله د مځکې په مخ حرکت کوي، د کابل سلطنت زیاته برخه په هغه برخه کې پرته ده چې د افریقا او عربستان د وچو پادو

(لیورډ) مسیر له هغه ځخه اوړي، یوازې دا بادونه د نري سمندر کې (دعرب سمندر کې) تېرېږونه د دغه هیواد (افغانستان) سویلي ساحلي سیموته د عربستان د سویلي کوهونو په څوکو رسېږي چې ساحه يې ډېره وړه او د سمندر د ساحل ترشا ډېر ژر له منځه ځي یاد اچې د سمندر د ګاونډیتوب څخه نه اوړي. هند د افریقا د پناه ترشا د ختیځ لوري ته لرې پروت او مونسوني بادونه په پراخه پیمانه يې له څنډه د هغه د خاوري په مخ چلېږي. مونسوني اغیزې په طبعي ډول د سمندر له ساحلي سیموسره نږدې ډېرې زیاتې وي له دغه ځای وروسته د مونسوني اورښت پراخه لمن د ځمکې په مخ خوره او ټول لنډېږي له یوه اوږده واټن وروسته له لاسه ورکوي په بله وینا د مونسون مرطوبې کتلې د ځمکې په مخ د پراخې اوږدې فاصلې وهلو وروسته ځای په ځای د باران سبب ګرځي، نو په دې ډول بې رطوبت کېږي. له دې څرګندونې ځخه دا نتیجه اخلو چې د مونسوني اورښتونو اغیزې په ټولو هیوادو کې له سمندر ځخه په لرې والي یا لرې والي پورې اړه لري، په دغه برخه کې یوازې ځینې غرونه استثنا تشکیل کیدای شي ځکه لوړې برخې او غرونه د وریځو ټوټې ځان ته راکاږي او د هغو د اورښو زیاته اندازه د باران په څېر استحصالوي چې په دې ترتیب غرونه د شاوخوا ځمکې لپاره پریمانه اوبه چمتو کوي یعنې که په عادي توګه مونسوني وریځ له پوړیو سیمو ځخه واوړي نو ډېره د اورښت سبب نه ګرځي لکه په غرنیو سیمو کې چې د ځملو اوبو زیاته اندازه له لاسه ورکوي .

د وریځ یا بادونو په مخ کې غرونه د اسې پوځنډ اچوي چې د زیاتې پاملرنې او کتنې وړ شمېرل کیدای شي. سویلي لویدیځ مونسون د سمندر د پاسه ځول طبعي مسیر تعقیبوي، سره د دې چې ځمکې ته له رسیدو وروسته د دغه مونسوني جریان تغیر مومي، خو په هند کې د هغو عمومي سمت د اسې بریښي چې د شمال ختیځ خواته میلان پیدا کوي، په دې ډول د امونسوني کتلې د دغه ټاپوزمې (هند) په منځنیو او لویدیځو برخو کې ځول لنډ پل تشوي. هغه ولایت چې د هند په شمال ختیځ کې دی د مونسوني اورښت څخه په توپیر لرونکي توګه استفاده کوي. هغه بادونه چې مونسوني اورښتونه د هند دغې برخې ته رسوي، لومړۍ د سویل لویدیځ * لارې د بنګال د خلیج په مخ و چې ته راځي او ځول مسیر ته تر هغو دوام ورکوي څو چې د همالیا او یا هغه غرونه چې د دغو سترو غرو په سویل کې پراته دي د هغه مخه نیسي او سمت يې د شمال

* د سویل لویدیځو بادونو د منځ ته راتلو علت په جلا بحث غواړي او زما له موضوع بېره چې د کابل د سلطنت د اوږدو باراني بیان دی اړیکې نلري. د دغه مقصد لپاره دومره باید ووایم چې د دغه باد د چلېدو ساحه تر هغه حده چې يې غواړو په عمومي توګه پوره دل شوي ده

لویدیځ لور ته کږوي، نو له دې امله د همالیا په سویل لویدیځه پورتنۍ سیمه کې د داد ول بادونو چلېدل اصلاً د سویل ختیځ څخه پیل کېږي او دا له همالیا غه لوري نه دي چې په بنګال کې زموږ د واکمنۍ ایالتونه وخېږي باران ونه ورڅخه اخلي، خو کله چې دا بادونه ډېرې لرې سویل لویدیځې برخې ته ورسېږي، نو د هغه وکش غرونه یې مخې ته راځي دلته یې مخه یو ځل بیا د هغه غرونه نیسي او ددې غرونو د مسوربه او ږدوکې لویدیځ لوري ته تر هغې پورې ځي چې د هندوکش د وتلې برخې ((Projection) او د سلیمان له لړیو سره مخامخ کېږي او هغه لوري ته یې د وړاندې تللو مخه نیسي او یا کم تر کمه هغه وریځې ترستنوي چې له ځانه سره یې را اخستې وي .

د دغو مونسونو بادونو دورول په غرنیو سیمو کې چې ورسره د وریځو کتلې بوځای لېږدول کېږي په بېلو بېلو سیمو جلا اغېزې شیندي. له سمندر سره نږدې چې د وریځو توتې ډېرې پېټې او زیاتې او په لړیو یوه برخه رطوبت یې د سمندر سره نږدې غونډیو او شاوخوا ځنګلو کې کښته کېږي او یوه نوره برخه یې د شمال لویدیځ ختیځ خوا ته خوځېږي په لاره پراخوي خو یوه برخه چې د لوړو غونډیو او غرو (همالیا) څخه وا وړي سیلابي د تبت خوا ته ځان رسوي او هلته د باران د اوریدو سبب ګرځي. د کشمیر په عرض البلد کې چې وریځې په زیاته دول تشي شوي وي د اورومتي او رښت د پرلپرا اغېزمن لیدل کېږي . په دې ډول هغه لړۍ وریځې چې د سویل ختیځ څخه د شمال لویدیځ پر لور ته ځانونه رسوي دا او یو یوه برخه یې د همالیا د غرنی سیمې سویلی غونډۍ او لمنې ځان ته راکاږي او یوه برخه یې د افغانستان په لور رخپل تګ ته دوام ورکوي څو چې په کمه اندازه د دغه هیواد د غرنیو سیمو په تېره بیا د کشمیر ناوې ته ور سېږي . هغه مرطوبې کتلې چې د افغانستان غرنیو سیمو ته ځانونه رسوي د پرلپسې اشباع له امله یې او په تشې او د دغه هیواد د غرنیو برخو ته یې یوه کمه اندازه او به باتې کېږي چې په دې ډول یوازې د غرنی سیمې او په چتو کوي او د غرونو په تل کې پرتو سیمو ته یې د ورسره اغېزې رسېد لای نه شي .

پورتنۍ څرګندونې شاید د دغه لاندنی حقایق تشریح کړي او یا لږ تر لږه به د دغو حقایقو ته اړیکه وښيي: د مالا بار په ساحل کې سویل لویدیځ مونسون د می په میاشت کې پیل کېږي او هلته د برتوندوي، خو وروسته د میسور Mysore په برخه کې د بر برابر (معتدل) بریښي او د کروماندل ساحل چې لویدیځې غاړې یې غرنیو سیمو نیولی دي له دغه مونسونی هوا څخه تر ډېرې اندازې پورې برخې کښل کېږي . له دغه ځایه بوځه د شمال خوا ته مونسون د جون په لومړنیو ورځو کې پیل کېږي او دلته یې لوندوالی تر ډېرې اندازې لېږشوې وي، یوازې په هغو ځایو کې چې ورسره نږدې غرونه

پورته وي او یا سمندر کې ورته څرنګه موقعیت ولري توند والی
يې هماغسې زیات وي او په دغو ځایونو کې د اورښت اندازه ډیره لوړه او په زیات
مقدار سره او په مځکې ته رسیږي. له ډهلي سره نږدې د مونسوني هوا د جون تر
پای پورې نه لګیږي دغه راز دلته د اورښت اندازه تر کلکتې او بمبۍ يې ډیره
کښته ده. د پنجاب په شمال کې له غونډیو او غرو سره نږدې اورښت زیات او د ډهلي
په پرتله ډیر بېښي، خو د پنجاب سویلي برخه چې له سمندر او یا شمال غرو څخه لیرې
ده ډیر لږ باران پکې اوریږي. هغه سیمې چې د کشمیر لاندې پرتې دي
او یا داچې د هندوکش د کوږوالي یار او تلې برخې په تل کې (پخلي Pukhlee
و نیراو سوات) موقعیت لري تولې د دغه بارانو څخه خپله ونډه تر لاسه کوي،
له دغو ځایو څخه وروسته د لویدیځ په لور د اورښت اندازه کمیږي په سوات کې
د اورښت موده یوې میاشتې ته راټیټیږي چې په دغه موده کې وریځې او بارانونه
په وقفوي توګه دوام مومي. په هم دغه میاشت کې (د جولاۍ د میاشتې په وروستۍ
برخه او د اګست په پیل کې) مونسوني هوا په پېښور بنګښو او د ختکو سیمو کې
وریځې او بارانونه مخ ته راوړي. دغه ډول اغیزې د کابل سیند په ناوه کې
ډیرې لږې حس کیږي او د لغمان تر شا هغې خو رته دومره پراختیا نه مومي، خو
په باجوړ، پنجکوړه (د هندوکش د سویلي کوږوالي یار او تلې برخې لاندې برخه)
د کافرو په سیمه کې چې د سویلي کوږوالي یار او تلې برخې په سر پرته ده او تیرا
کې چې د تخت سلیمان په کنج او د دغې سلسلې په ختیځو څنډو کې موقعیت لري،
د سویل لویدیځ مونسون اغیزې ډیرې ژورې او د کالنۍ اورښت زیاته اندازه
هم په دغه مونسون پورې تړلې ده. په دغه مرطوب فصل کې د ځاځیو او توریو
په سیمه کې هم اورښت د هغو ګردبادو له امله چې د شمال له لوري راځي، صورت
نیسي، خو زه پوره معلومات نلرم چې آیا هغه اورښتونه چې په بنو او د هغې په
شا وخوا سیمو کې اوریږي د هم دغو ګردبادونو نتیجه ده یا داچې د سویل لویدیځ
مونسون منظمې او مخامخ اغیزې دي د بشپړ او منظم مونسون اغیزې د لویدیځ
خواته د مکران تر وروستي سرحد پورې لیدل کیدای شي خو دا به دومره اسانه
وي چې د دغه مونسون شمال لویدیځ لوري اغیزې په ژوره او ښتیاني توګه وټا
کل شي زه د هغې کرښې تر شا چې د کلات د جګې سطحې شوراېك، پښین او ژوب د
سیمو له شمالي برخو څخه د کرښې دریابسر چېنې پورې اوړي معلومات نلرم او
نشم کولای چې د مونسون اغیزې دلته بیان کړم، سره د دې دا یادووایم چې د دغې
کرښې په سویل لویدیځه برخه کې د مونسوني اورښت اندازه په بیلو بیلو سیمو کې
توپیر مومي. د کښتني سند د پاسه مونسوني وریځې په لږ څنډسره اوړي نو دا مو-

نسونې مرطوبې کتلې په پاسنی سند اود امان په سیمه کې د زیات اورښت سبب
گرزي، سره د دې د بارانونه د دغو ځایو کلنی غوره او درانده بارانونه شمېرل
کېدای نشي . په مکران اولس کې د سمندري ساحل سره نږدې مونسونی وریځې
د غرونو د موجودیت له امله توقف مومي نو په دې دول په دغو سیمو کې د هغو په
شان د زیات باران او اورښت باعث کېږي. په سیستان کې شاید د مونسونی او
رښتا اندازه د پاسنی سند او دامان په شان وي . په بوري کې یوازې یوه میاشت
وریځې او باراني هوا لیدل کېدای شي. شاید په ژوب کې دا دول شرایط لږ وي د غه
شان امکان لري چې د دغې کرښې په اوږدو کې یوازې لږ څه باران وورېږي خو
کله چې موږ له دغه ځای څخه د شمال خوا ته پرمخ ولاړ شو نو د اورښت اندازه ډېره
لږه او هغه هم په وقفوي توگه سره وي (۱) .

د بارانونو دویم پړاو په ژمي کې پیل کېږي خو په دغه وخت کې د اورښت ښه یوا
زې د باران په څېر نه وي بلکې کېدای شي چې د واورې شکل هم ولري چې دا د سیمې د
تودوخې په درجې پورې تړلې ده که هوا توده وي باران او که سړه وي نو واوره پکې
اورېږي. ژمنی اورښتونه د اندس په ټولو لویدیځو سیمو تر هلسپونټ Hellespont
پورې صورت نیسي . دا دول بارانونه او یا واورې د سویل لویدیځ مونسون په پر
تله کرنې ته ډېر اهمیت لري یوازې په ځینو خاصو سیمو کې په استثنایي توگه د
مونسون په مقایسه غوره نه بریښي . په رښتیا د هغو سیمو لپاره چې زه به یې یادې
کړم د غه فصل د زیات اهمیت وړ شمېرل کېدای شي حتی په دغه فصل کې ژمنی او
رښتونه په هند کې هم څرگندېږي خو یوازې کرسمس ته نږدې دوې یا درې ورځې
جریان مومي شاید په هند کې دغه ژمنی اورښتونه د کرنې لپاره گټور وي خو ټول
په هغو باندې اتکا نشي کېدای .

په هغو ځایو کې چې د ژمي اورښت د واورې په څېر وي نو دا حالت د کرنې لپاره ډېر
زیات د اهمیت وړ گڼل کېدای شي خو په هغو سیمو کې چې د باران په دود وي نو د
پسرلني بارانو څخه یې ارزښت ډېر ټیټ دی . د پسرلني اورښت د اندازې لږ والی
د اوړېدو وخت د مناسب والي له پلوه جبران کېږي .

پسرلني اورښتونه په بیلو بیلو وختو کې د یوې ټاکلې مودې لپاره پایښت مومي لکه
په ځینو سیمو کې چې پنځه لس ورځې او په ځینو نورو برخو کې تر یوې میاشتې پیدل کېدای
شي . پسرلني بارانونه افغانستان، ترکستان او ټولې هغه سیمې نیسي چې زه به یې هرومرو

(۱) ـ زه هیله کوم چې پورتنۍ ورکړل شوي معلومات به سمه بڼه ولري خو زه د دغې
تیوري پلوي نه یم که چېرې ما دا فکر کړی نه وای چې دا معلومات د حقایقو سره اړخ
لگوي نو د هغه له ښکاره کولو څخه به مې ډډه کړې وای .

یادې کړم. د هغه له زیاتو برخو کې هم د غه ډول باران ته په همدې فصل کې اورېږي چې د یوې مودې لپاره د تودو بادونو مخنیوی کوي خو د دغو اورښتو اغېزې په کرله کې د ډېرې لږې دي. په تورو ټولو سیمو کې پسرلني بارانونه د کرنې په برخه کې ډېر غوره اهمیت ورشمېرل کېږي ځکه دا اورښتونه په داسې وخت کې نازلېږي چې زیاتره زراعتي نباتات د ځمکې په مخ یوې تازه کلي نموته رسېدلي وي. داسې ویل کېږي چې ژمنۍ او پسرلني اورښتونه د واړه له لویدیځ څخه دغو سیمو ته رارسېږي.

د افغانستان اقلیم په ټولو برخو کې یوشان نه دی او له یوې سیمې څخه و بلې سیمې ته په فوق العاده توګه توپیر موسی. د غه اختلاف تر یوې اندازې د عرض البلد په توپیر پورې اړه لري د سیمو ترمنځ اقلیمي تغیر او تر ډېر زیات د لوړوالي په بېلو بېلو اندازو پورې ارتباط موسی یعنې د ارتفاع د تغیر سره سم اقلیم هم بدلون پیدا کوي. د غه راز په دغه هېواد کې د بادونو چلېدل هم په اقلیم باندې ډېرې غوره اغېزې شیندي چې ځینې بادونه د واورې لرونکو غرو په مخ لګېږي ځینې تورونه اوړي په فصل کې تودوالی او په ژمي کې سوړوالی موسي. کله چې د وچې د بېدیاوو یا د یروستروو چو سیمو څخه تېرېږي نو په اوړي کې د دلته د ځینو سیمو هوا د تورو مرطوبو ملګونو د بادونو په واسطه تازه کوي خو ځینې سیمې په تېره بیا هغه ځایونه چې شاوخوا یې غونډۍ پرتې وي د دغو بادونو څخه بې برخې کېدای شي.

زه به لومړی د پېښور د سیمې تودوخه بیان کړم ځکه له دغه ځای سره د افغانستان د لوړو ځایو په مقایسه اشنا یې لرم. کله چې د پېښور اقلیم وڅېړل شي نو له هغه څخه به د یوه معیار په څېر د دغه هېواد د تورو په هکله استفاده وکړم او د دغې سیمې اب وهوا د افغانستان د پاتو برخو سره پرتله کړم.

پېښور په یو هوار او ټیټ میدان کې پروت او له ختیځ څخه پرته په نورو ټولو خواوو کې یې غونډۍ او غرونه لیدل کېږي نو له دې امله هوایې ډېره د وپه او محصوره ده او تودوخې په زیاته اندازه جګېږي. د ۱۸۰۹ کال په اوړي کې چې یو پوست او نرم اوړی کڼل کېده د تودوخې درجه په یوه لویه خېمه کې چې په مصنوعي توګه یوڅه سړه شوې وه د فارنهایت ۱۱۲ یا ۱۱۳ درجو ته جګه ختلې وه چې دا تودوخې د هغه د پړو تو د وسیمو غونډې لوړه د. د پېښور د اوړي تودوخې د هغه په څېر دوامداره نه وي بلکې ورپسې د ساړه ژمي په واټلو سره سملاسي دا حالت تغیر کوي او هوا ډېره راکښته کېږي. لاندنی بیان په پېښور کې د فصلو نوی بل پسې راتګ څرګندوي.

زمونږ همات د ۱۸۰۹ کال د فبرورۍ د میاشتې ۲۳ نېټه د پېښور میداني سیمې ته راننوت. په دغه وخت کې د شپې هوا سړه وه خو د ورځې تودوخې ډېره په زړه

پورې او منونکې ګڼل کېدله او زیاته توده نه وه په لمر یادشوي او ورځې په هره برخه کې یې ښې اغېزې درلودې. د مارچ د میاشتې تر اتمې نېټې پورې سهار په هر و مرود مځکې مخ سپین ښخنې پرخې او یخ نیولی و وخو د دغې میاشتې په نیمایي کې د لمر وړانګې د سهار په اتو بجو کې په زړه پورې نه وې او ناوړه لګېدلې. نه دې وروسته هوا ورو ورو مخ په تودېدو شوه او د لمر تودوالی ډېرې جګې اندازې ته ورسېد خو د پرله پسې اوربښتو نو له امله هوا ډېره تازه کېدله او دمې د میاشتې تر لومړۍ هفتې پورې دا حالت جاري و یعنې سیوري ښه په زړه پورې ساړه او هوا د باران له امله چېر والی څرګند اوه. دمې د میاشتې له لومړۍ اونۍ وروسته هوا ډېره ګرمه او حتی بادونه هم په همدغه شان تاوده شول. پېښور ته ژمي په رسېدو سره پسر لنیو بوټو د تېر کال په وچو ښو کې په شنه کېدو پیل کړی و، په دغه وخت کې ځینو مځکې شنه کېدونکو نو غوټۍ کړې وې خو زیاتې پاڼې تو یېدونکې وې تر او سه پورې او ښې او له پاڼو څخه بربنډې بریښېدلې. د غه شان د پسرلي نږدې کېدل هم ډېر په ېږه را روان وو. د مارچ د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې د شفتالو او الوچود ونو غوټیو په سپړ لو شروع کړې وه، منې، بهی او د توتانو ونو د مارچ د میاشتې په دویمه اونۍ کې غوټۍ نیولې وې. د دغې میاشتې د پای ته رسېدو نه مځکې تو لو ونو په بشپړه اندازه پاڼې کړې وې. د اپریل په لومړیو وختو کې اوربشو وږي ایستلي او د مې د میاشتې په لومړۍ اونۍ کې یې ریبل پیل کېدل. له دغه وخت وروسته تودوخې زیاته شوه او د یرڅله به ډېرې سختې اندازې ته اوچته شوه، د جون د میاشتې تر لومړیو وختو پورې نه یوازې ورځ بلکې شپه هم ډېره توده وه. د دغې میاشتې په اوږدو کې د شمال لویدیځ تاوده بادونه دیوې داسې سرې هوا په واسطه بدل شول چې په سهار کې به د یخنۍ له پلوه نا ارامه فضا غوړېدلې وه، خو د ورځې په جریان کې ډېره په زړه پورې شمېرل کېدله. د هوا سوړوالی دومره زیات دوامدار پاتې نه شو او د جون تر دروېشتمې نېټې پورې چې مونږ له اندس څخه تېرېد لو تودوخه ډېر زیات جګوالی ته ورسېد له. د پېښور په پرته او اوارمېدانی سیمه کې تر وروستۍ ورځې پورې ډېر سخت تاوده بادونه له سویل څخه دغې سیمې ته چلېدل، د پېښور د میدان څخه د وتلو نه مځکې د باد وسمت له سویل څخه د شمال ختیځ لور ته واوښت او هوا د دغو بادو په پیل کېدو سره په زړه پورې تو ګه سړه شوه. له دغه وخت وروسته موږ په دې پوه شو، چې د جولای د میاشې تر نیمایي پورې به هوا مخ په تودوالی لاړه شي. له دغې نېټې وروسته د ختیځ اوري څخه ساړه بادونه پیل او ورپسې سړه هوا او ورځې را څرګندې شوې. د سپتمبر د میاشتې دور وستۍ نیمایي برخې هوا داسې سړه غوندې شوه چې په ژمي کې یې ګڼل بې ځایه نه دي او ورپسې نورې میاشتې پرلپسې سړې شوې او تر فبرورۍ پورې دغه حالت دوام وکړ. حتی په ژمي کې

دومره زیات دوامداره ساړه نه وو، سره ددې چې په دغه وخت کې به د شپې اوبه په سهار کې کنګل او پرخه د مځکې په مخ پرېښېدله خو بیا هم د امر په راختلو او لمر څرګندېدلو سره به له منځه تللې او اوره یوازې د یوسپین ډېر ویووار په یاد را – تلله چې د لته کوم وخت وریدلې وه. د ځینو هندي بوټو او نباتاتو پاڼې د ټول کال په اوږدو کې شنې پاتې کېږي. ځرنګه چې زما استوګنځی لرې دی نو نشم کولای چې د هیات د شاغلو ورځنی یاد داشتونه چې د ترمامتر په واسطه یې ثبت کړي لاس ته راوړم خو یوازې داسې تصور کوم چې د دغه ځای (پېښور) ډېره لوړه تودوخې په سیوري کې د فارنهایت. ۱۲ درجې او ډېره ټیټه درجه یې په کال کې ۲۵ در- جو ته راکښته کېږي. دا باید ووایو چې د ۱۸۰۹ کال اوړی په دغه ځای کې ډېر سوړ کنل شوی دی. نو زه فکر کوم چې نه شکه پرته به د پېښور هر کال هوا په اوړي کې تر هندوستان معتدله وي په داسې ترخ کې چې د دغه ځای ژمی ډېر زیات سوړ دی. هغه زړه نظریه چې ما ته د پېښور او هند د اقلیم له پرتله کولو څخه لاس ته راغله هیڅکله هغه سړی ته چې د افغانستان وا کمنی د لویدیځې برخې سړې هوا سره روږدی وي نه څرګندېږي. د کابل او کندهار هغه آرې او سیدونکي چې د پاچا سره پېښور کې، وو ټول په ګله د زغم څخه زیاتې تودوخې په مقابل کې فریاد ونه او کوکې کولې. دوی به دې باب ځینې نور شعرونه هم کې او هغه لونه راخستلي وو، خو د دغې سیمې د هوا په باب زاوړه نظر ذهن ته ور سوي.

د افغانستان د نورو سیمو تودوخې د دغه هیواد په شمالي برخو کې د ارتفاعاتو د توپیر او شرایطو له امله په متفاوته توګه کنل کېدای شي، یعنې د سیمو د ارتفاع د بدلون له پلوه د هرې سیمې هوا جلا بڼه لري او له بلې سیمې څخه توپیر لري. د ټیټو برخو هوا توده ده، منځنی ارتفاع لرونکې سیمې معتدله هوا لري او د جګو سیمو اقلیم سوړ دی، خو په عمومي توګه ویلای شو چې د افغانستان اب وهوا د هند په شیر دومره زیاته توده او د انګلستان په شان دومره سړه نه ده.

د تودوخې ډېره لوړه او ډېره ټیټه اندازه د لغمان د اقلیمي څېړنې په برخه کې چې د پېښور لویدیځ ته پروت دی څرګندېدای شي. د کابل د سلطنت په ټولو برخو کې د دغه ځای په شان اقلیمي تغیرات نشته ځکه د تودوخې د اډول تغیرات په یوه وړه ساحه کې د زیاتې هښیتا او ږیښې په تېره بیا د هغې سیمې (پېښور) په پرتله چې ما د نمونې لپاره ټاکلې وه ډېر توپیر څرګندوي. د اوړي د فصل د زیاتې تودوخې په وخت کې د جلال اباد میداني سیمه له زغم څخه بهر دوبجنه او توده وي نو په دغه وخت کې سپین غر څوکې سرپورته کوي او د دایمي واورو تاج یې په سر وي. د جلال اباد له میداني سیمې څخه لږ څه د شمال خوا ته ډېرې نږدې غونډۍ په دغه وخت کې سړې دي او ډېرې یې په واورو پټې دي. د لغمان په لویدیځ کې د کابل جګه سطحه

د ماړه اقليم ښه خوندا خلي او د پاسته اوري له امله يې په مخ وا ښه شنه شوي دي.
د هوا دا ډول توپيرونه د هغو مسافرينو او سيلانيانو لپاره چې د يوه ډول هوا در لو-
دونکي سيمې ښه راغلي وي د هيښتيا يوه پخه او غوره موضوع جوړوي اسپراتور-
بابر د کابل ختيځ ته د خپل لومړي سفر په هکله د تبصرې په ترڅ کې هغه ناڅاپي بدلون
چې په ده باندې يې ډيره اغيزه وکړه په لاندې ډول داسې بيان کړي دی، دی وايي:
« ما د مخه تاوده اقليمو نه او يا هندي سيمه ليدلې نه وه. کله چې زه غاښې ته
ورسيدم نو ما بله دنيا وليده. بوټي، ونې، مرغان، ژوی او د قبيلو خلک ټول
راته نوي وو! زه هيښ پاتې شوم »
د برودرانيو د سيمې سوېل خواته په راګرزيدو سره د بنو سيمه بريښي چې
د پېښور په څير توده دده اسحق خيلو سيمه ښايي تر دې هم توده وي. خوست او د دووړ
سيمې چې تر بنو هسکې دي نو هوا يې نسبتاً سړه معلوميږي.
د مروتو سيمه سره د دې چې د غونډيو او ميدانو نو ښه منځ ته راغلې ده بيا هم ټوله
په يوه شان توده ګڼل کيدای شي. د دغه ځای ميدانونه تقريباً ډير تاوده دي او د
اوړي د تودوخې له امله چاو د شوي ځرګنده بري. حتى د لارګي (Largee) سيمه
د جنوري په مياشت کې له سوړوالي ښه بې برخې وه.
د دامان ژمی ډير په زړه پورې او د هندوستان تر هرې برخې موړدی په
دغه وخت کې دلته په سهار کې کنګل او پرخه معمولاً پرته وي. په ۱۸۰۹ کال کې
ترمامېتر د دغه ځای هوا په ژمي کې د سپېده چاودې په وخت کې د يخ نيولو له نقطې
ښکته يو څه لاندې درجې ښودلې. د دامان اوړی ډير تود او له زغم ښه ځکه ګڼل
کيږي. ما د دامان له خلکو ښه اوريدلي چې دوی په هند کې
هيڅکله د دامان په څير ناوړه هوا حس کړې نه ده د دلته د شپې
د تودوخې درجه تر ورځې يو څه کښته وي، د دامان اوسيدونکي له ويده کيدو
ښه مخکې مجبور دي چې خپل کالي په اوبو لانده کړي، دغه راز تر خپل اړخ د اوبو
يو لوی لوښی کيږدي څو د شپې په اوږدو کې د تندې له امله په کړاو اخته نشي.
د سليمان د غرنيو سيمو هوا د ارتفاع په تغير سره توپير مومي. دا سيمې په عمومي توګه
سړې دي خو دا حالت د شمال خواته ډير ښه ليدل کيږي. د موازي لړيو تر منځ
پرتې سمې تر دامان ابرخه سړې دي. د سند تودوخې د دامان سره تقريباً برابره ده
هرڅومره چې د سوېل خواته لاړ شو نو تودوخې زياتيږي خو چې له سمندر سره نږدې
د سمندري وږمو له امله بيا نو د والې نرمی غوره کوي. سيستان يوه ډيره توده سيمه ده
او سيوی Sewee * ښايي د کابل په سلطنت کې ډيره توده سيمه وي. ټل چوټيالي

* - ما د سيوی په باب داسې يو څه اوريدلي چې پارسيان يې نورو ډيرو تودو
سيمو ته هم استعمالوي لکه « ای خدا چون سيوی داشتی چرا دوزخ ساختی . »

او زاوري Zawureb په هیڅ شان د سپوږمۍ خېر تاده نه دي د بوري هوا د تول
کال په اوږدو کې ملایمه وي د ټه د ژمي سوړوالی د پېښور په ډول دی خوا وړی یې د
پېښور په مقایسه به یوڅه تود دی. د ژوب په هکله یوازې ګومانی غږېدلای شم
خو باید دا ووایم چې د غه ځای تر بوري لږ څه سوړ ګڼل کېږي. که موږ د سیستان
څخه د خراسان په لور پور ته راشو نو د هغو سیمو لوبدیځ ته چې پورته مو بیان کړې
د بې دوله Bedowleh د ښته لېدلای شو، د دغې د ښتی سیمې هوا په ژمی کې ډېره زیاته
سړه بږ ېښي خو په شال کې ژمی پوست او معتدل کېږي د غه راز په پسرلي کې تر شال
هم هوا په د غه وخت کې نرمه څر ګنده ېږي ځکه په پسرلي کې ولاړې او به د ژمي په وخت
کې کنګل نیسي او د دوو او نیو لپاره د واورې اور یدل هم یوه کې صورت نیسي.
بورشور Bursbore تر پسرلي هم سوړ ښکاري، خو شورا بک Shorabuk چې تر پسرلي
ټیټ پروت او له پیډیا سره یې ځنډې ښتې دي تود اقلیم لري د لته واوره هیڅکله
نه اوري او ولاړ ې خوړ جار ګیو او ولاړو او بو مخ یخ نیسي. د غه سیمه (شورا بک) په اوږي
کې ډېر د توده او شکې یې د و سره ګر مېږي چې په لوخو پښو وربا ندې تګ امکان
نلري. د پسرلي شمال ته د توبه غونډۍ پرتې دي چې دا حمد شاه بابا د اوړي
استو ګنځی یو. د دغو غرو او غونډیو (توبه) هوا د پسرلي سره د نږدې غرونو
په ګډون د هغې څر ګندوني له مخې چې د نورو غرونو او غر نیو سیمو د هوا په هکله مې
وړاندې بیان کړه یو شان ده یعنی د لته د سیمې هوا د غر نیو برخو د ارتفاع له مخې تا کل
کېدای شي. هغه غرونه چې د کاکړو د سیمې په لوېدیځ کې پراته دي او له
پورتنیو غرو (توبه او پسرلي) سره نښلي هم د دغه اصل تابع بلل کېږي یعنې د سیمو
ارتفاع تو پیر هوا هم بدلوي. کله چې د پسرلي څخه د شمال په لور لاړ شو تر هغو چې
کندهار ته رسېږو وهوا په ترتیب سره تو دوالی مومي. د درانیو سیمه د شمال خوا ته
په عمومي تو ګه معتدله بریښي خو د سویل لور ته توده ده بیا هم ښایي د دغه ځای هوا
په هیڅ یوه برخه کې د پېښور هوا په څېر توده نه وي. څرنګه چې د درانیو په سیمه کې د
کندهار د شمالی برخې په شان د پاراپا میزین د غرو یوه برخه شته نو ځکه ژمی یې ډېر سوړ
او اوړی یې ډېر تود ګڼل کېږي. د زمینداور سیمه چې تقریباً د غو غرو ته په سویل کې
موقعیت لري د ښې او په زړه پورې هوا در لودونکې ده. د درانیو د سیمې په ډېره
پورته شمالي برخه کې یعنې د هرات سره نږدې د ژمي سوړوال ډېر زیات دی او وی یې
ښایي هم تود وي ځکه هوا د شمال لوېدیځو دایمي بادو په واسطه نه تازه کېږي. په
سبزوار یا اسفیزا Isfezaur کې چې د هرات په سویل کې پروت دی د اسې ویل کېدای شي
چې تر پنځو میاشتو پورې د واورې اوریدل دوام مومي او تولې او به کنګل وي یوازې
د سیند او به چې ګرندی دي او جګې کېږي د دغه امر څخه مستثنی ګڼل کېدای شي
په دغه ځای کې د اوړي تو دوخه ډېره جګه او حتی کله کله باد و نه هم تاوده وي.

د هلمند په کښتنۍ برخه کې د ګرمسیر سیمې نوم د اقلیم د تودوالي څخه اخستل شوی دی. کندهار توده هوا لري او په ژمي کې واوره هکې نه اوریږي دلته د ویالو په غاړه نازک یخ د غرمې نه مخکې ویلې کیږي. د کندهار د اوړي هوا ډېره توده او د تودو بادونو ګډېدل هم غیر معقول نه ښکاري. د خاورو او ګرد سره یو ځای تاوده او زهرجن بښونکي بادونه (سیموم Semoom) دلته پېژندل کیږي، سره ددې هم د کندهار هوا دومره ناوړه نه حس کیږي او په عمومي توګه د دغه ځای اقلیم د روغتیا لپاره مناسب شمېرل کېدای شي.

که د کندهار څخه د ختیځ لور ته لاړ شو نو د هوا تودوخه ورو ورو کمیږي په مقابل کې د ژمي سوړوالی ګام په ګام زیاتوالی مومي حتی د غلځیو په کلات کې واوره وریږي او تر ډېرې مودې پورې پاتې کېدای شي. دلته د ډېر ځای د ترنک سیند اوبه دومره زیاتې کنګل شي چې سړی ور باندې ختلای شي. دا باید ووایو چې کلات د ترنک د ناوې په ډېره ټیټه برخه کې پروت دی. د ترنک د ناوې په سویلي څنګه برخه کې د هوا سوړوالی د افغانستان د نورو برخو په شان زیات ښکاري. د عبدالرحیم کلا یې په برخه کې درې میاشتې واوره پرته وي او په ټوله دغه موده کې ویالې داسې کنګل دي چې د اس په سورلۍ په یخ باندې سړی تېرېدلای شي. د ترنک ناوې په مخ پورته برخه کې موږ بالاخره د غزني هوارې برخې ته رارسیږو چې دا ځای د کابل د سلطنت په لاس لاندې تر ټولو ډېره سړه میداني سیمه شمېرل کېدای شي. د غزني د سړښت زیاتوالی دومره زیات دی چې حتی د دغه ځای د کاونډیو سړو سیمو او سیمه‌وونکو ته هم سخت ښکاري. د ژمي په زیاته موده کې د دغې سړې سیمې اوسېدونکي په ډېره نادره توګه له خپلو خونو څخه وزي او دغه ټوله سړه دوره د کور په منځ کې تېروي حتی د غزني په ښار کې داسې ليدل شوي چې د پسرلي اعتدال وروسته ډېره زیاته واوره د مځکې په مخ کوته (انبار) شوې وي. داسې روایات خپاره شوي دي چې د غزني ښار دوه واره د واورې د ډېر اوریښت له امله وران شوی او ټول اوسېدونکي تر لاندې شوي. د غزني د ښار د سویلي خوا سیمې اقلیم د دغه ښار په پرتله یو څه ملایم او پوست معلومیږي. په کتواز کې د دریو میاشتو لپاره دومره واوره پرته وي چې په کلک شوي مخ باندې یې سړی په واوره کې بې له ښخېدو څخه سفر کولای شي. د دغه ځای ویالې په ژمي ټولې کنګلې او د دغه فصل په یوه برخه کې حتی بارکړي اوښان هم ور باندې تېرېدلای شي. د اوړي تودوخه په دغه ځای کې (غزني او شاوخوا سیمې یې) د انګلستان په څېر هم لوړه نه ځي او په کال کې یوازې یو وار کرونده پیل کیږي. د خروټو په سیمه کې سوړوالی تر دې هم زیات دی، د دغه راز د سلیمان د غرو په اړیو کې د پرتو نورو سیمو د تودوخې تر دې هم ټیټه ده، څو که د دغو سیمو د سویل خوا ته لاړ شو نو سوړوالی یې کمیږي.

دغزني د ښار شمال خواته د هوا سړښت بیاهم لږ او دغه حالت د کابل تر شمال یعنې د کوهدامن او کوهستان پورې دوام کوي، چې د لته یو ځل بیا د هوا سوړوالی د زیاتید وخواته ځي یعنې هر خومره چې د کوهدامن او کوهستان څخه د هندوکش د غرو لمنو ته پورته ځکېږو په هماغه اندازه سوړوالی ډیریږي . کابل پخپله د غزني څخه ټیټ پروت دی او په شاوخوا یې غونډۍ تاو شوي دي . داسې بریښي چې د ژمي له یخنۍ څخه دومره زیات تر اغیزې لاندې نه راځي . سره د دې چې د کابل ژمی دومره سوړ نه دی بیا هم د انګلینډ په پرتله سخت معلومیږي . د دغه ځای اوړی تر انګلینډ ډیر زیات تود او دومره هوا ګرمه وي چې خلک نه غواړي د ورځې له لمر سره په دغه فصل کې مخامخ شي . د فصلونو ترمنځ د توپیر زیاتوالی او ژر ژر تګ د دغې سیمې د وګړو په عاداتو او کړو وړو باندې ژوره اغیزه کړې ده . د لته په ژمي کې ټول خلک په وړینو جامو کې پټ وي په ځینو ځایو کې خلک د کراستې (لمڅې په ډول کالی) د پاسه په عمومي توګه د پسه د پوستکي ستر کوټونه چې ښه خور (اښور کول) ورکړل شوی وي اغوندي، د غه ستر کوټونه (لوی پوستینونه . مترجم) د ننۍ خواته اوږدې او ډیرې ورې لري . د کابل اوسیدونکي د خونو په منځ کې اور بلوي او زیاتره د منقلونو تر اړخ د اسې بیدیږي چې د دوی پښې او د بدن برخې د پسه د داسې پوستکو په واسطه پټې وي (ښایي غټې برستنې وي چې د منډلۍ د پاسه په ژمي کې اچول کیږي . مترجم) چې (منقل د پاسه اچول کیږي نو په دې ډول د منقل تودوخې چاپېره او دننه خوندي ساتي . دوی په ډیره نادره توګه له کورو څخه هغه وخت وزي چې ډیر ضرور کار یا تجارتي معامله ولري یادا چې ځوانان یې د لیوانو د ښکار لپاره په واوره کې بهر ته ځي، خو کله چې پسرلی اعتدال واوړی نو واوره سملاسي ویلې او له منځه ځي د ځمکې په مخ نوي واښه شنه کیږي غوټۍ غټې او ډیر ژر د ګلانو په ښه بدلون مومي او هرچیرې پریمانه ګلان لیدل کیږي . د کابل اوسیدونکي په دغه وخت کې له کلیو څخه د باندې د کار او یا ساتیرۍ لپاره د باندې وزي . د ژمي کالي لیرې او په ځای یې د چیټ یا پومبې یې نرم توکران اغوندي . د کابل خلک په دغه وخت زیاتره د ونو لاندې او یا په ازاده فضا کې د شپې بیدیږي ، نوروز یا د کال نوی کیدل د دغو سیمو د خلکو ډیرې زیاتې خوشحالۍ وخت ګڼل کیږي ، خو پارسیان د دغو ارغونو میلو او جشنو په هکله ځینې کیسې حضرت علی ته چې د دوی د مذهبي ټولګي ساتندوی ګڼل کیږي نسبت ورکوي ، په داسې حال کې چې د مقابل لوري مسلمانانو په منځ کې دا ډول نکلونه د پاملرنې او اعتبار وړ نه شمیرل کیږي ، یوازې دوی د نوروز میله د طبیعت د ښکلا د بیا پیل کیدو په مطابق لمانځي ، ځکه په دغه وخت کې د خوشحالی او کارموسم

پیل کېږي ، نو ددغه طبیعي او ښتون په وياړ دوی جشنونه او میلې جوړوي *

د افغانستان د بادونو په باب کېداي شي چې زه ووايم په ټول خراسان او ترکستان کې ۱۲۰ ورځې زوروراو تند بادونه له شمال او شمال لویدیځ لوري څخه چلیږي . دا بادونه داوړي په نیمایي کې پیل او دهغو شروع او دوام ددغ سیمو د آري اوسیدونکو له خوا په ډیره اعتباري او سمه توګه محاسبه کیږي . په ټول افغاني هیواد کې عادي بادونه له او یدیځ لوري څخه ګڼل کېدای شي . داري خلکو په منځ کې دا یادونه معمولي ده چې لو یدیځ بادونه ساړه او ختیځ بادونه تاوده وي . داسې هم ویل شوي دي چې ختیځ بادونه وریځې راوړي او لو یدیځ بادونه دهغو محتوی (وریځې اورطوبت . مترجم) ترې را تویوي او یو ډول وبا یي باد چې سیموم Smioom یې بولی د دغه هیواد په ټولو تودو سیمو کې پېژندل شوی دی .

---

* د کابل د اقلیم د خرګندولو په برخه کې زه د امپراطور بابر له یادونو او تبصرو څخه ډېره کولای نشم ګټه ودده لیکنې ، و کار نه یوازې د دې لپاره غوره دی چې دا د یوه امپراطور لیکنه ده یا دا چې د هغه لیکنې د ساده ګۍ له پلوه ځانګړی طرزدی بلکې دده د معلوماتو په سموالی پوره یادونې ورېښتینې ده دغو سیمو په هکله چې یې لیدلی دي ښه پیا نونه ور اندې کړي دي په دې ډول د کابل په باب وایي : « په دغه ځای کې تودې او سړې سیمې ډېرې سره نږدې پرتې دي . له کابل څخه د یوې ورځې سفر په کولو سره داسې یوې سیمې ته رسیدلای شو ، چې هیڅکله واوره پکې نه اوریږي یا دا چې له دغه ځای څخه داسې یوې سیمې ته په دوو ساعتو مزل سره رسیږو چې هلته په ډیر ندرت سره واوره ویلی کېدای شي . هوا په زړه پورې ده . او په اوړي کې سړی بې له پوستین څخه بیده کېدای نشي (د پسه د پوستکي چپنه . داسې بریښي چې امپراطور د کابل د اوړنی اقلیم د شپې سړښت په هکله لږ څه مبالغه کوي) په ژمي کې سره ددې چې واوره زیاته ده خو ساړه دومره زیات نه دي . سمرقند او تاریس Tauris د اقلیمونو له پلوه نامتو دي خو له کابل سره پرتله کېدای نشي . دساړه اقلیم میوې لکه انګور ، انار ، زردآلو ، مڼې ، بهي ، شفتالو ، ناك ، آلو ، بادام او چار مغز پریمانه دي . (د چری (آلوبالو) میوه په کابل کې اوس ډیره عامه ده .) په کابل کې ما ښخپله یوه چری (آلوبالو) کینوله او په ښه شان لویه شوه ، هغه وخت چې زه تلم ډیره په پر مختګ کې وه نارنج او سترون په زیاته اندازه له لغمان څخه راځي . زه ددې سبب شوم چې په کابل کې ګنی وکرل شي او داسې نور . »

(له کابل څخه مقصد د کابل ولایت نه دی ، بلکې په هغه وخت کې د کابل تر واکمنۍ لاندې سیمې ته اشاره ګڼل کېږي . مترجم)

دغه باد کله کله د پښېور په میدان او پرته سیمه باجوړ او د کابل سیند په ناوه کې چلېږي. سموم د درانیو د سیمې په سویل او حتی په شال کې پېژندل شوی دی، خو په عمومي توګه په سرو اقلیمو کې پېژندل شوی. داسې ویل کېږي چې دا باد پرته له پرېښو او سپېرو سیمو څخه په بل ځای کې نه لګېږي، او هیڅکله په یوه وخت کې له څو دقیقو څخه زیات دوام نه مومي. دغه راز نېږدې کېدل د یوه ځانګړي بوی په واسطه بېر سېره کېږي او د غه بوی هغه سړي ته چې ورسره بلد وي پوره اګاهي ورکوي چې خپل ځان خوندي ځای ته ور سوي او تر هغه چې دا باد بېخي تېر نه شي ځان ګوښه وساتي که څوك په دغه باد کې ګیر پاتې شي نو په عمومي توګه د سملاسي مړینې سبب ګرځي. زیاتره شوي سړي بې سده لوېږي او له خولې، پزې او غوږو څخه یې وینې جریان مومي. د دغه باد له پلوه د ناروغ سړي ژوند کله کله د یوه قوي اسید په تطبیق سره له مرګه څخه بچ کېږي یا دا چې خپل ځان په اوبو کې اچولو سره له دغه ډول ناروغی څخه خلاصوي. په هغه سیمو کې چې سموم زیات وي وګړي هو په زیاته خوري او کله چې په اوړي کې له کوره د باندې وزي نو په شونډو او پزه باندې هم هو په موږي. په دې ډول د سموم له زیان څخه ځانونه ساتي. داسې ویل شوي چې د غه باد د تیریدو په وخت کې ونې چپه کوي. دهیواد په ځینو برخو کې د لیوانو، سپو او سور لنډیو (شغال) لیونې کېدل هم دغو بادو ته نسبت ور کول کېږي.

که چېرې د دغه ټول هیواد اقلیمي بڼه او خاصیت خلاصه کړو نو افغانستان باید یو وچ هیواد وګڼل شي چې د ورېځو، باران او لړو تر لږې اغېزې لاندې راځي. د پلو پلو سیمو منځنی تودوخی له انګلینډ څخه ډېره او د هند څخه لږه ده، د لته د اوړي او ژمي د تودوخې توپیر حتی د شپې او ورځې تر منځ د پورتنیو دوو هیوادو څخه زیات دی. که د دغه هیواد د خلکو د قوت اندازې او فعالیت له مخې قضاوت وکړو نو باید څرګنده کړو چې د افغانستان په ډېرو برخو کې اقلیم د بشري موسسې لپاره مناسب او د صحت لپاره ښه شمېرل کېدای شي. خو که حقایق وګورو نو داشکمنه برېښي چې د افغانستان ناروغي د هند په پرتله زیاتې زیان ښونکې نه دي. دغه ناروغتیاوې د لته بې شمېره نه دي او د نورو هیوادو په څېر زیاتې ګڼل کېږي. تبې او ملاریا په مخې کې زیاتې دي. دغه راز په پسرلي هم حس کېږي. ذکام ډېر زیان ښونکي وي په تېره بیا په ژمي ډېر مضر شمېرل کېږي. ملایان او سیدان په ډېرو لږو سیمو کې د کوي خالو نه وهي بیا هم د انا روغی زیات کسان وژني، د سترګو نا روغي زیاته ده. د اد افغانستان غوره ناروغتیاوې بلل کېږي.

شپږم څپرکی

د افغانستان ژووي، نباتات او کانونه

زه په هیڅ کله دا ادعا و نه کړم چې د دغه هیواد چې زه یې په باب څه لیکم د تولوژویو په باب به پوره شرحه وړاندې کړم، یوازې هغه لږ شمیر به یې یاد کړم چې د هغوی په باب مې څه اوریدلي دي. خو دا مسئولیت په غاړه اخستلی نه شم چې د دغه شمیر په نسبت چې یاد کړی مو دی، زیات شمیر مې پرېښی نه وي.

سره ددې چې زمری په پارس کې د ېر زیات عمومیت لري، په دې وروسته وختو کې د غه شان په همدغه اندازه په ګجرات کې GUZERAT او د ډیلي په شمال لو یدیځه برخه کې یعنی هریانا HURIANA کې هم مونډل شوي دي، په افغانستان کې ډیر نادر او لږ پیدا کیدای شي. ما یو زې د کابل د ښاو خوا غرنیو سیمو په برخو کې د زمریانو په هکله اوریدلي دي، د لته د وی د افریقایي زمریانو په مقایسه د ېر واړه او کمزوري دي، حتی زه شکمن یم چې دا زمریان دي او که نه.

پړانګان د سلیمان د لړی په زیاتو ختځو سیمو کې مونډل شوي دي چې پیشو پړانګ ئي د ېر عمومیت لري. دا ژوی دا فغانستان د ډیرو ځنګلی او ونې لرونکو برخو په منځ کې لیدل کیدای شي.

لیوان، کوډان (کفتار)، شغالان، ګیدړې او سو یان هر چیرې زیات دي. د سړو سیمو د ژمی په اوږدو کې هغه وخت لیوان د یر خطرناك او ویرونکي وي چې په کله ایزه سره راغونډ شي، نو په دغه حالت کې د ېرځله ځاروي له منځه وړي او آن (حتی) کله کله په سړیو هم یرغل وروړي. کوډان هیڅکله په ګله ایزه تو ګه ښکار نه کوي، لیکن ځینې وختو نه په پورتنۍ تو ګه هم په یوه غوا یی باندې یرغل کوي. کوډان او لیوان تل د پسو نو لپاره ستر زیان پیښوي. سویان په کابل کې د پلور لو لپاره ساتل کیږي او د وه یې په یوه روپۍ ور کوي (خرڅیږی).

ایران (خراسان) په ټولو ځنګلي غرونو کې ډېر پیدا کېږي، خو ډېر لږ له خپل محل او سمڅې څخه د باندې تګ راتګ کوي یوازې د ګڼیو په وخت کې چې دوی یې د کښت سره مینه لري د کروندو خواته را کاږل کېږي دا ایران (خراسان) دوه ډوله دي، یو یې د هند تور خرس بل یې ککړسپین یا نسبتاً ژېړ رنګی خرس بلل کېږي.

وحشي نر ایران (خراسان) په پارس او هند کې زښت ډېر دي، خو په کابل کې کمیاب دي. او داسې چې وحشي خره به د درانیو، ګرمسیر او کندهار د سهیل (جنوب) د ریګستان په سیمو پورې محدود وي. د هوسیو ډېر ډولونه چې لوی ګاوزې یې راځي په ټولو غرونو کې پیدا کېږي؛ خوښکرور غرڅه یې کم او په بېدیاوو کې پیدا کېږي. په ختیځو غونډیو کې وحشي پسونه او وزې ډېرې دي د هوسۍ یو ډېر ښکلی ډول هغه دی چې زه فکر کوم په پارس کې یې پوزن (PAUZEN) بولي. دغه هوسۍ د هغې د ښکرانو د اندازې او د هغې د بیا پیاوړتیا له پلوه د یادونې وړ ده خو د بدن د بوی له پلوه د منلو وړ نه ده. ولې خلک داسې ګروهه (عقیده) لري چې دا ډول هوسۍ د مارانو په خوړلو ژوند تېروي او د وینډسور Vindsor د لوبیا په اندازه یوه کلکه سترنګې ماده د هغې د بدن په ځینو برخو کې پیدا کېدای شي، چې د مارچیچلو لپاره ښه ښوره علاج (درمان) دی.

په یادو شویو ژویو برسېره یوازې هغه چې ما اورېدلي د شکون، زیږګی، بیزوګانو (چې وروستي ډله یې یوازې د افغانستان په شمال ختیځه سیمه کې پیدا کېږي) موږ کیرا نګ Mungooses او وحشي سپو څخه عبارت دي. غاترې یوازې په کشمیر کې پیدا کېږي. ټولواک (پاچا) یو ځو پیلان لري، خو ټول له هند څخه راوړل شوي دي. دغه ژوي او ګرګدن د ټولواک د واکمنۍ په هیڅ ګوټ کې هم نه شته.

اس تر ټولو اهلي ژویو د مخه د پام وړ دی. د افغانستان په واکمنۍ کې د کتغن ور شمېر آسان روزل کېږي او د هرات آسان یې ډېر ښکلي دي، ما یو دوه لیدلي چې د عربي آسانو غونډې یې لوړه تونه (څېره) درلوده. د هندي آسانو ښه نسل چې تازي (Tauzee) نومېږي په بواو دامان کې موندل کېږي او د دغه ډول ډېر ښه آسان د هلمند سپېره او اندوس ترمنځ سیمو کې روزل کېږي خو عمومي ډول د افغاني واکمنۍ آسان د بلخ د ولایت نه پرته چې هلته ښه او ډېر پردي هوسره د پاډونې وړ ښه والي نه لري. سره د دې چې د ټټوګانو ډېر پیاوړي او کټور نسل چې یابوګان (Yaboos) بلل کېدل، دلته شته، خو بیا هم وروسته پاتې پریښي، په تېره بیا د بامیانو ټټوګان ډېر کمزوري دي. له دوی څخه د بګیو په لېږدولو کې کار اخستل شوی او کولای یې شوای چې درانه بارونه یوسي خو د غاترو غوندې د سخت او پرله پسې کار توان نه لري.

له غاټو (کچرو) څخه په هند کې لې کار اخستل کیږي او په هغو ځایو کې چې هغه ډیرې د ننګرېږي. په داسې حال کې چې د پنجاب په لویدیځ کې ځینې ښې غاټرې موجودې دي. د اندوس (سند) غاټرو لا تر اوسه پورې خپل ښه ارتوب (اصلیت) ساتلی دی. هرڅو مره چې د لویدیځ خوا ته درومو اصلاح او مساوالي پاملرنه مومي خو بیا هم د انګلیند غاټرو ته ځان نه شي رسولای (مساوي کیدای نه شي). دغه کټنې کښت د خرو په هکله هم د تطبیق وړ دي خره د سرو او نورو مالونو دوړو راوړو لپاره عمده وسایل شمیرل کیږي چې له یوې سیمې نه بلې ته وړي. برسیره په دې باز ارته د تولید شویو موادو وړل هم د دوی په واسطه ترسره کیږي.

له اوښانو څخه په عمومي ډول د مالونو په وړلو راوړلو کې کار اخستل کیږي. یو کوپان لرونکی اوښان هر چیرته شته، خو زیاتره په شګلنو او وچو بیدیاوو کې موندل کیږي، دغه لوړ او له ښو جګ اوښان په هند کې ډیر دي باختري اوښ (چې زما په فکر په ترکیه کې د (اوزري (Uzhree)) په نوم یادیږي د یرلې پیدا کیږي او زه ګومان کوم چې د دغه اوښ نسل به د جاګزارتس (Jaxartes) سیحون یا سیردریا ترشا سیمې قزاق څخه راوړل شوی وي. دا دول اوښ لې تر لږه تونورو د ریمه برخه ټیټ دی ډیر متحمل (زغم لرونکی) او په یږو تورو ویښتو پوښل شوی. دیو کو (کومی) لرونکو اوښانو دوه کوه (کومې) لري. د بندتی (Boghdee) اوښ چې د خراسان په سهیل لویدیځ کې پیدا کیږي وروستنې یاد شوي اوښ ته ورته دي، خو لکه یو کومی لرونکی اوښ غوندې جګ ښکاري. ان (حتی) داسې چې دغه وروستي ډول د خراسان یو کومي لرونکي اوښان د هندوستان تر اوښانو ټیټ او زغم لرونکی دي.

مېښې چې د تودو او لندو سیمو سره مینه لري، طبیعتاً کمیابې دي بیا هم د هیواد (افغانستان) په هر ګوټ کې موندلې کیږي.

غوایې د کابل په ټوله واکمنۍ کې، د بلخ له سیمې پرته، چې هلته آسانه ډیر دي، د یوې (قلبې) له پاره، استعمالوي دغه ډول غوایې د هند د غوایو سره د کو (ګوپان) له پلوه ورته والی لري، خو په نورو ډیرو اړخونو کې تر هغه په ټیټه درجه کې راځي. غوایې د هندوستان د راجپوت له سیمې څخه چې د هند د ډیرو ښو غویو (غوایانو) سیمه ده راوړل شوي دي نهایي د ګوجرات یا ګوزیرات (Guzerat) غوایي په دې حساب کې رانه شي (استثنا دي). د سیستان د جهیل له شا او خوا او د هغو څرګندونو له مخې د کاکرستان (د کاکړو له سیمې) څخه پرته بل چیرې د غو یو ګلې نه ساتل کیږي. د پوونده قبیلو سره شتمني پسونه دي او له هغو څخه هغه ډول چې په فارسي یې دمبه (Boomba) بولي زیات

شمېر جوړ لري، د دوی لمان یو فوټ پلن او توول له وازدې څخه ډک دي. دغه ډول پسونه په لوړو او رښونو کې انګلیسي پسونو ته ورته دي او دواړه د هغه تر پسو نو ډېر ښکلي او ښه دي. د هغه ډول (پسونه) چې څاربه (چاغ) لمان نه لري، یو ازنی ډول دي چې په سند او سیستان کې پیدا کېږي.

وزې د هېواد په ټولو غرنیو سیمو کې پیدا کېږي، او بېله شکه په اوارو سیمو کې کمهايي دي ځینې ډولونه یې دیادونې وړ ګڼه او عجیب کاپه واړه ښکران لري.

د افغانستان سپي په دې ارزي چې یې یادونه وشي. خړ (ایرن) سپی ډېر ښه سوی دي دغه سپي په زیات شمېر په تېره بیا په پووندو تېرونو کې چې د ښکار سره ډېر تړلي دي، روزل کېږي. هغه څه چې ډېر زیات د یادونې وړ ګڼل کېږي ښکاري سپي دي چې زموږ له سپيو سره په ښه (څېره) او ماهیت کې یو ډول او شمېر یې لږ دی. خو بیا هم زه په کره توګه نه شم ویلای چې د سپو دا نسل به له کومه راوړل شوی وي. داسپي خندي (Khundee) بلل کېږي. ما دوه سپي درلودل چې یو یې د ډېر ښکلي او یو بل ښاغلي هم یو سپی درلود چې د هر هېواد د خلکو به خوښ شوي وای.

پیشوګانې لږ تر لږه. او یو دې وړې لړونکي ډول یې، چې بوراک Booruak یې بولي هم د پام وړ دي. دا پیشوګانې په زیاته پیمانه بهر ته استولې کېږي او په هرسیمه کې د پارس د پیشوګانو په نوم نومول دي، سره د دې هم په هغه هېواد کې چې دغه پیشوګانې یې په نوم نومول دي، دومره ډېرې نه لیدلې کېږي او په لږه اندازه زیاتې هڅکله له هغه ځای څخه بهر ته استولې شوي نه دي.

یوه ساده احصائیه (شمېرنه) ښایي د هغو الوتونکو لپاره کافي وي چې زه یې کولای شم را په یاد یې کړم. ګور بتې (عقابان) دوه یا درې ډوله دي، بازان ډېر ډولونه لري، تر ټولو ښه یې باښه ده چې لوی خړ، لنډ وزری مرغه دی. په پارسي یې باز بولي او په ترکي ژبه کوزیل Kuzzil ورته وایي چې زما په ګومان هماغه ګوشاك (Goshak) وي. شاهین، چې تر باښو (بازانو) لوړ الوزي هر څومره چې جګېږي په ښکار کوي، Ghirk چې غرڅه ښکار کوي، او په سر یې نښلي او تر هغه مهاله یې ستنوي څو ښکار یې تازي سپي پرې راو رسېږي او داسې نور ډېر ډولونه باز، کب خوړونکي مرغه (Cheron)، د ینګك (کومول) چې د نیونوغو ښتنه ورسره نه شته او لګ لګ Stork هم ډېر دي، همداشان وحشي هیلۍ او قاز (Geese)، قو (Swans)، زرکې او ریږخ (کرك) او یو ډول الوتونکي چې پارسي ویونکي او پښتو ویونکي (افغانان) یې کېك Cupk بولي او هندیان یې دغو ته یو چیکوري Hill Chikore بولي او تر هغه ځایه چې زه پوهېږم په اروپا کې لا تر اوسه په هماغه لرغوني یوناني نوم (Portiridge) یاندې یادېږي. یو بل وړوکی الوتونکي چې سوزي Soosee نومېږي د دغه وروستني یادشوي الوتونکي سره ورته والی لري، له افغانستان نه

پرته مې بل هیڅ چیرې ددوی په هکله څه اوریدلي نه دي . کوترې، کارګان مرغۍ (چوغکۍ) او داسې نور د هېواد په ټولو سیمو کې پیدا کیږي، کوترې، کارګان، مرغان په ټولو سیمو کې عمومیت لري . کوکو (قمري)، کوترې کمیابې دي او کاغۍ (کیږکه) Magpies چې په هند کې یې نه پېژني، د افغانستان په سره ابوهوا پورې منحصرې (تړلې) دي، په داسې حال کې چې طاووسان چې په هند کې ډیر دي، دلته یوازې لکه د انګلند د طاوسانو غوندې په اهلي شوي توګه پیدا کیږي. طوطیان او میناګانې (coracias Indica) یوازې په ختیځ کې لیدل کیدای شي .

ځنډګان دومره د یادونې وړ نه دي. ماران یې ډیر خله بې ضرره دي، د پښور لړمان ددوې د کچې (اندازې) او زهرو له پلوه مشهور دي سره ددې هم زهرې یې خی کم او یا هیڅ وژونکی نه دي ماد هیواد (افغانستان) د کبانو په هکله څه نه دي اوریدلي . نهنګان (تمساح ګان) بیخي نه شته . کشپان د شمشتیو غوندې ډیر دي .

د ملخو ښترسیلو نه په پرله پسې توګه نه لیدل کیږي، په داسې حال کې چې لږ څه وچکالي چې په خراسان کې احساس شوی د همدغو ملخو د یجاړونو او ورانکاریو ښکارندویې کوي. غالبوزې (مچۍ) په دغو سیمو په تیره بیا د سلیمان د غره لړۍ کې ډیرې دي، خو یوازې په کشمیر کې روږدي شوي دي. غوماشې یې د هند د غوماشو په پرتله لږ ازاروونکې دي د سیستان غوماشې یې بیا ډیر خطرناکې دي : د سیمې خلک مجبوردي د بنګال د خلکو غوندې مچړی (د غوماشو د پاره جالۍ) استعمال کړي. او په همدې توګه دغه موجوده او یا یو ډول د ېپی مچ ګله ګله اسان دومره سخت چیچي له درده مړه شي .

دغه لا ډیره مشکله ده چې د ژوی یو غوندې د وښو (نباتاتو) په هکله هم یوه څرګنده وله وړاندې کړو هغه هم که د طبیعي تاریخ سره د کوم آشنا شخص له خوا ونه کتل شي، نو دار از بیان به ګران وی. د هغو زیاتو ونو له جملې څخه چې په اروپا کې نه دي پیژندل شوي او په هند کې ډیرېدي د سلیمان د لړې په ختیځه څنډه کې بیخي لږدي، او ښايي په لوېدیځه څنډه کې خولا بیخي نه وي یا له بلې خوا، زموږ ډیرې او پایې نې په افغانستان کې شته او زموږ ډیرې ښې میوې د هغه هېواد په پلا پلو برخو کې په وحشي ډول موندلی کیږي. همدارازدغه ونې په ښونوا و میوه لرونکو باغچو کې هم موندلی کیږي . ډیرې مشهورې غرنۍ ونې یې د ښرو (Pines) پیلا پیل ډولونه دي چې د هغو له ډلې څخه یو هم د جنغوزي ونه د هغې د غوټیو له پلوه چې تر Artichoes (یو ډول اغزن بوټی چې غوټی یې د سابو په څیر خوړل کیږي) لویه نه ده د یادونې وړ بریښي ، او منډوکې د پسته مونډ کې ته ورته ده. دوه ډوله

خیږی) چې یوه یې د بوټو ها نو له اخوه کوږ کوس بلوط د* (Quercus Beloot)
په نوم یاد شوي) ، د سپرو نی ا بوټو ول نورې ستري ونې د غوزو او آر لپاره تالتدي چې
د چار مغزا او وحشي زیتون په څېر لېدل کېږي . او په بېخي غوز نه ی د ونو په واسطه پټي دي
او بوټو ول د خوړلو وړ توت لري چې شني Shnee یې بولي . د کوهستان کوم چې په دغو
ندیو کې پیروچ (birch) . پوډول بوټي) هولي (Holly) (یو ډول بوټي چې میوه او
شنه میوه کوي) پوزل Hazel او ماستچ Mastich بوډول ونه چې کنجد Kunjud
یې بولي او په پښتو کې یې لوښتي او په فارسي کې یې ...(بالله Wisk) هم شته . همدا
رنګه د پستي وحشي ونې په هندوکش کې کېږي (لو ئېږي) . په هوارو میمو کې ډېر
مشهور توت، او ولي چې موږد جړانګو (مجنون بېد) ، خرمایی، او دوه نور ډولونه
چې د اصلي او سېدونکو له خوا د سرو ولو او شنو ولو په نامه یادېږي، هم مشخص
لاي شو) کنل کېږي . سپېدار هم لکه سیاه چوب (Seahchob) پوره (Purr)
بلخک (Balkhuk) او زرونګ (Zurung) چې ما هیڅکله نه دي لیدلي او ددې
وس سي هم نه دی موندلي چې له شرحې څخه یې پوه شم ، په هوار ځمکو کې
ډېر دي .

دغه را زد ډېر بوټي هم د یادونې وړ دي. Barberry یو ډول اغزن بوټي چې
ژېړ او سره ګلان کوي. او د ډول (ښکلا) لپاره په کورونو کې اېښودل کېږي
کاروندا (Kurounda) (کارسیا کاروندا Carissa Carouna) او نور بوټي
چې د خوړ و وړ میوې کوي لکه املوک Umlook ، ګورګورې Goorgooreh او
د اسې نور د وحشي انګورو په څېر په غوزه یو کې ډېر دي، خواره تولو ګلبوتو څخه
ارغوان ښکلي دي، چې که څه هم دغه نوم کټ مټ د ریدي د ګل لپاره هم راځي،
دومره لوړېږي چې کېدای شي دونې په عنوان کې یې راولو.

انګلیسي ګلان، ګلاب، یاسمن، کوکنار پوپي (Poppies) ، نرګس، یو ډول سنبل
هیاسنتس (hyacinths)، شېندي و زمه ګل یا د وېدي په شان ګل stock او نور په بڼو نو
کې شته او ډېری په وحشي توګه دي، نور بوټي به له دې وروسته د دوی د ځای
د شوحې سره ذکر شي .

زه لېوالیم چې د کانونو له پاره یو ځانګړی فصل اختصاص کړم، دې ته په
پام کولو سره چې ما یې یوازې یو لږ شمېر د لیدل او د مستړ اېر و ین د رپورټ
څخه مې را اخستي دي په لاندې دوو پاڼو کې یې د ډېر زیاتوالي یونیم .
داسې ډېرښې چې سره زر په افغانستان کې نه پیدا کېږي مګو یوازې څخه

---

*ـ ملتول نباتي نومونه څخه وخت را اخستي دي چې د لکتر هنټر زه هندوستا نی
د بکشزي د کتلو فرصت مې درلود .

ویالې چې د هندوکش داړی څخه را بېلېږي ددې امر څخه مستثنی دي. دیو ډول سابه وزمه سروزرو په هکله کېسی شته، وایی چې د یوسفزو په سیمه کې تولید شوي دي ، بېله شکه له هغو شګو څخه را پور ته کېږي چې د غو ویالو په واسطه په کروندو کې غورځول شوي دي. سپین زر په ډېره لږه اندازه په کافرستان (نورستان) کې پیدا کېږي. یاقوت په بدخشان کې لاس ته راځی، خو د هندوکش په افغانی لمن کې موندل کېدای نه شی، په داسې حال کې چې د لاجورد تول ګړنګو نه د کاشغر سیند دپاسه سیمو کې لاس ته راځي او د چترال او یوسفزو ترمنځ پراته دي .

د سرپو او انتیمو نی (Antimony) (یو ډول کیمیاوي عنصردی) کانونه د افریدو او هزارجات په سیمو کی شته دي او یوازې سرپ په پورتنی بنګښو، شینوارو، کاکړو، هزاره وو، ایماق همدارنګه د بلخ په ولایت کې هم پیدا کېږي. دوزیرو په سیمه کې اوسپنه او د مسو د خرمه ځوندیو په څیر موندله کیږي، چې په هغو ځایو کې، د مسو آثار هم شته دي. سلفر په بلخ او سیستان کې پیدا کیږي. د مالګې دسترځای یادونه هم باید وشی: مالګې ډېرې په بلخ کې پیدا کیږي خو په خراسان کې پیاله حوضونو او د نډونو څخه لاس ته راځی. د مالګې شوره په هرځای کې له مالګې څخه جوړیږي. زمبچ (زاج) یا Alum په کالاباغ کې له ختو څخه جوړ وي وار پیمنټ (Orpiment) په بلخ او هزاره جات کې پیدا کیږي.

د حه کاکړه ژباړه

دویم کتاب

دافغانستان داوسیدونکو عمومی بیان

لومړی فصل

مقدمه

د پښتنو نسب او پخوانی تاریخ.

هغه بیان چې ماد پښتنو (۱) دملک کړی دی، دسیمو دزیاتې تنوع په اثر، چې شرح به یې وشی او حتی دکاوندیو سیمو د اختلاف له امله شکل شوی دی. داسې هم هغه خلک چې په دغه ملک کې اوسېږي ډول، ډول دي. اودهغو اختلافاتو په وجهه چې ددوی دمختلفو قامونو په حکومت، سلوکونو، کالیو اوکړوکې واضح دي، ما ته گرانه ده چې هغه ستر خصوصیونه انتخاب کړم چې ټول یې په گډه سره لري او کوم چې ټولو پښتنو ته یوه څرگنده ملی سجیه ورکوی. دغه مشکل په دغه واقعیت سره نور هم ډېرشوی چې ټول هغه ممیزات چې دوی له ټولو گاونډیو څخه بیلوي په هیڅ وجه عین هغه نه دي چې داروپائیانو په نظر کې به یې له دغسې یوې مقایسې څخه ددوی په سیمه کې غلبه ولري. هغه آزادي چې دوی دشرق له ملتونو څخه په زیاته اندازه بیلوای ممکن دیوه انگریز په نظرد انارشی او حاکمانه قدرت

(۱). مؤلف په ټول کتاب کې پښتانه په افغانانو سره یاد کړي دي. (مترجم)

یو مخلوط و بریښی او د مېراني هغه صفتو نه چې دوی له خپلو ګاونډیو څخه هسکوي ممکن د هغه په نظر ښېږدي د مملکو هېبو نو سطحی ته راکو زشي نو په دې د ول د دوی وضعي اوسجيې د پوهېدلو د پاره بهدا کومک وکړي چې د دوی هغه ارخونه بیان شي چې دوی به یې له . انګلستان څخه د یوه سیاح تګ او له هندوستان څخه د یو بل ګرزندوی ته ښېږي که یو څوك له انګلستان څخه د پښتنو ملك ته یې له دې چې د ترکیې فارس او تاتارې د ملکو څخه تېر شي ، ولېږدول شي دی د طبعي اولږو لیدل شو د ښتو او هغو غرو په لیدلو سره هك حيران شي چې تل له واوروته ډك دي ، دی به حتی د ملك په کرل شوې برخه کې د ورو غرونو او شاړو مځکو یوه طبعي مجموعه کشف کړي چې نه اجاطې لري او نه په ونو سره سینګار شوې او د بېرې چلولو کانالو ، لویو سړکونو او د بشري سخت زیار او عمران له ټولو ستر و اواستاداته محصولاتو څخه عاري وي . دی به پوهوښا رونه وو یني چې هغه هم له یو بل څخه لرې پراته دي او د ، به بېهوده د داسې مسافرخانو (Inns) یا نورو راحتی اسانیتاوو د پاره په لټه کې وي چې یو مسافر یې حتی د لو یې بر تانيې په ډېرو طبیعي او ابتدایي برخو کې هم مومي . سره له دې هم دی به کله کله د هېنوهوارو او د رودو د زیاتو والي او آبادی په وجه د یر خوښ شي چې هلته به ارو پایي مصنوعات د مو زند ه سمې له محصولاتو سره یو ځای ووینی . ده ته به د غسې ملك په ستر ګو ورشي چې په داسې سخت زیار او تمیز سره بکې کار شوی دی چې د له یل هیڅ ځای څخه به وروسته پاتې نه وي .

دی به وګوري چې د د غه ملك او سېدونکي به د کېږد یو په لوړ په رمو ګلو پسې روان وي یا به په دغسې کلیو کې سره ځوندشوي وي چې منظم هوار با مونه او د خټو د یو الونه یوه کاملا نوې منظره ، ور کړي . دی به لو سړی د دوی هسکو او حتی زیږو څېرو ، د دوی په لمر سوزیدلو مخونو ، د دوی اوږدو ږیرو ، د دوی ارتو کالیو او د دوی د پوټکونه جوړو ارتو پوستینونو ته حیران شي . کله چې دی د دوی په تولنې کې ننوځي نو دی به د عدالت منظمې محکمې یا د هیڅ شی محکمه لکه د منظم پولیس په څېر په ستر ګو ونه ویني .

دی به د دوی د ملکي موسسو بې ثباتی او تغییر ته په تعجب شي . ده ته به مشکله وي د دې درك وکړي چې یو ملت څنګه په دغسې بې نظمي سره ژوندکولی شي ، او دی به د هغو په حال افسوس وکړي چې دوی څنګه مجبور شوي حملې شې او ورځې په دغسې یوې صحنې کې تېرې کړي او د هغوی ذهنونه د دوی د ناخه بوشرایطو په اثر د فریب او تشدد چور ، غولولو او انتقام د پاره رو زل شوي دي ، سره له دې هم دی به ارو مرو د دوی د جنګي اولوړ روح ، د دوی د میلمه پالنې او د دوی د زړورو او ساده ملو کونو ستاینه وکړي چې هغه نه دیوه مدنی فرد په سطحی توب او نه د یو مسخره چې په زیږه

توبکي ليدل کېږي او ممکن دي ډېر زر ددوی په ډېرو خاصو کي چي دده په نظر بد راغلي دي ډېر وښکلو لومړني آثار کشف کړي.

خو له هندوستان څخه بوانګرېز سياح به په ډېر وښو ستر ګو دوی ته وګوري، دی به ددوی د ملك په ساړه اقليم سره خوښ شي، د هغه په طبيعي او تازه منظري سره به وغوړيږي او دخپل ملك د ډېرو محصولاتو په ليدلو سره به سر ورشي. لومړی به دی د ځای په ځای نفوس ودلږ والی له امله او وروسته دخلکو په ښکاره کېدو سره حيران شي چي دوی هغو ململو کي مېشت دي. په داسي حال کي چي نيمايي ځانونه يي لوڅ دي، خوتور رنګه ورين کالی يي په وقار او ستر ګي سره اغوستي او ځانونه يي په نصواري رنګه پوستينو کي يا د پسود پوتکو څخه جوړو په يوځړ تو کر کي تاو کړي دي.

دی به د دوی توي اوفعال شکلونه، ددوی سخت زيار او تشبث، د دوی ميلمه پالنه، سنګيني، او لذت ته په ښکته نظر کتل چي ددوی په تولوعاداتو کي ښکاره دي وستايي او تر تو او زيات، دی به د هغوی د مچيي آزادي او انرژي وستايي. په هندوستان کي به ده دغسي يو ملك شا ته پرېښي وي چي هلته هرحرکت له حکومت يا د هغه له نمانيدګانو څخه نشئت کوي او هلته خلك په مطلق ډول په هيڅ پسي روان دي مګر دی په دلته ځان، د دغسي يو ملت په منځ کي ومومي چي د حکومت کنترول يکي ډېر لږ دی، او داسي ښکاري چي دلته هر سړی په خپلو خواهشاتو پسي روان دی او ترقيد او کنترول لاندي نه دی، دی به د ژوند دد غه طرز طوفاني آزادی په منځ کي په هغي اساني او مصونيت غصه وخوري چي د هندوستان وضع او حتی د هغه د وسيدونکو سستي او بي زړه توب د هغه * ملك ډېري برخي په دي قادر کوي چي مست او لټ اوسي. دی به د طبيعت او فن ډېر محصولات په سترګو وويني چي په هندوستان کي وجود نه لري، خو په عمومي ډول د ده به جوته شي چي دلته د ژوندانه فنون لږ پرمخ تللي دي او د هندوستان ډېر ښکلي شيان وجود نه لري. په عمومي ډول ده ته به د نويو شيانو انتباه ښه په زړه پوري وي او کله هم دی به د دي احساس وکړي چي دوی بي له دي چي ديوه ابتدايي ملت زړ والی بي له لاسه ور کړي وي په هغو ښېو نواخته دي چي تول آسيايان يي په مشترك ډول لري. سره له دي دی به يي د نورو خلکو په مقايسه چي ورسره آشنا شوی دي نيکوکاره وګڼي او دي ته به مايل وي چي دوی ته د علاقي او مهرباني په ستر ګه وګوري او دخپل احترام يوه برخه له دوی نه هيڅ دريغ نه کړي .

دا به هغه انتباهات وي چي يوه اروپايي او يوه هندوستاني سياح ته به د پښتنو سره د مادي اختلاط په وجه پيدا شوي وي څه وخت چي دوی د هغوی د سياسي قانون په پوهېدلو پيل وکړي، دواړه به د هغه ظاهري تناقضاتو او اختلافاتو او هغه اتحاد ته چي د طوفاني ازادی او پوره ستم يوه مجموعه ده هيښ شي. مګر دی به لومړی ممکن د عمومي -

حکومت استبدادي ادعا کانو ته اوورو ته دموکراتیکې آزادی ته چې د قانون په حکومت غلبه لري زیات حیران شي .

اوس به کوښښ وکړو چې که د پښتنو د موجود حال او تاریخ د خاص تحقیق په رڼا کې ځینې خصوصیتونه چې دغو دوو انځورو څو دلی په زړه پورې نه شي او ځینې ظاهري تناقضات رفع نه شي خو په دغه تول بیان کې دا باید په یاد ولرل شي چې که څه هم ما کوښښ کړی دی دوی په هغه معیار سره اندازه کړم چې په اروپاکې به تطبیق وسوی، سره ددې هم هغه لومړنی او ډیره طبیعی عملیه چې په هغې سره ما ددوی دمځینې تخمین کړی دی د هندي او فارسی ګاونډیو سره د دوی یوه مقایسه وه .

د پښتنو دملت نوم (۲)

د پښتنو د نامه اصل چې اوس په ډیر عام ډول سره د هغه ملت لپاره استعمالیږي چې زه یې اوس په بیانولو پیل کوم پوره یقینی نه دی، خو ممکن دا نوم نوی اوسي. دا نوم یعنی افغان پخپله پښتنو ته د فارسی د ژبې له لارې راغلی دی. (۳) ددوی خپل نوم د خپل ملت د پاره پښتون دی، جمع یې پښتانه کیږي. بردرانیان (٤) دغه نوم په پختانه یادوي چې ممکن د پټان نوم چې په هندوستان کې دوی په دغه نامه یادیږي له هغه نه راواتلی وي.

عربان دوی سلیمانی بولی، خو دا هیڅ معلومه نه ده چې دوی په دې نامه ځکه یادیږي چې دوی د سلیمان په غرو کې اوسي یا دا دهغه چا نوم و، چې د عربانو

---

(۲) مولف پښتانه په عمومی ډول د ملت (Nation) په نامه یادوي، نه د قوم، ملیت یا ولس په کلمو سره (مترجم) .

(۳) دا افغان کلمه نوې نه ده، په دې چې هغه د ما نسکرت دا سوغانه (Asvaghna) یا اسواکا (Asvaka) د کلمې فارسی شوی، یا عربی شوی شکل دی. اسوغانه له (دوو) برخو نه جوړه ده (اسوه، اوغانه) لومړنی یې د (آس) او دوهمه یې د (ځای) معنی ورکوی : په دې ډول اسوغانه د اسه نو ملک کیږي. په پهلوی یا منځنی فارسی کې دا بګان (Abgan) او اوګان (Avgan) په بڼه راغلی، او دري ویونکی وګړي یې اوس هم دا وغان په ډول ادا کوي د تفصیل د پاره و ګوری ه د غزنویانو امپراتوري د بو زورت تالیف، دادنېره د پوهنتون خپرونه ۱۹۶۳ مخ ۱۱۳.

(٤) احمدشاه درانی د شرقی افغانستان پښتانه قومونه لکه یوسفزي، ینګښ، ختک، اپریدي، شینواري او نور په دغه نامه یاد کړي وو (مترجم) .

افغانستان په شاهنامه کې د کهزاد تالیف، د بیهقی د کتاب خپرولو موسسه، کابل ۱۳۵۵، مخ ۲۸۸. (مترجم) .

د حملې په وخت کې د دوی مشرو، او یا په هغو حالاتو پورې ارتباط لري چې د دوی د فرضي نسب یعنې له یهودیانو څخه راوتلي دي (٥)؛ د دوی د خپل ملک لپاره کوم عمومي نوم نه لري څو کله د افغانستان فارسي نوم په کاروي. ډاکتر لیډن (Dr. Leyden) د پښتونخوا نوم په دغه مفهوم سره استعمالوي خو ما پخپله هیڅ اوریدلی نه دی. کله د سرحد نوم هم په دغه مفهوم سره استعمالیږي خو په هغه حال کې د هغه هوارې ځکې نه راځي چې د سلیمان د غرو په ختیځ خوا کې واقع دي دا کلمه په حقیقت کې د فارسي کلمې نه سوا چې معنی يې او سرحد ملک دی بل څه نه دي. هغه نوم چې په د یرعام دول سره د تول ملک دپاره د هغه د اوسیدونکو له خوا استعمالیږي خراسان دی، خو هر کله دا چې د دغه نوم استعمال دوست نه دی ځکه له یوې خوا د پښتنو د ملک تولې برخې د خراسان په حدودو کې نه راځي او له بلې خوا د هغه ولایت په زیاته برخه کې پښتانه نه اوسیږي (٦).

زه د پښتنو د لرغونی تاریخ په باب پر معلومات په لاس کې نه لرم، د دوی د اصل او نسب په باب د دوی خپل روایت ما ته یوه افسانه ښکاري، نو زه په هغه څو حقایق د لته راوړم چې د خارجي مورخانو په آثارو کې پیدا کیږي. زه په لومړي په دغه کار لاس پورې کړم او وروسته به هغه روایتونه راوړم چې دوی پخپله را ایستلي او اختراع کړي دي (٧).

---

(٥) اوس دا پوره جوته شوې چې پښتانه د یهودیانو او نورو غیر اریایي نسب څخه نه دي. خو دا نظریه په پخوا وختو کې په ډېرو آثارو کې لیدل کیږي (مترجم)

(٦) په ځینو انګریزي کتابونو کې مې لیدلي دي چې د پښتنو ملک د روه په نامه یادیږي، دا هغه کلمه ده چې په پنجابي کې د غره معنی ورکوي او پوازې پوځو پښتنو نه د هغو کتابو له لارې معلومه ده چې په هندوستان کې لیکل شوي دي.

(٧) په عربي او فارسي تاریخو کې د دغو خلکو د قدرت په هکله په یوې دقیقې څیړنې سره ممکن نور معلومات هم تر لاسه شي او هغه په ممکن مو پیدې قادر کړي چې د دوی د مملکت تاریخ د سلطان محمود غزنوي له وختنه را په دې خوا وموسو، خو د غوروي کتابونو موندل مشکل دي او پیدا کول یې ممکن د پر وخت و نیسي ځکه چې زه به له دې وروسته مجبور شم چې د آسیا په تاریخ کې ځینو حقایقو ته رجوع وکړم زه له دغې موقع نه په استفادې سره اعتراف کوم چې د دغې موضوع د لیکوالو په باب معلومات نه لرم، خو زما معلومات دیوځو تنو هغو لیکوالو په آثارو بنادي چې د دوی آثار په انګریزي یا فرانسوي ترجمه شوي دي، تر هغو لږ معلومات چې یوازې د افغانانو په باب دي دیوځو پښتنو او فارسي لیکوالو له آثارو څخه اخستل شوي دي.

ټول روایتونه په دې موافق دي چې پښتانه په ډېرې لرغونې زمانې کې د غور په غرنۍ سیمه کې اوسېدل او داسې ښکاري چې دوی لا پخوا د سلیمان غرونه خپل کړي وو. د سلیمان غرونه په خپل پراخ مفهوم سره د افغانستان ټول جنوبي غرونه په غېږ کې نیسي، داسې ښکاري چې دوی د تاریخ فرشته په قول هم په لومړۍ پېړۍ کې د افغانستان په شمال ختیځ غرونو کې ځای نیولی و، تر هغه وروسته د همدغه لیکوال په قول داسې ښکاري چې دغه ملت د ساماني عربي کورنۍ تابع و(*).
داسې ښکاري چې پښتنو د محمود او د نورو غزنوي پاچاهانو د لښکرو زیاته برخه او ممکن هم مهمه برخه تشکیله کړې وي مګر هغوی چې د غور په غرونو کې اوسېدل خپله ازادي خوندي کړې وه او شاید د خپل پاچا له خوا اداره کېدل چې د هغه نسب له ضحاک څخه تر یوه اوږده لړ پاچایانو پورې رسېده. ضحاک (Zohauk) د فارس د پخوانیو پاچاهانو له جملې څخه و، دغه شجره چې میرخواند کښلې ده او فرشته تایید کړې لږ تر لږه مشکوکه ښکاري مګر دا یقیني ده چې د غور شاهزادګان د پښتون سور قام ته منسوب وو او د دوی کورنۍ حتی په یوولسمې پېړۍ کې هم اوږد تاریخ لاره، داسې ښکاري چې غور، فیروزکوه او هم بامیان د دوی لوی ښارونه وو. (۸)

(*) د سامانیانو حاکمه کورنۍ عربي نه، بلکې محلي وه (مترجم).

(۸) بامیان تر اوسه هم چې د کابل په شمال لویدیځ کې پروت دی د حکومت مرکزدی. فیروزکوه خپل نوم ممکن فیروزکوهي ایماقو ته ورکړی وي او د دوی د استوګنې د ځای له موقعیت څخه ښکاري چې هغه باید د هرات په ختیځ کې واقع اوسي، خو غورات دې دي چې ټول یې د پاراپامیزاد د غرونو په لمنو کې پراته دي. دا معلومه نه ده چې د غور د پوکوم یو د غوري پاچایانو مرکز دی. لومړنی یې د بلخ جنوب ختیځ ته پروت دی دویم یې د غزني په شمال لویدیځ کې واقع دی او دریم یې د فراه په شرق کې دی. د ځینو نظریاتو له مخې چې ما له ځینو خلکو نه اورېدلي دي د غوري پاچاهانو مرکز دریم و، زه هم له دغو نظریاتو سره په کلکه موافق یم. زما دغه نظر د، دي هربیلوت (D'Herbelot) د مقالې (غیاث الدین) په یوې فقرې بنادی چې د هغې په اساس د غور یوه پاچا د رې وراو ګرمسېر (Raver and Kermessir) چې غور له هندوستان څخه بېلوي، لاندې کړي و. نو دا ملکونه بایلمحتمله د غور ختیځ ته پراته وي. څنګه چې K او G په دري کې په یوه توري اداکېږي، نه دې کې هیڅ شک نه پاتې کېږي چې لومړی یې ګرمسېر (Gurémseer) یا ګرم سېر (Gurmseer) دی او بله کلمه یعنې (Raver) بې ممکن د داور (Dawer) یا زمین داور (Zemeen Dawer) ګاوندی سیمه وي. ممکن هغه نږدې مشابهت چې د دري د دال (D) او رې (R) تر منځ شته دی د دغې تېروتنې سبب *

دغور پښتنو دین په باب مختلف روایتونه راوړل شوي دي*، دغونو په عقیده دوی له محمد (ص) نه وروسته ډېر ژر د اسلام دین و مانه، په داسې حال کې چې نور وایي دوی په لسمې پېړۍ کې هم د بتانو عبادت کاوه. د بامیان له بتانو او سمڅو څخه معلومېږي چې دغه ملك او سیدونکي په یوه وخت کې د بودا پیروان وو.

د غه خلك د سلطان محمود غزنوي په وخت کې د یوه شاهزاده له خوا اداره کېدل چې نوم یې محمد و او هغه د سلطان محمود له خوا مغلوب او بندي شو. د هغه اولادې د دولسمې پېړۍ تر نیمایي پورې د غزنوي کورنۍ له خوا ډېر ځورونه وګالل تر څو چې دوی په وسلې لاس پورې کړ او د غزني پاچایان یې مغلوب او له تخت نه کوز کړل او هغه ښکلی پایتخت یې وسوځاوه. او له خاورو سره یې برابر کړ. له هغه وروسته دوی د خپلې امپراتورۍ په ارتولو پسې شول او ورو ورو یې د کابل موجود سلطنت، هندوستان، بلخ، بدخشان او د خراسان یوه لویه برخه تر خپل حاکمیت لاندې راوستله. له هغه وخت نه د بابر تر حملو پورې چې د دریو پېړیو یوه دوره ده، د پښتنو بېلو بېلو کورنیو په یوه وقفې سره په هندوستان باندې حکومت کاوه، خو د غور د کورنۍ دالمر و هغه نورې برخې د مخه د خوارزم پاچا لاندې کړې چې له هغه څخه چنګیز خان و نیولې او د سورۍ قبیله اوس په دامان کې یو څو کورنیو ته رسېږي. (۹)

داسې ښکاري چې پښتنو د چنګیز خان د اولادې، د تیمور او د هغه د اولادې د حکومت په

---

* شوي وي چې نور وخت څېړونو هغه په دقت سره نقله کړې ده دا هم یقیني ده چې اوس دراور (Rawer) او کرم سېر (K ermessir) کلیمې نه موندلې کېږي. د دریو غوراتو څخه یوازې هغه چې فراه ته نږدې واقع دی د کرم سېر او داور (Dawer) په لویدیځ کې واقع دی. په نتیجه کې ویل کېدای شي چې یوازې هم دغه غور په د غو منطقو سره له هندوستان څخه بېلېدای شي.

(۹) سره له دې هم داسې ښکاري چې دوی په موقتي ډول خپلې علاقې بېرته تر لاسه کړې وې ځکه د چنګیز خان له مرګ نه نږدې سل کاله وروسته محمد سام غوري د هغه فاتح د یوه لمسي په مقابل کې له هرات څخه مدافعه کوله (دې او هېون څلورم ټوك مخ ۵۱۵) او تیمور په څوارلسمې پېړۍ کې د غیاث الدین بن معز الدین غوري ذکر کوي چې خراسان، غور او غرجستان یې په تصرف کې و (تیموري ملفوظات، مخ ۱۴۵) سام، غیاث الدین او معزالدین ټول د غور د اصلي کورنۍ قامیلي نومونه دي ۱۸۳۸)

۱۰) د بابر د مړینې په وخت (۱۵۳۰) کې کابل د ده مرکز نه و، بلکې ډهلی یې مرکز و. (مترجم)

وخت کې خپله آزادي په غرونو کې ساتلې وه، او د بابر په وخت کې د ټولو خارجي قدرتونو سره یې څه ارتباط نه وي لرلی. بابر چې تیمور له نسب څخه او د سترو مغلو نیکه و، د کابل په نیولو سره چې د مرګ تر ورځې یې مرکز و (۱) خپله دوره شروع کړه، ده د مرګ په وخت کې کابل دده د وه زوی کامران تابع و، په داسې حال کې چې هغه بل زوی همایون یې شیر شاه سوري له هندوستان څخه وشاړه. شیرشاه په هندوستان کې د پښتنو حکومت تأسیس کړ.

خو ډیرې دوام و نه کړ. په پای کې د تیمور کورنۍ په کلکه په هندوستان کې په واک راغله، د امپراتورۍ مرکز له کابل نه ډهلي ته نقل شو او د افغانستان هوارې سیمې د هندوستان او د فارس د امپراتوریو ترمنځ وویشل شوې خو غرونه یې د هیڅ یوه تابع نه وو.

د اتلسمې پیړۍ په شروع سره د پښتنو یو قوم غلزیو یوه داسې امپراتوري جوړه کړه چې ټول فارس یې شامل و او حدود یې لویدیځې خوا ته د روسیې او ترکیې تر امپراتوریو پورې رسیده، خو پخپله د افغانستان یوه برخه د هغوی تابع وه. نادرشاه افشار د غه کورنۍ رنګه کړه او د افغانستان ډیرې برخې یې د فارس تابع وګرځولې. د هغه له مړینې نه وروسته د افغانستان اوسنۍ پاچاهي جوړه شوه چې د خپل معراج په وخت کې د کسپین د بحیرې له غاړو نه د جمنا تر سیند پورې او له آمو څخه د هند تر بحر پورې غځیدلې وه.

د پښتنو په متعلق د دغو حقایقو د عمومي ذکر نه وروسته چې ټول یې په معتبرو تاریخونو کې راغلي دي اوس د هغه څه ذکر کوو چې پخپله پښتانه یې د ځان په باب وایي، هغه څه چې دوی یې د خپل اصل او نسب په باب وایي، د پام وړ دي او د یوه نومیالي ختیځ پوه پاملرنه یې لا د وخته ځانته اړولې ده. دوی په دې عقیده دي چې دوی له یوه افغان نه پیدا دي او دغه افغان د ارمیا (Irmia) یا برکیا (Berkia) زوی و چې هغه د ساول (Saul) د اسرائیل د پاچا زوی و. د دوی د ملت ټول تاریخونه له ابراهیم سره د یهودو له معاملو نه وروسته تر اسارت پورې شروع کیږي، داسې ښکاري چې د دغو معاملو په باب د دوی روایتونه د نورو مسلمانانو له روایتونو سره سم خوري او که څه هم دغه روایتونه له بې قیده خیالي تکو سره ګډ شوي دي، اما ما له مقدس کتاب (انجیل) سره موافق دي. دوی وایي چې د افغان یو څو زامنو وروسته له بندي توب نه د غور غرونو ته کډه وکړه او نور یې د عربستان د مکې شاوخوا ته لاړل.

دا روایت تر اوسه له احتمال نه لېرې نه ښکاري، دا معلومه شوې ده چې له دولسو قامونو څخه لس یې د یهودو مملکت یا جودیا (Judea) ته د دوی د ورونو له ستنیدو څخه وروسته په ختیځ کې پاتې شول او دغه فرضیه چې پښتانه د دوی له نسل څخه دي په

آسانه او طبیعي ډول سره ده یو قام ورك کېدل او د بل قام شروع کېدل شرح کوي د کیسې وروسته برخه په دغه حقیقت سره تائیده شوې چې یهود یان په عربستان کې د حضرت محمد په وخت کې په شمېر کې زیات وو او یو مستره څانګه یې د خیبر په نامه یادېده. خیبر او س هم که د کوم پښتون قوم نوم نه دی، په افغانستان کې د یوې علاقې نوم دی. دا نظر توی ښکاري او ممکن صحیح وي، خو کله چې په دقت سره تر مطالعې لاندې و نیول شي ښکاره. په شي چې څه یو ازې په یوې خرې عقیمې بناء دی او حتی دغه عقیده هم په دیرو تناقضاتو او بې ثباتیاتو کې ایچلې ده.

د پښتنو د شجرې او نسب په باب د پښتنو مورخان وایي چې د اسرائیل اولاد هم په غور او هم په عربستان کې د خدای د وحدت په باب خپل علم او د خپلې مذهبي عقیدې سوچه والی وساته او د پیغمبرانو د روښتی او د پرستر پیغمبر یعنې د حضرت محمد په ظهور سره د غور پښتنو د خپلو عربي ورونو په بلنه و منله. خالد د ولید زوی د عربستان پښتنو مشر و او دی د سوریې په فتح کولو سره ډېر مشهور شوی و، د وی د قیس چې وروسته د عبدالرشید په نامه یاد شو، په مشرۍ سره له ښېښنې عقیدې سره د مرستې کولو په غرض مارش وکړ. د عربستان تاریخ پوهان معکوساً د خالد نسب د خپل د ملت له یو څه معلوم قام څخه پېژني او د پیغمبر د اصحابو یا انصارو په باب له خپل لست نه د قیس نوم حذف کوي او د پښتنو د مرستې د موضوع په باب بالکل چوپ دي. حتی پښتانه تاریخ پوهان که څه هم وایي چې د عربستان د لښکرا یستلو په وخت کې د پښتنو شمېر ډېر و، او داچې که څه هم له یوه ځنډ نه چې دوی یې حضرت محمد ته نسبت ور کوي معلومېږي چې دوی د پردمه څه په خپلې خاصې ژبې خبرې کولې، سره د دې هم په یوه بل ځای کې وایي چې د دوی ټول ملت د دغه قیس له نامتو اولادې څخه پیدا شوی دی چې په پورته ذکر شویو جنګونو کې قوماندانو.

که چېرې کوم بل دلیل ته اړه وي چې د دوی د دغه برخه تاریخ رد کړای شي، هغه په خپله د پښتنو مورخانو له خوا وړاندې شوی دی، دغه مورخان وایي چې سال (Saul) د ابراهیم له پنځه څلو یښتم پښت څخه او قیس د سال له اوه دېرشم نسل څخه و. له دغو دوو روایتونو څخه لمړنی یې له مقدسو کتابونو سره مخالف دی او دویم حساب په قرار ۲۷ نسله د شپږ سوو کالو په اوږدو کې راغلی دي(۱) که چېرې موږ په دغو حقایقو کې دا اضافه کړو چې سال د ارمیا (Ermia) یا برکیا (Berkia) په نامه زوی نه لاره او داچې که د پښتانه په نامه د هغه د نمسي موجود

---

(۱) دغه شمېر له تاریخ شېر شاهي څخه اخیستل شوی دی په تاریخ مرصع کې دغه شمېر تردې هم لا ډېر دی. خو په دې کتاب کې د ابراهیم (ع) او یعقوب (ع) ترمنځ د پنځه څلو یښتو نسلو نو ذکر شوی دی.

یت‌و مثل شی دهغه په‌زو زاد کې‌د دغسې‌طایفی دمشر (Patriarch) نوم پاتې شوی نه‌دی او که‌چیرې‌موږ هغه‌آسانه عقیده په‌نظر کې‌ونیسوچې دهغه په قرار ټول پردې‌ملتونه داسې‌روایتونه غوره‌کوي‌چې‌ددوی په تاریخی‌توب دلالت کوي، په‌دې حال کې موږ مجبوریو له یهودیانو نه دپښتنو نسل‌درومیانو په‌قطار کې وشمیرو اود برتانو یانونسب له ټروجانانو (Trojans) اودآیرلینډ یانو نسل له ملیز یانو (Medians) یا له برامنانو (Bramins) څخه‌وګڼو ۱۲ .

۱۲) دغه‌موضوع ویلیم‌جونز (William Jones) دوان سی‌ټارټ (Vansittart) د ترجمې په باب (آسیایی تحقیقات ،دویم‌ټوک ،څلورمه مقاله) په‌یوې سیمې کې تربحث‌لاندې نیولې‌وه ،دغه پوخ‌عالم‌دې‌ته متمایل دی چې دغه‌فرضی نسب په لاندې څلورو دلیلو نوتقویه‌کړې .

دوه لومړې دلیلونه دارسارت (Arsareth) له نامه سره د هزاره (Hazara) د نامه‌ورته والی څخه‌راوتی‌دې‌ارسارت‌دهغه‌ملك‌نوم‌دی‌چې‌داس دراز (Esdraz) په‌قول‌یهودادانو ورته پناه‌وړې‌وه، خودغه دلیل چې اساساً قناعت‌ښوونکی‌نه و. په‌دغه‌حقیقت‌سره‌ر دکیږي‌چې هزاره هغه‌ملت‌دی‌چې‌هغوی په‌دې نږدې‌وختو کې د افغانستا ن دغه سیمه نیولې ده خپل‌نوم یې پرې ایښی دی . دویم‌دلیل په هغه روایتو بنا دی چې په متن کې یې ذکر شوی‌دی اودفارسی ژبو مورخانو له له لیکونونه راوتی دی . دادلیل ممکن له دغو روایتونه راوتی وي او هیڅکله داعتبار وړ نه دی . دریم دلیل د پښتنو او یهودانو د نوموپه ورته‌والی بنادي،خو پښتنو دغه نومونه‌ممکن له‌عربوڅخه اخستلی‌وي لکه‌چې‌نورو‌مسلمانانو هم دغسې‌کړي‌دي. لرغونی نومونه‌دیهود یانو له نومو سره‌هیڅ‌راز اړیکې‌نه‌لري .

آخرنی دلیل یې د پښتواوکلده ژبو په فرضی مشابهت بنادی‌چې‌دهغه‌په‌باب په‌لوستونکی‌قضاوت وکړي. د پښتنو او یهود یانو په‌عادانو کې شایددمشابهت‌ډیر ټکی موجودوي، خودغسې ورته والی دهغو ملتونو په منځ کې معمول دی چې دتکامل په عین پړاو کې‌وي اوکه‌دغه‌مشابهتونه دهویت اثبات وګڼل شی‌شاید داثابته‌شی چې تاتار، اعراب، جرمنیانو اوروسان یواوسی. له‌یوه‌نه زیاتو اړو پایی لیکوالو‌دا هم‌ویلی‌چې‌پښتانه له یوه‌قفقازي قام‌څخه دي‌اوپه خاص‌ډول له ارمنیانو څخه پیدادي. پښتانه ترهغه‌ځایه چې د قفقازنوم پورې تعلق لري ټوراوسه‌هم په همدغه مشهور غره کې اوسی (مقصد‌هندوکش دی) مګرکه له‌دې‌نه مقصد‌داوي چې‌دوی دکسپین‌د بحیرې‌لویدیځ ته‌پراته‌وو، شواهد‌یې هیڅ‌تائیدنه کوي‌پخپله دوی‌ته د دوی‌ارمنی نسب بالکل نامعلوم دی، که‌څه هم چې‌دا *

(لمن لیک دی)

* خبره مدام دارمنیانو په خواکې اوریدله کیږي. ارمنیان داسې قصه کوي چې پښتانه ددې د پاره چې له هغو اوبدورو ژوښخه ځان خلاص کړي چې د دوی مذ هب فرضي کړې وې، مسلمانان شول، تاریخ له دې قصې سره دومره مخالفت لري چې حاجت یې ذکر ته نشته دی. زه باید دلته اضافه کړم چې ما دارمني ژبې یو شمیر کلمې د پښتو له کلمو سره پرتله کړې دي او دې نتیجې ته رسیدلی یم چې ددواړو ژبو ترمنځ ما هیڅ قسم ورته والی پیدا کړی نه دی. یو وخت مې یو مشهور ارمني عالم ته د پښتو لغتونه واورول، دغه عالم که څه هم په دې ټینګ وو چې پښتانه له ارمنیانو څخه پیدا شوي دي بالاخره یې وویل چې ده د دغو دوو ژبو ترمنځ کوم شریک لفظ پیدا نه کړ. د نورو قفقازي ژبو په باب ما دغسې فرصت پیدا نه کړ، خو ما نږدې دوه نیم سوه کلمې د ګرجستان له ژبې نه د پښتو له معادلو کلمو سره پرتله کړې او د دوی ترمنځ مې هیڅ مشابهت ونه موندل، نو زه کوم دلیل نه لرم چې پښتانه له لویدیځو قفقازیانو سره تړلی وښیم، یوازې یو جرمني سیاح چې یې نوم له ما نه هیر شوی دی، په داسې فکر دی چې هغه پښتانه کوم چې ده تېرې په پېړۍ کې لیدلي و، له قفقازیانو سره مربوط دي، داوینا هیڅ د منلو نه ده.

د فرشته په قول قیس دهاشم زوی او حنیف د قیس زوی په خراسان کې د عربانو دوه لومړني قوماندانان وو (د برګز ترجمه، لومړی ټوک مخ ۳). دی داهم وایي چې خالد د عبدالله زوی څنګه چې له دې نه وړاندې چې عربستان ته بېرته ستون شي، د سلیمان په غروکې یې هستوګنه غوره کړه او خپله لور یې یو نوي مسلمان شوي پښتانه مشرته په نکاح کړه (ایضاً مخ ۵) ممکن د دغو لیکو په اساس وي چې د قیس او خالد نومونه پښتنو لیکوالو ته ور په زړه شوي وي او دی د لومړي ځل د پاره په دې فکر شوی اوسی چې خپل قوم د حضرت محمد قوم ته پر منسوبولو سره افتخار ور کړي. زه باید دلته ووایم چې د پښتون هیڅ لرغونی نوم د عربو او یا یهودانو له پخوانیو نومونو سره هیڅ راز مشابهت نه لري. د پښتنو څلورو لویو څانګو نیکو نه سړبن، غرغښت، بېټني او کرله (Kurleh) یا کورانی (Kurannee) وو. هغه قومونه چې متقیما له هغو څخه پیدا شول ابدال، غلجي، خوخی (Khukhy)، کاکړ او نور نور د دوی د هغه نورې څانګې لکه یوسف زي، محمد زي، سلیمان خیل او هغه نورې څانګې چې نومونه یې له عربي او عبراني څخه وتلي دي ډېر تازه دي، د خارکوف پروفیسر دورن (Dorn) چې یې د پښتنو تاریخ ترجمه کړی او ډېر علمي نوټونه یې ورکې اضافه کړي دي هغه نظریات یې خوځوواره تر بحث لاندې نیولی دي چې د پښتنو د نسب په باب دي.**

(لمن لیک دی)

** اوه‌فه‌دړ ردي: اول له قبطیانو څخه، دویم له یهودانو څخه، دریم له ګرجیانو څخه، څلورم له ترکانو څخه، پنځم له مغلو څخه، شپږم له ارمنیانو څخه اوده‌غو نظریاتو ذکر یې په صحیح ډول سره کړی چې وایی پښتانه د انډو سیتي (Inda Seythian) ، مادانو (Milesians) فارسیانو او هندیانو دنسل څخه دي .
د دغو ټولو نظریو په مطالعې سره دې دغې معقولې نتیجې ته رسیدلی دی چې پښتانه دخپلو سیمو لهحدودو اوورځ مـه غـر ونـه هغې خوا کوم بل ملک یا قوم ته نه منسوب کیږي، ۱۸۳۸. »

✻✻✻

دویم فصل

د پښتون ملت څانګې او حکومت :

هرڅومره چې د پښتون ملت د شجرې او حتی د قیس عبدالرشید د شته توب په باب شک او تردید وشي، بیا هم ټول پښتانه شجره لیکونکي هغه ته رجعت کوي او په همدغو شجرو باندې د دوی د قامونو داخلي حکومت او ویش اتکا لري. څنګه چې د دوی هر قوم ځان له خاص حکومت لري او په خپل ذات کې یو پوره کامنولت تشکیلوي ښه به داوي چې د همدغو کامنولتو پیدا ښت او اوسنی حال تر کتنې لاندې ونیسو، او دا کار پخوا له هغه وکړو چې دوی دیوه مشترک واکمن تر حکومت لاندې د یو دولت یا یوه کانفدریشن په حیث مطالعه کړو د قیس له څلور زامنو سړبن، غرغښت، بیټنی او کرلاڼ څخه د پښتنو څلور څانګې پیدا شوې، چې تر اوسه هم د دوی په نومو یادیږي پښتني قامونه د همدغو څلورو پلرو له زوزادو څخه منځ ته راغلي او هر یو یې د نږدې نیکه په نامه یادیږي که د پښتنو نسل له یوه نیکه څخه وګڼو د دې احتمال شته چې تر هغو چې د یوه فامیل غړي لږ وو، دوی ټول د خپل مستقیم نیکه تر حاکمیت لاندې ژوند کاوه، او کله چې د دوی شمیر زیات شو هغه څلور څانګې سره بیلې شولې او هره څانګه یې د تر ټولو مشرې څانګې تر مشرۍ لاندې وه، خو کله چې دوی په یوې پراخې ساحې کې خپاره شول او د همدغې سترې څانګې قبیلې له یو بل څخه ارې شوې، د دوی اړیکې کمزورې شوې او هر قوم د خپل خاص مشر تر حاکمیت لاندې پاتې شو او د شریک نیکه څخه جلا شو ، هغه پخواني څلور ګونه ویش اوس له استعمال نه لویدلی دی او یوازې د قامونو په شجرو کې یې ذکر کیږي ٠

دولس حکومت

دغه قاموته تر ځيناتي اندازې له يو بل نه بېل دي (هر يو ځانته خاصه ساحه لري). تراوسه هم دوی د پلار واکي حکومت لري. لکه د مخه چې ورته اشاره وشوه هغه پر نسبب چې دوی د هغه په اساس زما په نظر سره بېل شوي دي اوس هم په دوی کې جاري دی، هر قوم په خو بېلو څانګو سره وېشل شوی او دغه څانګې په هغو قاموتو کې چې شمېر يې زيات شوی او سره تېت شوي وي سره بېلې شوي دي او هره يوه ځانله ديوه مستقل مشر له خوا اداره کېږي، سره له دې هم دوی خپل ګډ نوم او دوينې او مانا فعود اشتراك مفهوم ښه ساتلی دی.

دولس نوم ياد توګل قام ياد د غو خپلو اکو ځانګو بوېځ ا نګې ته راجع کېږي داسې ښکاري چې دغه کلمه د خپلو نو د کامنولت مفهوم لري. يو ولس په څانګو سره وېشل کېږي، هر يوه يې ځانته خپل مشر لري چې هغه د ولس د مشر تابع دی. دغه څانګې بيا هم سره وېشلې شوي او دغه عمليه نوره هم تکرارېږي (څه ناڅه د يوه ولس د حجم په قرار) ترڅو چې وروستنی فرعي وېشنه يوازې يو څو کورنی په غېږ کې ونيسي، هره فرعي وېشنه ځانله مشر لري او هغه د هغه وېش د مشر تابع دي چې فرعي وېشنه يې يو څېره ده

د دغو څانګو هره يوه ځانته خاص نوم لري چې د هغې ګډ نېکه په نامه يادېږي (۱).

(۱) د الپکنه به په يو جدول سره چې د غلزيو يوه څانګه او حکومت ښيي ښه واضحه شي، خو دا باید په ياد ولرل شي چې که څه هم د لرغوني فاميل مشر تراوسه هم د ټولو غلزيو مشر دی او هم دا شان واړه خېلو نه هم ځانله مشران لري، سره له دې هم د څېنو مځېنو څانګو غړي له يو بل نه بېل شوي دي او اوس يو ګډ مشر نه لري. لکه د بران (Booraun) او ايزوب (izzub) خېلو نه چې يې نه لري.

د دوی حکومت به په يو مثال سره وښودل شي او زه به د سليمان خېلو د يوې څانګې يعنې عيسی خېلو مثال ذکر کړم چې په جدول کې په دغې علامې (O) سره په نښه شوی دی. البته د عيسی خېلو هره کورنۍ د خپل مستقيم مشر له خوا اداره کېږي. هر لس يا دولس فاميلو نه د يوه ګډ نېکه له خوا اداره کېږي، که چېرې هغه ژوندی وي او که مړ وي د هغه د نماينده له خوا اداره کېږي، د دغو فاميلو مشران د سپين *

لمن لیکدی

* ډیر و په نامه یادیږي. هر لس یا دولس مشران دیوه کلي پلار یا دیوه محل مشر له خوا چې هغه د دوی د مشترك نیکه نماینده دی، اداره کیږي چې د دوی یو ټولوشمیر یو فرعي ویش تشکیلوی چې هغه د دوی د ټولو غړو د نیکه د نماینده له خوا اداره کیږی او هغه د ملك یا مشر په نامه یاد یږي. څو فرعي و یشونه یو ویش جوړوی چې اداره یې د پخوا په شان ده. له څوویشونه یو خیل جوړیږی چې په عیسی خیلو کې د هغه مشر اوس عبدالله خان دی له عیسی خیلو او شپږ نورو خیلونو څخه د احمد زیو طایفه (clan) جوړه ده چې هغه د خانان خان له خوا د احمد زیو د نماینده په حیث چې هغه د دوی مشترك نیکه و، اداره کیږي. له احمد زیو او دریو نورو طایفو څخه اسماعیل زي جوړ دي خو دوی دیو ه مشترك مشر تر اداري لاندې نه دي او د- سماعیل زی جوړ دي خو دوی د مشترك مشر تر اداري لاندې نه دي او د اسماعیل زی د فامیل مشر یا له یاده ایستل شوی او یا له منځه تللی دی. د اسماعیل او د پیچ (Pitch) له زامنو څخه سلیمان خیل جوړ دي چې مشر یې احمد خان د سلیمان د نماینده په حیث دی. په اوسنی حال کې د اریوب (Irjub) کورنی چې له سلیمان خیلو او علی خیلو له جوړه ده، مشر نه لري، د اشان بران مشر نه لري چې له هغه نه اریوب او نور پیدا دي، خو اسماعیل خیلو او علی خیلو او د نورو او طایفو مشران چې په همدې ډول تشکیل شوي دي ټول د عبدالرحیم خان مشر توب منی چې هغه د ټول غلزی قام د مشرې طایفې مشر دی.

له خپلو لوستونکو نه هیله لرم چې له دې وروسته څه وخت چې د پښتنو له ټبرو و یشو څخه کړیږم زه به یې د قامونو (tribes) په نامه یادوم او څه وخت چې د یو قام له اجزاوو څخه خبرې کوم، لومړنی ویش یې د طایفې clan په نامه یادوم چې هغه لکه پورته له یوې طایفې، خیلونو او نورو څخه متشکل دی، خو کله چې زه د دغو ویشونو څخه د یوه مستقل هیئت په حیث بحث کوم هغه د ولس په نامه یادوم او اجزا به یې د طایفو، خیلونو او نورو په نامه یادوم. دا ذکر هغه ارتباط له منځې دی چې د دوی یې هغه ولس ته لری لکه څنګه چې وروستی دیوه قام په حیث دی. خپل د عربی خیل نه چې معنی یې یوه ډله یا مجموعه د ه راوتی دی او (زی) چې زیاتره د قامونو، طایفو او کورنیو نوموپسې د لاحقې په حیث راځی د زوی معنی ور کوي لکه څنګه چې میك (Mac) د سکاټلنډ یانو له خوا د لاحقې په توګه استعمالیږي، د ملك اصطلاح چې د یوه فرعی ویش مشر ته راجع کیږي، اصلاً عربی ده او د پاچا معنی لري او مشر زما په خیال د عربی د مشرد کلمې چې معنی یې مشاورزدی، تحریف ګڼل کیږي.



داهریوه ځانګه په‌خپل وارسره‌په‌نورو وړو ځانګو ویشل شوی‌چې په‌سرکـی یی جلا مشران دی. اوهمدغه ځانګی بیاپه نورو وړوځانګو ترکوړنیو پوری ویشل شوی دی،اولکه چی‌داسحق خیلو په‌برخه کـی موذکر کړه ، ټولی له‌یو بل سره‌دتابعیت په‌یوه لړی کی واقع‌دي.

خان

دیوه اولس مشر د خان په نامه یادیږي. خان تل د اولس د یرې ارغونې کورنۍ څخه انتخابیږي .

دغه انتخاب په ډیرو حالاتو کښې په پاچا پورې اړه لري او پاچا په خپله خوښه یو خان معزولوي او په ځای یې د هغه یو نژدې خپلوان ټاکي، په ځینو واقعو کښې خان د خلکو له خوا انتخابیږي، په دواړو حالاتو کښې د مشرتوب اصل ته یو څه توجه کیږي، خو تر هغه زیات سن، تجربه او سجیه په نظر کښې نیول کیږي. دغه ناثبیته شوې جانشیني د ډیرو شخړو سبب کیږي . څه وخت چې خان ومري، د هغه دوه یا ډیر ځامن او وریرونه په قام کښې د کوندد پیدا کولو په لټه کښې کیږي او یا په وفاداری او یا اعانې سره پاچا راضي کوي او یا او زیرانو ته یې پلوی منی. وروسته له هغه چې د خان ځای نیو نکی هم وتاکل شي، ناکامه کاندید هم خپلو فعالیتو ته دوام ور کوي. کله کله خو ډیر په قدرت سره د اولسو یوه برخه له هغه سره یو ځای شي، زیاتره وخت دی په دربار کښې خپلو دسیسو ته دوام ور کوي یا په خپل ولس کښې جنګ ته پکی وهي او په دې جنګ کښې دی کله دیوه بل مخالف قام له خوا حمایه کیږي. په ملت کښې د کورنیو جګړو په دوران کښې د ولس د مشرتوب لپاره هغه ناکام کاندید د تخت او تاج له مدعي سره یو ځای کیږي او د کامیابۍ په صورت کښې بیا قدرت ته رسیږي .

د تابع ویش مشر تل د پښخوانی فامیل د غړو له خوا انتخابیږي له تولو شکته فرعي ویش له دې اصل څخه مستثنی دی، په دغه ویش کښې د مشرتوب تفوق طبعي دی په دې چې یو زوړ سړی د لسو یا د ولسو کورنیو مشر دی چې هغه د هغه له زامنو، وریرونو او د لمسیانو څخه جوړې دي .

جرګه

دیوه ولس داخلي اداره د خانانو او د ویشونو مشرانو د شوراګانو په لاس وي. دغه شوراګانې د جرګو په نامه یادیږي. خان د ستري جرګې مشرتوب په غاړه لري او جرګې د ولسي دسترو ښانګو له مشرانو څخه جوړې وي. هر خان د خپلو ویشونو د مشرانو جرګه رابولي، ورپسې دغه ویشونه خپلې جرګې هم کوي او د ډیرو فرعي جرګو غړي یا د خپلو افرادو په احساساتو چې د دوی تر اد رایې لاندې دې خبر وي یا د دې قدرت لري چې هغوی دې ته راضي کړي، چې د دوی نظریات ومني .

خان په ورو موضوعاتو کښې یا په عاجل حال کښې بې د جرګې له مشورې نه عمل کوي دغه جرګه په وړ ته حالاتو کښې بې د هغو جرګو له مصلحت نه د خپل نظر اظهار کوي چې

ترهغې لاندې دي خو په مهمو چارو کې هر وخت چې شرایط مساعد وي پخوا له دې چې کومه فیصله وشي د ټول قام احساسات یقیني کېږي.

د حکومت سیستم چې پېښما بیان وکړ، زیاتره وخت لکه د لاندې شرایطو په اثر ویجاړېږي چې یوازې کله کله په ټول قوت سره په ځای پاتې وي، نو ځکه د دې لپاره چې د هرې یوې قبیلې سیستم بیان وشي باید یو داسې مادل و ټاکل شي چې د قامونو ټول حکومتونه په هغه بنا دي، ممکن دا مې یو حالت و نه مینډل شي چې هلته د واکونو په لړ کې چې باید له خان څخه کورنیو ترمشرانو پورې او وړې وي کومه کړې ورکه نه اوسي (۲) یوه طایفه خپل یا کومه څانګه بې له دې چې خپل تعلقات له پورتنیو سره وشلوي زیاتره په خپلو داخلي چارو کې آزاد یږې تردې حده چې هغه یوه ولس د کومې څانګې په حیث یا تابع وي یا له ولس څخه مستقل وي.

د خان قدرت

کله کله د قام ټول اساسي قانون هم سرچپه شي، په څینو نادرو حالاتو کې خان په خپل سر او مستبد شي او بې له دې چې له هغو جرګو سره چې د ده تر اثر لاندې وي مشوره وکړي، عمل کوي او په ده پسې نور واړه مشران هم هماغه دریځ غوره کوي، خو په زیاتره وختو کې مشران له یاده ایستل کېږي او هر فرعي ویش، هره محله او حتی هر فامیل په پورتنیو مشرانو باندې د خپل اتکا کړی شلوي او د خپلې ګټې یا خوښې په اساس عمل کوي.

دغه ورسټۍ نیمګړتیاوې موقتي اداري په تاکلو سره رفع کېږي. دی چې د خپلو استعداد و نو په اساس ټاکل کېږي پوراز دیکتاتوري چې د جنګ په حال یا نورو حالاتو کې چې د هغه لپاره دي انتخاب شوی دی، د پرواك لري، خو کله چې د ده د ماموریت دوره آخر ته ورسیږي، دی بیرته د پېره عادي وګړي حال ته رجعت کوي.

څه په داوې چې د هغو شرایطو ذکر وکړو چې د مشرانو د واك اندازه ورپورې اړه لري.

خان په هغو قامونو کې چې پاچاته تابع وي، د شاهي مالیاتو په تحصیل سره او د ملیشا د ساتلو په ماموریت سره، او همدا راز د هغو معاشو یا موجبو په اخستلو سره چې له دغسې وظیفو سره تړلي دي زیات نفوذ پیدا کوي. د ده شخصیت د ده قوت او نفوذ په زیاته اندازه متاثره کوي. د شتمنۍ لرل چې دی په هغې سره کولی شي، نوکران وساتي او د ولس مشرانو ته وظیفې وسپاري، د ده

(۲) په دې ډول په تېرې بیان شوې شجرې کې د پوران د زامنو او دازوب د زامنو مشران نه ښته دي.

قدرت ډېروي. له بلې خوا په هغه حال کې چې د دغه قام وروکی وی یا دغه داوسیله لوور مځکې تنګې وي، د ټولو یشو مشران وارهوی چه او ی زیاتره په یوې جرګې کې سره ټولېږي. دا جرګه چې د ټول ولس قوت سره جمع کوي هیڅ کله د یوه خان تر کنټرول لاندې نه ځي، څنګه چې خان په خپلې کورنۍ کې یو قوي رقیب لري او څنګه چې د قام یوه ناراضه څانګه د بېلېد او له بل کوم ولس سره د یو ځای کېدو وسایل په لاس لري او څنګه چې داسې شرایط ډېر دي چې خلک د جګړه ماری او جسارت په لو بیا یی داټول د دې سبب کېږي چې دخان صلاحیت محدود شي. په عمومي ډول دا دیادوني وړ ده چې هغه قومونه چې په زیاته اندازه دپاچا تر نفوذ لاندې وي، په زیاته اندازه خپل خان ته تابع دي که څه هم چې په دغه اصل اکې ځینې واضح استثناآت شته دي. پښتانه په خپل مشر پورې تړلی نه دي.

د پښتنو قبیلوي احساسات په ټولو قامونو کې د غرنیو خلکو د احساساتو په خلاف، نظر دې ته چې په مشر پورې اړه ولري، په خپل ولس پورې اړه لري او که څه هم خان د دوی په نظر کې د یوه اداره چی مفهوم لري چې د ټولنې د خیر د پاره ټاکل شوی وي او دا په یقیني ډول د یوه طبیعي او پلار واکی مشر له مفهوم سره ګډ دی، سره له دې هم هغه مځکنۍ انتباه په دوی کې تل ډېره قوي ښکاري، په دې اساس د ژوندا و مرکز قدرت چې د غرنیو ملکو د مشرانو له خوا عموما تطبیقیده او دا هغه وخت چې قبیلوي احساسات ډېر قوي و، یو پښتون خان یې په ډېر ندرت سره په اختیار کې لري. او دا یوازې کله کله پېښېږي چې د خان شخصي منافع یو قام دې ته اړ کړي چې په داسې کار لاس پورې کړي چې د دوی د کټې یا عزت سره مخالفت ولري.

په جنوب ختیځ کې د غلزیو نه غیر لوید یځ پښتانه له خپلو وطنوالو سره شخړې نه لري (۳) مګر په ختیځ کې به داسې قامونه لږ وي چې د تاوده جنګ او یاد ساړه جنګ په حال کې نه وي، د وی زیاتره په خپلو منځو کې پایېدونکې دښمنۍ لري مګر تر هغو چې ځینې شرایط د غه دښمنۍ و نه پاروي په ښکاره نښتو نه اوړي او دا حال کله کله په څو کلونو کې نه پېښېږي. د دوی یو څو نور قامونه لکه یوسفزي هیڅکله په سولې کې نه وي.

داخلي نظامي تاسیسات

هغه قامونه چې کله کله جنګونه لري (په دامان کې په زیاته اندازه پېښېږي) له نورو سره په موقتي ډول اتحادیه جوړوي او د ټولو متحدو قامونو جرګې

---

(۳) واضحه ده چې د وا کمنۍ په سر د غلزیو او درانیو جنګ له هغوړ و شخړو څخه توپیر لري چې پاس ورته اشاره شوې ده.

په یوې غونډې کې سره تولیږي چې د عملیاتو پلانونه سره منسجم کړي او یاد سولې شرطونه تر مطالعې لاندې ونیسي . هغه قامونه چې په جنګونو کې ډیر راختته وي په زیاتره دایمي اتحادیې جوړوي لکه په بردرانیو کې ګاره garra اوساملSaumil او په خوست کې د سپین او تور ګوندونه . دغه جنګونه په دوار و خواوو کې د چور او چپاول د ورو دو له پاره تبارز کوي، مګر کله چې موضوع مهمه شي، خان او جرګه د ولس تول جنګي میړونه را بولي . هغه قامونه چې په جنګو کې لږه برخه اخلي، رضا کاران راغواړي او هر څوك چې وسله لري ورته راځي هغه قامونه چې کله کله جنګونه کوي په هغو کې هر بالغ سړی خدمت کولو ته مجبوردی او یوسف زیو چې د دایمي جنګو په اثر د جنګ سیستم را ایستلی دی د هرې قلبې ملکې په سر دیوه پیاده عسکراو د دوو قلبو ملکو په سر یو سپور عسکر راغواړي په عمومي ډول شرم د دې ملخه نیسي چې یو څوك دې له حاضریدو نه سرو غړوي، مګر په هغو قامونو کې چې زیاتره په جنګو بوخت وي، جریمه هم حواله کیږي په دې ډول د خلکو لو یې ،خوبې ترتیبه ډلي سره غو ندیږي ، له غوغا نه د کې شخړې واقع کیږي، یو خوا یې له ډیرو سړوور کولو نه ماتې خوري او قاتحان د خپلو دښمنو ملکې خرابوي او جنګ بس کیږي . او جنګ هغه وخت له سر مشروع کیږي چې مغلوبان یاد توري اخستلو قدرت پیدا کړي او یا ممکن یو نوی محرك هې سبب شی . لښکرې زیږدې تولې پیاده وي او مشران په جنګ کې لکه د سولې په حال کې د قوماندانی دریځ ساتی . جنګی میړو ته معاش نه ور کول کیږي خو په ځینو قومونو کی که یو آس و وژل شی، خاوندته یې له هغو پیسو نه قیمت ور کول کیږي چې یاد جریمو او یا په قوم باندې د مالیاتو له لارې تولې شوې وي .

داخلي حکومت

دا رواج په شمال ختیځ قومونو کې جاري دی، دوی په حقیقت کې هغه یوازنې قومونه دي چې مالیات ور کوي . حتی په دوی باندې هم مالیات یوازې هغه وخت حواله کیږي چې د کوم اجتماعي هدف د پاره پیسو ته ضرورت پیداشي، د دغو پیسو اندازه د ضرورت له مخې تاکل کیږي او هغه پیسې چې په دې ډول تولیږي په دقیق ډول یوازې په اجتماعي هدف لګیږي . ما ته دا یې مثالونه هم معلوم نه دي چې خان به د خان د کتې لپاره له خپل ولس نه مالیه تولوله کړې وې خو په همسایه وو باندې منظمه مالیه، په هندوانو باندې جزیه او هغه محصولات چې له هغو تجارتي مالونه اخستل کیږي چې د یوه ولس له ملك نه تیریږي ، په څو حالاتو کې خان ځانته تحصیل کړي وي . د دوو لومړیو تحصیلاتو بیان به وروسته راشي . په عمومي ډول د دغو تحصیل دافرادو له خوا کیږي، خو په تجارتي مالونو مالیات که څه هم

کله کله په ټول ولس باندې ویشل کیږي، دخان جیبو ته ځي، هغه یوازې دهغو ولسونو له خوا ایښوول کیږي چې ډیر لږ د پاچا ترادارې لاندې وي، دغه ولسونه کله کله دمالیاتو تاکلي اندازې لري او کله کله له سوداګرو سره چنه وهي، په دغه حال کې داسې ګڼله کیږي چې سوداګر ګواکې محصول تادیه کوي یا دا چې ددې لپاره چې له چوروالو نه وژغورل شي له ولس سره جوړه کوي.

په ټول ملت کې به ډیر لږ داسې کوم تبر پیدا شي چې دملایانو د ساتلو اود میلمنو د مقلود پاره هیڅ دول ترتیبات ونه لري، خو هغه طریقه چې په هغې سره ددغه مقصد دپاره پیسې ټولیږي، وروسته به بیان شي.

په ټول ملک کې محمدي شریعت دعمومي قانون په حیث جاري دی، هغه دولس په مدني چارو کې هم تطبیقیږي، خو د دوی خاص قانون او هغه چې دد وی دداخلي حکومت په جزایي چاروکې استعمالیږي، د پښتونولی عرف او رواج دی. یا د پښتنو پښتونولی د عرفي قانون هغه ابتدایي سیستم دی او په داسې اصولو بنادی چې فکر کیږي د مدني حکومت له تأسیس نه دمخه یې شاپه لرلې وي.

شخصي انتقام

دا نظر چې دا د هریوه انسان حق او وظیفه ده چې عدالت پخپله وچلوي او دهغو ناروا وو انتقام واخلي چې پده کیږي، په هیڅ وجه په پښتنو کې له منځه نه ځي، او د ټولنې هغه حق چې حتی دافراد و معقول جذبات کنترول کړي، د شویو ناروا وو بازخواست وکړي اوجرمونو ته جزا وټاکي، تر اوسه هم په دوی کې په ناقص ډول پېژندل شوی دی او که پېژندل شوي هم نه وي، یوازې کله کله دخلکو په فکر کې وي. دغه رواج بایده هغه وخت شروع شوی وي چې حکومت نه شو کولی افراد د حمایه کړي، په دغسې حالاتو کې دغه رواج نه دا چې باید کټورو بلل شي بلکې حتی ضروري هم دی، خو دغه رواج د پښتون د ملت په کړو کې ریښه لري او که څه هم دهیواد په د یرو برخو کې عدالت ښایي په نورولارو حاصل شي او که څه هم ملایان هرچیرې د فردي انتقام اخستلو په ضد تبلیغو نه کوي او د حکومت له خوا منع شوي دي خو تر اوسه هم دخلکو په نظر دا قانوني، روا او حتی د افتخار ور ګڼل کیږي چې د انتقام اخستلو طرز پخپله وټاکي. هغه څوک چې ظلم پرې شوي وي په متجاوز باندې ژور پور اخستلو مستحق ګڼل کیږي. ستر ګه د ستر ګې او غاښ د غاښ په بدل کې او داسې نور که متجاوز د هغه له قدرت څخه لیرې وي، دی ممکن خپل پور د هغه له کوم خپلوان څخه واخلي، په ځینو حالاتو کې ممکن دی د هغه دقام له هر یوه کس څخه خپل بدل واخلي که چیرې د ه ته د بدل اخستلو

موقع په لاس ورنه شي، دی ممکن خپل پور راخستل په کلو ځنډوي ، خو دا بې ننګي ده چې دې پورا خستل له یاده وباسي او یا ترې صرف نظر وکړي او دده په خپلوانو او ځینې وختونه حتی د ده په قام باندې دا فرض ده چې په انتقام اخستلو کې له هغه سره مرسته وکړي .

البته بدل چې په دغه ډول سره اخستل کیږي ، نوې شخړې را پیدا کوي، جنګونه دایمی کیږي او دغسې شخړې په ځینو حالاتو کې له پلار څخه زوی ته ترخو لسلو پورې انتقال کوي .

د دغه سیستم لیرې تاثیرونه د قتل تشویقول دي چې تزویر او بې رحمی ور سره ملګرې وي، داسې هم دغسې تاثیرونه تولنه لړ زوي او غړي یې د هیجان او ویښې له صحنو سره روبړدي کوي ، دا حال ممکن د افغانستان زیږو قانون ایستونکو ته معلوم نه ئي ، خو هغه خطرونه او بې نظمي ګانې چې له هغو څخه پیدا کیږي، حتما یې تول خلك حس کوي، نو داده چې په هر قوم کې د فعالیت د محدودولو د پاره ځینې اقدامات کیږي، په ځینو ولسونو کې د شخړو فیصله کیدل روغې جوړې او تشویقولو ته پریښودل کیږي او د قام مشران او زور لویان تل خپل زور پرې اچوي، خو که چیرې دغه وسایل په دې موفق نه شول چې متجاوز دې ته اړ کړي چې تاوان ورکړي او یا مظلوم دې ته تشویق کړي چې هغه وبښی، تولنه مظلوم ته اجازه ورکوي چې خپل پور پخپله واخلی. په نورو قومونو او په واقع کې په ډیرو قومونو کې تولنه تر هغه لیا په جدي ډول مداخله کوي او سرزوری دې ته اړ کوي چې د هغې پر یکړې ته غاړه کیږدي او یا له ولس نه ووځی، خو په ډیرو دغسې فیصلو کې یوازنی هدف دادی چې دواړه خواوې سره پخلاشی او د موجودو ناراسیو مخه ونیوله شی. نه د دې فکر چا ته ورځی چې وروسته له هغه چې مظلوم قانع شوی دی تولنه تا وانی شوې وه، یا تولنه د دې حق لري، چې د عبرت د پاره جزاو تاکی(٤) . خو په ځینو حالاتو کې خان یا سرکه خو زیاتره خان (دا په هغو ولسونو کې د یر رواج لري چې مشر یې قوي وي) نه یوازې متجاوز دې ته اړ کوي چې د مظلوم رضا حاصله کړي بلکې په هغه بر سیره د دولت د پاره جریمه هم حواله کوي .

---

(٤) د قصې دغه نظر حتی په اسلامی شریعت کې هم مراعات کیږي ځکه چې حضرت محمد د خپلو وطنوالو د فکر او شاید د خپل فکر په مطابق هم د قاتل جزا او حتی د جزا ورکولو خو به یا د هغه ببښل یې دیوه معین تاوان په مقابل کې د مقتول خپلوانو ته پرې ایښی وي ، په داسې حال کې چې ده په عاقلا نه ډول د هغه په جرم باندې د قضاوت کولو حق له هغوی څخه واخیست او قاضی ته یې انتقال کړ .

قضايي جرګې

ټولې جزايي محاکمې د يوې جرګې په وړاندې عملي کيږي چې له خانانو، ملکانو، يا مشرانو څخه متشکلې وي او ملايان او حتى تر هغو په ښکته درجه مجرب کسان او موثر کسان ور سره مرسته کوي. وړې قضيې د کلي د جرګې له خوا ياد قام د هغو څانګو له خوا حل کيږي چې د غه قضيې پکې پېښيږي، قضيې د هغوی د اهميت په قرار لوړو مقاماتو ته وړاندې کيږي، تر څو چې په تنظيم شويو ولسوالو کې ژرنور وجدي قضيې د خانانو او د خيلونو د لويانو په وړاندې تر محاکمې لاندې نيول کيږي، خو په هغو قومونو کې چې په کمزوري ډول اداره کيږي هره څانګه په بېل ډول عمل کوي (۵). جرګه په عمومي ډول د مجلس د مشر له خوا بلله کيږي، خو په ډيرو قومونو کې هر هغه څوک چې د غرېتوب لپاره وړوي، کولی شي چې جرګه راوبولي او په ډېرو قومونو کې په جرګې کې له شاملېدو څخه سرغړول جريمه لري .

هغه وخت چې د جرګې ټول غړي سره غونډ شي، دوی ټول په سپېرو خاورو باندې کښېني او د جرګې د سرسړي له خوا وړې دعا څخه وروسته د پښتنو د پښتو يو بيت وايي چې مطلب يې دادی «پېښې ټولې د خدای له خوا وي، خو انسان ته اجازه شته ده چې په هغه کې فکر وکړي» وروسته بيا د دعواګر کيسه اوريدل کيږي او که چېرې د هغه دفاع له هغې سره توپير ولري، شاهدان غوښتل کيږي او ترې پوښتنې کيږي ترڅو چې ټول حقايق برسيره شي. که چېرې، لکه څنګه چې ډيره عامه ده، متهم په حقايقو اعتراف وکړي مګر د خپل حقانيت لپاره دلايل راوړي جرګه د موضوع په باب تحقيق کوي او وروسته د هغې په باب مناسبه پريکړه کوي. د هر جرم د پاره ټاکلې جزا شته، يوازې په بردرانيو کې ټاکلې جزا نه شته او په دوی کې جزا د جرګې له خوا ټاکله کيږي .

جزا تل د عامو خلکو په مخ کې د بښنې غوښتنې او د پوره تسليم په شکل وي .

---

(۵) پښتونولي د مدني حقوقو د انفاذ د پاره په هغه پرنسيب عمل کوي چې هغه په جزايي فيصلو کې مراعات کيږي که يو سړی په يوه بل چا دعوا ولري د هغه يوازنی علاج په دې کې دی چې د خپل پوروړي غوبه، اس يا بد مال ونيسي او تر هغو پورې وساتي چې د دعوا فيصله وشي، مګر پښتونولي اوس په مدني قضيو کې تقريبا بالکل ترک شوې ده، چېرته چې قاضي او يا د هغه نايب موجود وي قضيه هغه ته وړ-له کيږي په کوم ځای کې چې د دولت دغه ماموران نه وي دعوا د ملايانو له خوا د محمدي شريعت په اصولو فيصله کيږي .

په مهمو قضیو کې د مجرم له فامیل څخه یو شمیر ځوانې نجونې مظلوم سړي او د هغه خپلوانو ته په واده ور کولې کېږي (۶).

هغه وخت چې یو مجرم دعوا گرته تسلیم کړي او هغه ته د بدل اخستلو انتخاب ور کول کیږي له هغه نه یوه لویه ننداره جوړه وي څو په دې هر څوك پوهیږي چې دی با ید د جرگې له هیلې سره موافقه ولري او تاکلی شوی تاوان ومنې چې له هغه وروسته د واړه خواوې د معمولې سلام وعلیکم په ویلو سره یو بل ته سلام ور کوي او یو بل کره میلمه کېږي، په ډیرو قاموونو کې د غه روغه د زړه له کومې او بادوامه وي. که چېرې متهم د پریکړې له منلو نه غاړه وغړوي، ځینې قومونه دغه موضوع تر آخره رسوي او یو ارخیزه exparte فیصله کوي خو نور قومونه یا دغه یاغی سړی جرگې ته را کشوي، یا ملایان ور ته استوي او سوکوي یې، یا یې مالونه چور وي او له ولس څخه یې شړي. همدغه وضع له هغه چا سره هم کیږي چې هغه د دوی له پریکړې نه سرغړوي او دوی زیاتره مدعی ته د دې واك ور کوي چې له متهم څخه تاکلی تاوان واخلی. هغه وخت چې تاوان تاکل کېږي، یا هغه وخت چې هغه د جرگې له خوا له حد څخه زیات تاکل کیږي، دوی تل مظلوم خوا ته د دې قناعت ور کوي چې د تاوان له ټیملې څخه تیر شي.

زه اول حیران شوم چې را معلومه شوه چې جرگې کله کله د یوه متهم د جرم د معلومولو په ځای زیاتره په هغو حالاتو قضاوت کوي چې ولې متهم په دغسې جرم لاس پورې کړی دی. په همدې دول جرگې زیاتره د هغه تاوان په تاکلو غږیږي چې دی بې با ید هغې بلې مظلومې خوا ته ور کړي.

(۶) د اړواج د عادې و نورځای نیسی. په لویدیځو پښتنو کې د یوه قتل په بدل کې د ولس ځوانې نجونې ور کول کیږي چې شپږ یې له خپلو میراثی مالونو او شپږ یې له هغو نه وي په عامه خلکو کې د مړي نجلی برخه شپیته روپۍ (یا اووه پونډه او لس شلنگه) د چې نیمایې یې جنس وي د یوه لاس یوه غوږ یا یوې پزې د غوڅولو په بدل شپږ ښځې تاکل شوې دي. د یوه غاښ د ایستلو په بدن کې د رې ښځې، له وچلې څخه د پورته پرهار په بدل کې یوه ښځه، له وچلې څخه د ښکته پرهار په بدل کې یوه ښځه (مگر په هغه حال کې چې د پرهار جوړېدل یو کال وخت ونیسی) او واړه جرمونه په تسلیم او عفو غوښتلو سره جبران کېږي په ختیځو پښتنو کې په دغسې معاملو کې د ښځو شمېر لږ دی خو د پیسو مقدار زیات وي، په دوی کې په عمومي دول تاوان لږ وي د ښځو په بدل د پیسو مقدار تاکلی دی او هغه کس چې دغسې تاوان ور ته ور کول کېږي ممکن په خپل مسئوبه یې وا خلي.

خو ورو وروهغه دلایل راښکاره شول چې د زور چلولو اعمال ولې باید کله کله پټ کړل شي.

پښتنو لې یوه کس ته د دې حق ور کوي چې د هغو ظلمونو بدل واخلي چې په ده شوي وي او د پښتنو نظر دا د ننګ او عزت یو ټکی ګڼل کیږي چې دی باید خپل د غه حق تثبیت کړي: نو په دې ډول د پټو لو ټولې خوځونې او موجبات له نظره غورځول کیږي. مګر په هغه حال کې چې یوه خوا دومره معقوله وي چې په خپلې ملامتۍ اعتراف وکړي، او له بلې خوا د دې لپاره چې د هغه عزت ثابت شي شهرت ورکول ورته لازمي وي. د دغې موضوع په باب د پښتنو نظریات د تن په تن د جنګ درواج په باب زمونږ (انګلیسانو) د ملت د هغو د ذهنیتو مثال کیدای شي چې هغه یوازې د انفرادي انتقام یو سخاوتمندانه او ښه تنظیم شوی طرز دی.

په عمومي ډول د غه قضایي جرګې ښې کټورې موسسې دي، او په ډېرو حالاتو کې د زغم ورا قالي توب مراعات کوي، که څه هم چې د منګر توب او دښمنۍ نفوذ پکې لیدل کیږي او ممکن کله کله واسطه، او حتی بډې پکې تاثیر ولري. طبیعي ده چې یو څوک به داسې وګڼي چې د دوی بحثونه بې نظمه او له شورو زوږ نه ډک وي، خو ما ته معلومه شوه چې حال زیاتره د غسې نه دي او په ځینو قومونو کې جرګې ښې منظمې او با وقاره وي او یو راز هغسې ابتدایي بلاغت پکې لیدل کیږي چې د دوی د وطنوالو ښه ایسي.

جرګې په ځینو حالاتو کې د خان د زیات قدرت له امله بې لزومه کیږي، او په نورو حالاتو کې د خلکو د قانون د نه مراعاتولو په سبب بالکل هیڅ شي. سره له دې هم څه وخت چې یو ډېر زورور خان مجبور شي، د یوه قوي متهم موضوع فیصله کړي، د جرګې بلل ښه بولي. دی په دراني قومو کې چې مشریې د پاچا په صلاحیت عمل کوي او د هغه د قوت ملاتړ ورسره وي، همدا غوره او آسانه ګڼي چې د یوې جرګې په سلا او مشوره کار وکړي. د غه وروستي حال په ټولو موضوعاتو او همداراز د جرمونو د محاکمې په باب په غور کولو کې تطبیقیږي، خو په کومو ځایو کې چې جرګې پوره رواج هم لري، ټول جرمونه د فیصلې لپاره ورته نه محول کیږي. یوې جرګې ته شکایت وړل تل د ضعف یو ښکاره اعتراف ګڼل کیږي او په نتیجه کې له هغې څه چې خپل حق په زور حاصل کړل شي، لږ د عزت وړ وي. نو په یوه ولس کې د مقام والا سړي او قوي کسان (یعنې هغه څوک چې ډېر خپلوان لري) تل د ې ته تیار نه دي چې له خپلې سپکاوي څخه تېر شي او له بل خلا کیدو سره موافقه وکړي، خو په هغه حال کې چې کره په دواړو خواوو کې سره برابر شوي وي. دا موضوع تر هغه ځایه پورې تعقیبیږي چې مظلومه خوا د بخلا کیدو د پاره حاضره نه وي که څه هم چې موضوع د ه پخپله جرګې ته وړاندې کړې وي. په ډېرو قومونو کې جرګه تر هغو

مداخله نه کوي ترڅو شکایت ور ته نه وي شوی او په ځینو قومونو کې تر هغو چې دواړه خواوې په دې راضي شي چې فیصله یې وشي، خو په نورو قومونو کې کله چې محلي مشر له یوه جدي جرم نه خبر شي، جرګه رابولي او دواړه خواوې ور ته حاضروي.

په جدي موضوعاتو کې لکه قتل تورن له ملک نه فرار کوي، خو که دی دې ته تیار نه وي چې خپل قوم پرېږدي، په هغه خطر پوره خبر دی چې په قوم کې له پاتې کېدو څخه پیدا کېږي او فیصله یې داوي چې ځان تسلیم کړي او له هغه کس نه چې ده پرې ظلم کړی وي، بښنه وغواړي، په دغه حال کې دی د کوم مخور کور ته په ننواتې ځي او له هغه څخه د شفاعت هیله کوي او بښنه یې غواړي. د پښتنو د رواج له مخې ننواتې کوونکی یوازې کله کله شړل کېږي او د هغه چا په کور کې چې دی ننوتی وي ځان مجبور وینې چې موافقه وکړي، د ی د عزت ځینې نور کسان یو څو ملایان او سیدان غونډوي او ټول د تورن سره په ګډه د مظلوم کور ته ځي اوس نو دا ټول کسان ننواتې کوونکی شمېرل کېږي او څنګه چې د دوی تردید نه کېږي، که مظلوم سړی دې ته حاضر نه وي چې روغه وکړي، پخوا له دې چې دوی د هغه کور ته ور سېږي هغه یا له خپل کور څخه وځي او یا ځان پټوي. کله چې دی موندہ شي، مجرم په کفن کې ور ته ځان ښکاره کوي او یوه بړبنډه توره خپل دښمن ته ور کوي او ور ته وايي چې ژوندی مې ستا په لاس کې دی، په عین حال کې ور سره سپین ږیري او ملایان د التماس حالت غوره کوي او د هغه د پاره د بښنې غوښتنه کوي، نتیجه دا شي چې هغه مظلوم سړی تورن بښي او تاوان مني.

دغه پورتني بیان د دغسې یوه قومي ولس په باره کې دی چې یوازې له خپلو قومي عناصرو څخه متشکل وي، یعنې ګډ قوم نه وي، خو که څه هم دا د جامعې ډېر عام شکل دی هغه له استثناآتو او اختلافاتو څخه خالي نه دی. دیوه قوم دوه خیلو نه ممکن په هغه یوه کلي کې واوسېږي او په دغه حال کې که څه هم هر خېل یې ځانله یو مشر لري، دوی په ګډه سره جرګې کوي او کتمت هسې کوي چې ګواکې دوی یو خپل اوسي.

رسمونه او رواجونه

کله چې یو خپل خپل ولس پرېږدي، ممکن په بل خیل کې ومنل شي، دا د پښتنو د مېلمه پالنې د قوانینو یوه برخه ده چې په دغسې حالاتو کې بهرنیو ته خاصه پاملرنه کېږي، دوی هغو قومونو ته چې ور سره یوځای کېږي مځکې ور کوي د هغوی مشر ته په رسمي جرګه کې ښه مقام ور کول کېږي. او د هغه قوم د خیلو په داخلي چارو کې آزادي ساتي او د هغه ولس له افرادو سره چې دوی ور سره اوسي برابر موقف لري. دوی د هغو د عین قوانینو تابع او له عین امتیازاتو نه بهره من وي.

او په کوم ولس کې چې منل شوي وي دهغه په جنګو او اتحاد د یو کې داخلیږي، دوی که څه هم د هغه قوم نوم ساتی له کوم نه چې دوی پیداشوي دي، خود یوه وخت د پاره خپل ټول سیاست هغو سره شلوي، سره دې هم کله کله دوی خپل اصل ولس ته مراجعت کوي او که د دغو ولسو نو ترمنځ جنګ پیښ شی له دوی نه دا نه غوښتل کیږي چې دوی د یوه یاد بل پلوي وکړي . په لویدیځو پښتنو کې حال دغسې دی، مګر په ختیځو پښتنو کې دوی ځان مجبوره کوي چې له هغه ولس سره سرسته وکړي چې یې اختیار کړی وي، دغسې خیلونه چې په نورو ولسو کې یې ژوند اختیار کړی وي په شمیر کې له ولس نه ډیر کم دي .

هغه افراد چې له خپل قوم نه بېزاره کیږي او هغه بې له دې چې خپلې ځمکې خرڅې کړي، پریږدي ، په ډیرو حالاتو کې په هغو ولسو نو کې منل کیږي له کوم سره چې دوی غواړي ژوند وکړي ن دوی ته ځمکې ور کول کیږي ، خو هغه کسان چې خپلې ځمکې خرڅوي او له غریبۍ نه خپل قوم پریږدي د همسایه وو په قطار کې راځی چې اوس به یې بیان وشی .

همسایه

په هر ولس کې ډیر داسې کسان ژوند کوي چې په اصل کې پښتانه دي، دوی همسایه ګان دي. دوی په جرګه کې ځای نه لري ، خو هغه خیل چې دوی پکې اوسیږي او هغه کسان چې دوی ورپورې تړلي دي ، د دوی د ګټو څار کوي .

د هرچا د پاره دا د پټ سوال دی چې د خپلو همسایګانو محافظه وکړي او په نتیجه کې د دوی دریځ د ولس تر اصلي غړو څخه لږ څه ښکته دی (۷) .

هغه پښتانه چې له غریبۍ څخه خپل ولس پریږدي او په یوه بل ولس کې ژوند غوره کوي ، د همسایه وو په حیث ورسره سلوک کیږي، خو له ښځو غړو نه له دوی سره ډیر ښه سلوک کیږي . د ګنداپور یو په قوم کې د همسایګانو، بلوچانو او نورو ملتو نو شمیر د ګنداپوریو له قوم څخه ډیر زیات کوي او زما په خیال چې دوی د هغه قوم نوم په ځان پورې او ټول امتیازات یې د ځان کوي، او

(۷) په درانیو کې چې زه د یو څو جنګو په باب خبر یم ، یو یې هم هغه جنګ دی چې یوه همسایه ته د ضرر ورسولو څخه پیدا شوی دی. د یوه نوري مشر هغه د همسایه د یوه بل مشر کلی ته تللی و، د بېرته راتلو په وخت کې د یوه د ریم سړي له خوا په دې پلمه ونیول شو چې دده په مشر باندې یې پور و، هغه د واړه مشر ان سره یو ځای شول او په هغه یې حمله وکړه چې همسایه یې نیولی و . سړي وشول او دا لازمه شوه چې د ګنداهار نایب دغه موضوع فیصله کړي .

دغه قوم ته له دې امله طعنې ور کولې کیږي. په عمومی ډول د همسا یګانو شمیر د ولس شمیر نه ډیر لږ وي او په ځینو قومونو کې همسا یګان له لویو لارو، څخه لیرې پرتې کله کله لیدل کیږي. همسایګان په عمومی ډول مځکه نه لري د دغسې کامنو لتو یوه مجموعه، لکه څنګه چې یې ما بیان وکړ، د پښتنو ملت تشکیلوي. او په عمومی ډول، یا نږدې په کلی ډول دیوه مشترك واکمن د لوړقدرت په لرلو سره یو دولت تر ینه جوړ یږي.

د پاچا قانونی واك

پاچا د درانی قوم یو طبیعی مشر دی او دغه قوم په ټول ملت کې تر ټولو زړور، په شمیر کی تر نورو ډیر او تر نورو ښه مهذب دی. مګر نورو قومونو د پاچا صلاحیت د هغو علتونو په اثر منلی دی چې اوس به یې شرحه وشي.

پاچا د دغه صلاحیت له مخې په ټول ملك باندې عمومی نظارت لري، او د ټولو د دفاع په غرض په هر قوم باندې د لښکرو یا پیسو، یا د دواړو د تاکلو اندازو تحمیل کوي. مګر ټول ملت کله کله په یوه روح سره تحریك کیږي اد یو ولس د عمومی ګټې په خلاف دغه پاملرنه تر زیاتې اندزې د خپلو ګټو په لور جلبوي د ښارونو شا وخوا ځینې هوارې سیمې، د افغانستان زیاتره برخې چې یوازې تاجیکان پکې اوسی، او د دولت ټول باندنی ولایتونه پوره د پاچا تر واك لاندې دي. پاچا په دې ډول کولی شی د قومونو څخه په مستقل ډول عایدات ولري او بې د هغوی له مرستې نه پوځ وساتی. د دغو حالاتو په نتیجه کې ده چې د پاچا او د ملت د منافعو ترمنځ یو څه تو پیر شته او تر هغه زیات د هغه د حقومی واکونو په باب د نظر یو اختلاف لیدل کیږي.

د پاچا درباریان او ملایان ټول په دې ټینګ دي چې پاچا د ټولو هغو واکونو څښتن دی چې د اسیا یو واکمن یې لري، په داسې حال کې چې د قومونو خلك دی د ډېرو محدودو امتیازاتو واکمن ګڼی، دغه اختلاف د پاچا یې صلاحیت په واقعی تطبیق کې ښایسته اختلاف تو لید وي.

د حکومت شکلونه

د درانی قوم حکومت په پاچا و لاړدی، که څه هم چې په عمومی ډول دی حتی د لته هم مجبور دی د خپلو نود مشرانو د نظر یو مراعات وکړي. دی د هوارو سیمو قامونو او لو یو ښارونو ته نژدې قومونو په داخلی اداره کې هم مداخله کوي، خو دی بې له دینه چې تر هغو څخه زیات د دوی په دننیو چاروکې ګوتې ووهی، په دې قناعت کوي چې د پوځ د میړوونه تری واخلی اواه

نورو څخه پیسې حصول کړي. البته کله چې عامه امنیت په خطر کې وي دده غوښتنې ته پرېږدي .

یو یادوه قومونه دده له حکومت څخه مستقل دي، د لته نه شایي د شاهي حکومت په باب اوږد بحث وشي، خو د پاچایي په باب به، چې د دغه په باره کې پوره معلومات شته، یو لنډ بحث وشي، تر څو د لوستونکي د پاره راتلونکي موضوعات داسې روښانه وي چې د هغو په باب پخپله ښه قضاوت وکولی شي .

ما ته داسې ښکاري چې د ولسونو د جمهوري ډوله حکومت نه پرته د پښتنو د ملک حال په پخوانیو زمانو کې د سکاټ لینډ له حال سره ښه ورته دی . په دواړو ولتو کې په ښارونو او ښاروته نږدې سیمو باندې د پاچا مستقیم قدرت، د نږدې خپلونو بې ثباته اطاعت او د لیرې قامونو استقلال ، له دربار سره د پرونږدې اشرافو ډله او قدرت او له پاچایي سره د ټولو سترو خانانو نږدې اړیکې یو له بل سره دومره ډېرې ورته دي چې د دراني حکومت د خصوصیت د پوهیدلو د پاره به د دغې مشابهت په نظر کې نیول ښه مرسته وکړي.

د دغې سیستم عیبونه ښه واضح دي او کله چې مونږ په تفصیل سره هغه انارشي او بې نظمي چې ډېر ځله د قومونو د جمهوري ډوله حکومت نتیجه وي په نظر کې ونیسو مونږ ممکن هغه سعادت چې له هغه نه پیدا کیږي لږ وګڼو، او داسې فرض کړو چې دغه ملک به د ښه انتظام او آرامۍ څخه چې د مطلقه پاچایي محصول دی ، ډېره ګټه واخلي ، که څه هم دغه پاچایي حتی د اسایي اصولو په اساس ولاړه وي، خو څومره چې ما د پښتنو د رښتیني حال په باب معلومات تر لاسه کړي دي ، تر هغې اندازې زه په دې عقیده ټینګ شوی یم چې د غسې یوه فرضیه غلطه ده .

د قومونو د داخلي حکومت ښېګڼې

مونږ ممکن په ډېرې آسانۍ سره د یوه لیرې پاچا د مامورانو ازاروونکې مداخلې د نه شته والی د ښېګڼو او داسې هم د هغه فساد او ظلم نه شته والی ښه قدر وکړو، چې په آسیا کې له دغسې مداخلې څخه تل راولاړیږي، . مونږ هیڅکله باید د ګڼو ډېرو او خطرونو په منځ کې چې زمونږ پاملرنه به ارومرو ځانته را وګرځوي، د خپل اساسي قانون په باب د پښتنو تائید او ملاتړ له نظره ونه غورځوو او داسې هم مونږ نه باید د دوی کسب او علاقه، د ازادۍ حس او د ځان مهم بلل چې له یوه ملي حکومت څخه پیدا کیږي که څه هم دغسې حکومت په ابتدایي ډول جوړ شوی وي او

د دوی زړه ور توب، ذکاوت او د سجیې لوړ والی چې د غسې شغلونه او د غسې آزادي یې ار و مرو تحریک کوي له نظره ونه غورځوو (۸).

یوه بله غټه فایده چې د پښتنو له او سني سیستم څخه پیدا ده، دا ده چې که څه هم په دغه سیستم کې لږ څه بې نظمي ګانې شته، هغه د عمومي انقلابونو او مصیبتونو په مقابل کې چې د اسیا په مطلقو هیوادو کې په کثرت سره لیدل کیږي د یو موثره مصونیت ضمانت کوي. په فارس یا هندوستان کې د یو ظالم پاچا تاثیرات د هغه د ملك په هرې برخې کې احساس کیږي او هغه داخلي جنګونه چې د یو پاچا تر مړینې وروسته پیښیږي هغه ملك ار و مرو له مصیبت او بې نظمي سره مخامخ کوي. د ملك یوه برخه او سیدونکي د جنګي لښکرو د بې رحمي او بې قیده اعمالو د مصیبت سره مخامخ کیږي او نور او سیدونکي نږدې هغه اندازه له هغې ګډوډۍ څخه ضررو یني چې د حکومت له ړنګېدونه چې تر هغو پورې یې عمومي امنیت ساته پیدا کیږي. نتیجه دا شي چې یو ظالم حکمران یا د تخت په سر جګړه مملکت د ضعف او انحطاط په لور بیایي او پخواله دې چې د دغه حال پوره جبران وشي د یوه بل ورته مصیبت په بیا پیښېدو سره د بهبود او سمون مخه نیول کیږي.

د غه ضعف برخلاف په افغانستان کې د قومونو داخلي حکومت د خپل هدف د پاره د اسې ښه تضمینونه لري چې د پاچاهي حکومت هغه نهایي بې نظمي ګانې هم نه شي کولای د قومونو د حکومت د خپل کار و له طرزه واړوي یا د خلکو ژوند ګډوډ کړي، یو شمیر ښه منظم شوي او د لوړې روحیې جمهوریتونه د دې د پاره تیار ردي چې د کوم مستبد واکمن په مقابل کې له خپل زیږ ملك نه دفاع وکړي او په یوه داخلي جنګ کې د یوې خواد

(۸) پښتانه پخپله د خپلو موسسو په ازاد روح غوړیږي. هغه پښتانه چې په لږه اندازه تر پاچا یي واك لاندې ژوند کوي د خپلې آزادۍ په باب غره دي، هغه پښتانه چې د پاچا تر حکم لاندې دي (که څه هم د دوی هغسې تر ظلم لاندې نه دي لکه د شرق نور هیوادونه چې دي) د غسې ازادي ستایي او په دې خوښ دي چې تقلید یې وکړي. د دوی ټول زیار باسي چې په دې عقیده اوسي چې «ټول پښتانه سره برابر دي». که څه هم حال د غسې نه دی او هیڅکله نه و، سره له دې هم له دینه د دوی هیلې او نظر یې څرګندیږي، ما یو وخت د میا خیلو د قوم یوه بزرګي بوډا ای ته د یوه قوي پاچا تر حکم لاندې د یوه آرام او سمون ژوند ښېګڼې د دوی د دغه ولسي سیستم د ګډوډۍ، خطرونو او قتلونو په ځای ور یادې کړې. هغه بوډا ای په ډیرې ګرمۍ سره ځواب را کړ او د مطلق قدرت په ضد یې په لوړ آواز سره وویل چې:

«مونږ په بې اتفاقۍ راضي یو، مونږ له خطرونو سره راضي یو، مونږ په وینو تویولو راضي یو، مګر مونږ به هیڅکله په یوه بادار راضي نه شو.»

کمزورو کوښښونو په مقابل کې ودرېږي، په دې اساس که موږ د دغو دوو ملکونو حال سره پرتله کړو موږ به د ا کشفه کړو چې په فارس کې د شلو کالو له اراسی نه وروسته وضع مخ په ځوړېده په داسې حال کې چې د افغانستان وضعه په مترقي ډول خپل بهبود ته چې د دولس وو کالونو د اخلي جنګ په موده کې یې ساتلې وه، دوام ورکوي. په دغه ملک کې نوي کاریزونه تل جوړېږي او ښارې مځکې تر اوبو لاندې کېږي که په واقع کې هغه ته او لویو لارو ته زړدې ښارونه او سیمې مخ په ځوړېږدي، د دې علت ښکاره دی او هغه دادی چې هغه د تخت د مدعیانو د قدرت او د دوی د لښکرو د چور په مخ خلاص دي. مګر حتی که موږ داو منو چې د پښتون موسسات د اسیایي ملکو د لا قوي حکومتو د موسساتو په نسبت ضعیف دي، موږ مجبور یو په دې اقرار وکړو چې هغه مواد او اجزاء چې دوی یې د یوه عقلاني قانون په جوړولو کې په کار وي د هغو نورو تر عناصر واو اجزاوو پر بهتر دي. هغه نور ملتونه نظر له ښه حکومت نه له بد سره ډېر روږدي شوي دي. دوی ټول دې ته مجبور کېدلی شي چې خپلې ټولې قواوې په هغو مره وخت کې چې د دوی د سیمو د لاندې کولو د پاره لازمې دي، د یوه مستبد د سلاتړ د پاره را ټولې کړي. ممکن دا کار پېړۍ پېړۍ و نیسي چې د هندوستان یا د چین غلامانو ته په حکومت کولو کې برخه ورکړه شي، خو که په پښتنو کې دا یو پاچا راولاړ شي چې د خپل رعیت په مینځ کولو کې کافي نبوغ و ښیي دی به لزوماً د یوه ښه حکومت په تنظیمولو باندې اتکا وکړي، داسې چې له هغه نه به د یوه ازادي وسیلې په حیث د خپل مقصد او طرح د ترسره کولو د پاره کار واخلي. یو عادي پاچا ممکن د زور له لارې د قومونو د لاندې کولو د پاره هاند وکړي، خو یوه پښتون پاچا (احمدشاه) د دغه راز لاد مخه کشف کړ و چې د تبو لوکاوند یو ملکو د لاندې کولو د پاره دومره قوت ته اړه نه شته لکه هومره چې د ده د خپلو وطنوالو د مطیع کولو د پاره ضروري دی.

د پښتنو د حکومت د ښه والي په منظور

په دې ډول یو پاچا لکه هغه چې ما په نظر کې نیولی دی ځان مجبور وینی لکه او سنی پاچا چې ځان مجبور وینی (۹) خپل کړه د خانانو له اعمالو سره متوافق کړي او د دغه ضرورت احساس وکړي چې د ټولو منافع په نظر کې ولري، دا ټول به دوی دې ته راوبولی چې خپل ټول بحثونه یو بې عمومي جرګې ته وړاندې کړي

---

(۹) د شاه شجاع په وخت کې د درانیو مشرانو له مشورې نه غیر په هیڅ کار لاس نه پورې کېده.

دغسې هو ترتیب به ددوی د داخلي حکومت په ذوق برابر او له هغه رواج سره موافق وي چې پاچا یې او سدلۀ دراني او سردا رانو سره د هغه مراعات کوي، داسې هم د دغه ترتیب له مخې به دا شرافو یوه شوراچې هم به له خلکو او هم به له پاچا سره کله څه هم ډېر نږدې له پاچا سره، تړلې وي، جوړه شي. په ډېرو ولسونو کې خانان د ملکانو له مشورې نه پرته چې هغوی مجبوردي په خپل وار د خپلو خپلوانو رضا حاصله کړي نه مالیات حواله کوي او نه په عمومي کارونو لاس پورې کوي. پاچا ممکن زیاروباسي چې خانان بیا ورې کړي او د هغوی له لارې له ناراضه خلکو څخه د ضرورت وړ څېزونه او عسکر تر لاسه کړي، مګر تر هغو چې دی نظر دې ته چې پاچا یا نو تر اوسه په لاس کې لرل له زیاتو وسا یلو نه کار وانه خلي دده کوښښ به ممکن چندان نتیجه ور نه کړي، او که چېرې دی عمومي او حقیقي مرستې ته دا ډېر ستر کې ولري، هغه باید حتماد موجود سیستم په چوکاټ کې د ننه او د ملت په راضي کولو سره حاصله شي. په دې ډول له خانانو څخه به غوښتل کېږي لکه چې هم دا اوس هم غوښتل کېږي، چې خپل قومونه تشویق کړي چې له عمومي عوایدو سره مرسته وکړي. دوی به د خلکو نا پوهي د دغه ملي ضرورت پاره یوه مانع وګڼي چې هغه څه چې اوس یې حکومت تصور کوي په هغه کې زیاتي ومني، په یقین سره دا به یو غیرطبیعي مصلحت نه وي چې قومونه په دې راضي شي چې د خپلو ډېرو غښتلو ملکانو څخه یو یا دوه د نما ینده ګانو په حیث دربار ته واستوي، چې هلته د اجتماعي چارو حقیقي حال معلوم کړي، په دې ډول به یو جرګه جوړه شي

چې هرغړی به یې دخپلو مؤکلینو سره ډېر نږدې ارتباط ولري او دی به د هغوی له خوا د دوی د طبیعي او سورو ثي مشر په حیث ګڼل کېږي. دوی به دد غسې خلکو نما ینده ګی کوي چې هغوی به خپلو مشرانو ته په درناه ستر ګه ګوري او په دې به به عادي شوي وي چې بحث و کړي او هغه اقدامات رد یا تا یید کړي چې د دوی مشران یې پیشنهاد کوي. د قومونو له ملیشانه به یو داسې لښکر جوړ وي چې د باندني تیري کوونکي په مقابل کې به نه ماتي خوړونکي وي، په داسې حال کې چې پاچا به داسې قوه ونه لري چې د خپل رعیت د عمومي اتحاد په مقابل کې یوه شېبه هم ټینګار وکولای شي.

یو ډېر جزئي تغییر چې راوړل کېږي هغه به هم په ګډه د جرګو او قاضیانو له خوا وي او قاضیان به چې د پاچا له خوا ټاکل کېږي، د قضایي چارو داجراء د پاره ډېر ښه مناسب وي، هغه حکومت چې په دې ډول منځ ته راځي د داسې یو حکومت په شان به وي چې د ملت د سعادت اولویو لو د پاره به داسې ښه مناسب وي چې څنګه یې فکر کېږي.

داوو هغه خوشوونکی خیالات چې مونږ د هغو موادو په کتنه سره بیان کړل چې د پښتنو حکومت تر ډېره جوړ دی ، خو یو اړ سوچ به مونږ په دې قانع کړي چې گمان نه کېږي د غسې خیالات عملي شي ، د کابل او ناڅیو سلطنتو نظامونو مثال او هغه نظریات چې د کابل دربارلا د مخه تر ډېره له اخیستی دي د دې هیلې د تر سره کیدو پوره مانع گرځي چې پاچادې د غسې طرح عملي کړي . نن د اسې دلیل هم موجود دی چې د هغه په ړنا کې ویل کیدای شی هغه ټولنې چې د پښتون ملت پرې تقسیم دی د دننه په ځان کې د دفع او بې اتفاقۍ اصل ننښتی لري . دا اصل له حده ډېر قوي دی او غلبه پرې نه شي کیدلی ، خو د د غسې قوت په استعمال سره چې په د اسې حال کې چې هغه ټولې یې په یوو احدځان کې سره متحد پې کړي ، د هرې برخې خصوصیتونه به د ړي وړې کړي او له منځه به یې یوسی (۱) .

---

(۱) د هندوستان په کلیوالی حکومت کې د اسې نښې نښانې شته چې د پښتنو دولسو نود موجود سیستم سره ورته والی لري . د هندوستان د کلیوالی حکومت هغه بقایا چې د اوږدې دورې له فشار سره سره پاتې دي تر اوسه هم د حکومت له بې نظمیو څخه د خلاصون د پاره لاره همواروی او د د غسې یوه شکلې د حل لاره برابروي چې په مرکزي هندوستان کې باید حتما ټول سیاحان ورسره مخامخ وي او هغه د دغه ملک د ځینو برخو غوړیدونکی حال دی چې معلومیږي ټول حکومت له هغه څخه لیرې کوي .

دریم فصل

ودونه، د ښځو حال، جنازې او نور

پښتانه خپلې ښځې په بیه اخلي، اسلامي شریعت دغه رواج پېژندلی دی. (۱) او د آسیا په زیاترو برخو کې هم دغه رواج جاري دی، حتی په هغو ملکو لکه چین کې هم چېرته چې اسلام نه شته دی (۲). په پښتنو کې د ښځې بیه د زوم د حالاتو په تناسب فرق کوي. د دغه رواج تاثیر دا دی چې ښځې که څه هم چې په عمومي ډول له هغو سره ښه سلوک کېږي تر یوه حده پورې د ملکیت په حیث ګڼل کېږي. یو مېړه کولی شي خپله ښځه بې له دې چې کوم دلیل ورته وټاکي، طلاقه کړي. مګر ښځه خپل مېړه ته طلاق ورکولی نه شي. هغه حق لري د قوي دلیلونو له مخې د قاضي په مخ کې د خپل طلاق غوښتنه وکړي، خو دا کار په واقع کې کله پېښېږي. که مېړه مړ شي او ښځه یې پاتې شي او هغه بیا بل مېړه وکړي، د مېړه خپلوان یې هغه پیسې بېرته اخلي کومې چې په هغې ورکړل شوې دي. لکه څنګه چې په یهودانو کې رواج لري هغسې هم په پښتنو کې په لېوره فرض ګڼل کېږي چې د ورور کونډه وکړي: د هغې کونډې د لېوره د پاره دا یو لوی سپکاوی دی چې د هغه له رضا نه غیر یو بل څوک له هغې سره واده وکړي، سره د دې هم کونډه په دې نه مجبوره کېږي چې د خپل میل په خلاف بیا واده وکړي. او که هغه واړه ولري، دا ښه ګڼل کېږي چې سر ورته سپین کړي.

---

(۱) داسې ښکاري چې مولف مهر او ولور سره یو ګڼلی او په دې فکر دی چې ولور هم شرعي دی، په داسې حال کې چې ولور د پښتنو د عرف محصول دی او شریعت یې نه مني (مترجم).

(۲) د دغه کتاب د تالیف په وخت کې په چین کې اسلام موجود و او س هم موجود دی (مترجم)

د پښتنو په ټول ملک کې معمولاً د ښځې د پاره د واده عمر خوارلس پنځلس یا شپاړس او د نارینه د پاره اتلس او شل دی. هغه نارینه چې د ښځو د لور ورکولو وسه نه لري، تر ځلور پښتو کالو پورې جره پاتې کېږي او پېغلې کله کله تر پنځه ویشتو کلو پورې په کورکې ناستې وي. لمبلې خواشتمن کسان کله کله د بلوغ د سن نه دمخه واده کوي، د ښار خلک هم د وخته واده کوي او شرقي پښتانه د پنځلس کلو هلکانو د پاره د ولس کلنې نجونې ودوي او حتی کله کله چې په وسه کې یې وي تر هغو دمخه هم ورته واده کوي. لویدیځ پښتانه هلکانو ته تر هغو چې پخې ځوانۍ ته نه وي رسیدلي. او زیره یې نه وې رسیدلې، واده نه کوي. په غلزیو کې د واده سن تر هغو هم وروسته دی د هیواد په ټولو برخو کې هغه سن چې په هغه کې هر فرد د واده کوي، د ده په هغه استعداد د پورې اړه لري چې د لور پیسې ورکړې شي او د کورنۍ ژوند تامین کړي. په عمومي ډول نارینه په خپل قوم کې د ښځه واده کوي، خو پښتانه زیاتره تاجکې او حتی فارسي وانې ښځې کوي، د هسې ودونو ته په هیڅ ډول په به نظر نه کتل کېږي، خو څنګه چې لور ور کول د تحقیر علامه ګڼله کېږي، د لوړ مقام خاوندان او ټول درانیان نه غواړي خپلې لونې د کوم بل قوم نارینه وو ته په واده ور کړي.

په ښارونو کې نارینه د نجونو د لیدلو موقع نه لري او جوړه کول په عمومي ډول د مصلحتونو په اساس ښکلوي. کوم وخت چې یو نارینه د کومې خاصې نجلۍ په فکر شي یا یوه ښځینه خپلوانه یا کوم ګاونډی د هغې کورته استوي چې هغه ورشي او د هغې په باب ورته معلومات ورکړي ه که دی په دغو معلوماتو خوښ شو، هغه ریباره ښځه د نجونې د مور خوښه معلوموي او دوی معلوموي چې د هغې کورنۍ خپښې کولوته متمایله ده که د هغې د کورنۍ خوښه وه، هغه ریباره په واضحو الفاظو سره خپل پیشنهاد کوي او دیوه ښکاره پیشنهاد د پاره ورځ ټاکي. په هغه ورځ د هلک پلار له یوې ډلې نارینه وو خپلوانو سره د نجلۍ د پلار کورته ځي)، په داسې حال کې چې د ښځو یوه ورته ډله د نجلۍ مور کره ځي) او پیشنهاد وړاندې کوي. خواستګار یوه ګوته، یو شال یا څه نور سوغاتونه خپلې اینده نجلۍ ته ور استوي. او د هغه پلار د نجونې له پلار څخه هیله کوي چې د هغه زوی د نوکر په حیث و مني د نجونې پلار په ښه ورکړې دي وي، سره ځواب وایي. وروسته شیرنۍ ګانې راوړلې کیږي او پیاددرنې دعا او یا د قران شریف له څو آیتونو لوستلو او نوې چوړې ته د خیرله دعا څخه روسته دواړه خواوې په شیریني خوړلو پیل کوي. د نجلۍ پلار هلک ته یو څه سوغات ور کوي او له هغه وروسته هلک او نجلۍ یو بل ته په نامه شوي بلل کیږي. پخواله دې چې واده وشي، شایسته وخت تیریږي، د دغه

وخت په اوږدو کې د نجلۍ خپلوان د جهیز په جوړولو لګیا وي چې هغه په عمومي ډول د کور یو څه سامان قالینې، لوښي او سپینځاوړ نجۍ سامانونه او کالي وي زوم په همدې حال کې د خپلې ښځې د لور په پیدا کولو کې وي چې هغه تل د هغه تر وسه څخه لوړ وي، داسې هم ده چې دیوه کورد برابرولو د پاره او هر هغه څه تهیه کولو د پاره چې د یوې کورنۍ د جوړولو د پاره ضروري دي، اقدام کوي، که زوم غریب او وي د دغو شیزونو برابرول، یو کال یا دوه کاله نیسي، خو که شتمن وي د غه موده له دوه دریو میاشتو څخه نه اوړي. د پښتنو د واده مراسم د فارس د خلکو له مراسمو سره دومره ورته دي چې د لته بې یوازې یو لنډ بیان کفایت کوي (۳).

د واده وثیقه د قاضي له خوا لیکله کیږي او د ښځې او نارینه له خوا ور سره موافقه کیږي. د دوی د خپلوانو رضا په دغه وثیقې کې شرطنه وي. د قرارداد شرایط د ښځې د پاره د طلاق او یا د هغې د میړه د مرګ په صورت کې ترتیبات برابروي، د واړه خواوې او د عه زاز قاضي او د ده صلاحیت لرونکي شاهدان پرې امضاء کوي. له هغه وروسته د یرزر ناوې او زوم لاسونه او پښې په هغونکریزو سره سرې کوي چې په ټولو آسیایي ملکو کې ښځې او ځوان هلکان یې د ښایسته کېدو د پاره په کاروي، په راتلونکې مازیګر کې ناوې د خپل آینده میړه کورته په وراسره وړله کیږي. یوه ډله سازندګان او نڅاکوونکي او د واړو خواوو خپل خپلوان، ګاونډیان او کلیوالان ورسره ملګري وي. دوی په آس سواره په خلکو کې د مخه دروي، د ټوټکو ډزې کوي او توري سرمشرنکوي، څه وخت چې ناوې کورته ورسیږي، خپل میړه ته ور سپارله کیږي او ټول ګډون کوونکو ته ډوډۍ ورکوله کیږي. د هیواد په اطراف کې واده هم په همدغه ډول سره وي، خو څنګه چې ښځې په اطرافو کې پټې نه وي او د ښځو او نارینه وو ترمنځ په ناسته ولاړه باندې قیود لږ دي د هلک او نجلۍ جوړه کېدل د دوی د میلان په وجه وي او د ټولو مخکنیو مذاکرو د پاره ضرورت نه پیدا کیږي. حتی یو زړور مین کولی شي چې خپله مینه بې د هغې د مور پلار له رضا نه ترلاسه کړي، داسې. چې په یوې مناسبې موقع کې یا د هغې د ویښتو نه یو څه پرې کړي یا د هغې پوړنی پټ کړي او یا په هغې پوړنی وغوړوي او هغه په خپل نامه شوې ښځه اعلان کړي د غه کارونه چې باید د نجلۍ په رضا سره شوي وي هر یو خواستګار له دې نه منع کوي، چې د هغې خواستګاري وکړي او پلار او مور یې دې ته تشویقوي چې خپله لور د هغې اعلان شوي مین ته په نامه کړي، خو څنګه چې د غه کارونه مین د ولور له ادا کولو څخه ژغورلی نه شي او څنګه چې هغه ممکن د هغې د خپلوانو له خواسپکاوی

(۳) د تفصیل د پاره وګورئ د فرانکلن، شیرازته نظر.

وګڼل شي. تل له هغو څخه کار نه اخیستل کېږي او څه وخت چې د مورا او پلار راضي کول ممکن نه شي د پېره عامه لاره چاره داشي چې هلک له نجلۍ سره و تښتي، د اکار د نجلۍ کورني ډېره پاروي او هغه د خپل یوه غړي قتل په حیث ګڼي او په دېر جدیت سره د نجلۍ په پیدا کولو پسې کېږي، خو د هغې پیدا کول آسان نه وي ځکه چې هلک او نجلۍ د کوم بل قوم په ملک کې ننواتې کوي او له حفاظت څخه د اده وي، د پښتنو د رواج دی چې د هر میلمه ننواتې او تر هغه زیات د هر مظلوم او عارض ننواتې ومني.

په یوسفزیو کې هېڅ نارینه خپله نجل لیدلی نه شي، خو تر هغو چې د واده ټول مراسم پای ته ورسیږي، په بړو درانیو کې د په نامه کېدلو او د واده د وخت په منځ کې د پر شرطو نه شته چې، باید پوره شي ځینې زومان له خپلوا ینده خسرانو سره ژوند کوي او خپله ناوې لکه څنګه چې یعقوب د راشل (Rachel) خدمت وکړ له هغو سره د خدمت په مقابل کې ګټي بې له دې چې خپل نجل ولیدلی شي، خو نور پښتانه، ایماق، هزاره ګان د فارسي خراسان اوسیدونکي او حتی تاجکان او په دغو ملکو کې د یر هندوان بېل بېل رسمونه لري او زوم پټو لیدنو کتنو ته اجازه ور کوي چې هغو ته چغل بازي وایی په دوی کې همدا چې هلک او نجلۍ سره په نامه شول، هلک د غله په شان د شپې د نجلۍ کور ته ننوځي د نجلۍ مور یا د هغې نږدې ښځینه خپلوانې له هلک سره په دې کار کې مرسته کوي خو داسې ګڼل شوې ده چې باید د نجلۍ د خوا نارینه له دې کار څخه هیڅ خبر نه شي او دوی د غه کار ته په سپک نظر ګوري هلک د خواښې له خوا د خپل نجل د کوټې په لور هدایت کېږي او دوی ټوله شپه د بل سهار تر اولو شیبو پورې یوازې وي. هر راز آمیزش، پوره بې شرطا وقیده خبرې اترې او حتی ښکلول او د معصوموا زادیو ټول انواع روا ګڼل کېږي، خو وروستنی لورینه باید نه وي او سینه ې دوارو ته بېل بېل د هغه په ضد کلکه سپارښتنه کوي، خو څنګه چې طبیعت تر دغسې نصایحو څخه د یر قوي دی واده د نامشروعې مینې او د مشکلاتو په ژر شروع شي حتی داسې مثالونه هم راوړل کېږي چې څه وخت چې ناوې د مراسمو له پای نه وروسته میړه ته سپارله کېږي دوه یا درې وارې ورسره ملګرې وي، خو څنګه چې له هغې څخه یوه لویه افتضاح جوړېږي د اکار یوازې کله ـ کله پېښېږي. د غه رواج حتی د لوړ مقام په خاوندانو کې هم پېښېږي، پاچاهم کله کله د ځمې شپې د چغل بازی ماجرا ګانو ته ځان سپاري.

شریعت د څو ښځو کول روا بولي، د خلکو د یر زیات شمېر نه شي کولی له دغې اجازې نه استفاده وکړي. شتمن کسان په حقیقت کې له شرعي حد څخه چې په یوه وخت کې د څلورو ښځو کول دي، تجاوز کوي او په هغه بر سیره د غلامانو او کنیزو ډلې ساتي، خو غریب کسان په یوې ښځې کولو قناعت کوي، د منځنیو طبقاتو په

نارینه وو کې د سړي په سر د وښځې او هغو سره شمیر کېږي چې یو آزاد معیار کنل کېږي

د ښځو موقف

د ښځو حال د دوی د شان په تناسب تغیر کوي، د لوړو طبقاتو ښځې تولې سترمنې دي خو تر هغو چې وضع ورته اجازه ورکوي د دوی ارامي او آسوده وي. د غریبو ښځې د کور کار کوي، او په راوړې او په داسې نورو کارو لګیا وي. په لیرې اطرافي قومونو کې ښځې له نارینه وو سره د کور د باندې کارونو کې برخه اخلي خو د دوی د هیواد په هیڅ کوټ کې هغسې کار نه کوي لکه څنګه چې ښځې یې په هندوستان کې کوي، یعنې چېرته چې په تعمیر جوړولو کې ښځې له نارینه سره یو ځای د اجورې په مقابل کې استخدام کېږي او چېرته چې د د غو دوه جنسو نود کار ترمنځ هیڅ راز توپیر نه شته دی. اسلامي شریعت میړه ته اجازه ورکوي چې خپله ښځه ووهي (٤) مګر له دغه اختیار څخه استفاده کولو ته په ښه نظر نه کتل کېږي.

د لوړو طبقاتو میرمنې زیاتره لوست زده کوي او ځینې یې په ادبیاتو او شعراو شاعرۍ کې ښه استعداد ښيي، په عین حال کې به داد ښځې د پاره سپین سترګې کنلې کېږي چې لیکل وکړي او دا په دې سبب چې هغه ممکن له دغه مهارت څخه داسې کار واخلي چې له کوم مین سره مکاتبه وکړي. ما پخپله خو کورنۍ پېژندلې دي چې هغه په عمومي ډول د داسې ښځو له خوا اداره کېدلې چې استعداد یې ترعا دي ښځو لوړ او او دوی په دغسې موضوعاتو کې چې د دوی په زامنو پورې یې اړه لرله بې له کوم تردد څخه لیکنې کړې دي. داسې ښځې په عمومي ډول د کورنیو مینځې دي، خو د همداسې کورنیو میړو ښې ښځې هم ډېر ځله ښې هسکې کېږي او تول هغه امتیازونه چې شریعت نارینه وو ته ورکړي دي تل د دې د پاره کافي نه دي چې د دې مخه ونیسي چې نارینه په خپل کور کې دویم مقام ته ټیټ نه شي. د ښکته طبقې ښځې هغه ساعت تیروي چې د دوی نارینه یې د ننه په کور کې لري او د وی تر

٤- اسلامي شریعت میړه ته د ماینې و هلو اجازه په مشخص ډول نه ده ورکړې. په اسلام کې د ښځې او میړه د دوه اړخیزو حقوقو په باب وګورئ د اسلام اجتماعي جوړښت د آر. لي. وي تالیف. د کیمبرج پوهنتون خپرونه، کاغذي پښتۍ، کال ۱۹۶۵-۹۱-۱۳۵ مخونه،.

په افغانستان کې د ښځو د موقف د پاره وګورئ (۱) د مترجم اثر، حکومت او جامعه په افغانستان کې، د امیر عبدالرحمن خان د امارت دوره، تسکزاس د پوهنتون خپرونه ۱۹۷۹،

(۲) د افغان ښځه، د ایرک کتابي مقاله، د افغانستان په ۱۹۷۰ مو کالو کې د وپرې او البرت تالیف د پریګر خپرونه. نیو یارک ۱۹۷٤ (مترجم)

هغې چې ما ته معلومه ده ځا نله جلا ساعت تیري نه لري. د ښار ښځې له هر نه تر پښو پورې په چادری اودلاق کې پټې وي او له هغو ورو سورېو څخه چې یې جهان گوري چې د همدغو جامو د سرېه برخه کې وي.

د ښه حال ښځې هم کله چې بهر ته وځي په همدغو جامو کې لیدای کیږي، خو څنگه چې د وی په عمومي ډول په آس سپرې وي، نو داسې اوږدې سپینې جامې اغوندي چې د لینگیو ښه یې تو له پټوي. د وی د اوښانو د پاسه په داسې کجاوو کې هم سفر کوي چې پکې ښې غزیدلی شي، خو څنگه چې د غه کجاوې په تو کرا نو سره پوښل شوې وي دوی باید په تاوده موسم کې اروم رو زره تنگي اوسي. ښځې هغه ډول چې ما یې بیان وکړ په چادري کې مخ پټې په ښار کې گرزي او د وی د تو لو هغو تو لنو یوه ښه برخه تشکیلوي چې د ننداروډ لیدلو د پاره سره غونډیږي، داسې هم د وی په باغو کې سره غونډیږي او که څه هم د یر د قت سره سترې وي د هندوستان تر ښځو څخه د یرې محصورې نه وي په عمومي ډول د دوی حال د کاوندیو ملکو د ښځو د حال په پرتله چندان بد نه دی.

ښځې په اطرافو کې ستر نه دي او دوی د خپل کامپ یا د خپل کلي د خلکو په منځ کې له نورو قیود ولا ندې نه دي، خو هغه چې عا نه اذهانو پرې تحمیل کړی دی او هغه دا چې له نارینه وو سره د دوی خلط کیدل بې شرمي ده، خو همدا چې د وی له کوم بیگا نه یا نامحرم نارینه سره مخا مخ شوې، د وی سمدلاسه مخو نه پټوي او که چیرې کوم بیگا نه سړی وي، په هغه حال کې د وی کله کله له کوروڅخه بهرته نه وځي، سره د دې هم د وی د هندوانو، ارمنیانو او د فارس د خلکو په باب د د غه رسم مراعات نه کوي ځکه چې د وی هغوی لکه هیڅ گڼي، د وی هغه وخت چې د دوی میړونه په کورو کې نه وي د مسلمنو هر کلی کوي او تول هغه مراسم په ځای کوي کوم چې د دوی میلمه پالنه یې تقاضا کوي. مگر د اطرافو د ښځو عفت په تیره د شپنو د ښځو عفت د تولو هغو کسانو د پاره چې د دوی له رواجو څخه خبروي د ستاینې وړ یوه موضوع ده. له ښارونو څخه غیر عمومي فاحشې په دوی کې نه شته ، په ښارونو کې په تیره بیا په لویدیځ کې هم د فاحشو شمیر د یر لږ دی. (۵)

فاحشو ته ورتگ هم بد گڼل کیږي. مگر څنگه چې د نړۍ په باب د فاحشو پوهه د دوی نرم سلو کو نه او هغه هنر چې دوی یې د سړیو په جلبولو کې په کار وي، د یره علاقه او تنوع تولیدوي، د دوی ښځو او کنیزو تول نازونه او نخرې نه شي کولی شتمن کسان فاحشو ته له ور تگ څخه منع کړي. زما په خیال په شرق کې له پښتنو نه

۵ - باید په یاد ولرل شي چې رسمي او قانوني شکل په افغانستان کې فاحشه توب هیڅ رواج نه لري

غیر نور داسې خلق نشته چې په هغو کې دې زمونږ د مینې د خیالونو په قرار د مینې د احساس نښې نښانې موجودې اوسي. دغسې مینه په دوی کې ښه عامه ده.

له مینې سره د تښتېدو د متعددو مثالونو څخه په پرته چې له خطر و څخه یو ډک کار دی، د ا رواج عام دی چې یو ځوان د خپلې قوي مینې احساس هغې نجلۍ ته چې ورې مین شوی دی، ښکاره کړي او له هغه وروسته په کوم لیرې ښار او یا هندوستان ته روان شي تر څو د ومره شته و ګټي چې د هغې د خپل کولو د پاره ضروري وي. په پوهنه کې مې یو ځوان ولید چې همدغه حال یې لاره، دی په خپل وطن کې د کوم ملك په لور مین شوی و او نجلۍ هم ورې راضي وه، د نجلۍ پلار هم هغه ته د خپلې لور په نکاح سره راضي و، خو ویل یې چې د لور عزت مې داغواړي چې د هغې ولور دومره وي لکه د کورنۍ د نورو ښځو ولور چې دی. دغه دواړه مینان سخت خپه وو، کله چې دغه ځوان له یوې توتې ځمکې او یو څو غویو نه غیر نور هیڅ نه لرل، اخر دی د هندوستان په نیت روان شو.

مینې یې هغه ته یو سلا یې ورکړ، چې په هغې سره د دې د مینې د تعهد په حیث خپلو مترګو ته رانجه ورکړي او داسې ښکاري چې د غه ځوان په دې کې څه شك نه لري چې هغه به دده تر ستنېدو پورې ور ته ناسته وي. دغسې مین توب په عمومي ډول یوازې د اطرافو په خلکو کې لیدل کېږي، په دوی کې نسبتاً بې قیده ژوند د دغسې احساساتو د ښکاره کولو د پاره ښه مساعد وي مخصوصاً کله چې د ښځو نیم ستر حال ورسره ملګری وي (په دغسې حال کې چې دوی له یو بل سره تماس کولی نه شي مګر یو بل په پوره اندازه لیدلی شي، د دوی علاقه د یو بل په نسبت ښه تحریك کېږي) دغسې مین توب کله کله حتی په لوړ وطبقو کې چې هلته یې ډېره لږه توقع کېږي، هم لیدل کېږي. د ترکلانیو د یوه مشر او د یوسف زیو د یوه خیل د خان د ښځې تر منځ همدغسې یوه یارانه وه چې د دواړوو لسونو په منځ کې د داسې یو جنګ سبب شوه چې تر دغې ورځې پورې دوام لري.

په پښتو کې د مینې قصې

د پښتو ډېرې قصې او غزلې د مینې په باب دي او ډېرې یې له همدغه احساس نه په ډېرو تودو او عشقي الفاظو کې یادونه کوي، یو ډېر په زړه پورې غزل د آدم خان او درخانۍ د قصې بیان کوي چې، د دوی د ملت ډېرو خلکو ته معلومه ده او د ملك په هر کوټ کې ویله کېږي. دغه ټول غزل یو وخت ما ته په لاس راغلی و، خو له بده مرغه راڅخه ورك شو او هغه لنډیز چې اوس یې بیانوم، وروسته د ډېره بند (Derabund) یو پښتون راته په دري نقل کړی دی. قصه داسې شروع کېږي چې:

ادم خان د خپل قوم یو ډیر ښکلی او زړور ځوان و او درخانۍ په پېغلو کې ترټولو ښایسته او مینه ناکه نجلۍ وه، مګر دوی نه شو کولی د هغې دښمنۍ په وجه چې د دوی د کورنیو په منځ کې وه سره وګوري، ترڅو چې دوی په اتفاقي ډول سره ولیدل او یو په بل سخت مین شول، خو د کورنیو دښمنۍ دوی سره بېل ساتل او ممکن یو د بل په مینه خبر نه وو، ترڅو چې درخانۍ د خپلې کورنۍ له خوا مجبوره شوه له کوم ګاونډي خان سره واده وکړي، د هغې د مین دردناک حال تصور په کېدای شي او د هغه له سوز نه ډک حال او لیکو نه د دغې غزلې یوه ستره برخه تشکیلوي، وروسته له دې چې هغه ډیر بندیزونه له منځه لیرې کړل، درخانۍ یې دې ته اړه کړه چې ور سره وګوري، دوی څو ځله سره لیدنې کتنې وکړې، خو درخانۍ سره له دې هم خپل سوچه توب وساته او د مېړه او مین دواړو غوښتنې یې رد کړې.

د آدم خان لیدنې ترډیره وخته پټې نه شولې او د درخانۍ د مېړه غوږو ته ورسیدلې او دی سخت په غضب شو او د انتقام اخیستلو تکل یې وکړ. دی د خپلو خپلوانو سره د خپل رقیب ملاقات ته د تللو په لارکې پټ شو، که څه هم د ده حملې په ډیرې مېړانې سره مخامخ شوې، خو آدم خان له یوه سخت ګزار سره وتښتېد د درخانۍ مېړه په دې چل لاس پورې کړ، چې راځه درخانۍ ته د آدم خان د وژلو پوټ ورکړه او وګوره چې دغه خبر په هغې څه اثر کوي

د دغو لیدنو کتنو په اوږدو وقفو کې درخانۍ یوازنۍ آرام په دې کې و چې یوه باغ ته پناه یوسي او دوه ګلان وکري، په یوه ګل باندې یې خپل نوم ایښې وا او په بل یې د خپل مین. درخانۍ چې د خپل مېړه او د مین د تښتې په هغه ورځ د خپل ګلانو ننداره کوله دې ته ملتفته شوه چې د آدم خان ګل له پڼې ښېښې سره د زړه سواندۍ له امله مړاوی شوا وپخوا له دې چې درخانۍ له دغې ناببرې پېښې څخه په حال واشي، له خپل مېړه سره مخامخ شوه، مېړه یې له خلاصې تورې سره ورنژدې شو او په ډیر غرور یې ورته وویل چې هغه د آدم خان په وینو لمده ده د درخانۍ د پاره دغه آزموینه خطرناکه شوه، بې اختیاره په مځکه ولوېده او په سخت غم او هیبت کې ډوبه لاړه او نفس یې هوا ته والوت. او مړه شوه دغه خبر چې آدم خان ته ورسید، هغه مقابلې صحنې ته نژدې په کوم ځای کې زخمي پروت و همدا چې خبر یې ترغوږ شو د رخونوم یې په خوله واخیست او د وروستي ځل د پاره یې نفس وایست، دوی دواړه یو بل ته نږدې سره خښ شول، خو د دوی مینه حتی تر مړینې وروسته هم ژوندۍ وه او د دوی مړي په یوه قبر کې سره یو ځای شول. دوه ونې د دوی له قبر څخه هسکې شوې او څانګې یې د قبر د پاسه سره ګډې شولې.

ډیر خلک له ډیرو اروپایي کیسو سره د دغې کیسې، په تېره بیا د هغې د انجام سره په ورته والي باندې پوره حیران شي، په رښتیا خو سره د حیرانۍ ځای دی

چې په آسيا او اروپا کې څو سره ډېرې کيسې سره مشترکې دي او دغه اشتراکات نه يوازې په خيالي آثارو کې بلکې په هغو حقايقو کې هم ليدل کېږي چې حقيقي شخصيتونو ته منسوب وي. او په تاريخ کې ثبت شوي دي . دلته به د ډېرو هغو مثالونو څخه چې په دې باب شته دي د يوه مثال راوړل بس وي . د غويو د ګرزولو هغه فريب چې په ښاخو يې مشعلونه ايښودل شوي وو او ويل کېږي چې په هغه سره هاني بال (Hannibal) له فابيوس (Fabius) څخه وتښتېد، د پښتنو له خوا دغه په ټولو تفصيلاتو سره د هغوی يوه مشر ته منسوب شوی دی او دغه صحنه هرات ته نږدې ټاکلې شوې ده په هم دې ډول زموږ د کيسو ډېر شمېر په آسيا کې ويلې کېږي او د جو ملر (Joe Miller) ايکوال نيمايي کيسې ممکن د « ظرافت نه ډک ټام کلي ګريو » (Tom Killigrew) د شرق د کوم ښار «کوم عالم» ته يوازې منسوبې شي .

جنازې

د پښتنو د جنازې مراسم د نورو مسلمانانو له مراسمو څخه توپير نه لري کله چې کوم څوک د نزع په حال کې شي ملايان ورته ورځي ، او ورته وايي چې د خپلو ګناهونو توبه وغواړي، ناروغ کلمه طيبه يعنی لا اله الا الله محمد رسول ـ الله او نورې دعاګانې تکراروي او په داسې حال کې چې مخ يې د مکې په لوروي ځان حق ته سپاري کله چې مړ شي وينځل کېږي او په کفن کې پېچل کېږي او بيا خاورو ته سپارل کېږي تر هغه پخوا د د خپل خپلوان او کليوال او ګاونډيو ګڼ شمېر د يوه ملا په امامت د جنازې لمونځ اداکوي . که مړ شوی کس ښه شتمن و ملايان څو ورځې د ده په قبر قران لولي .

د سنتي مراسم هم په ټولو اسلامي ملکو کې يو شان دي د ډوډۍ ورکول په دغو مراسمو کې شامل دي ، خوښي او خوشالي په کې ډېرې وي .

څلورم فصل

د پښتو معارف، ژبه او ادب

تول پښتانه په وړوکتوب کې د زده کړې د پاره ملاته استول کېږي څونې يې له منظم لمانځه نورو موقتي لمانځو، د قرآن له څو آياتو، د خپل دين د مراسمو او د مسلمانی د وظايفو نه غير نور څه نه زده کوي په درانيو او د پېښور په شاوخوا کې بل گام دا دی چې دوی قرآن په عربي بې له دې چې زياتره يې په معنی پوه شي زده کړي، خو په نورو قومونو کې د غه زده کړه په يوې پرمخ تللې مرحلې کې کېږي. په عمومي ډول دا د ښکته طبقاتو زده کړه ده چې د هغو څلورمه برخه هم خپله ژبه لوستلی نه شي .

شته‌ن کسان د خپلو اولادو د پاره په کورو کې ملاساتی، خو ديوه عمومي ښوونکی تول واك هغه ته ور کوي، هغه ملاچې د صدر اعظم د زوی مدرس (د غه هلك چې ما وليد څوارلس کلن و) وماته وويل چې دی خپل شاگرد نېږدې توله ورځ په کتاب لوستلو بوخت ساتی .

په هر کلي او کمپ کې يو استاد شته چې شاگردان يې د هغه د ژوند د تامين د پاره يوه توته مځکه او څه معاش ور کوي، کله کله يو شخص د غه وظيفه او د کلي د ملا وظيفه اجرا کوي، خو دا دواړه وظيفې زياتره سره بېلې دي. مخصوصاً په گټو ځايو کې، په ښارونو کې ه لکه د اروپايي ملکو په شان منظم مکتبونه موجود دي چې هلته يوازې شاگردان د استاد د ژوند تامين په غاړه لري« هغه معاش چې په عمومي ډول په پېښور کې يوه استاد ته ور کول کېږي . د مياشتې پنځلس انگريزي پنسه وي ، خو د دغه معاش اندازه د شاگرد پلار دوسې په تناسب وي . د هيواد په ډېرو برخو کې شاگردان په خپلو کورو کې ژوند کوي او يوازې د ورځې مکتب ته ځي، خو په بروردا نيو کې يو هلك د عمر په

اولومرحلوکي یوه لیږي کلي ته استول کیږي، دی هلته په مسجد کي اوسی ، په خیرات ژوند کوي اوله خپل پلار اوسورسره لږه راشه درشه لري اویایي هیڅ نه لري، خو نظارتيي دهغه استاد په غاړه وي چي ورته تدریس کوي .

د پېښور په شاوخواکي د زده کړي کورس په دي ډول دی : یوهلك د پیغمبر د توصیې په اساس څه وخت چي د څلورو کالو، څلورمیاشتو او څلورو ورځو شو د الفبا په زده کولو پیل کوي ، خو زده کړه سمدلاسه پریږدي او تر هغو پوري پیل نه کوي ترڅو شپږ یا اوه کلان نه وي شوی، هغه ته ددې درس ورکول کیږي چي د شیخ سعدی واړه نظمونه ولولي چي هغه په ډیره ساده او ښکلي ژبه د هر فضیلت ښکلا او د هر شر نقصان په ګوته کوي، د اکار د هلك د استعداد سطابق له څلورو میاشتو څخه تر یوه کاله پوري وخت نیسی ، له هغه وروسته عوام خلك قرآن زده کوي او یو څه نور کتابونه په خپلي ژبي کي لولي لږ څه شتمن کسان یا د دری د لرغونو ادبی آثارو او یو لږ څه عربی قواعدو په زده کړي پیل کوي ، هغه هلکان چي غواړي ملایان شي ، د خپل وخت زیاته برخه د عربي د قواعدو په زده کولو تیروي د عربی قواعد وزدکړه کله کله څو کاله وخت نیسی څکه چي د دغي ژبی ګرامر ډیر پراخ دی او د ومره علم زده کړه غواړي چي مونږ یي دیوې ژبي له مقدماتو سره نه ګڼو . کله چي یوه ځوان ملا په خپل تحصیل کي په کافی اندازه صلاحیت پیداکړ ، پېښور ، هشنغر یا دغسي کوم ځای ته ځي چي ملایان یي مشهور وي ، هلته دی د منطق قانون او د ینی علومو په زده کړي پیل کوي . د ملا د تحصیل د تکمیل د پاره نور علم ته اړه نه لیدله کیږي ، خود۔ یريي خپل تحقیقات د اخلاقیاتو ، میتافزیك او د فزیك د هغه سیستم په باب په مخ بیایي چي په شرق کي معلوم دي . همداشان دوی تاریخ ، شعریات او طب لولي او د طب زده کړه د تولو اختصاصی تحصیلاتو په محصلینو کي ښه رواج لري. دوی د دغو تحصیلاتو او د ديني علومو او قانون د زیات اختصاص د پاره لیري ښار ونو حتی بخارا ته هم سفر کوي، او بخارا د اسلامی علومو یو لوی مرکز دی. خو په عمومی ډول داسي معلومیږي چي پېښور په دغو ملکو کي تر ټولو زیات د علم او فضل مرکز اوسی . د یرطالبان نظر دي ته چي له پېښور څخه بخارا ته لاړ شی له بخارا څخه پېښور ته ځی . هندوستان د علم د زده کړي د پاره ډیر شهرت نه لري او د فارسیانو بدعت د دي سبب ګرځي چي ټول سنیان د دوی مرکزو ته له ورتګ څخه ډډه وکړي داسي ګڼله کیږي چي علم ته ترقی ورکول د خدای په نظر یو فضل دی، د دغسي ذهنیت نتیجه داشوي چي د طالبانو د پاره په هر کلی کي د یا چا له مدرسو نه غیر یوه مدرسه موجوده وي. خو ددي ټولو

نتیجې د اشوې چې ملک له داسې نیمچه ملایانو څخه ډک شي چې هغوی نظر د یته چې حقیقي علم ته ترقي ور کړي، مخه یې نیسي .

د پښتو ژبه

ښکاره دې چې په پښتو کې د علم د زده کړې په باب نو رڅه وویل شي څه په داوي چې د دوی د ژبې پښتو په باب یوڅه بیان شي. د دغې ژبې منشا په آسانی سره معلومېدلی نه شي . د الفاظو زیات شمېر یې چې دغه ژبه ترې نه جوړه ده ، له کومی نامعلومې ریښې څخه (۱) پیدا دي او په دغې برخې کې د هغو کلمو زیات شمېر شامل دی چې له هغه لومړي ضرورت څخه چې د اشیاوو د افادې د پاره په کارېدل ، باید حتماً یې د دغو خلکو د اصلي ژبې اجزاوې جوړې کړې وي، سره د دې هم د همدغه رقم ځینې کلمې لکه پلار، مور، خور او ورور د پهلوي او زند په ژبو پورې اړه لري، داسې بریښي چې د اعدادو په باب هم حال همدغسې وي ، که څه هم چې د زند او پهلوي اعداد د سانسکرت له اعداد و سره دومره نږدې ورته والی لري چې د هغو ترمنځ توپیر پیدا کول مشکل دي. له بلې خوا دا فعالو او همدا راز د کلام دورو برخو زیات شمېر یې په کومې نامعلومې ریښې پورې اړه لري. هغه کلمې چې په دین ، حکومت او علم پورې اړه لري زیاتره له عربي نه ددري له لارې په پښتو کې ننوتې دي.

د پښتو هغه دوه سوه او اتلس کلمې (۲) چې ما ددري ، زند، پهلوي، سانسکرت ، هندوستاني ، عربي ، ارمني ، گرجستاني ، عبراني او کلدايي په ژبو کې د هغو له معادلو سره پرتله کړې، ما ته دا ثابته شوه چې د هغو یوسل او لس کلمو د دغو ژبو له هیڅ یوې کلمې سره څه اړیکې نه لرې، بلکې هغه اصیلې او بېلې معلومېدلې د پاتې کلمو زیاتره برخه یې له او سني دري څخه وې ،

---

(۱) ممکن د دغو کلمو یو شمېر که د کوم ختیځ پېژندونکي له خوا چاڼ شي، یوې څرگندې مبدا ته ور سیږي سا په را تلونکې لیکنې کې د غسې یوه عملیه په خپل لاس شرحه کړې ده .

(۲) - پورتنۍ مقایسه په لاندې ډول شوې ده . ما لومړی د پښتو کلمو یو لست جوړ کړ چې زما په خیال سم واو بله ښکنه یې داده چې هغه له هغه ورته لست سره چې ښاغلی ارواین Trvine ترتیب کړی و، مقایسه شوی و د زند او پهلوي له کلماتو څخه یو بل لست زما د غسې یو دوست ترتیب کړ چې زه یې له مرستو څخه د یرممنون یم . د هغه له لست څخه دغه کلمې له دووزردشتیانو څخه اخستل شوې دي او د آن کوی تل دو پیرون، Anguetil du Perron له لستو نو سره پرتله شوي دي ، زما هما غه دوست گرجستاني ، ارمني، عبراني او کلداني کلمات سره تول کړل. *

خو له دغو څخه ځینې کلمې بې له زند او زیاتره یې له پهلوي څخه دري ته ننوتې دي. په داسې حال کې چې یو شمېر یې د دغو ژبو هغه کلمې دي چې په اوسنۍ دري کې نه استعمالیدلې، خو د دغو زندیا او وستایي ژبو ځینې کلمې د سانسکریت له کلمو سره ګډې وې او دغه دري ژبې سره ډېره نږدې خپلوي لري. او ځینې کلمې هغه وې چې یوازې په سانسکرت کې پیداکېږي لکه څنګه چې پنځه یا شپږ کلمې یې د هندوستاني ژبې دي، که د پښتو ژبې د دغو کلمو لست د پنجابي ژبې له کلمو سره پرتله شي ممکن پنجابي کلمې هم پکې ومیندل شي، د دغو دوه سوه او اتلس کلمو څخه یوه یې هم داسې نه ښکاري چې له عبراني یا کلداني یا ګرجستاني او یا ارمني ژبو څخه راوتلې وي.

پښتو مصنفان

پښتانه د دري، (عربي) الفبا په کاروي او په عمومي ډول د نسخ په طرز سره لیک کوي څنګه چې د پښتو په ژبه کې ځینې داسې غږونه شته چې د دري په توریو سره ادا کېدای نه شي، نو پښتنو د هغو د افادې د پاره د دري د ډېر نږدې تورو پورې یوه خاصه نښه نښلولې (۳). پښتو که څه هم یوه زېږه ده، مېړنۍ ژبه ده او په هغو

* له دري او هندوستاني ژبو سره زما خپله آشنایي د هغه مقصد د پاره چې ما په نظر کې لاره د قاموسونو په مرسته کافي وه. د سانسکرت په برخه کې هره کلمه په امرکوش کې له نورو ټولو معادلو کلمو سره مقایسه شوه یوه پنډت د سانسکرت کلمې ماته ولوستلې او ما د دغو کلمو یو څه د کتاب په آخر کې ذکر کړي دي.

وروسته له دې چې ما دا لیکنه وکړه ماته د دې موقع په لاس شوه چې کردي د ژبې نږدې سل کلمې تر کتنې لاندې ونیسم، ماته معلومه شوه چې د هغو ۱۱۰ کلمو څخه چې ما د اصلي پښتو کلمو په حیث راوړې وې پنځه یې کردي وې او برسېره پر دې یو څه نورې له کردي او دري ژبو سره مشترکې وې په دې ډېر تاسف کوم چې اوس د دې موقع نه لرم، د دغه موضوع ښه په مخ بوځم.

(۳) دغه آوازونه ډ، ټ، ړ او ښ په سانسکرت کې دراندہ دي. د پښتو ډېر مروج آوازونه چې په انګریزي کې ادا کېدلی نه شي (ghain) او ږ (zhay) دي دا آوازونه په پښتو کې دومره رواج لري چې دوی زیاتره وخت له دري څخه پور کړي ګه (g) په غ (ghain) او ز (Z) او حتی ش (sh) په ښ (zh) اړوي. دوی زیاتره وخت (O) په (Wu) اړوي لکه اور (Roz) په اوز (Rwuz). شرقي پښتانه خاص صوتي تحولات لري په دې ډول دوی (Zh) په (g) او ښ په خ اړوي، دغه تغیرونه کله کله په یوه کلمه په دې ډول اړوي چې اصلي یې معلومېدلی نه شي هیڅ څوک به د دې خیال ونه کړي چې د شرقي پښتو (غوږ) به د دري له ګوش *

غوږو ښه لګیږي چې له ختیځو ژبو سره روږدي وي . ددغې ژبې شرقی او غربی لهجې نه یوازې په تلفظ کې ، بلکې تر یوې اندازې په کلماتو کې چې استعمالوي یې هم سره توپیر لري اودا توپیر لږ ترلږه هغومره دی لکه چې دانګریزې اوسکاټ لنډې ژبې ترمنځ شته دی . د پښتو هیڅ لیکوال تر یوې نیمې پیړۍ څخه دمخه نه معلومیږي او زه ګمان نه کوم چې په دغې ژبې کې دې داسې کتابونه موجودوي چې له اوس (۱۸۰۹) څخه دې دري پیړۍ دمخه مینځ ته راغلي وي . (٤) هغه شاد بیات چې په پښتو کې شته هغه د دري ژبو له ادبیاتو څخه راوتی دي ، د پښتو لیکنی دهغوی له طرز سره ورته والی لري مګر شډل توب یې ترینه ډیرا و سادګی یې ترې لوړه ده له ما سره له دري څخه دژباړونکو له نوموځخه سوا یوازې د پښتو شاعرانو اته یا نه نومو نه شته دي .

د پښتو په شاعرانو کې رحمن بابا تر ټولو مشهور دی ، دده آثار په هغې قصیده کې افاده شوي لکه چې ، ددرې ژبو وي ، دده په نظمو کې چې ما ته شرحه شوي ، زه کوم ضعف نه وینم مګر دادددې ثبوت نه شي کیدلی چې رحمن دخپل نوم بالی توب مستحق نه دی ، ددري زیاتره قصید ې ډیرې نا برابرې دي او حتی د حافظ د اشعار و ښکلی او عالی عبارات چې ډیر ستایل کیږي ، د نظمو نو په داسې یوې لوبې مجموعې کې نږدې ورک دي چې له متوسطې درجې نه ډیر ښکته دي .

خوشحال زما په نظر تر رحمن لوړ شاعر دی او دخوشحال آثار په ډیره لوړه اندازه دده او دده د ملت ښکار ندوی دي دده آثار ښه ساده او زیاتره په نه ـ تحمیل کیدو نکی ډول سره منشو راوسم هوار ادی ، مګر هغه زیاتره د هغوی د مصنف له نه فتح کیدونکی روح څخه الهام اخیستی دی او د آزادی او حریت په ډیر ولوړوا حساساتو سره تا وده شوي دي . خوشحال دختکو خان واو ختک د پښتو ر ختیځ ته واقع یو قوم دی دده ژوند له ستر مغلی او رنګ زیب سره په جګړه کی تیر شو او دده د ډیرو اشعار و هدف داو چې خپل وطنوال دخپلې آزادی

*څخه راوتی وي سره ددې چې دغه اشتقاق په آسانی سره د مخکنیو مقرراتو له مخې واضح دی . پښتو له دري او هندوستانی څخه زیات له هغه سره ډیره علاقه منه ده ، چې د یوې کلمې د مخه یا وروسته راځی لکه په دغو کلماتو کې ستر ګه ، سپین ، پښه او شپه .

(٤) داسې ښکاري چې د مؤلف د پښتو مصنفانو د قدامت په باب کافی معلومات په لاس نه ـ لرل . د پټې خزانې په استناد تر اوسه د پښتو ډیر ارغونی پیژندل شوی لیکوال سیلمان ماکو دی ، چې خپل اثر ، تذکرة الاولیایې په کال ۶۱۲ هجري قمري (۱۲۱۵ع) کې لیکلی دی شاعر امیر کروړ خولا په دوهمې هجري پیړۍ یا اتمې عیسوي پیړۍ کې ژوند کاوه د تفصیل د پاره وګوری ، پټه خزانه . . . . . مترجم

د دفاع دپاره تحریک کړي او دیته یې ور او بولی چې د بري د یو ازنی وسیلې په حیث یو تر بله سره متفق او یو شی. دده آثار خپله دده او دده د کارنامو یو پوره بیان دی. یو شعر یې داسې شروع کېږي

پښتو شعر

راشه واوره داد استان — نېك و بد پکې بیان
هم عبرت هم نصیحت دی — پرې دې پوه شی دانایان
زه خوشحال د شهباز خان یم — چې تور زن یم کان په کان
شهباز خان د یحیی خان و — چې بل نه وه سې ځوان
یحیی خان د اکوړي و — چې په توره شو سلطان
هم په توره مېړنی و — تېرانداز و ښخ کمان
چې غلیم به یې پیدا شو — زړې ځای و ګورستان
هم یې تېغ وهم یې دیګ — هم یې خلك وو هم احسان
چې له ده سره به ناست وو — هغه واړه و وشیران
همتناك باسل بازل وو — په هر کار کې صادقان
ګورته رنګ په وینو لاړل — چې همه و وسر داران
قبیله شوه سره ډېره — اکثر په لایق ځوانان
د هجرت زردوه ویشت و — چې زه راغلم په جهان

دی وروسته په هغه غزل کې وایي چې دی ځنګه د خپل پلار له مړینې نه وروسته د خپل قوم سترخان وټاکل شو، ځنګه یې په دیرش زړو ختکو حکمراني کوله او ځنګه یې تر خپلو اسلافو نه زیات په پرم او دبدبې سره ژوند کاوه. دی بیا خپل آسونه، باښې او تا زیان شمېري او دد یې لا یې وهی چې په زرګونو خلك به دده په دسترخوان ناست وو، وروسته بیا خپلو بد وورځوته اشاره کوي او د مغلو په ضد سخت کلمات استعمالوي او خپل هغه زامن ښکنځي چې هغوی د شخصي طمعې په امېد له دښمنو سره یو شول

زه غلیم داورنګ زیب یم

زه غلیم د اورنګ زیب یم — سر په غره په بیابان
زه په ننګ د پښتانه یم — دوی نیولی مغلان
لکه سپی هسې جاروزي — د مغل په آشونان
د منصب په اضافو دي — تل په ما پسې روان
زما لاسې ور پاندې رسي — راواهه نه شي خپل ځان

خوشحال په همدغه قصیده کې د یوه والس (Wallace) شاعر په څیر په زړه ورتیا اودوطن پالنې په روحیې سره دخپلو جذبو ښودلو بیان ته دوام ورکړی ، کله دمغلی امیر اتوري د پوځ په نا بودو لو بریالی شوی دی او څینې وخت په یوازې ځان په هسکو غرو کې سیاحت کوي . یو وخت دی داورنګ زیب په لاس ورغی ، هندوستان ته بوتلل شو اودرې کاله یې د ګوالیور (Gwalior) دغرنی تانې په یوې تیارې کوټې کې چې دهغه وخت یوه ډیر لوی دولتي محبس و ، په بند کې تیر کړل .

خوشحال دخپل دغه بند موده کې یوه تعزیه وویله چې په هغې کې دخپلواو دخپل ملک د بدبختیو له یادونې وروسته خپله قوي روحیه په دغو الفاظو سره ښکنده وي (له بده مرغه ما مترجم دخوشحال په کلیاتو کې دهغه خپل نظم ونه موندل شو ، خو مطلب یې دا دی)

احسان من د خپل خالق یم سره د دوارو بد بختیو
اول دا چې زه پښتون یم او بیا یم خوشحال خټک

په پای کې دی له بندنه آزاد کړل شو ، خو ما ته ددې پته ونه شته چې په کوم وسایلو سره له ازادیدو وروسته سمدلاسه خپل وطن ته ستون شو یو زیات شمیر شعرونه یې وویل او د پښتنو یو تاریخ یې چې په بابل کې له اسارت نه شروع کیږي او دده ترعصره پورې ، رسیږي ، ولیکه . خوشحال دغه لاندنی شعرهغه وخت وواییه چې دهاود ده یو شو متحدینو ځلانده بری ترلاسه کړی او بري ښه نشه کړي وو ، ددشمن په قوا و بانډې یې په بیلابیل ډول ګذارونه کړي وو او ددغې ګډې همکاری د نه شته والی په وجه په پای کې ټول مغلوب شوي وو .

خوشحال په دغه وخت کې د یوسفزیو وطن ته په سفرروان شو او ځو مره چې یې په وسه وه کوښښ یې وکړ چې دغه قوي قوم د مغلو په ضد و پاروي او په جنګ کې یې داخل کړي ، داسې ښکاري چې حتی دده په خپلو ملګرو کې هم دسولې میلان موجود واودغه شعر دهغه یه ضد ویل شوی دی . په دغه شعر کې د پښتنو له بریو څخه یادونه شوې ، داورنګ زیب دانتقام اخیستلو تما یلات او د هغه معمو له بدقولی او عهد شکنی یکې سخته غندل شوې ، پښتنو ته په ډیر قانع کوونکی ډول یادونه شوې چې ددوی یوازنی چاره په جنګ کولو او ژوندی پاتی کیدلو یوازنی لاره په اتحاد کې ده .

دا یوازې دخوشحال کمال نه دی چې ددې د کروشی چې دده ډیرلویو آثارو څخه دغه شعر یوازې له دریو اشعارو څخه یو شعرو چې بی له انتخاب نه او بیا په ډیرلږ انتخاب سره دلته ذکر کیږي .

د خوشحال اشعار

پیاله کومه را پیدا شو دا بهار — چې په هر اوري يې ملك ګړ ویو ګلزار
ارغوان دي حمیران سوسن ریحان دي — یاسمن دي نسترن نرګس ګلنار
د سپرلي ګلونه ډېر په هر رنګ شته — ولي سره لاله دي لا په کې اوښار
جونه موتي موتي پدي په ګریوان کې — د ځوانانو ګلدستې دي په دستار
مغني په چغا نه لهندي کېږ ده — په نغمو په پردو وغواړه هر تار
ساقي راشه د کې د کي پیالې را کړه — چې د سیو په مسجد کې شم سرشار
پښتنو ز لمو پیالا سو نه سره کړه — لکه یا ز منګلي سرې کا په خپل ښکار
سپوڅي توري يې ګلګوني کړي په وینو — په آهار کې شګفته شو لاله زار
ایمل خان دریا خان دواړه سرګتیي سه وي — هیڅ تقصیر دواړو نه کړو ار په وار
د خیبر د ره يې سره کړ له په وینو — په ګرېه يې همروان کړ دند و کار
تر کرپه تر یا جوړ ه سمې غړونه — په لړزه په زلزله شول په بلر بار
په هغه لوري چې کېږي پنځم کال — هره ورځ د سپڼو توروخ وېهار
چې په دالوري زور اغلم حبطه شوم — زه مرداریم که داخلق دي مردار
په لښکر لښکر ناري شوم ورته تري — د اکا نه را ته نه پهیرك وایي نه څار
چې احوال د یوسف زیو را معلوم شو — که ختك دي هم په خوی ترسپي بیکار
د ختك وسې بهتر تر یوسف زیو — که ختك دي هم په خوی ترسپي بیکار
درست پښتون له قند هاره تر اتکه — سره یو د ننګ په کار پټ اوا شکار
کوره شو جنګونه وشول په هر لوري — ولي هیڅ د یوسف زیو نه شته عار
اول جنګ د لوړ ي شاد تهتره و — چې څلویښت زره مغل شول تار په تار
خو یندي لوني يې په بند د پښتنو شوې — آس اوښان، ها تیان ولجه قطار قطار
د دوهم جنګ مهر حسین په دوابه کې — چې يې و تکید سر لکه د مار
بیا له پسه د نو ښار کوټ جنګ و — چې مې و کړیش تر مغلو خپل خمار
بیا له پسه جیونت سنګه شجاعت خان و — چې ایمل يې په ګند اوو یوسف د مار
شپږم جنګ مکرم خان شمشیر خان دواړه — چې ایمل کړل په خالیبي کې تار په تار
چې زما په یاد دي لوي جنګونه دادي — د هلکو په هر لوري نه شته شمار
همیشه فتح و نصرت دی لا تراوسه — پس له داده بیا تکیه په کردګار
اورنګ زیب ر اته یو کال و شو چې پروت دی — په صورت حیران پریشان په زړه افکار
کال په کال امریان دي چې پریوزي — چې طوفان شو لښکري کوم بې شمار
خزانې د هندوستان دي راخوري شوې — سره مهران دي نغوزي په کوهسار
دا د هیچا په اتلس نه کړه نه و — چې په دا کاروبه شي په دا دیار

د خوشحال اشعار

بیا له کومه را پیدا شو دا بهار
ارغوان دي حمیران سوسن ریحان دي
د سپرلي گلونه دي په هر رنگ شته
جونه موتي موتي پدي په گریوان کي
مغني په چغا نه لیندی کیږده
ساقي راشه دکې دکې پیالې راکړه
ښتنوز لمو پیالا سونه سره کړه
سپوږمي توري يې گلگوني کړې په وینو
ایمل خان دریاخان دواړه مرگ يې سه وي
دخیبر دره يې سره کړه په وینو
ترکړه تر یا جوړ ه سمې غرونه
په هغه لوري چې کیږي پنځم کال
چې په دالوري زور اغلم حبطه شوم
په لښکر لښکر نارې شوم ورته تړی
چې احوال د یوسف زیو را معلوم شو
د ختکو سې بهتر تر یوسف زیو
درست پښتون له قند هاره تر اټکه
کوره خو جنگونه و شول په هر لوري
اول جنگ د لوړ پ شا د تهتره و
خو یندي لو نې يې په بند د پښتنو شوې
د دوهم جنگ میر حسین په دوابه کي
بیا له پسه د نو ښار کو ټ جنگ و
بیا له پسه جیونت سنگه شجاعت خان و
شپږم جنگ مکرم خان شمشیر خان دواړه
چې زما په یاد دي لوی جنگونه دا دي
همیشه فتح و نصرت دی لا تر اوسه
اورنگ زیب را ته یو کال و شو چې پروت دی
کال په کال امریان دي چې هر یو زې
خزانې د هندوستان دي را خوري شوې
دا د هیچا په اتلس فکره نه و

چې په هر اوري يې ملك گرو یو گلزار
یاسمن دي نسترن نرگس گلنار
ولې سره لاله دي لا په کې اوغار
د ځوانانو گلالهٔ ستې دي په دستار
په نغمو په پردو وغواړه هر تار
چې د سیو په مسجد کې شم سرشار
لکه یا زمنگلي سرې کا په خپل ښکار
په آهار کې شگفته شو لاله زار
هیڅ تقصیر دواړو ونه کړ وار په وار
په کړه يې همروان کړدند و کار
په لرزه په زلزله شول په بلربار
هره ورځ د سپوږمو تور و خپو بهار
زه مردار یم که دا خلق دي مردار
د اکانه را ته نه بهیرك وایي نه ښار
که ختیك دي هم په خوی ترسپي بیکار
که ختیك دي هم په خوی ترسپي بیکار
سره یو دننگ په کار پټ اوا شکار
ولې هیڅ د یوسف زیو نه شته عار
چې خلویښت زره مغل شول تار په تار
آس اوښان، هاتیان ولجه قطار قطار
چې بي و تکید سر لکه د سار
چې مي و کیښ تر مغلو خپل خمار
چې ایمل يې په گند او و یوسف دمار
چې ایمل کړل په خا لیښي کې تار په تار
د هلکو په هر لوري نه شته شمار
پس له دا ده بیا تکیه په کردگار
په صورت حیران پریشان په زړه افکار
چې طوفان شولې لښکرې کوم بې شمار
سره مهران دي نغوزې په کوهسار
چې په دا کارونه شي په دا دیار

د پښتو علم او فضل

د دوی نثر لیکونکو زیات تره د دیني علومو او حقوقو په باب لیکنې کړې دي خو دوی په خپلو لیکنو کې د خاصو دورو په باب یو څو تاریخونه هم لري. هغه څه چې په پښتو کې لیکل شوي دي باید د پښتون ملت د علمي سویې د ښکارندوی په حیث د اعتبار وړ ونه ګڼل شي، ځکه چې دوی تر اوسه هم په دري ژبې کې لیکنې کوي او نورې ټول علمي کتابونه په دغې ژبې کې لیکل شوي دي. دا آسانه نه ده چې په دغه ژبې کې د دوی د لیکوالو شمېر ټاکل شي. که موږ ټول هغه لیکوالان په حساب کې ونیسو چې په افغانستان کې یې لیکنې کړې، موږ باید د دري له ډېرو سترو لیکوالو څخه یو څو یې کې شامل کړو، ځکه موږ یوازې هغه لیکوالان په نظر کې ونیسو چې د پښتنو په قومونو پورې یې تعلق لاره د دوی لست به ډېر لنډ وي. دا یقیني ده چې د ټولو لیکوالو آثار په افغانستان کې لوستل کېږي، د دغو خلکو علم او کمال د فارسي د خلکو د پوهې په اندازه دی. ساینس یې هغه ذی چې د ناروس خلکو یې هم لولی. د تحصیل طرز یې په هغې طریقې سره کېږي چې په نورو آسیایي ملکو کې رواج لري. د دغو ملکو یو عالم څه وخت چې له یوه نا آشنا عالم سره مخامخ شی، پوښتنې یې چې کوم علوم یې زده کړي دي (د هسې یوه پوښتنه ده چې د پرخبر او انګلستان به حیران کاندي) او کوم کتابونه یې لوستلي دي؟ هغه بل به داسې په ځواب کې ووایي چې «تر دغو پورې» هغه بل به سمدلاسه پرې پوه شي چې دوی ټول د مکتب د شاګردانو په شان کتابونه په ټاکلي سلسلې سره لولي. د دغه طرز د دې مخه نیسي چې دوی د اروپایي پوهانو په شان رازراز پوهه ولري خو له بلې خوا دوی هغه څه چې په زده کړي وي، په عمومي ډول پرې پوهېږي.

داسې ښکاري چې د دغه طرز د پلټنې حس پخوي او د ذهني ابجاتو مخه نیسي. همدغه سبب دی چې په آسیایي خلکو کې په عمومي ډول د پوهې د پلټلو مینه نه حس کېږي. د پښتو حال هم همدغسې دی، دوی یوازې د میټافزیک او منطق په علومو کې داسې نه کوي. دوی له دغو علومو سره ډېره علاقه لري خو د حسدور کوم پرمختګ یې په کې نه دی کړی. هغه تشویق چې پښتنو پاچایانو د علم په برخه کې کړی دی، دلته د ذکر وړ ښکاري.

احمدشاه د علم او فضل ډېر مشتاق و او په هفته کې یې یو وار د علماوو مجلس لاره، په دغه مجلس کې اول په دیني علومو او حقوقو بحث کېده، ختم به یې تل په شعر یا تاو ساینس په باب وا او د دغو مجلسونو به زیات تره ترسهاره پورې دوام کاوه، تیمورشاه د هسې مجلسونو ته دوام ورکړ او خپل آثار به یې پکې لوستل،

دغه رواج تراوسه هم له منځه تللی نه دی . تیمورشاه په دوري کې د شعر یو کتاب خپور کړی دی. ستاینه یې ډیره کیږي ، خو ویل کیږي چې د هغه د دربار یو نا متو شاعر فروغی هغه سم او اصلاح کړی دی. احمدشاه هم په دري کې شعر ویلی دی او له ماسره په دغې ژبې کې د امې یوه شعري رساله شته ، چې شاه زمان د خپل سکه ورور شاشجاع د پاره لیکلې ده . که څه هم هغه چاچې دغه رساله ما ته راکړه وویل چې ده د شاه زمان په خواهش سره هغه ښه اصلاح کړې ده ، سره د دې هم دا یو ضعیف اثر دی ، ویل کیږي چې شاه زمان په حقیقت کې په خپلې ګورنی کې ترټولو بې سواده و . یو وخت د خپلو ملایانو له خوا د یته تشویق شو چې د منطق تحصیل لغو اعلام کړي په دې چې هغه د اسلامی عقیدې د پاره خطرناك دی خو د ده فرمان بې تاثیره نه و ، یوازې هغه خلك پرېږدیر خوښ شول چې دغه فرمان ور ته لیکل شوی و . ما د دې څه نه دي اوریدلی چې شاه محمود څه اثار ولرلی دي ، خو شاه شجاع د عربی عالم دی ، لږ څه ښه نظمونه یې ویلی او دیوه پاچا په حیث عالم او فاضل ګڼل کیږي .

پنځم فصل

دین، مذهبي فرقې، ملایان، او هام او نور

اسلام یوښه پېژندل شوی دین دی او د هغه په باب مفصل معلومات په ډېرو کتابونو کې موندل کېږي، نو د لته لازمه نه ده د هغه د کوم اصل یا شکل ذکر وشي، یوازې هغه اصول، غواړم د لته بیان کړم چې پښتانه په خاص ډول د هغو رعایت کوي. ټول پښتانه په هغې فرقې پورې اړه لري چې سنی نومېږي. سنیان لومړنی دری خلیفه ګان د حضرت محمد (ص) قانوني جانشینان بولي او د قانون په باب د هغوی تفسیرا و د حضرت محمد احادیث مني. دوی له شیعه ګانو سره په دې اختلاف لري چې هغوی هغه درې لومړني خلیفه ګان یاغیان او غاصبان بولي او په دې عقیده دي چې خلافت د حضرت علي حق و، چې هغه د حضرت محمد د تره زوی او څلورم خلیفه و. د فارس خلک او د هغوی اولاده شیعه ګان دي او نور ټول مسلمانان سنیان دي. د دوی په منځ کې د غه اختلاف که څه هم چې زما په خیال د دې د پاره کافي نه ده چې د دوی کړه وړه دې په جدي ډول متاثره کړي، خو کافي شوی دی چې د دواړو فرقو تر منځ مخالفت تولید کړي.

سره له دې هم د پښتنو احساسات د یوه بل مذهب د پیروانو په مقابل کې تر هغوی چې د دوی ورسره په جنګ نه وي، بې رحمانه نه دي. پښتانه هم د نورو مسلمانانو په څېر په دې عقیده دي چې هېڅ کافر باید نجات ونه مومي او دا چې د اجایز او حتی دا نعام وړ عمل دی چې له کفارو سره جنګ وشي او هغوی باید مسلمانان کړی شي یا جزیه پرې تحمیل شي. او که دوی د دغو دواړو شرطو منلو ته غاړه نه ږدي زما په ګمان د دوی عقیده دا ده چې باید ووژل شي، د ارښتیا ده چې شاه زمان په پنجاب کې د وه ځله د فتوحاتو په وخت کې سکان په مذهبي لحاظ آزاد پرېښودل او دا یې منع کړه چې له دوی سره دې څه تعرض وشي، خو دا چې د دوی د ښمنو په حیث عمل و کړي، سره د دې هم د غه پاچا د یوه متعصب ملا په تشویق سره

کوښښ وکړ چې د ودسکان مسلمانان کړي او د انکار په صورت کې یې و وژني (۱)

له هندوانو سره رویه .

د پانی پت د جګړې یو هندو مورخ د پښتو له خوا د بې رحمی او قتل عام څخه ډیرې خبرې کوي او نسبت یې د هغوی مذهبی احساس ته ور کوي. خو په جنګ کې چې د دوی سلوك هر څه وي د پښتنو رویه په خپل ملك کې د هغو کسانو سره چې دوی یې کافران بولی د نورو مسلمانانو په تناسب د ستاینې وړ ده. د بت پرستو په مقابل کې د دوی کړه وړه ښکاره ده، سره له دې هم دوی هندوان د خپل مذهب په رعایت کې پوره ازاد پرېښي دي او د دوی له درمسالو سره هیڅ غرض نه کیږي، خو دوی له ټولو مذهبي تظاهراتو څخه منع دي او د دې اجازه نه لري چې خپل بتان عمومی ته وښیی. هیڅ پرهیزګار سړی به په دې راضي نه شي د دوی ډلی غوښه وخوري، خو د وی - سره نه زشته رویه کیږي او نه د دوی په مقابل کې کوم خاص نفرت څرګند کیږي دوی ته د اعتبار روړ او سودمن کارونه ور کول کیږي هغه هندوان چې په افغانستان کې ژوند کوي د ملك د نورو ډېرو اوسېدونکو په شان آرام ښکاري (۲)

---

(۱) - هغه پښتانه چې دغه قصه راته بیان کړه د دغه بې رحمه عمل افاده یې په ښه شان وکړه او د سکانو ټینګوالی یې په ستاینې سره یاد کړ.

(۲) ما ته دا معلومه نه ده چې زیات پښتانه به د دې څه پروا ولري چې د هندو د لاس پوخ ډوډی وخوري. د درانیو د یوه مشر خان احمدخان نورزي له سلوك څخه داسې ښکاري چې دوی د دې هم پروا نه سا بی. دغه ټکی له دغه لاندې مثال څخه معلومېدلی شي، مګر زه باید په دې اعتراف وکړم چې هغه فارسیوان چې دغه قصه یې ما ته بیان کړه په دې فکر و چې د احمد خان زړه تو به یې ښه را اوچت کړ د اباید هم په یاد ولرل شي چې احمدخان د دې پروا کوي چې د یوه پښتانه اصیل خویو نه وساتي او ټولو عصري درسو خویونو ته په ښه سترګه نه ګوري. احمدخان نورزي یوه ورځ پېښور ته نږدې له کفایت خان (یوه فارسی اشراف) سره سوورواڼ وو. ښارته نږدی په یوه کلي کې له آسونه ښکته شول او څه وخت چې یې د یوې ونې لاندې د مېوه هله یوه هندو ور ته په یوې کاسې کې مستې راوړې، دا مستې داسې نه وې چې په داسې ښکلو پېشقابو کې وړاندې شوې وای لکه چې د اشرافو په قصر کې وي، سره له دې هم احمدخان به ښې اشتها سره د هغې په خوړلو پیل وکړ او څه وخت چې هغه فارسیوان ورته وویل چې دا مستې به پاکې نه وي او ښو به پره پردې څنګه چې د یوه هندو په لاس جوړې شوې دي نجسې دي، ده یوازې ځواب ور ته ورکړ« هندو چه سګ است که نجس باشد؟» او مستو خوړلو ته یې دوام ورکړ ترڅو یې ټولې خلاصې کړې .

د پښتنو مذهبي تحمل د هغو سړکانو له وینا وو څخه ښه معلومیدای شي چې د دوی په ملک کې یې سفر کړی دی. سړکان په خپل ملک کې په دې عادي دي چې له مسلمانانو سره د ښکته خلکو په شان سلوک وکړي. په دې وجه دوی به د مسلمانانو د تحقیر او سپکاوي په مقابل کې ښه حساس وي، خو دوی تل د د هغه سلوک په باب چې د پښتنو له خوا له دوی سره کیږي ډیر ښه ګړیږي او یوه ګولډسمت، Goldsmith نومی سړک چې یو ډیر ذهین سړی و، او د افغانستان، فارس، خراسان او تارتاي په ډیرو برخو کې ګرزیدلی و) مخصوصا تل د هغې مهربانۍ او ملایمه پالنې یادونه کوله چې ده په افغانستان کې لیدلې وه.

دا رویه د هغه سلوک په خلاف ده چې د فارس خلکو له ده سره په فارس کې کوله او ده ته یې اجازه نه ورکوله چې له څاه نه اوبه وباسي، په دې چې دی به اوبه نجسې کړي یا د باران اوریدو په حال کې په سرکو باندې وګرزي، په دې چې د ځان اوبه به یې په مسلمانانو ولویږي او هغوی به نجس شي.

ازبکانو له هغه ملک سره ښه رویه وکړله، خو باید وویل شي چې هندوان مجبور دي یوه جزیي جزیه تادیه کړي اه کومې څخه چې مسلمانان معاف دي، بله دا چې هندوانو ته د یوې ښکته طایفې په سترګه کتل کیږي او د دوی مخصوصاً د ملایانو له زور زیاتي څخه خلاص نه دي، خو دغه زور زیاتي باید د قانون په بنه کې په دوی تحمیل شي. دغه لاندني قضیه چې د بردرواني و په ملک کې پېښه شوې ده (یعنې چیرته چې د افغانستان ترهري بلې برخې له خلکو نه ډیر متعصب دي)، هغه وسایل ونښيي چې په هغو سره له دغسې مسئلو څخه استفاده کیږي.
یو ملا چې د مشق په یوې مسئلې کې له کوم هندو سره وران شوی و، یوه قاضي ته وویل چې هغه هندو مسلمان شوی او بیا یې بیرته بت پرستي ته مخه کړې وه قاضي وروسته له دې چې له شاهدانو نه تحقیق وکړ (شاهدانو قسم وکړ چې هغه هندو مسلمان شوی و او محمدي کلمه یې ویلې وه) د هغه بندي د میل په خلاف یې د هغه د سنت کولو امر صادر کړ، خو دغه حکم باید د مدني مامور له خوا اجرا شوی وای او د پیښور د راني حاکم د هغه د تعمیل د پاره تیار نه و. هغه ملا چې له دې حال له خبر شو، نو ملایان یې سره ټول کړل (په پیښور کې د ملایانو کمی شته) او دوی ټول د پیښور جامع جوماټ ته لاړل د مؤذنانو ازان یې قطع کړ او ټول معمولي دیني مراسم یې وروسته وغورځول، ته به وایې چې په ټول ملک کې کوم اضطراري حال پېښ شوی وي آخر د پیښور حکمران ځان مجبور ولید او وروسته له بیهوده کوښښونو څخه چې شاهدان خپله شاهدي نقض کړي امر یې وکړ چې هغه هندو باید سنت شي. هغه هندو په بې رحمي سره سنت شو خو هغه ډیر زر لاهور ته وتښتیدا او خپل اصلي مذهب ته بیرته

وګرزید. په پرودرانیو کې ددې احتمال شته چې هر مسلمان دهغه هندو په مقابل کې چې له ده سره برابر دریغ لري ځانته په تفوق قایل وي: ښه مې په‌یاد دي چې زما په خدمت کې یو اښ والا بردرانی کله چې له یوه هندو سره په څه جګړه اخته شو په منډه زما خیمې ته‌راغی او په داسې حال کې چې د تعجب او حیرت آثاریې په مخ کې ښکاره‌و، ناري کړې «عدالت! عدالت! د لته یو هندودی چې حتی د دغه کاسې په منځ کې یو مسلمان تحقیروي.»
مګر مسلمان د افغانستان په لویدیځ کې‌دغسې کوم امتیاز نه لري او د ښاغلی دوري (Durie) په قول هندوان په قندهار کې دهندوانو او مسلمانانو ترمنځ جګړه کې دخپلو رقیبانو په‌څیر د زور له استعمال څخه ډډه نه کوي بې له‌دې چې نور مسلمانان د دوی په دغه وضع وپاریږي .

له عیسویانو سره سلوک

زه باید په دې اعتراف وکړم چې له‌عیسویانو سره د پښتنو دسلوک په باب کافي معلومات په لاس نه لرم . په دې کې څه شک نه شته چې عیسویان په ټول ملک کې له مذهبي ازادۍ څخه برخوردار دي ، خو ښاغلی فوستر چې دهغه په قول کې څه شك نه شته وایي چې څه‌وخت چې د یوه عیسوي په حیث ددوی په‌ملك کې ګرزیده له‌ده سره سپکه وضع کیده او ورته په‌ښکته نظر کتل کیدل . زما خپله تجربه‌مایوې بل‌راز نتیجې ته‌رابولي، خو څنګه چې زما موقف لوړ و ددې احتمال نه‌و چې له ماسره‌دې سپکاوی وشي . سره له‌دې هم د قسطنطنې یوه اوسیدونکي عیسوي چې له لسو څخه تر شلو کالو پورې په افغانستان کې ژوند تیر کړی او ددغه ملك په باب‌ښه خبر و ، ماته یې په افغانستان کې له‌عیسویانو سره د سلوك په هکله‌ښه معلومات راکړل . ده کله کله له نورو اړخو څخه له پښتنو څخه شکایت کاوه‌مګر تل یې‌ویل چې دوی له عیسویانو سره جزیي مخالفت هم نه لري . ده‌ډیر احتیاط کاوه چې په اسلامي اصولو تنقیدونه کړي، خو یوازې یې هغه‌وخت چې دخپل ملګري له‌آزادو احساساتو څخه پوره‌ډاډه‌و. خو په نورو ټولو اړخونو کې چې له دین سره یې تعلق نه‌لاره ددوی په اوهغه سلوك چې له‌ده سره کیده داسې‌و چې ګه یوه‌خارجي مسلمان سره کیږي ، ما څو څله دده دمسلمانو نوکرانو وفاداري ولیده ده هغو ته کله کله داسې رازونه ویل چې ممکن ژوند یې په‌خطر کې‌غورځولی وای، دټولو رتبو خلکو له ده‌سره داحترام ورسلوك کاوه ، دنورو په جمله کې دپاچا امام او په کابل کې‌داسلام ددین مشرهم له‌ده سره همدغسې وضع کوله، هغه څه پښتنو کې دعموسوم مذهبي زغم ثابتوي دادی چې ده‌لـه دې امله چې لـه مختار الدوله‌شیر محمد خان سره علاقه لرله دصدراعظم (چې دمختارا

لدوله په بربادېدو سره هتسك شوي و) بدايسيده او په همدغه سبب دغه وخت پاره په بالاحصار کې د ښند په حال کې هم و سره له دې هم، دده مذهب د دې پلمه نه شو، چې هغه ته دې ضرر ورسول شي. په کابل کې يو ديوانی اصله کاتوليکی ملاشته چې له هغه سره ښه سلوك کيږي او په هغه ليك کې چې وزير ماته استولی دده په باب درنې خبرې شته دي. سايوارسنی عسکر په خپلو سترگو ليدلی چې له هغه سره که څه هم چې ډير فاسق دی او زياتره وخت نشه وي هغسې وضع کيږي لکه له هغو فارسی وانانو سره کيږي کوم چې ده ورسره يو ځای خدمت کاوه، خو په دغه مکله د ښاغلی Durie دوري شواهد تر ټولو مهم دي. ده د يوه مسلمان په شکل د پښتنو په ملك کې لويديځ ته حتی تر کندهاره سفر کړی دی، که څه هم زياتره وخت دده په مذهب بدگمانی وشوې او خوواره وپيژندل شو، دده د ځان په مقابل کې دخلکو په رويه کې تغيير ونه ليد. دده دسفر تفصيلات به ددغه کتاب په وروستی برخې کې راشی، خو دلته دهغه دوفقرو له ذکر څخه ډډه نه شم کولی کومی چې لومړی يې ما خپله دده له خولې څخه اوريدلې او دويمه يې ما په هغو مضامينو کې لوستلې چې ده پخوا له دې چې زه ورسره وغږيږم راوړي وو دغه دواړه فقرې د پښتنو د مذهبی زغم په باب وې، خو له لومړنی فقرې څخه يې د مسلمه پالنې او چور وچپاول د مخلوطو قوې انعکاس، چې په پښتنو کې په ډير قوت موجود دی، معلوميږي.

ښاغلی دوري ليکی: «په کندهار کې يوه ورځ خلکو له ما څخه پوښتنه وکړه چې زه سنی يم يا شيعه، ما په ځواب کې وويل چې زه د شمس تبريز له مذهب څخه يم چې هغه يوازې يو آزاد فکره مسلمان و، په دې کې يوه کندهاري وويل (مونږ په پوهيږو چې ته نه سنی يې نه شيعه بلکې پيرنگی يې مونږ او ډير نور خلك په دغه حقيقت پوهيږو مگر ذکر يې ځکه نه کوو چې ممکن ته خپه شې)، دوی مهربان خلك دي که دوی په دې فکر شول چې زه شتمن يم دوی به له ما سره بد سلوك ونه کړي بلکې يوازې زما شته به له ما څخه واخلی او که زه يې ورته ورنکړم، دوی به نې په ورکولو مجبور کړي» دويمه فقره د ښاغلی دوري له ليکنې څخه په عين ډول دلته نقل کيږي.

«دوی داسې فکر کوي چې د دوی مذهب تر نورو مذهبونو ښه او حقيقی دی په نتيجه کې دوی داسې گڼی چې دا نور خلك له لارې ايستل شوي او په غلطه لار روان دي دوی په دې اميد دي چې د خپلې رښتينې او لوړې عقيدې په برکت به په پای کې ټول دينونه له منځه يوسی ځکه چې دوی د ترکانو، تاتارانو او عربانو په شان سنی مسلمانان دي او د نارس خلك په غلطه لار روان بولی دوی له هغې دښمنی څخه ډډه کوي چې ممکن دوی د بربادی او نيستی په لار روان کړي

داچې دوی خپل دین ته تر ټولو ښه کښې په یقین سره دوی خطا نه دي ، دوی ته تلقین شوی چې هند غسې فکر وکړي ، سره له دې هم د دوی د زغم روحیه چې د دوی د انسان پالنې د احساس زیږنده ده دوی په لږه اندازه او ناوړه عمل ته نه را-
بولي (که څه هم چې په اوله کې به ممکن دوی وغواړي ټول خلک مسلمانان کړي) په دې چې له دوی څخه د یرې په یقیني ډول سره ازاد، سخي او تحمل کوونکي دي» ۰ (۳)

---

(۳) ښاغلی دوري د بنګال اوسیدونکی و. پلار یې انګریز او مور یې هندي وه. ده اول په یوې دواخانې کې د یوه طبي کمپوډر په حیث کار کاوه ، خو یو څو کاله د سفر کولو شوق پرې غلبه وکړه او وروسته له دې چې د څه وخت د پاره په هندوستان کې وګرځید په خالي جیب سره له آباسین څخه تیر شو او د یوه مسلمان په جامه کې د پښتنو په ملک کې وګرځید او نیت یې دا و چې له هغه ملک نه بغداد ته لاړ شي . د کابل له لارې کندهار ته لاړ او څو میاشتې یې په دوارو ښارونو کې تیرې کړې مګر په پای کې په هغې لارې بیرته بنګال ته ستون شو ، په ۱۸۱۲ کې پوني ته راغی او په هماغه فقیرو جامو کې یې له ما سره لیدنه وکړه ، داسې ښکاریده چې دی به زیات معلومات ونه لري . په دغه وخت کې ما خپل یاد اشتونه منظم کړي وو او د پښتنو په باب په ډیرو موضوعاتو باندې ما خپل تصمیم نیولی و خو څنګه چې ما د افغانستان لویدیځ په خپلو سترګو نه ولیدلی او که څه هم ما د دغه ملک له ځایي خلکو څخه ډیر معلومات ټول کړي و ، د دې احتمال و چې د دوی معلومات په زما له انتباهاتو نه فرق ولري د دې امکان موجود و چې هغه څه د دوی په فکر مهذب و ، ممکن زما په خیال کرښته معلوم شوي وای . له ما سره د غسې معیار نه و چې په هغو سره د دوی معلومات اندازه کړم په دې لحاظ داسې یو څوک چې د یوه انګریز په نظر سره یې افغانستان لیدلی وي زما د پاره ډیر غنیمت و ، ما د غسې یو څوک په ډیرې سختۍ سره هم پیدا کولی نه شو .

د ښاغلي فوستر foster له لیاقت سره سره د افغانستان په باب د ده شرحې زما پوښتنو ته ځوابه ویلی نه شو ، ده له قافلو سره د شپې سفر کړی دی او هغه ځایونه یې نه لیدلي نه دي چې ورڅخه تیر شوی دی. ده د ښار له خلکو نه غیر د ملک له نورو اوسیدونکو سره خبرې نه دي کړي حتی په ښارونو کې هم له خلکو سره د ده امیزش د د غسې یوه خطر په وجه محدود و چې د غسې یوه کس ته چې په نا آزمویل شوی ماجرا شروع کوي طبیعي وي . شاید د هند غسې ناراستي احساس د ده مشاهداتو ته رنګ ورکړی *

د صوفیانو بیان

په کابل کې یو بله فرقه د صوفیانو ده او دوی ممکن د دې په ځای چې مذهبي کسان وشمېرل شي، باید د فیلسوفانو په ډلې کې وشمېرل شي. ترهغې اندازې چې زه د دوی په مرموزې فلسفې پوهېدلی شم داسې ښکارېږي چې د دوی اصلي عقیده داده چې ټول ژوندي او ناژوندي مخلوق غیرواقعي او یو فریب دی او دا چې له خدای تعالی نه غیر نور څه وجود نه لري او

---

* وي په دې کې هیڅ شک نه شته چې د ده افکار به حتماً د هغه سفر ضرر په سختیو متأثر شوي وي چې ده غوره کړی وا او په عادي ژوند کې ور سر چندان اموخته نه و. مګر شاغلی دوري له غربي سره روږدی و او څنګه چې ده په یوازې ځان او په خپله خوښه او آرامۍ سره سفر کړی دی او هرچېرې یې د ملک له خلکو سره اړولي وو، ده ته د دې موقع په لاس ورغله چې د دوی په رښتني حال او خصوصیت پوه شي. همدا چې ما دده قصه کشف کړه او پخوا له دې چې له ده سره د ده د سفر په باب وغږېږم له ده څخه مې وغوښتل چې د افغانستان په باب خپلې ماجراګانې او نظریات د قلم ګوتو ته وسپاري. دا زما له پاره یوه تسلي وه چې معلومه شوه ده او زما نظریات سره موافق وو، نو دغه موافقه د دوو داسې اشخاصو په نظریاتو کې چې افغانستان یې په مختلفو حالاتو کې لیدلی وي د دوارو نظر یو د صحت پوخ دلیل دی. وروسته مې دی دېته تشویق کړ چې سفر په ټول تفصیل سره و لیکي له ده څخه مې د نورو موضوعاتو په باب د پوښتنو ګولو په لړ کې ډېر معلومات ترلاسه کړل د دوري زده کړه په هندوستان کې به حتماً د نیما یې کاستو (castes) له ښکته طبقو څخه وي او انګریزي یې ښه نه وه زده، خو ده زموږ له کلاسیکو اثارو څخه یو څو ډېر ښه اثره لوستلي وو او که څه هم د ده انګریزي سمه نه وه، د دې د پاره کافي وه چې خپل افکار په واضح او ګڼې دول حتی په ځینو ځایو کې په ډېر فصاحت او قدرت سره بیان کړي. که څه هم ده په خبرو کې حتی جزئي تناقضات هم ښکاره نه کړل او که څه هم دی د داسې طبیعي استعداد د وخاوند وچې د ده صنف ته د منسوب کس له خوا یې د ډېر د لو تعجب کېږي، سره د دې هم د ده د فهم قوه پوره نه وه او د دغه حال او وضع نښه داده چې ده نه غوښتل په یوه ځای کې د ډېر موده د پاره واوسي مادمته د کال ۱۵. پونډه د معاش په توګه ومنل چې د یوه سفر په وخت له ما سره کار وکړي، خو دی که څه هم چې د سوا لګړی او غربي په حقیقي حال کې و، د هغې په لور روان شو چې نه هغه ځای په لومړي عربي کښتۍ کې کېښېنې او بغداد ته په خپل په زړه پورې سفر وکړي.

خدای تعالی د انسان روح ته چې دهغه په خپله دالوهیت د جوهر یوه برخه ده په بې شمېرو بڼوڅان ښیی . د دغې نظریې په باب سوچ کول صوفیان دجذبې معراج ته هسکوي ، دوی خدای تعالی په هرڅه کې ستایی او د ده د اوصافو په تعمق سره چې دوی یې زیاترد وخت کوي او د ده تولو اشکالو په لټولو سره دوی داسی خیال کوي چې دخدای د پاره د عشق حقیقی او نه بیان کېدونکی پراو اوحتی د هغه له جوهر سره یوه کامل اتحاد ته رسېدلی دي دوی د دغه نظردلازمی نتیجې په حیث دهر دین خاص اصول زاید گڼی او تول مذهبی عبادتونه او مراسم ردوي . دې ته دومره اهمیت نه ورکوي چې په کوم طرز سره دخدای تعالی په لور افکار متوجه شوي دي ، یوازې دومره چې دوی په پای کې دخدای تعالی دسترتوب او ښه والی په باب په تعمق سره آرام کوي . په فارس کې دغه فرقه تر شکنجې لاندې ده او په کابل کې که څه هم حکومت یې مخالف نه دی، ملایان ورسره په کلکه مخالف دي ، ملایان پرې تورالکوي چې دوی د الحادطرفداران دي او دوی زیاتره وخت کوښښ کوي چې دغسې نظریات ورته منسوب کړي چې په شرعی قانون کې دجزاوړ دي . مګر دغه کوښښونه یوازې څینې وخت موفق وي ، د دغو کوښښونو د ناکامی یو علت دادی چې ډېر صوفیان سره ددې چې دغه دوه فلسفې سره سر نه خوري ، رښتینې مسلمانان دي . اوریدلی مې دي چې یوه سړی د تصوف دښکلا په باب او د بشري کړوړو دا زادو او پراخو شویو نظریاتو په باب چې ... ورته منتهی کېږي بې له کوم قیده دجذبې په حال کې انتقال وکړ او دېر زر وروسته یې له خپلو هماغو مصاحبینو سره داسلام دهر اصل په باب پابندي وښودله او ددوزخ داوردد ا یمی توب په باب یې دشك مفکوره په شدت سره رد کړه . دا ردهغه وخت وکړ چې ده ته وویل شو ددغه نظر پخلا کول له هغې مفکوري سره چې له خدای نه غیر نور څه وجود نه لري ، مشکل دي ، ده وویل چې تصوف بې له شك نه حقیقت لري ، مګر ددوزخ ابدیت پخپله دخدای په قول ثابت شوی دی .

سره د دې هم دصوفیانو فرقه مخ په ترقی ده ، مخصوصاً دلوړود رجو په خلکو او په ځینو ملایانو کې چې عمومی ادبیات لولی اود تصوف مبهم عالی توب ددغې طبقې په ذوق ښه برابر دی . په حقیقت کې له مرموز توب سره مینه چې په دوی کې ښه موجوده ده ، دوی دې ته را بولی چې دهر هغه څه په باب چې له نظره پټ وي لوړ نظریات ولري اوحتی په دوی کې یې دوروری د پټو تولنو (masonary) شوق هم پاروای دی . په دې باب له ماڅخه زیاتره وخت پوښتنې شوي دي او هغه نظر یات مې اوریدلی دي چې د هغه ماهیت په باب تشکیل شوي دي تول هغه معلومات چې دهغه په باب ددوی لاس ته ورغلی دي د یوه درویش په واسطه راغول شوي . دغه درویش په اروپا یی ملکو کې ګرزیدلی او په دغه رمز کې یې د

داخليدو شرح ورکړی ده . دی په دې مامور شو چې په یوې خاصې مانۍ کې داخل شي او ورو سته له دې چې له څو کېږو ده لېږو او انکړ و څخه تیر شو په دغسې یوې حجرې کې ننوت چې اته کسه پکې ناست وو ، داسې ښکاریده چې دوی ټول د یو څو دی او وجد بې په حال کې وو او د خپلو سو چو نو په وجه بې نظمه وو . له مخو نو څخه بې د الهام علامې ښکاریدې ، د لته دغه درویش نه بیا نیدو نکې شیان زده کړل او له دغو حکیما نو څخه بې د یوې شعبې په تمام سره د ډیرو عالی موضوعاتو په باب دومره څه زده کړل چې د کلو کلو سخت تحصیل په نتیجه کې یې نه شو حاصلو لی .

یوه بله فرقه چې ځینې وخت د صوفیانو له فرقې سره یوه ګڼله کیږي ، د ملاذکی په نامه یادیږي چې هغه یې په کابل کې یوستر حامی و . د دغې فرقې طرفداران په دې عقیده دي چې رسولان رښتینی نه وو او ټول الهامونه اختراع ګانې دي . داسې ښکاري چې دوی دا ینده حال د حقیقت او حتی د خدای د شتهتوب په باب شکمن دي ، معلومیږي چې د دوی عقیده ډیره قدیمې وي او په شخصی ډول د هغو نظریو مجموعه او سی چې عمرخیام په خپلو فارسی نظمو نو کې افاده کړې ده . د خیام آثار داسې بې قیده او بې تقوا دي چې ممکن په بلې ژبې کې وو سره سیالی و نه شی . خیام په خاص ډول د شر له وجود نه غږیږي او خدای تعالی د هغه دروا جو لو په باب په داسې الفاظو تورن کوي چې هیڅ باور به پرې ونه شی ، داسې ښکاري چې د ملاذکی پیروان د دوزخ له ویرې څخه او د خدای تعالی له هیبت څخه له خپل دغسې خلاصون نه پوره ګټه اخلی او په ټول ملك کې تر ټولو فاجر او بې پرنسیپه هرزه ګان اوسی ، سره له دې هم د دوی نظریات په پټه کې وده کوي او ویل کیږي چې د شاه محمود د دربار په فاسقو اشرافو کې ښه رواج لري .

د روښانیانو فرقه

روښانی فرقې په شپاړسمې پیړی کې په پښتنو کې یوه لویه غوغا جوړه کړې وه خو اوس نیږدې له منځه تللې ده . د دغه فرقې د بایزید انصاري له خوا د مغلی امپراتور اکبر په دوره کې جوړه شوې ده . د روښان مخالفینو دې پیر تاریك باله ، په داسې حال کې چې د ده په ځان د روښان پیر لقب ایښی و . روښان او صوفیانو عین اصول لری خو څنګه چې ده د روح د تناسخ عقیده په هغو اضافه کړه ، امکان لري چې دده خپله عقیده له جوګیانو څخه اخیستې وي ، جوګیان د هندو فیلسوفانو هغه فرقه ده چې د خپل دین ځینې اصول چې په هغه کې روزل شوي دي ، د تصوف له مکتب سره یو ځای کوي خو بایزید له دغو اصولو سره یو څه خپل نظریات پیوند کړل چې له هغو څخه یې ډیر مهم دا دی چې خدای تعالی د مقدسو شخاصو او پیرانو مخصوصاً ده په وجود کې ځان ښکاره کوی او د اچې ټول هغه کسان چې نه غواړي ده

په فرقې کې داخل شي باید مړو په څېر وګڼل شي، او دا چې د دوی د دغه انکار په نتیجه کې د دوی ټول شته او مالونه د ده د طرفدارانو کېږي، په دې چې یوازې دوی ژوندي دي. د دغه مخه خلق شوي وارثان چې هر وخت بې زړه وي د دې حقونو چې په خپل میراث باندې قبضه وکړي، بې له دې چې د مړو د مالدارانو څه پروا ولري چې هغوی د روښانیانو له پوهېږي سره سره په واقع کې ژوندي وو.

بایزید د لوی نبوغ خاوند وو او د ده مذهب په پروردانو کې په ډېرې چټکۍ سره خپور شو ترڅو چې دی په دې موفق شو چې لښکرې ټولې کړي. او له مغلي حکومت سره په یوې منظمې مقابلې لاس پورې کړي، خو په پای کې دی د مغلي اردو له خوا مغلوب او له ډېرې ستومانۍ نه وروسته مړ شو. زامنو یې کوښښ وکړ چې د هغو د فرقې ملاتړ وکړي، دوی په دغو کوښښو کې تر ډېره حده توفیق موندو زیاتره یې ټوټه ټوټه شول. اوس په اباسین کې د ده اسې څخه تورې تېږې شته چې هغه د بایزید د زامنو جلال الدین او کمال الدین د پېل شوو جسدو په حیث ګڼل کېږي او ویل کېږي چې د دوی مړي د اخوند درویزه په امر په سیند کې غورځول شوي وو. د دغه تېږې تر اوسه هم د جلالیه او کمالیه په نامه یادېږي او هغه کمې هغه هغو ګردابونو ته نږدې پرتې دي چې له اباسین څخه د کابل د سیند په یوځای کېدو سره پیدا کېږي. هغه پېلو مسلمانانو ته د یوه شکل په حیث ځانګړې کوي، دوی وایي چې دا طبیعي ده چې هغه ډېرې چې د دغو بدعت راوستونکو په جسدو لګېږي، باید ټوټه ټوټه شي لکه چې دوی له پخوا ډېرې اروا ګانې ټوټه ټوټه کړې وي. اخوند درویزه د بایزید یو لوی مخالف و. اخوند درویزه چې د پوهنیو تاجکو اوس په ټول افغانستان کې د یوه ډېر ستر ولي په حیث منل کېږي. ده ډېر آثار لیکلي دي چې په وطنوالو کې یې ډېر نوم لري خو کوم آثار یې چې ما لیدلي دي د هغو په اساس ویلی شم چې که څه هم د ده دلایل د مغلي امپراطورانو په لښکرو سره تقویه شوي نه وای، د روښانیانو نظریات به تر ډېره وخته پورې رد شوي نه وای.

تر اوسه هم د یوسفزو په شاوخوا او د پروښنکیو په غرو کې د دغې فرقې پیروان شته دي (٤).

په هېڅ نو کې بې له کوم شک او تردید هغه نورې فرقې هم شته چې زه هغه په باب زه معلومات نه لرم او دا چې نوموړ نه زما له یاده وتلي دي، هغو د دغه ملت

(٤) د روښاني فرقې په باب زیات ډېر معلومات د ډاکتر لیډن (Dr. leyden) له هغې اعلی مقالې څخه اخیستل شوي دي چې د آسیایي پلټنو (Asiatic Researches) په یولسم ټوک کې خپره شوي ده.

تر اوسه هم د دوی له نفوذ څخه خلاص شوي نه دي. همدا نه سخت ګیر سوي مسلمانان دي او څنګه چې دوی په خپلو عقیدو او مراسمو پوخ شوي دي، د دوی مذهبي روحیه بې له دې چې له نورو خلکو سره څه غرض ولري، سوی د اسلام په پیروانو کې زښته زیاته ده.

په خلکو باندې د مذهب تأثیر

د پښتو له خبرو څخه داسې ښکاره کېږي چې ټول خلک له پاچا څخه تر ګدا او هر ګر پورې ټول له مقدسو افکارو سره سروکار لري، یوازې کله کله په داسې جملو او وینا ـ لوشي چې د خدای نوم پکې نه وي راغلی او د خدای د نامه خفیف ذکر سره هم مخصوص حرکات تولیدیږي، د مثال په ډول دوی هیڅ آینده واقعه که څه هم پوره یقیني وي بې له ان شاء الله څخه نه یادوي، دوی د غه لفظ چې د ماضي زماني په باب یې هم استعما ـ لوي او د خپل عمر په هکله په یوه سوال ته داسې ځواب ورکوي: «ان شاء الله چې زه به څلویښت کلن اوسم.» د پرخلکو په ملا پورې تړلی تسبیح لري او کوم وخت چې په خبرو کې وقفه راځي د تسبیح په اړولو پیل کوي د تسبیح د هرې دانې په اړولو سره دوی باید د خدای تعالی نوم یاد کړي مګر کله چې دوی د چا خبرو ته په ځیر سره غوږ نیولی وي او یا کله چې پخپله هم ګړیږي زیاتره وخت تسبیح اړوي. هر وخت قسم خوري او د دوی قسم خوړل داسې جدي او سخت وي لکه چې په کوم محکمې کې ناست وي. د قسمونو عام شکلونه یې دا دي: «د خدای او د هغه د پیغمبر په نامه قسم خورم.» «که دا خبره درسته نه وي زه دې کافر له دنیا نه لاړ شم»، «که زه دروغ وایم زما ښځه دې په دریو کاڼو طلاقه وي». د دوی یو ډېر روږد قسم هغه دی چې د خدای نوم پکې په داسې شکلونو درې ځله ذکر کیږي: (والله بالله تالله.) »په په داوی چې دلته د هغه رواج ذکر وکړم چې دوی یې له نورو مسلمانانو سره په مشترک ډول لري او هغه قسم ورکول دي. دا په حقیقت کې د متعهد ګولو یو ډول دی چې د هغه په اثر یو څوک چې قسم ورته ورکول کیږي باید پرې ولاړ اوسي او دا فرق نه کوي چې هغه پرې رضایت لري او که نه. نو یو سړی به یوه بل ته وایي: «دا په قرآن قسم دی چې ته به هغه څه چې ما درته ویلي دي هیڅ وخت نه وایې»

زه داسې خلک نه پېژنم چې هغوی دې زیاتره وخت په دغسې متعهد کېدو سره داسې کارونه وکړي چې د هغوی په ذوق دې برابر نه وي خو په پښتو کې دا د یوې ناموزونې عملې د رواضي کیدو په باب یو عام عذر دی چې یو څوک وایي: «که ده ما ته قسم را کړی نه وای ما به هیڅکله دا کار کړی نه وای.» همدا ډول له فاتحه ویلو په هیڅ کار لاس نه پورې کوي. زما په خیال د غه رواج یوازې په دوی کې شته دی. فاتحه یعنې الحمدلله رب العالمین....

دڅران لومړی سوره ده اوزیاتره وخت (تل) په لمونځو کې ویله کیږي .
یوسړی په دناتحې سوره په لوړ اواز وایي او نور په امین وایي. . دوی دډعا په وخت کې لاسونه پورته کوي اوپه ختم کې یې په ځپلو مخونو او وږرو تیروي. دوی دغه رسم په ټولو مهمو چارو کې اجرا کوي یعنی کله چې په سفر پیل کوي یاچاته قول ورکوي او موافقه ورسر کوي یاودونه کوي او په لنډ ډول دوی دغه مراسم دژوندانه په زیاترو کارو کې اجرا کوي.

لمونځونه

دپښتنو په شان په نور هیڅ خلك دمذهبی مراسمو په ترسره کولو کې پابند نه وي. دوی په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ کوي، لومړی لمونځ سهار د وخته کوي او وروستی دشپې په شروع سره موذن داله اکبر په ویلو سره دلمانځه وخت اعلامیوي. اذان ترهغه وخته تکراریږي څوچې دټولو مومنانو غوږته ورسیږي. اذان یو ډیر دروند اوښه ایسیدونکی اواز دی. هر وخت یې چې خلك واوري، جوماتونو ته درومي. هغه څوك چې لګیا وي کار کوي، هغوی ځانونو ته زحمت نه ور کوي. څوك چې په هوی‌ډلی کې ناست وي اواذان واوري تکراروي یې اود لمانځه داداکولو دپاره ځی. مګرهغه وخت چې زه له نورو سره په یوې ډلې کې ناست وم، ځینی کسان له ماسره همغسې پاتې شول اونور یې یوې ډیرې کوټې ته لاړل، چای نما زونه یې په ځمکه وغوړول، بې له اودس کولو یې د لمانځه په ادا کولو شروع وکړه . (٥) دوی ددې څه پروا نه ساتله چې څوك ورته ګوري یا څنګه . لمونځ چې یې ادا کړ ژرټول په ګډه بیر ته راغلل او د پخوا په شان یې خبروته دوام ورکړ . هرمسلمان د لمانځه په وخت کې دمکې په لور دریږي، اوشتمن کسان په تیره بیا هغه وخت چې په سفر کې وي له ځان سره قطب نما ګرزوي . د قطب نما یوه ستن دشمال اوبله یې دجنوب په لوراوهغه بله یې چې په اخیر کې یوه نښه لري د مکې په لورواقع ده . (٦)
په منظم ډول سره دلمانځه اداکول نه یوازې دینی وجیبه ده لابلکې د افغانستان په زیاترو برخوکې‌دمدنی قانون له خوانافذیږي. او یومنظم مامور چې محتسب نومیږي‌دلمانځه قضاکوونکی یادهرې بلې دینی فریضې سرغړوونکی

٥ ـ مولف ته شاید معلومه نه وي چې په یوه اود سه سره دوه ځله لمونځ ادا کیدلی شی (مترجم)

٦ ـ دمولف هغه لیکنې چې د لمانځه دا دا کولو دطرزپه باب وې ترجمه نه کشوې . (مترجم)

ته سزا ورکوي روژه هم په همدغه ډول سره نافذه کیږي او سخت رعایت یې کوي. څنګه چې د روژې په وخت کې یو سړی له سهار نه ترماښامه پورې نه اوبه څښي او نه حتی چلم څکوي دا په رښتیا په سړي ډېره سخته تمامیږي. مګر خارجیان د روژې نیولو څخه معاف دي. په هر مسلمان باندې په ژوندانه کې یو ځل حج کول فرض دي. ډېر پښتانه د حج دادا کولو دپاره مکې ته ځي. دحج دادا کولو ډېره عامه لاره دسندلار ده چې له هغه ځایه حج کوونکی مسقط یا بصرې ته په کښتۍ کې ځي او بیا مکې ته په وچه کې سفر کوي. د شمال شرقي مسلمانان په اباسین کې مخ ښکته سفر کوي، حاجیانو ته ددوی ددغه مقدس نیت په وجه خلک او حتی ډېر چپاولګر قومونه هم په درنه سترګه ګوري. ډېر حاجیان د سفر په دوره کې په سوال او خیرات ژوند کوي او په مکې کې هغه خیریه مؤسسه ددوی ژوند تامینوي چې احمدشاه دراني تاسیس کړې وه. احمدشاه دخپلو وطنوالو د استفادې دپاره هلته یو مسجد او یو ډول کاروانسرای جوړ کړی و. په کوم کال کې چې د پښتنو حاجیانو شمېر لږ وي، ددغې مؤسسې اضافګي شیان په عربو ویشل کیږي، نو عربان د پښتنو حاجیانو په زیات شمېر چندان خوښ نه دي. نو دوی له هرې موقع څخه استفاده کوي چې دغو مداخله کوونکو ته ازار ورسوي او د شیعه ګانو په څېر یې معرفي کړي، په دې چې دوی ء په عمومي ډول په فارسي خبرې کوي. ټول پښتانه حاجیان د بدوي اعرابو د بربریت او چپاولګري نه په هیبت خبرې کوي او وایي چې د پښتنو د چپاولګر قوم یو ډېر بد کار سړی هم په دوی کې بس یو ماشوم دی.

د مذهب رعایت

د اسلام دین په هر مسلمان لازمه ګرزولې چې دخپل عاید یوه برخه دخیرات په ډول ورکړي. ټولو مقدسو کسانو ته بخششونه او حتی ملایانو ته منظمې وظیفې او سوالګرو ته خیراتونه هم تردغه نامه لاندې راځي. له ښارو څخه په لیرې ځایو کې خیرات ته چې سوالګر نشته دوی هغه مصرف چې په میلمه پالنې کې یې کوي، هم په خیرات حسابوي. په دغه تعبیر سره دوی دخپل دین فرایض په ښه شان ترسره کوي. قمار وهل او داسې هم طالع بجنګان چې د پیسو دپاره کیږي منع دي د دغه ممانعت پروا په دقیق ډول نه کیږي، خو پښتانه چندان په قمار وهلو عادي نه دي. شراب معلومه ده چې منع دي او په حقیقت کې یوازې شمتن یې څښي، خو د مملکت په زیاترو برخو کې یوه نشه راوړونکې دوا چې بنګ نومیږي او هغه هم په مساوي ډول منع ده، د فاسقو له خوا استعمالیږي سره له دې هم دغه خلک په هغو خلکو کې چې ما د هغو په باب اوریدلي دي، تر ټولو لو باوقار دي

اودوی په دغه باب دهندوستان ترهندوانو او مسلمانو نه دېر د مخه دي. هغه سري چې په ستر کو کې نشه کرزي ، لکه څنګه چې په دغه برهمن ښار یعنې پونه کې کرزي په افغانستان کې پدنادروي. (۷)

د محتسب منصب چې دهغه وظیفه د اجتماعي اخلاقو نظارت دی ډېره خوا بدونکې ده ، دی زیاتره په دی تومتی کیږي چې د مجرم په خوشی کولو سره له خلکو نه رشوت اخلي او حتی د بیګناهو خلکو په داړو لو سره په خلکو پیسې پدي. دده قدرت ترڅلو ښتو دروهلو پورې رسیږي دره هغه چې مینه تر انګه ده چې له لرګي نه جوړ لاستي لري او یاد قران یا داحادیثو له مخې جوړه شوې وي داسې هم د محتسب په واک کې ده چې یو مجرم په عام محضر کې تشهیر کړي په ښار کې یې په خره باندې په اوښ چپه سپور په داسې حال کې چې مخ يې دهغه حیوان دلکی په لور روي وګرزوي. ماد یمبور متحسب زیاتره په داسی حال کې لیده چې تسمه به یې تل دخپل منصب د علامې په حیث ترملا پورې تړلې وه ،دی ترعادي کسانو څخه لوړمعلو میده او داسې ښکار یده چې یو معقول او اعتدال خوښو نکی شخص دی ، مګر خلکو یې تل بده ویلې .

ملایان او په حقیقت کې ټول مذهبی کسان حتی که څه منصب هم نه لري دمتقی ژوندانه د تبلیغ کولو شوقمن دي اود سعمو مو لذتو نو مخالفت کوي (۸) ملایان د مملکت په څینو برخو کې حتی هر وخت چې عود Lutes او وایلون fiddles وو ینی ماتوي یې ، مګر نغارې ترومپیټونه اوشپېلی له دغه مخالفت څخه معاف دي، په دې چې هغه مېړنې اوجنګي دي؛ مګر نور ټول سازونه پټینه او یوه ریښتینی مسلمان د کرکتر مخالف ګڼل کیږي . سره له دې هم دغه خلک د غسې پرهېزګار ژوند پرواچندان نه ساتي، او ملایان په عمومی ډول له دین او اخلاق نه د پرې مهمې سرغړونې ترسانسو ر لاندې نیسي او په ډېر و ډېر خوکې دوی هو څ قدرت نه لري.

د ملا یانو نفوذ او قدرت

ملایان په ښهرکې ډېر دي اودوی له لویو درباریانو او وزیرانو څخه حتی دډیرو څرېبو او دازادو تومونو په مختلفو صفو نو کې لیدل کیږي. دوی دښارونو

(۷) دا یو غلطی ده . په پونه کې مخمور کېدل یوازې د برتانویانو په کاونټ- یتوب کې لیدل کیږي چې هلته دالکولي شرابو څرښول مجاز دي. (د ۱۸۳۸ کال طبع)

(۸) احمد میر واعظ چې د هغه حال د دغه کتاب د تاریخ په برخه کې راغلی دی، د متقیانه ژوند په برکت په ډېرو خلکو کې، دد غسې زیات محبوبیت خاوند شوی دی چې له هغه نه د شاه محمود په خلع کې استفاده و شوه.

د خدای خلکو په تناسب ښځې ډېر دي او كوم وخت چې يې د يوې ډلې په حيث يادونه كېږي د علماو په نامه يادېږي.

په عمومي ډول د دوی فعال او په نسبي ډول لايق كسان دي او د خپلې ډلې د گټو ښه پروا ساتي او احتياط كوي چې خپل لوړ والی خوندي وساتي. دوی د خپل ملك د علم د پرو برخو خاوندان دي، د خوا ناو روزنه، د قانون تنقيذ او په ټول ملك كې د قضا اداره چې د پاچا تر واك لاندې ده پوره دوی ته ورسپارل شوې دي او د غه امتيازات له هغه احترام سره يو ځای چې په ناپوهو او خرافات خوښوونكو خلكو كې د دوی د علم په وجه دوی ته كېږي، ملايان په دې قادر گرزوي چې په ځينو خاصو حالاتو كې په افرادو او حتی د اشخاصو په يوې ډلې باندې ډېر دې نامحدود قدرت ولري، حاكمان او نور ملكي مامورين تر شا رنې او كنترول لاندې و نيسي او ځينې وخت پخپله پاچا و ډاروي او ضرر ورته ورسوي. په مسلمانانو كې هغه وخت چې له شريعت نه مخالف كار ونه كېږي، له دغه قدرت څخه بده استفاده كېږي، خو په عين حال كې زياتره وخت د ملايانو له دغه نفوذ څخه د مملكت په ډېرو برخو كې چېرته چې د عامه سولې د ټينگولو د پاره نور وسايل وي، د شخړو او دعوو په فيصله كولو كې په گټور ډول استفاده كېږي د دغو مذهبي شخصيتو لښكرې زياتره وخت د هغسې دود، و لسونو په منځ كې له او پده و چونو سره ښكاره كېږي چې د جنگ د پاره تيار او اماده وي.

دوی قران شفيع كوي، لمونځونه او نفلونه ادا كوي او آيتونه لولي او خلكو ته نصيحت كوي چې خدای او دين هېر نه كړي. حتی كه دوی د غو ولسونو په منځ كې په دې موفق هم شي چې سوله ټينگه كړي، د دوی د يوه هغه وخت د پاره سره ټينگوي او په دې كې هېڅ نه ناكامه كېږي.

ملايان د ډېښور په ښاو ښوا كې او د پرودرانيو په ملك كې په خاص ډول ډېر قدرت لري. د ډېښور په ښار كې پاچا تر يوه حده د دوی مخه نيسي او مجبوروي يې چې كه په دوی څه ظلم شوی وي په ملكي محكمه كې عرض وكړي، يا دې د ی دا سې موقع په انتظار اوسي چې بيا وكړای شي په خپل غليم د كفر يا بدعت فتوا صادره كړي او په دې ډول ممكن د هغه په مقابل كې د خلكو احساسات وپاروي او يا په محكمه كې يې د قانون گوتو ته وسپاري، مگر د مملكت په لېرو برخو كې ملا ته ضرر رسول پخپله د دې كفايت كوي چې يو څوك غا جوړه شي. ملايان په د غسې وختو كې خپل نور ورونه ملايان څونډوي، ديني مراسم او د ښخولو تكفين مراسم ځنډوي او پخپلو مخالفينو د كفر فتوا صادروي او په رسمي ډول يې طرد وي او ښېراوې ورته كوي. كه له دغو كارو سره سره دوی ونه شو كړی چې دوی خپل مخالفان تسليمولو ته مجبور كړي دوی په ملك كې د محمدي شنه بيرغ د لاندې په تظاهراتو پيل كوي، . ډولونه وهي

او صلوة کا ږي . دوی د دې اعلام کوي چې هغه کسان چې نه غواړي له دوی سره یو ځای شي، مطرود دي . په دې ډول دوی ډیر زړیو جمعیت چې دوی پرې دلښکر نوم ږدي راغونډوي او څنګه چې ښتانه د دوی تر لښکرونه زیات ددوی په ښېراوو بېرېږي دوی په عمومي ډول دهغوی مخالفینو شرطو منلوته حاضر وي، په دغو شرطونو کې دمخالفو دمشرانو دکورو چوړول او سوزول او دهغو په معاونانو باندې دجرم ایښودل شامل دي.

داسې قصې اورېدلې کېږي چې دملایانو دلښکرو په اواز سره دښارونو دېوالونه چپه شوي ، توري پټې شوي دا پېښې هغه وخت شوي چې دمذهبي شخصیتو ژوند په هغوسره تهدید شوی دی. خو بیاهم دهشنغر یوه خان بوځل دملایانو دلښکرو په مقابل کې مقاومت وکړ، داهغه وخت و چې ملایان دسود دیوې معاملې دنافذکولو دپاره هغه ته ورغلي وو. هغه خان دوی ټول په شاووهل او تلفات یې ورواړول اوټول ګاونډیان په دغه کارخوښ شول . که څه هم دمملکت په دغې برخې کې ملایانو ته په درنه سترګه کتل کېږي زما په خیال چې خلك نظر دیته چې له دوی سره مینه ولري ، ډیر ترې ډارېږي. دمملکت په لویدیځ کې د ملایانو قدرت په نسبي ډول محدود دی او پخپله دوی ته ډیر احترام کېږي. په نتیجه کې دوی په عمومي ډول مخصوصاً په اطرافو کې ډیر محبوبیت لري. خو حتی هلته هم ددوی دفرقې له ناوړو کارواو دخلکو دمیلمه پالنې له احساس څخه ددوی دنه بس کیدونکو او له فضولانه تقاضا وو څخه شکایتونه جګ دي. (۹) حتی دمملکت په غربي خوا کې ددوی قدرت ځینې وخت په ښارونو مخصوصاً دتیمورشاه د پاچایی په دوره کې چې دهغه صدر اعظم یو ملا و احساس شوی دی. دوی په هغه وخت کې په کندهار کې قدرت دغسې یو حدته ورسوه چې د دوی یو ډلې په کفایت خان حمله وکړه دهغه حرم ته ورننوتل د بخشش غوښتنه یې وکړه او په دې بې عدالتۍ یې اعتراض وکړ چې دی رنګ رنګ پلاوونه خوري په داسې حال کې چې دوی ته (یوازې وچه ډوډۍ رسېږي • کفأیت خان په اصل کې د فارس یو شیعه وچې په افغانستان کې لوړو منصبو ته رسېدلی و. یوازې په ډیر زحمت او د پاچا په وساطت سره دا سمکنه

---

(۹) عجبه ده چې وویل شي چې دهغو ملکو په عاداتو کې چې دمدنیت په عین پړاو کې مګر له یو بل څخه په فاصله او زمان کې سره ډیر لیرې پراته دي ، مشابهت شته دي. دچاسر (Chaucer) سومپنورز(Sompnours) قصه د فقیرو ملایانو زیات تېښکار او دهغه احترام او مخالفت یو مخلوط چې ددوی په مقابل کې ښودل کېږي په عین ډول بیانوي.

شوه چې دملا یانو دغه غوغا غلې شې. ددوی ژوند په خلکو کې له تقوانه ډک دی، مګر ددوی ځینی کسان بې له دې چې رسو اشی دفسق ژوند کوي ډیر یې دسود په خوړلوسره بدنوم لري. قرآن سود خوړل په واضح ډول منع کړي دي او یو څو متقي مسلمانان له دغه مخالفت نه په واضح ډول تجاوز کوي په داسې حال کې چې له هغه نه سرغړول کوم مشکل کار نه دی ډیر کسان په دې قانع دي چې خپلې پیسې تاجرانو ته په سود ورکړي او دګټې یوه برخه یې حاصله کړي. یا یې صرافانو ته ورسپاري چې په تجارت کې یې په دوران واچوي او له ګټې څخه یې یوه ترلاسه کړي (۱). مګر ډیر ملایان پیسې په ښکاره ډول په سود ور کوي او قوي ضمانت اخلي او په دې ډول خپله شتمني ښه ډیروي، دوی د مملکت د سختې یوه برخه خپله کړې ده خو څنګه چې ټول ملایان په سود پیسې نه ورکوي، نو دې پوهېدل به هغه سوالحل شي چې د ملایانو دغو مره ډیر شمیر څنګه پاتې کیږي.

له هغو ملایانو نه پرته چې دیني منصبونه لري، یا له دولت څخه وظیفې او معاشونه اخلي (چې بحث به یې په یو بل ځای کې وشي) او تر هغو لا ډیر دکلیو ملایانو نه چې د فصلونو نه یوه ورته ور کول کیږي او یاد رمو ګلو نه یوه ورکول کیږي، ډیر نور ملایان د سخکو یوه برخه د بخشش په توګه په لاس لري چې یا یې پاچا یا دکلیو مشران ورکوي او یا ځیني افراد یې د میراث نه ورپه برخه کوي ځیني نور ملایان د شرعي قانون په تدریس او تمرین ژوند کوي، نوریې په مکتبونو کې تدریس کوي او یاد شتمنو کسانو دزامنو شخصي معلمان وي، ځیني نور یې د تبلیغ په کار لګیا دي او اولس یې ژوندور تامینوي، ځیني په هغو اوقافو وظیفو ژوند کوي چې دولت او کلي یې شاګردانو ته ورپه برخه کوي، یا یې هغه کسان د خیرات او دمیلمه پالنې د احساس له مخې ورکوي چې دوی د هغو په ملك کې سفر کوي او ځینې نور ملایان یا کوم کسب یا دهقاني کوي او یا په خپلو نوروسایلو خپل ژوند تامینوي او په خپله خوښه خپل تحصیل په مخ بیایي او سرګرمي لري.

دملا یانو سلوك

دملا یانو نسبت د همدغې فرقې داعضاوو له خوا هغه کس ته کیږي چې د تحصیل یو منظم کورس یې سرته رسولی وي او لازم امتحان یې تیر کړی وي. یوه کاندید ته د عضویت اجازه دیوه رسم په اجراسره ور کوله کیږي. ددغه رسم یوه مهمه برخه د همدغه احضار شوي مجلس د مهمو اشخاصو له خوا د کاندید په سر د لنګوټې تړل دي.

(۱) مقصد مضاربت دی. (مترجم)

ملایان په خپلو خاصو کالیو سره له ورایه پېژندل کېږي، چې هغه د سپینې خامتا، اوږده اوارت کالی، او په سر باندې یو خاص غټ د ململ لنګوټی تشکیلوي.

ملایان ځانله متشکل هیئتونه نه لري لکه څنګه چې راهبان یې په اروپا کې لري، داسې هم. ټول ملایان نه د یوه واحد مشرتر حکم لاندې دي او نه د یوه خاص د سپلین تابع دي، لکه څنګه چې روحانیون په انګلستان کې دي.

له هغو ملایانو نه پرته چې له دولت څخه معاش اخلي نور ټول یې په خپل واک دي. د دوی تر منځ همکاري یوازې د یوې ګډې ګټې په احساس سره پیدا کېږي. د دوی ټول ودونه کوي او په نورو ټولو برخو کې دها دي کسانو په شان ژوند کوي. ما ته د دې پته نه شته چې دوی دې کوم خاص سلوک ونه ولري. یوازې دومره چې دوی سخت ګیردي. ځینې یې ډېر باوقاره دي او نور یې له هرې ډلې سره ځانونه ګډوي او په ټولو لوبو کې برخه اخلي. له دوی څخه یو څوك زیاتره وخت داسې ایدل کېږي چې یو لوی سپین لنګوټی په سر لري او یو اسمانی رنګه دستمال یې چې یو څو ګزه اوږدوالی لري او اوږد ځړېږي او په خپله له یو څو د رجنو پیروانو او طالبانو سره کتابونه په تخرګ کې یا په سر کوټکې ګرزي او یاد کوم شتمن په کور کې ناست وي په غټې ګوتې سره په داسې حال کې چې اوږد لستونی یې ښه خوځېږي د خپلو نظریاتو د تنفیذ په باب په لوړ اواز هدایتونه صادر وي. یا په خپلو ټوکو ټکالو او غوروسره کوربه خوشالوي او د خپلو نصوارو ډېر غټ ډبلی ټول ته تېروي. دغه راز ملایان د هر ښه مجلسیان ګڼل کېږي دوی زیاتره په جرګو او مرکو کې ګډون کوي او په دې برخه کې په مدني چارو کې د دوی پوهه د دوی ټولې فرقې ته ښه درونه مقام ورښي.

ممکن داسې فکر وشي چې ملایان به د نورو وادیانو د پیروانو لوه دښمنان وي او یا بېتر لېږه له دوی سره به له ناستې ولاړې نه ډډه کوي لکه څنګه چې زما په خیال ملایان په فارس کې همدغسې کوي مګر حال داسې نه دی ما له ډېرو ملایانو سره ښه اشنایي راله او د دوی ځینې ښه هوښیار او ښه رسېدونکي وو زه په خاص ډول له دوو ملایانو سره ښه اشنا شوی وم او د غه دواړه د خان علوم د خپل وخت ډېر ستر عالم زامن وو. دغه دوه ملایان تر ټولو ډېر باخبر او ازادطبع وو، او زه د دوی په شان په هندوستان او افغانستان کې دغسې نور ملایان نه پېژنم.

دا اسانه ده چې وویل شي ملایان په عمومي ډول یوه ګټوره ډله ده، یا څنګه. دوی د مملکت په ډېرو برخو کې په واضح ډول ګټور دي، دوی په دې سبب مفید دي چې دوی د نه اداره کېدونکو خلکو د زور زیاتی تمایل معتدل کوي او دا کار د هغو اخلاقیاتو په واسطه کوي چې دوی یې تبلیغ کوي. داسې هم دوی له دې امله ګټور دي چې دوی هغه کم سانس او ادبیات چې موجود دي په خپلو عادتونو سره ساتي او ورته دوام ورکوي.

درویشان، پیران او مقدس کسان

له منظمو ملایانو غیرنورکسان هم شته چې دخپلې تقوا او یاد دوی د نیکونو په وجه یې درناوی کیږي. دوروستنیو له ډلې څخه ډیر مشهوریې سیدان یا د حضرت محمد اولاده ده. لوړنی یې په مختلفو نومونو لکه درویشان، فقیران او داسې ډیرو نورو نومونو یادیږي. دغه نومونه دوی ته یا په اختیاري ډول ورکړل شوي دي یا ددوی دمذهبي رعایتو دهغه فرق په وجه ورکړل شوي دي چې په دوی کې په لوړه اندازه لیدل کیږي. دمثال په ډول ددوی یوه ډله د قلندر په نامه یادیږي چې نړدې ټول بربنډ وي، نوریې اخوا دیخوا گرزي او دمذهبي ځایو زیارت کوي یا په داسې حال کې چې ځینې نوریې دښارونو په منځ کې د پرهېزگارۍ او تقوا ژوند غوره کوي او په خاصو ځانگړو حجروکې عبادتونه کوي. په افغانستان کې په ټولو دورو کې ددغسې عبادت کوونکو درناوی شوی دی او د افغانستان نیمایي تاریخونه ددغسې زیاتو نارینه او ښځینه مقدسو کسانو په تصوړک دي، چې په دې ملك کې پیدا شوي دي. هغه ځایونه چې دغسې باتقوا کسان پکې ښخ شوي دي یا دا چې ددوی دفوق العاده ژوند په کارنامو سره یې نوم پیدا کړی دی، ترا وسه هم مقدس گڼل کیږي او دهریوه ډیر مشهور زیارت حتی دوینې دپور او انتقام له اخیستلو نه هم مبرادي. هغه احترام چې ددغسې مقدسو ځایونو دپاره ښودل کیږي، دیوسفزیو په عاداتو کې واضح دی. دوی تر نوروټولو قامونو څخه ډیر دېې قانونی ژوندلریا وکله چې کوم خیل یې جنگ ته روانیږي خپلې ښځې په یوه همدغسې مقدس ځای کې پریږدي، ترڅو چې دماتې په حال کې په امان وي.

ددغسې مقدسو کسانو شهرت او سمخ په زیاتیدو دی اود دوی دوطنوالو نادانی دغه تقدس ددوی د پیشگویي دتصوراتو اوخویونو اود دوی د معجزې ښودلو په قدرت پورې منسوب بولي حتی د لوړو طبقاتو اشخاص هم ددوی په پیشگویي گانو اعتقاد لري او پاچا دمملکت په ډیرو مهمو چارو کې له دوی سره مصلحت کوي. ځینو یې باید ځانونه پخپله حتماً په دروغو د غیب درجې ته رسولی وي(۹) مگر هغو دریو مشهورو پیرانو یې چې په پېښور کې دي،

---

(۹)- له دا سره دغسې یو کتاب شته چې دځمکنیو د مشهورو پیرمعجزې پکې ذکر دي دی د احمد شاه درانی روحانی پیرو. په دغه کتاب کې دهغو معجزو بیان دی چې په تیرو پنځوکلونو کې ښودل شوي دي. دا کتاب ماته دهمدغه پیرزوی را کړ او هغه چې دغه کتاب دهمدغه پیردژ وندا نه په وخت کې لیکل شوی دی اوډیرو علماوو دهغه تائید کړی دی دا مشکله ده چې دی له تقلب او غلطي نه مبرا کړل شي.

څه وخت چې زه هلته وم، دادعواهيڅ نه کوله چې له طبيعي حده څخه دي پورته قدرت ولري، دوی ته په ډېره درنه سترګه کتل کېدل او حتی پاچاهم نه غوښتل چې ددوی په حضور کې کښېني، مګر په هغه حال کې چې دوی به پرې ټينګار وکړ خو داسې ښکارېده چې دوی د دغسې درناوي څه پروانه ساتله او دوی، په ډېرې آزادۍ سره دحکومت په چارو بحث کاوه او دهغه او دملت ناوړه کړه يې غندل.

هغه يوازينی شی چې دوی يې د غسې لوړې درجې ته رسولی دي ددوی ښه باتقوا ژوندی. کله کله دوی ډېر لوی عالمان وي او هغه دوه لوی پيران چې ما وليدل نه يې مينه ښودله نه يې تندی تروه وه او له نورو خلکو نه په لوړو معتقدانو سلوکونو سره متمايز وو. (۱۰)

کيميا او جادو

يوازې په دغو کاذبو پيرانو عقيده لرل د پښتنو يوازې خرافات نه دي، ددوی د زر معتقدکېدلو او ساده لوحی ډېر مثالونه زما په دغه اثر کې را وړل شوي دي، مګر دلته يوازې هغه مثالونه راوړم چې هلته مې ذکر کړي نه دي .

ټول پښتانه په کيميا او جادو معتقددي او داسې خيال کوی چې هندوستانيان په دغه فن کې ډېر وارد دي. د پاچا امام په پرله پسې ډول د فيلسوف دډبرې په پلټنې پسې و څه وخت چې زه په پېښور کې وم ده په ډېر وخت دهغې د پيدا کولو د پاره هڅه

(۱۰) د پېښور يوه ډېر ستر پير، حاجي معين ما ته احوال واستوه او را نه يې وغوښتل چې په دې يې پوه کړم چې دارو پادېنداره خالك له کړاو نه ډك ژوند په څه ډول کوي. ده دغه احوال د يوه فارسيوان په لاس واستوه چې هغه د پاچا په هيئت کې برخه اخستله او د مذهب دغيروالی په وجه يې د سني مذهب متقيانو ته چندان احترام نه لاره کله چې ما ور ته وويل چې زموږ روحانی اشخاص ډېرو سختيو ته ځان ور کوي او په دې فکر دي چې د مذهبی او متقی ژوند په غوره کولو سره ځانونه خدای ته وسپاري هغه قاصد له ماڅخه دا هيله وکړه چې هغه پيرخوا شيني نه کړم او بلکه په ده دې بې خوښ کړم چې ووايم چې هغوی استغفار ونه وايی چې ممکن دی هم هغسې و کړي بيا ما ور ته يو وويل چې دارو پا په نورو برخو کې مذهبی متقيان ځانونه ډېرو سختيو ته نه ور کوي او څومره مې چې په ياد راتلل دهغو قصو ذکر مې ور ته وکړ چې دوی ځانونه په قمچينو وهي . هغه فارسيوان قاصد په له شيطنت نه ډکه موسکا سره له ما نه تشکر وکړ او ويې ويل يقين دی چې هغه حاجی به له ما څخه مشکور اوسی او له ما نه يې رخصت واخيست او په ظاهر کې په دې خوښ شو چې دهغه د پاره يې د سر ګرمی يوه موضوع پيدا کړه .

کوله او یوه هندي مسلمان چې تازه له مکې څخه ستون شوی و له هغه سره په دغه کار کې مرسته کوله. سره له دې چې په قران کی دغه کار ته ډېر بد ویل شوي دي، دغه امام بیا هم دغه کار باندې هره ورځ ډېر وخت تېراوه، ډېري پیسې یې دهغې په تهیه کولو باندې لګولې او په خپل مرستیال باندې یې پوره باور لاره او ډېره توجه یې ور ته کوله.

د پېښور یو او سېدونکی چې نږدې د شپېتو کالو دی او اوس زما په خدمت کې دی، څه وخت د مخه په پوهنه کی په یوې نجلۍ مین شو، دده وطنوالو په دغې هغتې کی دا کشفه کړه چې دی له یوه هندي سره په یوې خاصې کوټې کې په یو لړ داسې تجربو بوخت دی چې مقصد یې دخپلې مینې د زړه ګټل دي قندهار ته نږدې یو غار دی چې جمشید غار (۱) نومېږي داسې ښکاري چې دغار اخر سره سېلاب بند کړی وي؛ نو هغه سر ته یې رسېدل ممکن نه دي، مګر پښتانه داسې حکایت کوي چې وروسته له دې چې سړی په دغه غار کې تر یوه تیاره کلی حدوده سېږي د بادونو آواز او دجا ري شدیدو او بوشرهار یې تر غوږ شي او وړاندې تګ د توریالرونکی ا رابې له امله ناممکن شی، څکه چې دا په دغسې سرعت او زور سره څرخ خوري چې هر شی یې مخې ته ورشي نابودوي یې سره ددې هم څینو زړورو ماجراغوښتونکو په دغو بندیزونو غلبه وکړه او دغسې یوه باغ ته ننوتل چې په نړۍ کې یې ساری نه لاره. دوی ددغې په زړه پورې سمې شنېلی ، چمنو نه، څنګلو نه او هوادارو څا یونه ستایي او رنېو یالي او د هغه په زر رنګه صاف او ښکلي ګلان ترهرې هغې منظري څخه چې دانسان مخیله یې تصور کولی شی، پورته دي: په داسې حال کې چې ددغه باغ ښې مېوې عطرلرونکی وږمې او زړه خوښوونکې موسیقي چې پرله پسې انعکاس کوي، له هغو نورو ډېرو تصویرونو سره برابري کوي چې په اسلامي جنت کې ذکر شوي دي.

خبیثه ارواح

پښتانه په دې عقیده دي چې ددوی د ملك په لېرې چوپو غرو او مېروکې یوځا نګړی دیو اوسېږي چې دوی ورته غول بیابان وایي، دغه حیوان ددوی په فکر یوه ډېره ستره او وېره وونکې څېره لري او هر هغه لاروی خوري چې نصیب یې د هغه ځای ته ورولی، دوی همدغه روح ته دستر ګو هغه خطا منسو بیوې چې د دښتو په منځ کې دا و بوځې وینې او دوی خیال کوي چې هغه نژدې کېږي

(۱) دا په شمشیر غاروي نه جمشید غار. (مترجم)

چې هغه په بخت لاروی چې په دغه ډېر زګه سره خطاوزي ، ونه سي او توته توته يې کړي . (۱۲)

پښتانه د مړو خښولو ځايونو او هديروته په ډېر احترام قايل دي . د دوی هديرې کله کله د شعرې نوم ، د چو پو ښا رونو په نامه يادوي او هغه د ټالو ځالکو دا رواحو ځايونه بولي . د دوی په عقيده هر روح د خپل قبر په سر کښېني د مګر دغه فانی سترګې يې ليدلی نه شي او هريويې د هغو ښکلو ګلانو عطرونه لري چې د قبرونو په سر خړول شوي دي او د هغو سپېلنو عطرونه ور کوي چې پاتې خپلوان يې پري سوزوي . داسې هم ګوي په ډېرو نورو پېريانو او روحونو عقيده لري ، مګر ګمان نه کوم چې د دوی د مړو دا رواحو د منظرې په باب څه او ريدلی وي . سره د دې هم د خاورو لو مړيو خليفه ګانو مجالس ارواح په هغه جنګ کې چې د شيعه ګانو او سنيانو تر منځ شوی ، د کابل د ښار په يوه غره کې داور په جامو کې ليدل شوي دي .

پښتانه په خو بليد لو عقيده لري ، په دې کار کې دوی په کافي اندازه بې قيده دي چې په آسانی سره د خوب تعبير په هر به ښې تطبيقولی شي . ښايسته يوه مهم شخص ما ته وويل چې يو څه وخت چې دی د وفادارخان (د وخت صدراعظم) له غضب نه په تښته کې و ، وفادارخان يې په خوب کې وليد ده جامې ټولې توري وې لاسونه يې ريږديدل او ډومره ضعيف وچې وې . نه شو کولی په خپلولاسو خپل ملاوستې خلاص کړي . همدا چې خوب ليدونکی ويښ شو ، يو قاصدې کوټې ته ننوت او ور ته يې وويل يو څو ټک يې د ليدو د پاره راغلی دی د اسې خبر او رل شوی وچې وفادارخان خلع شوی او بندي شوی و .

غيب ويل

داسې هم د دوی ستورو ، ورغويو او خپرونه په غيب ويلو سره اينده په باب عجيبې پېشګويی کوي . په دوی کې د غيب ويلو ډېر عام شوي طرز دادی چې په رڼا کې د پسه د تيږه هډوکي ښې معاينه کړي . دا عمل که څه هم د تعليمياقته خلکو له خوا اجرا کېږي زمونږ د خلکو د قهوې له ځکو (پتی) څخه د اينده د کشفولو په تناسب نه ډېر تخيل غواړي او نه د سړي فهم پخوي . داسې هم پښتانه په چې اجولو سره طالع وينې او هغه اله يوه ډېر کش څخه د غټې د بې احتياطه غوزارولو له موقف څخه معلوموي . دوی مخصوصاً د تسبېحو په شمولو سره بخت وينې . په داسې حال کې چې دوی تسبېح په لاس کې نيسي يو خيال ياطرح په فکر کې ګرزوي او د هغه په

(۱۲) پښتانه له دغه عام شوي خرافات څخه د کوم جلا شوی نوم د خپل سرتوب په باب وايي چې دوی غول بيابان يعنې د وجو ميرو د ديوانو په شان دي .

زړه پورې یا معکوسه نتیجه د هغو تسبیح دانو نه معلومیږي چې دوی ته په لاس ورځي، چې د تسبیح و له شروع نه هغه جفت یا طاق وي. له ۱۸۰۹ نه وروسته هغه وخت چې شاه شجاع له خپل مخالف سره په مجادله کې و د هغه یوه فارسیوان او وزیر له ما سره په مرکې کې وویل چې دی قوي دلایل په لاس لري چې شاه شجاع به په خپل رقیب بریالی شي. ما د ده خبرو ته په ځیر غوږ نیولی وا و هیله من وم چې بلې خوا له ځینو لویانو سره هم مفاهمه وکړم. ډیر متعجب شوم چې د هغه وزیر د غه یقین د غیښو د موقف د فال نتیجه وه. هغه زما د غه خواشیني درک کړه او د هغې د رفع د پاره یې را ته وویل چې زما په شان دی هم د غیب ویلو په دغه مزخرف طرز هیڅ عقیده نه لري، خو د غه طرز ډیر ولویانو تطبیق کړی او ویله کیږي چې هیڅ نه ناکامه کیږي.

پښتانه که څه هم له نوروار خونو څخه په غیب ویلو ډیره عقیده لري اسمان ته د دغې التماسو ضرورت نه وینی او په خوا له دې چې په کوم کار پیل وکړي، توکل په خدای وایي. خپل سفر زیاتره په یوې لنډې دعا سره شروع کوي په دوی کې دا یو عمومي رواج دی چې کوم وخت چې یو څوک په کوم سفر یا کار لاس پورې کوي هغه ته وایي چې ((توکل په خدای وکړه او راونیږه.)).

فال لیدل

په پښتنو کې یوه ډیره ظریفه طریقه چې په هغې سره د راتلونکو پیښو پیش بیني کیږي، هغه ده چې زمونږ د خلکو له سورتیس ورجیلانس Sortes Virglianee سره ورته والی لري. د غه طریقه په اتفاقي ډول سره د یوه کتاب په خلاصولو سره شروع کیږي او هغه خطونه لوستل کیږي چې د خلاصو ونکي ستر ګې پرې لګیږي قران د دغه مقصد د پاره تر ټولو مهم کتاب دی او د غه طرز ا جرا کو ونکي یا پدروژه ولري او یه او دسه روژه نیول او په اودسه ګرزیدل په حقیقت کې د ټولو غیب ویلو او فال لیدلو یو ضروري شرط ګڼل کیږي. له قران نه غیر له نورو کتابو نه هم د دغه مقصد د پاره استفاده کیږي، د حافظ اشعار د قران په څیر ډیر عام دي. د غه لاندني خوږه اتفاقي پیښه یوه چا ته په لاهور کې پیښه شوې ده د هغو مشکلاتو په ابتدا کې چې په اخر کې یې شاه زمان پاچایی له لاسه ورکړه، د حافظ په اشعارو فال ولید او له دری کالو کډوډیو وروسته بیا شاه شجاع پاچا شو. د هغه مقصد دا و چې په اخر کې به د تیمورشاه کوم زوی تخت و کټي او د کتاب له خلاصولو نه وروسته یې ستر ګې په دغه نظم ولګیدلې.

سحر ز عاطف غیبم رسید مژده بګوش   که دور شاهی شجاع است می دلیر بنوش

پښتانه د تعویذو نو په قدرت او په پریانو باندې د نفو د پیداکولو په امکان او په داسې نورو مزخرفاتو او اوهامو هم عقیده لري، مګر ما د هغوی د ماهیت په باب کافي مثالونه بیان کړي دي.

شپږم فصل

مېلمه پالنه د ډاډه ماری عادتونه او نور

مېلمه پالنه

د پښتنو د پادونې ور خصوصیتو نو څخه هم مېلمه پالنه ده. د اعادت په دوی کې یو داسې ملی افتخار ګرزیدلی دی چې که څوك د غسې احساس و نه لري هغه په دې تومتې کېږي چې پښتو نولی نه لري، ټول کسان بې له کوم توپیر نه له د غه عادت نه د استفادې حق لري او که یو څوك په ټول ملك کې په تش لاس سفر و کړي هیڅکله به بې ډوډی پاتې نه شی، خو ښا یې چې په ښا رونو کې بې ډوډی پاتې شی. د یوه پښتانه د پاره تر دې بل سپکاوی نشته چې یو بل څوك د ده مېلمه بوځی. مګر د ده قهر مېلمه ته نه متوجه کېږي، بلکې هغه چاته متوجه کېږي چې د ده مېلمه بیایی. د مېلمه پالنې ټول تفصیلات به هغه وخت چې د قومو تو شرح او بیان کېږي، راشی، د لته یوازې د مېلمه پالنې په اصولو رنا اچوله کېږي.

ننواتې د پښتو یو خاص عادت دی. که یو څوك وغواړي له یوه بل چا نه د څه شي غوښتنه و کړي، د هغه کور یا خېمې ته ننوزي او تر هغو د هغه په فرش له کښیناستلو او له ډوډی خوړلو نه ډه ډه کوي چې غوښتنې ته یې د هو ځواب و نه ویلی شوي. که دی د هغه غوښتنه رد کړي، د ده عزت ته لویه صدمه ده. د اعادت په دوی کې د ومره قوي دی چې څه وخت یو څوك نږدې د د ښمنو په لاس وځی، دی د یوه بل سړي کورته په ننواتې ځی او د ننګې غوښتنه کوي. د کورخا وند ځان مجبور وینی چې ننواتې یې و منی. دی یوازې هغه وخت ننواتې نه منی چې یاد و مره عاجزوي چې

نه شي کولی په موضوع کې هيڅ راز مداخله وکړي او يا داچې داسې شرایط موجود وي چې دهغه مداخله نا موزنه ګرزوي (۱)

ترهغه يو ډير ايا اغيزمن رواج دادی چې ښځه خپل پورنی دیوه پښتانه کورته واستوي او له هغه نه يا دخپل خان او يا دخپلې کورنۍ دپاره مرسته و غواړي.
دهمدغه رواج په برکت وچې د تيمورشاه ملکه په سرفرازخان دوزير فتح خان په پلار موثره شوه او دخپل زوی شاه زمان په پاچا کيدو کې يې دهغه مرسته جلب کړه.
دغه پيښه يعنې دزمان شاه پاچا کيدل په زياته اندازه دسر فرازخان دملاتړ په وجه وشوه.

دغه وروستی رواج دمېلمه پالنې له قوانينو سره څه اړه نه اري، بلکې دا يوازې هغه قانون دی چې څه وخت يو څوك دکوم پښتون په کورکې ننوځي، دهغه ساتنه کيږي. دیوه چا ډير سخت غليم هغه وخت چې دهغه تر سيوري لاندې وي محفوظ ګڼل کيږي، يونانا اشنا سړی څه وخت چې دیوه پښتون خيمې يا کورته ننوتی وي، تر هغو دهغه دخاوندتر حفاظت لاندې وي، چې دی دهغه په کلی کې او سيږي. له دغه اصل څخه دیوه فراري دساتنې او مدافعې وجيبه منځ ته راځي ـ که څه هم جرم هرڅه وي همدغه سبب دی چې له يوه ولس څخه بل ولس ته د ښځو، تښتول او دوژونکو ننواتی غوښتل دفرار په کومی ورته پيښې کې ډير پيښيږي.

---

(۱) ساته په اول سرکې داسې ښکاره شوه چې دننواتې او هندیا نودد رنا dharna د رواج ترمنځ يو څه ورته والی شته. مګر دادواړه رواجونه سره بيل دي. ددرنا درواج له مخې دواړه خواوې روژه نسي او په پای کې لوږه دوی موافقې کولو ته مجبوروي. برخلاف په ننواتې کې په هيڅ خوا باندې دنه خوړ نې اجبار نشته او ددغه رواج قوت يوازې دهغه چاعزت باندې اثرلري چې يو څوك ورته په ننواتې ځی.

ننواتې لږوډېرد رومیانو د رواج په شان دی. دوميانو د رواج په اساس يو عارض دیوه چا کورته ننواته، په داسې حال کې چې سر به يې پټ و، دهغه په کورکې غلی کښيناسته. د يونانيانو د رواج هم له ننواتې سره ورته و. د سرسی circe په مقابل کې ديولی سيس ulysses رويه، چې ده دهغې په ميلمستيا کې له کلهون کو او نه انکار کوي، مګر هغه وخت چې هغې دده رفيقان زره تنګی کړل هم دننواتې له رواج سره پوره مطابقت اري.

(و ډ ك. (قصيده ۳۷۵)

مگر هغه حفاظت چې د میلمه پالنې قوانین یې مجاز بولي، د یوه کلي او یا په نهایت کې د یوه قوم په حدود کې دننه وي او له هغو څخه تجاوز نه کوي او د پښتنو د داره مارو قومونو په باب داسې ثبیت شوي مثالونه ډېر دي چې لوېږي ډوه فراري ته پناه ورکړ شوې ده او له هوغا تو نو سره رخصت شوی دی مګر څه وخت چې هغه د حفاظت له حدودو نه بهر منډل شوی دي شکول شوی دی (۲)

د یوه اروپايي د پاره ډېره عجیبه معلومېږي چې هغه به دوه ارځیزه سلوکونه چې اروېږو د کوربه او میلمه ترمنځ کېږي د دوی ترمنځ به داسې روابط پیدا نه کړي چې وروسته له دې چې د میلمه پالنې د تولو ادا بو مراعات شوي وي دوی پوبل ته له ضرر رسولو نه ډډه و نه کړي په حقیقت کې د پښتنو د کرکټر په باب ترهر بل څیز نه په دې پوهېدل ډېر مشکل دي چې د نا اشنا خلکو په مقابل کې د دوی سلوک د زړه سواندی او بې رحمی او سخاوت او حرص یو مخلوط دی داسې ښکاري چې د دوی د مملکت په هغو برخو کې چې هلته حکومت ضعیف دی د لاروی چوروول یو منل شوی کار ګڼي، په داسې حال کې چې د دوی په نورو لحاظونو لاروی سره د مهربانی او لطف نه ډک سلوک کوي . د دوی نظر د حقوقو رعایت نه بخشش ورکولو ته دومره ډېر متمایل دي چې هغه پښتون د دې په ځای چې یو لاروی له خپلې چېنې څخه چې که یې لري محروم کړي، هغه ته یې که یې هیڅ نه لري د بخشش په ډول ور کړي . که د ځه تناقضات بوازې د دوی په خپل ملك کې ښکاره کېدلی د دوی سلوک به ممکن په دې تعبیر شوی وای چې د وی له شتوسره طبیعي علاقه لري او د میلمنو عزت او احترام ساتي . مګر موږ به د یوه نا اشنا سړي په مقابل کې د دوی سلوک په ډېره باندنی ملك کې څنګه شرح کړو چې هلته هغه په د وی د میلمه پالنې حق نه شي لرلای . په خارج کې یا په داخل کې د پردیو په مقابل کې د پښتنو د سلوك په باب چې زه څه ثقه معلومات په لاس لرم ټول یې د هغه وخت چې دوی له دغو اصولو څخه د سر غړونې محرکات نه لري د انسان پالنې او مهذب توب انتباه ورکوي . مګر هغه وخت چې د یوه لاروي د شکولو موقع موجوده وي او حتی څه وخت چې د هغه په غولولو سره ډېر څه په لاس را تللی شي د پښتنو په سلوك کې یا د عدالت او ښه نیت اثار نه لیدل کېږي . حقیقت دادی چې د ځه ښه خوی نه د عمومي مهربانی لازمی ملګري نه دي . او موږ باید هم د یوه نشته والی د بل له غیبت نه پیدا و نه بولو . ممکن عدالت او ښه نیت سره یو ځای پیدا نه شي ، مګر یوازې هغه وخت چې د هغو حمایه د حکومت په قوانینو سره کېږي، په داسې حال کې عین هغه

(۲) د دغې روحیې یو واضح مثال ډېره ښه د ته زمونږ د هیت د د غړو په سفر کې ذکر شوی دی.

شرایط چې د هغو له مخې جامعه خپل افراد په خپلو کې ازاد پرېږدي هغوی په دې مجبوروي چې یوه په بل اتکا وکړي او یو بل ته لاس ورکړي.

ممکن د همدغه وروستي علت په اساس مونږ په ژوندانه کې د عمومي انسان پالنې دوړو ټکو په باب د انګلیسانو په عین صفت باندې د ډېرو اسیاییانو په لوړوالي قایل شو په داسې حال کې چې په نورو صفتونو کې انګلیسان تر ډېره لوړ دي.

د اړه‌ماری:

داسې ښکاري چې د لارویو د چوریدو د ډېروالي د پښتونولۍ د قانون له نیمګړتیا وڅخه راولاړېږي. د پښتونولۍ قانون مظلوم د پاره د عدالت د خوندي کولو په منظور په خپله د هغه او د هغه د خپلوانو او قامونو په زیاتو او قوت اتکا کوي او څنګه چې یولاروی نه قوم او نه خپلوان لري د هغه د ساتنې د پاره څه مقررات نه دي ایښودل شوي د دغه فرضیې د اثبات د پاره باید وویل شي چې پښتانه په عمومي ډول نه د خپل کاونډیو ملکونه چوري او نه هغه کسان شکوي چې د دوی د ملک په کومې برخې کې ژوند کوي او یوازې لاروي شکول کېږي. د لوټ ماری دغه عادت د ملک په بېلو بېلو برخو کې په مختلفو درجو غلبه لري، د پاچا حکومت د ټولو خلکو ساتنه تر هغه ځایه چې یې د قدرت لاس غځېدلی وي، په ښه شان کوي. په نتیجه کې، هغه وخت چې حکومت په ځای وي، یو څوک له لوټ خطر سره مخامخ کېږي، مګر یوازې په هغه قومونو کې چې د هغوی موقعیت دوی په دې قادر کړ-زوي چې له حکومت سره ډغرې ووهي. د دې په خلاف د داخلي جنګو په دوران کې ټول مملکت له قید څخه آزاد ګرزي او یولاروی څنګه چې د وزیرستان په غرو کې شکول کېږي، هغسې کابل ته نږدې هم چورېږي بې له دې چې شکوونکي یې څه جزا وویني. مګر د حکومت ښه تنظیم د مملکت په هغو برخو کې چې اوسېدونکي یې معمولاً میشته دي خلک له دې افراط څخه منع کوي او په غالب ګمان په دوی کې یوازې ډېر بد عناصر د خپل داره‌ماری عادت ته هغسې دوام ورکوي.

هغه قومونه چې د مملکت په لویدیځ کې په داره ماري عادي دي د درانو د اڅکزي ښاخ او بلوچستان او فارس ته نږدې د ښتو کې میشته نورزیان او د هغه توچې غلزي دي چې د پاراپامیزوس د غرو په یوې برخې کې میشته دي. د نورو قومونو له ملکه یولاروی په ډېر ډېر مصئونیت تېرېدلی شي، مګر په هغه وخت کې چې نارامي ډېره وي. ممکن د مملکت دوام لرونکی نارامي کانې په دغه باب د دوی کرکتر لا هم په بدو واړوي. ویل کېږي چې د مملکت په لویدیځ کې مالدار قومونه نظر هغو قومونو ته چې په کرنه ژوند کوي، غلا او لوټ ماری ته ډېر تمایل دي

دمسلمان دغرو ټول قومونه په تيره بيا خيبريان (۳) اوو زير په دار ه ماري کې ډير بدنوم لري او دوی دغه کار دخپل داخلي حکومت دشرايطو په وجه کوي دختيځ نور ټول پښتانه چې څه وخت وغواړي لوټماري ته ميلان کوي چې له دوی سره دحکومت دارنه وي، په لويو لارو کې پر ناورځ شکاونه کوي. څه وخت چې دوی ځانونه ډير مصوونه وينی، په تجارتی مالونو ډير محصولونه ږدي او يا په دغسې ډول سره خواست کوې چې رد يې نه کيږي او کله چې دوی دلوټ ماری جرئت نه لري غلا کوي مگر دښارونو په شاوخوا لريو فاصلو کې يولار وی د حکومت د محافظت په وجه شايسته محفوظ دی.

مصوونيتونه

له خيبريانونه غير په نورو قومونو کې دامکنه ده چې دهغوی له مشرانو سره دموافقې په اساس دهغوی له سيمونه نه د تيريدلو په غرض دمصوونيت ضمانت حاصل شی. دغسې سترو مې مشران دوړو بخششو په مقابل کې يوچا ته يوه وړه بدرگه تهيه کوي اودهغې ترحمايې لاندې په پوره ډاډ سفر کوي په ډيرو قومونو کې يوازې يوه کسيزه بدرگه کفايت کوي، خو چيرته چې داخلي حکومت ډير ضعيف وي، په کوم ځای کې چې دچوريدو دارتوې وي دهغه مال دمقدار په تناسب چې بايد لمساتنه يې وشی دبدرگې يوه ډله برابريږي. دياد وني ورده چې دغه ترتيبونه په ټولو هغو قومونو کې هم چې له پاچايی سره ډير لږ ارتباط لري اومعمولا ددارهماری قوي خويونه لري، ښه اغيزمن دی په دغو قومونو کې داسې کنمله کيږي چې ولس له يوه لاروي سره هيڅ اړيکی نه لري او ځان ازاد بولی چې په هغه حمله وکړي اوداسې فکرموجود دی چې دغسې حمله ديوه غير تمن جنگ په حيث شميرله کيږي (٤) مگر کله چې دوی دسا تنې ژمنه کړې وي، دوی ځان مجبور گڼی چې هغه ترسره کړي له بلې خوا دتابعو قومونو خلک د لوټماری په جرم ښه خبر دي او کله چې د دوی کوم قوم دو سره فاسد شوي وي چې په هغه لاس پورې کړي له دوی څخه د عزت د کم احساس توقع کيږي.

(۳) له خيبريانو څخه مطلب شنواري، مهمند اواپريدي دي. (مترجم)

(٤) په پخوانی يونان کې د خويونو اونظريو مشابه حال دپاره وگوري د توسيدتس (Thucy dites) اثر لومړي کتاب پنځم فصل.

د پښتنو د ښه نوم په افتخار باید وویل شي چې په ټولو موضوعاتو کې د دوی دار ه ماری هیڅکله له وژلو سره نه کړ که چن کیږي . یوڅوک ممکن د خپل مال په دفاع کې ځان بایلي، مګر کله چې مقاومت و نه کړي نه وژل کیږي .

زه د داخلي جنګو په جریان کې د دوار و خواوو د مشرانو له خوا د کاروانو د چور-ولو په باب نه غوارم څه ووایم. دا دیوه مصلحت په حیث ګڼل کیږي او یوازې د ضرورت له مخې په ښو وختو کې د بیرته ورکولو د وعدې له مخې جایز بلل کیږي .

اووم فصل

د پښتنو خوېونه، عادتونه او کرکټر

د مالدارۍ ژوند

د پښتنو د ژوند طرز په ټول ملک کې يو شان نه دی او د ټولو عادتو د پاره زه بايد قومونه بيا په مفصل ډول شرح کړم، مګر په دغه ځای کې به زه د خپل پلان له مخې د هغه څه ذکر وکړم چې په ټولو کې په مشترک ډول وجود ولري. لازمه بولم د اختلاف يو لوی علت حتی هم د غلته ذکر کړم. د غه اختلاف د خېمو او کورونو په اوسېدونکو سره د دغه ملت ويش دی. هغه چې په عمومی ډول په خېمو کې ژوند کوي د مملکت په لويديځ کې مېندل کېږي او نژدې د دغو اوسېدونکو نيمايي برخه تشکيلوي، خو څنګه چې خلک د مملکت په ختيځ کې په کورونو کې ژوند کوي، د دوی تناسب بايد په ټول ملت کې حتماً ډېر وي. په غالب ګمان د خېمې اوسېدونکو شمېر ډېر اټکل شوی دی او زه په دې فکر يم چې د دوی شمېر لا هم لږ اټکل شوی. دا ښکاري چې هغه اسانتيا چې په هغې سره قومونو په پخوا زمانو کې د اوسېدو ځايونه بدل کړي، له هغه فکر سره تصادم کوي چې ګواکې دوی ټول کوچيان او مالداران وو، او په خېمو کې يې ژوند کاوه، که څه هم چې له دې څخه انکار نه کېږي چې په زراعتي قومونو کې هم لوی مهاجرتونه پېښ شوي دي.

د خاص فارس له پولو څخه د هندوستان تر سرحد پورې د يوسفزيو له پولو پورې په يوه بل ځای کې بيان شوي دي. دا هم معلومه ده چې د پېښور شا وخوا نور قومونه د خراسان له ختيځ څخه خپل اوسني ځای ته کوچېدلي دي تر هغه هم به وروسته دوره کې غلزيان د خپلو ملکو له زيات تر څو برخو څخه د نادرشا په حکم وکوچول شول او د دوی د درانيو د يوې برخې د پاره ځای برابر کړ. مګر دا يو اجباري

انتقال وه، چې د يوه قوي فاتح له خوا نافذ شو او په يوې پېړۍ کې د خپلې رضا مهاجرت پېښ شوی نه دی. څنګه چې ما ته ښکاري دا هغه ثبوت دی چې د هغه له مخې سړی ويلی شي، د غو خلکو د کرنې ژوند غوره کړی دی او دا راز ژوند دوی طبعاً په مځکې پورې تړي. ممکن دا دومره واضحه نه وي چې دغه ميلان په دوی کې تراوسه هم قوي وي، خو يو شمېر خلک که څه هم تر اوسه په غرو کې ژوند کوي او د مالدارۍ ژوند لري بيا هم له خپلو مځکو څخه هيڅکله نه بېلېږي.

دا په هر ګند ډول ښکاري چې دا له موسمي حرکت او د اوړي په کاله کې د يوې تودې مځکې له کرلو څخه د دايمي اقامت د پاره تر کورونو جوړولو پورې د دوی د ترقي مرحله او د اسې. د دې يو تازه مثال دستورياڼو يا د هغه قوم مثال دی چې د مالدارۍ ژوند يې د کرنې ژوند پاره پرې ايښی دی. خو له بلې خوا د اسې خلکو د مثالونو کمی نه شته چې مېشته ژوند يې د کوچيتوب په ژوند بدل کړی دغ. دا وسني يو سياحانو يو ډېر دقيق او يو ګرځنده ويلي دي چې عادت ممکن د کوچي توب ژوند په زړه پورې وګرځوي، سره د دې چې هم يوازې دوه علتونه موجود دي چې په اومړي سر کې يې خلک رابلي دي چې د کوچيتوب ژوند غوره کړي.

۱ ـ د خلکو د ملک د خاورې خرابوالی چې دوی يې مجبور کړي دي د ژوند دلتې د پاره لرې ځايو ته کوچ وکړي.

۲ ـ د خراب حکومت چال چلند چې د هغو په اثر خلک ځان مجبور ونيسي له ظلم څخه وتښتي په غرض د اوسېدو ځايونه زيات تره بدل کړي «۱» زه بايد په دې اعتراف وکړم چې د پښتنو مثال ما د يته نه بولي چې د دوی له نظر سره موافقه وکړم. ما ته داسې ښکاري چې پښتنو ته د مالدارۍ ژوند ښه په زړه پورې دی. دغه خلک په خپلې خوښې سره د مالدارۍ ژوند غوره کوي او په ارمان سره يې پرېږدي. او مونږ بايد دا چې دغه قومونه په نادره ول خپلې مځکې پرېږدي او د کوچي توب ژوند غوره کوي د دوی عادت ته منسوب وبولو. د کوچيتوب او مالدارۍ ژوند پرسېره پردې چې خلکو ته د حکومت له ظلم او تعدي څخه نجات ورکوي (د اخلا-صون يوازې د کوچيو قومونو د پاره منحصر نه دی) نورې ډېرې ګټې هم لري د کوچيتوب ژوند آسان مصون او آزاد دی، کوچيانو ته ډېر څه مهيا دي بې له دې چې له دوی نه ډېر کار وغوښتل شي، د دوی د مختلفو اقليمونو ګټې سره يو ګوي

«۱» واليني سفر Voyage par Volney، فصل «XX III» در بمه برخه. زه د غه ليکوال نوم بې له دې چې د هغه لياقت ته د خپل احترام يوه برخه واستوم، نه شم ذکر کولی.

او د کهالی له بې مزې ژوندڅخه د مناظرو وخت په وخت تغییر او د دا یمی سپورتی ژوند په کولو سره خلاصون ممکن ګرزوي. داسې هم کوچیان، په دې چې د مملکت په ډېرو برخو کې خواره دي د خپل داخلي حکومت له قیده نه ترډېرې اندازې آزاد دي.

پوهو کوونکي چې د اصل نسب له مخې سره ډېر نږدې وي او په یوې دامې پراخې سیمې کې اوسي چې د دوی تر احتیاجاتو زیات محصولات تهیه کوي د دوی د خپلې آرامی د ساتنې د پاره حکومت ته ضرورت نه پیدا کوي د یوه آزاد انسان موقف به که څه هم دولس تر محدود کنترول لاندې شایي بیا هم وي، مګر د هغه انسان له حال سره نه شي مقایسه کېدی چې په داسې ټولنې کې ژوندا ري چې هم د حکومت له کنترول او هم د دانارشی له بې نظمیو څخه مامون وي. د دغسې حدودو ژوندانه د طرز ترک کولو یولوی علت چې ماته معلوم شوې، هغه دی چې ا م و ال نی M.Volney شف کړی او هغه د ژوندانه د تامینولو ستونزې دی.

دغه سختی باید حتماد ېر شمېر کړوندګرو په خلاف د هغه تیا کلی شمېر شپنو له خوا په زیاته اندازه احساس شی او په دې ډول یوازې هغه وخت چې نفوس په تناسب محدود وګرزی، د مالداری ژوند په زړه پورې کېدای شی.

دانسا نانو او څارویو زیاتوالی زرد یوې خاصې سیمې د څړځای په باب شخړې اولانجې پیداکوي او هرشپون هغه وخت چې حدود تنګ شوی او خپلې اړتیاوې ډیرې شوې وویني د خپل ژوندانه د برابرولو د پاره ځان مجبوروينې چې د ځمکې په کرلو هم پیل وکړي. دا هغه تغییردی چې په هغه سره تر لسو میلو سفرڅخه چې تر اوسه یې کول شل جریبه ځمکه د لیا زیاتو انسانانو د پاره د ژوند مواد تهیه کولی شی. زه نه غواړم چې له دې نه انکار وکړم چې داسې ملکو نه شته چې د کرنې د پاره مساعد نه دی او خلک یې مجبوردي په مالداری سره ژوند وکړي یا دا چې ظالم او خراب حکومت به د دغسې ملک اوسیدونکې مجبور کړي چې د ژوندانه دغه طرز غوره کړي، مګر زه وایم چې داسې نور ترغیب کوونکی عوامل شته چې د خپله د ژوندانه له ماهیت څخه ولاړېږي او زه په ټولو ګرزنده قومونو باندې د هغه نظر په عمومی کولو انتقادارم چې د سوریې د ملک په باب صدق لري.

د عامو خلکو کورونه

له دې وروسته به افغانستان کې د شپنو د خیمو بیان وشی، اکه هسې چې د کورونو بیل بیل انواع به شرح کړل شی. کورونه په ډېر عام ډول له خامو خښتو څخه جوړ او پوښ یزدي بامونه یې هواردي چې یا په دستکو نو تنو یه شوي او یا له دغسې ګنډو څخه جوړ دي چې مواد یې عینا د دیوالو د موادو په شان دي، څنګه چې

میزونه او څو کې رواج نه لري د ناستې د پاره يې له سختورين ګیلم يا د لمڅيو ځینو تو تو نه غیر د کورونو فرش یا لږ دي یا هیڅ نه شته (۲)

بردرانیان په داسې کټکیو کښېني چې لاندینی برخه یې له څرمنې یا رسۍ نه جوړه وي او ښاري خلك زیاتره د یوې خونې په کنج کې په سفه باندې ناسته ولاړه کوي خو خلك په عمومي ډول په مځکه کښېني.

څه وخت چې خلك په آرام او راحت وي، پلتۍ وهي او یا خپل لینګی په هر قسم چې ورته په زړه پورې وي غزوي، مګر څه وخت چې لږ تشریفاتي مراسم هم په کاروي لږ څه په رسمي ډول کښېني، په دې حال د دوی زنګنونه جګ او لنګی یې ترې لاندې او په کالیو کې پوره پټ وي یو اروپایی په دې ډول کښېناستلی نه شي.

مګر د آسیا یانو مفصلونه داسې نرم دي چې که څه هم د دوی لینګی په مځکې باندې څوړ پډ لي وي، دوی په همدې تر تیب سره بې د نارامۍ له احساس څخه په ور ځوور ځونا ستوي.

دوخت تیرولو طرز

د ناستې په حال کې د پښتنو عادي کار خبرې کول دي. په دغه حال کې کله کله دوی چلم څکوي او له یو څو پو فو وروسته یې په ځای ږدي. په افغانستان کې ډیر عام چلم چې د ختو څخه جوړ دی د یوه پراخ بوتل په څیر دی چې غاړه یې یا هم پراخه وي. د شتمنو چلمونه ډولي او رنګه وي، زیاتره یې له زیړو او هم له ښېښو څخه جوړ دي او په ګلانو ښکلي شوي دي. چلم له او بو نه ډکېږي او د لرګیو د وه ښکلي شوي درمې (د نې د قلم په څیر) په کې ننه استل کېږي. یوه یې عمودي او په سر کې یې مر خانه وي چې هلته تمباکو او اور ایښودل کېږي.

(۲) څنګه چې زه وروسته د دغه ډول ایمڅي ذکر ډیر کوم ښه به دا وي چې دلته یې شرحه کړم. لیمڅي له وړیو څخه چې په عمومي ډول د کلیو وړینو شالونو او توروو وړینو مصنوعاتو څخه لاس ته راوړل کېږي، جوړېږي. لمڅي د ښځو په لاس داسې جوړېږي چې هغوی اول وړی لمدوي، بیا پرې کار کوي او تر هغو یې وراندې او وروسته په څنګلو سره تاووې چې یو منظم شکل غوره کړي یا یې په هغه اندازه چې غواړي غوړوي او څه وخت چې دا کار خلاص شي دیوه انچ له څلورمې څخه تر نیمایی پورې پړیړشي او ښه نرم او پوست وي. هغه لیمڅي خلك یې اغوندي تر هغو هم نري وي. د لیمڅي عمومي رنګ خاورین او توروې مګر هغه چې د شتمنو په کورونو کې استعمالیږي او ښه تینګ وي په روښانه نصواري او د ګلانو په رنګه طرحو ښکلي شوي وي ه

له هغه بل څخه دود چې له او بو څخه تیر شوی وي کښېږي. دود چې له دغو او بو څخه تیر شوی وي لږ څه سوړ او له وړو کښې فو زرو څخه چې له هغه نه غیر به یې ولري پارك، وي ټول فارسیوانان د غه راز چلم دور ځي په لنډو وقفو کې څکوي دوی دخپل چلم د ښکلا په باب تر پښتنو ډېر متوجه دي. پښتانه هغه اهمیت چې فارسیوانان یې چلم ته ور کوي په ښکته سترګه ګوري او ورپورې خاندي. دوی قصه کوي چې دیوه سفر په پای کې د دغه ملت له یو څو کسو څخه و پوښتل شول چې سفر یې څنګه و، دوی وویل چې سفر مو ډېر ښه و، مګر یوازې د چلم د نشته والی له امله په زحمت وو، له دغو دولسو کسو سره چې د سفر له پاره یې جوړه کړې وه یوولس چلمونه وو.

چلم او نصوار

پښتانه د فارس د خلکو په اندازه په چلم څکولو عادي نه دي او زیاتره یې له تنباکو څخه په دغه ډول استفاده نه کوي.

د افغانستان په کلیو کې زیاتره د یوه لوی چلم څخه چې په یوې حجرې او یا بل کوم عمومي ځای کې د عموم د استفادې د پاره ایښود ل شوی وي بل چلم نه وي، پښتانه د چلم په ځای نصوار کوي او دوی په نصوار کولو ډیر عادي دي د دوی نصوار د سکات لینډیانو د نصوارو په شان وچ او ښه دي او زمونږ په شان یې دوی په هوارو قطیو کې نه اچوي بلکې د هګۍ په شکل په ګردو ډبلیو کې یې ساتي. د دوی د نصوارو ډبلۍ د میوله پوټکو څخه جوړوي چې دوی یې بلاغونه او هندوستانیان یې بیل bail بولي او د همدغه مقصد د پاره په زیاته اندازه له هندوستان څخه واردیږي. دغه قطۍ د نصوارو ایستلو د پاره پوښ نه لري، بلکې په څوکه کې یو سوری لري، کله د غه ډبلۍ په ډیر مهارت سره ښه ښکلې شوی وي.

د میلمنو هرکلی او ناری

څه وخت چې میلمه د چا کره ځي سلام علیکم وایي او وعلیکم السلام ورته د ځواب په توګه ویل کیږي. د کور خاوند بیا و لاړیږي د میله لاسو نه په خپلو لاسو کې نیسي او ورته وایي «ښه راغلې، هرکله راشې» او د اسې نو ر میلمه بیا وایي «ښه په خیر یې» د کور خښتن وروسته میلمه ته د ناستې ځای ښیي او څه وخت چې دوی ټول کښېناستل کور به د خپل میلمه د صحت پوښتنه کوي او ور سره په خبرو کولو پیل کوي. د غسې مراسم حتی د ډیر و غریبو پښتنو له خوا هم تر سره کیږي، خو هغه وخت چې د غه مراسم اجرا شول پښتانه نو بیا تر ټولو خلکو نه ډېر بې تکلفه وي. په عمومي ډول دوی تر یوې اندازې پورې سنګیني لري، خو د غسې سنګیني هیڅکله د آزادو

او خندانه ډکې مرکې مسخه نه نیسي او کله کله په عین غمګیني کې دوی په ډکه خوله خاندي . (۳)

پښتانه ښه خوش مشرب خلک دي . دوی برسیره په هغو لویو میلمستیاوو چې په ودونو او همداسې نورو مواقعو کې ورکولې کیږي ، د پنځو یا شپږو کسو د پاره ناری کوي او زیاتره وخت چې یې په وسه کې وي پسه حلالوي . د میلمنو هرکلی په هغو مراسمو سره کیږي چې ما یې بیان وکړ .

څه وخت چې ټول میلمانه راغلي وي ، د کور خاوند یا د هغه د کورنۍ کوم بل غړی د میلمنو لاس ته پرې مینځي او بیا ډوډۍ راوړله کیږي ، ډوډۍ په عمومي ډول له زوښیدلي غوښې او شوروا څخه چې غوښه پکې زوښیدلې وي متشکله وي ، له مالګې او کله کله له مرچو نه غیر نور اضافي شیان نه لري . دوی د غه شوروا له ډوډۍ سره چې دوی یې پکې خښتوي ، خوري او ویل کیږي چې د غه ترکیب ښه مزه داره دی . څښاک شړومبې یا شربت وي . دوی په ځینو ځایو کې یو راز شراب چې دوزې له شیدو څخه جوړوي څښي ، ویل کیږي چې د غه شراب که نیشه راوستونکې خاصه نه لري ، ښه تودوونکی صفت لري . د کور به د خوراک په وخت کې د خوراکو سپارښتنه کوي او میلمنو ته په ټینګښت کوي چې ډیره وخوري او څه پرې نه ږدي ځکه چې ډوډۍ ډیره وي . تر ډوډۍ د مخه او وروسته دعا کوي او څه وخت چې هر څه پای ته ورسیدل میلمانه کور به ته کوروداني وایي .

قصې او غزلې

له ډوډۍ نه وروسته دوی کښیني او چلم څکوي او یا د قصې او بدلو ویلو د پاره یوه دایره جوړوي . بوډایان لوی قصه ویونکي دي . د دوی قصې د پاچایانو او وزیرانو ، د پیریانو او ښاپیریانو دي ، خو ډیری یې د مینې او د جنګ په باب وي .

د غه قصې زیاتره له غزلو او نارو سره ګډې شوې وي او تل د غیرت په ټکي ختمیږي . پښتانه له قصو او غزلو څخه ډیر خوند اخلي څه وخت چې یوه قصه ویله کیږي دوی ټول چوپ ناست وي او د هغې په پای کې ټول د ستاینې د پاره نارې وهي « ای - شا باش .) (٤) د دوی نیږدې ټولې غزلې د مینې په باب وي ، مګر دوی ډیرې نورې بدلې هم لري چې په هغو کې د خپلو قومونو جنګونه او د انفرادي مشرانو میړانه ستایي له د غه غزلو نه غیر ځینې کسان قصیدې او یا د نامتو شاعرانو شعرونه لولي ، نور یې

(۳) ښاغلی دوري Durie د لویدیځو پښتنو په باب داسې لیکي « دوی باوقاره خلک دي او زیات نه خاندي ، مګر ډیر ګړیږي او په خپل منځ کې اشنا ښکاري ، ځینې وخت د نری د نورو خلکو په شان ښه خندان او خوښ وي . »

(٤) ممکن د ای شاباش اصلي کلمات « اي شاه باش » یعنی آه شاه اوسه ، وي.

شپېلۍ، رباب، کمانچه، سرنده یا سرنۍ وهي غزلچیان معمولاً له رباب یا سرندې سره خپل آواز ملګری کوي. د دوی د نظمونو ویونکي بزګران او شپانه او زیاتره کسبي شاعران او کله کله هم د پښتو یا موجود وخت نامتو مصنفان دي

ساعت تېریګانې

ښکار د ټولو پښتنو د پاره یوه ډېره په زړه پورې ساعت تېري ده چې د سمې او د ښکار د حیواناتو د ماهیت په قرار په بېلو بېلو طرزونو سره کېږي ډله ډله خلک زیاتره وخت یا په آسونو یا پیاده سره ټولېږي او یوه نیم دایروي حلقه جوړوي دا حلقه د یوې سیمې یوه پراخه برخه نیسي او په یقین سره هر هغه ښکار تعقیبوي چې د دغو په حلقو حد کې راځي دوی په دې ترتیب په مخ ځي چې خپل ښکار یا په یوې تنګۍ درې او یا په یو کوم بل مناسب ځای کې ننه باسي. څه وخت چې ور ته نږدې شي، له خپلو سپیانو او ټوپکو سره پرې وردانګي او زیاتره په یوې ورځې کې یو یا دوه سوه ترینه وژني. تر هغه لیاهم په کثرت سره یو څو کسه له خپلو ټوپکو او تازیانو سره یو ځای بهر وځي چې د غرڅو، هوسیو او ګیدړو ښکار وکړي او یا هر هغه څه وولي چې یې په مخ ورځي.

دوی د هیواد په ځینو برخو کې غرڅې او شاید سویان په راګونډولو سره نیسي دوی غرڅې د تربیه شویو غوایو او ښانو په مرسته ولي، دغه حیوانات د دوی او د ښکار ترمنځ په داسې ډول ځي چې ښکارچیان نه ښکاره کېږي. دوی په ژمي کې لېوان او نور وحشي حیوانات په واورو کې تعقیبوي او مخصوصاً یو نوع څخه پرې ډزې کوي په ځینو ځایونو کې دوی کومې چینې ته نږدې یو سوری کیني، ځانونه په دغه سوري کې پټوي چې غرڅه یا هر هغه بل حیوان چې د شپې د اوبو څښلو د پاره چینې ته ورځي وولي، داسې هم دوی د کوږ د ښکار کولو د پاره د شپې له خوا بېرون وځي، چې دغه سیون په هغه وخت کې وولي چې له خپلو ځایو څخه د ښکار د پاره بېرون کېږي نر مرغان د الوتو په وخت کې هیڅ نه وولي مګر هغه وخت چې دغه مرغان په مځکې ناست وي یا پرې منډې وهي یا له نږدې څخه پرې ډزې کوي. دوی د هیواد له شرق نه غیر په نورو سیمو کې په باښو سره ښکار نه کوي. مګر دوی زیاتره وخت زرکې په دغسې ډول په منډه نیسي چې ښکار کول یې تر هغو چې په فکر راځي په آسانۍ سره ممکن کېږي دوه یا زیات سواره کسان زرکې پسې ځغلي څنګه چې زرکې لنډې الوتنې کوي او زر بېرته کښېني یو بل سپور بیا ورپسې ځغلي او الوزوي یې، ښکارچیان په دې ډول یو په بل پسې په پرله پسې ډول دا کار کوي او زرکه آرام ته نه پرېږدي تر څو هغه دومره ستړې شي چې نور نو الوتلی نه شي او د مځکې په سر ځغلي ښکارچیان بیا ورته ځان رسوي یا یې په لاس نیسي او یا یې په لرګیو وهي.

ښکارکول که څه‌هم په ټول افغانستان کې یوه ډېره عامه ساعت تېري ده لویدیځ پښتانه تر ټولو زیات ښکار کوي. په دغو پښتنو کې څه غزلې او قصې چې روسبي پېښوي، بیانوونکي زیاتې او په ښه ډول اوریدلې کېږي.

داسې هم څه ساعت تیري ګانې چې له دې وروسته به شرحه شي، په دوی کې په زیاته اندازه مینداي کېږي.

سپورتونه او نڅاوې

مسابقې په تیره په ودونو کې ښې معمولې دي. واده والا یو اوښ تهیه کوي چې باید په منډه ونیول شي. شپږ یا دیرش په آسونو سواره کسان په ښه هوار میدان کې تر لسو یا دولسو میلو ور پسې ځغلي. داسې هم په پښتنو کې شخصي مسابقې ښې رواج لري مګر څنګه چې په فارس کې معمو له ده پاچا دغو مسابقو کو ونکو ته دجایزې لوښي نه ورکوي. د ښتنو په منځ کې په نیزو سره لوبې کول یوه ډېره مروجه ساعت تېري ده دوی په داسې حال کې چې سواره وي د یوه ارګي په منځ چې په ځمکه کې ښخ وي حمله کوي چې څه د نېزو په هغو کوسره یا پریکړي او یا پور ته کړي: داسې هم دوی په آسونو سپاره په توپکو نو ښې ولي: د ټولو طبقاتو خلک په توپکو لېندوا و غیشو سره په تاکلو نښو ډزې کوي، په دغسې مواقعو کې زیاتره وخت په یوې خوا کې کله کله له یو کلي او یا د یوه کلي له یوې بلې برخې څخه له لسو څخه ترشلو میرو پورې تو لېږي. دوی په شرط سره نښې ولي، د اشرط معمولاً ډنا ري وي مګر هیڅکله د زیاتو پیسو شرط پکې نه وي په کورو کې هم د دوی ساعت تیرې ګانې رقم په رقم وي، که څه هم چې قطعه با زي په دوی کې هیڅ رواج نه لري او په هو ارو تختو سره قمار ډیر کم پکې لوبدل کېږي.

لویدیځ پښتانه داتڼ یاغو مبر (۵) نڅا په ډیرې خوښۍ او جوش سره کو ي له لسو څخه ترشلو پورې ښځې یا نارینه یوه کړۍ جوړوي، دوی دغه کړۍ په اورې کې دځپلو خیمو دوراندې او په ژمی کې د اور شاوخوا ته جوړوي یو نفر د حلقې په منځ کې بدلې وایي او د سازکوم سامان وهي. نڅا کوونکي یو شمېر حرکتونه اجرا کوي نارې وهي، لاسونه پورته کوي او ګوتې شکته پورته کوي کله کله دوی لاسو نه سره ورکوي او د ساز په قرار په ورو یا چټکي سره څو څېرې او ټول په ګډه او کورس سره نارې رهي. هغه وخت چې ماته اتڼ ـ وښودل

---

۵ ـ غومبر داتڼ په څېر کومه نڅا نه ده، بلکه داتڼ او نڅا دجوش هغه حالت دی، چې غومبر په کې وهل کېږي. (مترجم)

شو، له هغه سره یوعشقی غزله په یوه د پرښکلی اهنګ سره وویله شوه. آهنګ یې ډیر ساده واودسکات لینډیانو - اهنګ ته ورته و.

لوبې

د پښتنو د پرې لوبې زمونږ په نظر طفلانه ښکاري او ددوی له لوبو یو زیات وقار وضع سره ښه نه لیسی. پښتنو په ټول ملک، فارس اوزما په فکر په ترکیه کې - هم لویان له ورو تیرو وکټو سره لوبې کوي یوه لوبه چې د یرعمومیت لري درانیان ورته خوسی او تاجکان ورته کبه دي (٦) (Cubuddy) وایی په دې لوبې کې لوبغاړی - په یوه پښه ولاړ وي او په یوه پښه باندې سره ټوپونه وهی او په دې هڅه کې وي چې خپل رقیب چې هغه په همدغسې حال کې دی مخامخ پرې راځی مغلوب کړي.

ځوانه لوبغاړي په یوې خوا اوځوانه بلې خوا کې وي، دالوبه ترهغې چې ما یې بیان وکړ، ډیره پیچلې ده، خو بیا هم د لویانو د پاره عجیبه معلومیږي. غلی پاچا، څنګرې چې په موټیو سره کیږي اویوه بله لوبه لکه د خولی لوبه چې په یوې خولی سره کیږي هم د پهلوانی اوزور او مهارت ازمویلو په شان ډیر رواج لري. د مرزاانو جنګول، چرګانو جنګول، سپیانو جنګول، ګډیانو جنګول اوحتی او ښانو جنګول هم د پرستایونکی لري. ما پخپله لیدلی چې دوه اوښان په جنګ اچول شوي او اوښان د تیریدو او نسل ګیری په موسم کې په ډیرې تندی اوغضب سره جنګ کوي. څه وخت چې جنګ خلاص شی تماشاچیان مجبور دي دمغلوب اوښ د پاره لاره پریږدي ځکه چې هغه په چټکی سره فرارکوي او زیاتره دجنګ له میدان څخه دفاتح اوښ له خوا تر ډیرې فاصلې پورې تعقیبیږي، په دغو ټولو لوبو کې یوشرط ترل کیږي.

کله کله د پیسو د پاره هم حیوانات او مرغان په جنګ اچول کیږي. دمیدان وروتکی کله کله پرشوي چرګ ګډی یااوښ ترلاسه کوي، خوعمومی شرط په یوه ناری وي.

کالی

دټولو نارینه ووکالی یوشان نه دي خو ماته داسې ښکاري چې هغه کالی چې اوس دمملکت په لویدیځ کې رواج لري د ټول ملت اصلی جامې اوسی، دغه کالی لاندې اجزا لري. یو آرت پرتوګ چې له تورکتان څخه جوړوي او یو پراخ

---

٦ - په پښتنو کې کبه دي خوسی نه، بلکه یوه بېله لوبه ده، چې ټینه والی هم ورته وایه شی. (مترجم)

کمیس (۷) چې د واکون و الا له زانګه یا قبا سره ورته دی، مګر استونی یې ښه اوږده دي او نږدې زنګنو ته رسیږي، بل جزیې یوه سخ ښکته خولۍ ده چې د هولان Halan د خولۍ په شکل ده او څنډې یې د تور وور یښمو یا اطلس نه جوړې وي او ټوپۍ یې یا له تخته ګلابتونو او یا له کوم روښانه رنګه ټوټې څخه جوړه وي. د کالیو بل جزیې هو نصواري رنګه چرمی ګاولې دي چې غاړې یې په ګلابتون ښکلې شوې وي او نږدې تر ښنګرو پورې رسیږي. د دغو کالیو د پاسه د کال په زیاته برخه کې یو اوږې کوښی چې له ښه پوټکي څخه جوړوي او دننه پکې یا وړۍ وي او یا ښه نرم لیمڅی لري. دغه کوښی داوږو د پاسه ښه ارت اغوستل کیږي ښه اوږده لستونی لري چې ښکته تر ښنګرو پورې رسیږي. په ښارونو او د هیواد په زیاتو متمدنو برخو کې کالی د فارس د خلکو په شان دي او د افغانستان په ختیځو غاړو کې د پښتنو کالی له بځو جهته د هندیانو له کالیو سره ورته والی لري.

د پښتنو د ښځو کمیس د دوی د نارینه وو په څیر وي مګر تر هغه اوږد دی. د ښځو کمیس له نفیسو ټوکرانو څخه جوړوي او په عمومي ډول یا رنګه وي یا په وریښمو سره په ګلانو خامک دوزي شوی وي: د هیواد په لویدیځو برخو کې د ښځو کمیس ټول له وریښمینې ټوټې څخه جوړوي، ښځې رنګه پرتګونه اغوندي، خو د نارینه وو له پرتګونه د دوی پرتګونه ښه تنګ وي. دوی له وریښمو نه جوړ درانه رنګه داسې وړې ټوپۍ په سر لري چې د ګلابتونو په لیکلو سره خامک دوزي شوی او دومره وړې وي چې یوازې کله کله تر وچلی یا غوږو پورې ښکته رسیږي. سربیره پردې ښځې یا په یوساده یا رنګه پوړنی کې ځان پیچي او کله چې یو پړدی سړی په مخ ورشي خپل مخ په هغه پټوي. په لویدیځ کې ښځې زیاتره وخت په سر بالدې د خولۍ د پاسه یو تور دستمال تړي. دوی د مخې له خوا خپل ویښتان دوه برخې کوي او دوه تړنګې کوڅی تړي جوړوي او د شا خواته یې اچوي.

ګاڼې او د حمل او نقل وسایل

د پښتنو د ښځو ګاڼې د وینسی پاو لیو د مزو په شان دي چې د سرونو د پاسه تړل کیږي داسې هم د دوی ګاڼې د سپینو او سرو زرو څخه جوړ ونه دي چې د وچلی د پاسه تومبل کیږي. دا څیرونه له سر څخه تیریږي او په د وولو یو غوندارو ختیږي چې نږدې ښکته تر غوږو پورې رسیږي، غوږوالی او ګوتې هم د پیزوان په شان زیات

(۷) د کمیس کلمه زما په خیال چې د عربی قمیص وي په ایتالوي کې یې کمیسیا (Comisia) او په فرانسوي کې یې کیما یز (Chemise) بولی. مګر څنګه چې د غور نګه کالیو په اروپا کې د صلیبي جنګونه وروسته رواج پیدا کړ هغه باید په اصل کې اول حتما په شرق کې پیدا شوي وي.

رواج لري . پیزوان پخوا په فارس کې او تراوسه هم په هندوستان او عربستان کې رواج لري داو دسېږ وښو ښځو د کالیو او گانو بیان .

ناوادهشوې ښځې په دې سره پیژندلی کیږي چې دهغوی پر تکونه سپین وي او وښتان یې کوځې شوې نه وي.

په افغانستان کې دحمل ونقل وسایل زمونږ له وسایلو نه دومره تو پیر لري چې ښایي دلته یوڅه پرې و لیکم.

هغه وسایل به وروسته بیان شي چې په سودا گرۍ او کرنې کې ترې کار اخستل کیږی .

دلته غوارم یوازې د هغو وسایلو بیان وکړم چې مسافران یې استعمالوی نه په افغانستان (او نه د فارس په هیڅ برخه کې) ارابه لرونکې گاډی شته او له بلانکی یادولی څخه چې ناریښه یې په او ژووړي کار نه اخستل کیږي ناریښه اوښځې دواړه په آسونوسفر کوي ، په آس باندې دسفر معمولی اندازه دیوې ډیرې او بدې هوا خورۍ په اندازه اوږده ده چې اس په یوې گړۍ کې له پنځو څخه ترشپږو میلو پورې بیایي . پیغام وړونکی او سفرکوونکی چې اوږدسفر په مخ کې لري ، آسونه ځغلوې خو داد سفر عادي طرزنه دی اودلوړ و طبقود یوه چا دپاره دادسپکاوي ثبوت گڼل کیږي چې آس په ډگ ډگو کړي ، خو په هغو وختو کې چې سخت ضرورت ورته موجودوي هیڅوك په دې فکرنه وي چې څه وخت له یوه کور څخه بل کورته یاد هوا خورې دپاره بیرون وځی ، خپل آس وځغلوي .

د آسانو سامانونه

داسانو دپاره دوه ډوله سامانونه موجود دي فارسي او ازبکی . داس وروستی سامانونه ډیرعمومیت لري.

فارسی قیضه یوڅه دیوراز سنفل Sanffle یعنې هغې ساده نرۍ بې ځنځیره قیضې په شان ده چې ددې په ځای چې دوه بارخو(یا غمبوري) ولرې ، دوه (یاځلور) لوبې کړۍ لرې چې هغه د دې دپاره چې له واگې سره وتړل شي دقیضې په پای کې له دوو سو ریو نه تیریږي پخپله قیضه کله کله تیرې څو کې لري چې څه وخت چې آس یې کشوي خوله یې په دردوي . دغه قیضه د نقرې په ځنځیرونو او نورو گانو سره ښکلې شوې وي زین د آس شاته نږدې ابښودل کیږي ، خو لوسرنی او وروستی ځنډې یې داسې جگې دي چې د سو'ره دپاره د ناستې محکم ځای برابروي ،خو دغه یادې. شوې ځنډې عموماً دومره سره نږدې وي چې د ناستې ځای تنگ او نابلده سوړه پر ناآرام کوي دمخې ځنډه یې

تر ورستنۍ نه‌ډېره ځکه‌ وي او له نقش شوي لرګي، طلا او نقرې څخه متشکله‌ وي او په عجب ډول سره دخاوند د استعداد په قرار برجسته شوې او په طلا سره ښکلې شوي وي. ازبکي قبضه کټ‌مټ د انګلیسي قبضې په شان ده یوازې په‌دې فرق چې د غمبورې حلقې یې په تناسب سره لوېې وي. د آس مخ بند په ځنځیرو کې په یو څو طلایي او نقره یي دانو سره ښکلې شوي وي او د پوزبند او غمبورې بندتر منځ کنج کې د ګل په شان د هغې ماديې نه جوړېږو د ښکلا سامان ایښودل شوی دی د اس وچلی د پاسه د قبضې په شان کوم بند نه شته. د ازبکو او د فارسي قبضو واکې دواړه نرۍ او ښه ښکلې دي. واکي د ښه نصواري رنګه څرمنو او یوازې کله کله په ندرت سره د نفیسو ښنو څرمنو څخه جوړوي. مهمارونه زیات نه استعمالېږي او کله چې له هغو نه کار اخستل کېږي، ډېر ښه سست وي. مهمارونه د انګلیسي مهمارو په شان ویشل کېږي خو دې په ځای چې په جلو پورې وتړل شي د قبضې د غمبورې په کړۍ پورې تړل کېږي. هغه تنګ مهمارونه چې د هندوستان او سهدونکي پرې د خپلو آسونو مخونه اتړي او په هغو سره د خپلو آسانو اعمال کنترولوي په افغانستان کې رواج نه لري داسي هم یو ګیډ بند چې په مخنۍ برخې کې یې د طلا یا نقرې لویه برجستګي وي د آسود سامانو په جمله کې وي، په عمومي ډول پیاړمه یا (پس بند) هم استعمالېږي:

داټوله مجموعه په تېره بیا د ازبکو قبضه ډېره ښکلې ده او د دوی اس د انګلیسانو له آس څخه ډېر ښکلی کوي. ازبکي زین چې ښه ښکلی وي د تنې په جسامت سره د آس له شانه لوړوي. ازبکي زین د فارسیانو تر زین لوی وي او ډېر ځای لري، مګر مخنۍ او وروستنۍ ځنډې یې ډېرې لوړې نه دي. د مخنۍ ځنډې نیغه بې ویشل شوي او ښکته لوېږي، داسې چې د ایوني Ionic تاورا تا واانځور به شان دوه حلقې تشکیلوي. دغه دواړه راز زینونه په ښکتنۍ برخې کې څه نرم مواد نه‌لري او په دوو پاڅېړیو پرېږولی شیود پاسه ایښودل کېږي او په یوه کمربند پورې تړل کېږي چې هغه د اس د تنې په ښکته خوا کې له دووسور یو څخه تېرېږي. د فارسي زین په واقع کې زیاتره د حصارانو Hussars د زینو په شان محض د لرګیو یوه مجموعه ده. هغه سواره چې تفنګچې ګرزوي، چرمي قاب یا ګاش لري او هغه څوک چې د غه قاب نه‌لري د هغه په ځای خورجینې لري او په هغو کې د اس اضافګي نعلونه او یا هر هغه واړه شیان چې ورته اړه لري وړي. دغه خورجینې له ښکلیو شویو لویو قالینې ټوکرونو څخه جوړې وي، او ډېرې ښې ښکاري. غریبان هغه سامانونه لري کوم چې یې ما بیان و کړ، مګر هغه د دې په ځای چې له زرو او یا نقرو څخه جوړوي، له قلعي شوې اوسپنې نه جوړوي. د رکابونو بېل بېل انواع وجود لري، عمومي رکاب یې زموږ د رکاب په شېر دی، په دوسره فرق چې د دوی د رکابونو دواړه کنجونه له هغه اوسپنیز سیخ څخه چې پښه پرې تکیه کوي، ډېر وتلي دي. بل راز رکاب چې

هغه هم ښه مروج دی، هغه دی چې پلن شکل لري دار کاب هم له اوسپنې څخه جوړ وي او په هغه ځای چې پښه تکیه کوي نه انچه اوږد وا لی او څلور یا پنځه انچه سور لري. ددوی د زینو چکن شوي پوښونه له یوه تو کر څخه جوړ وي چې له زین نه نږدې دآس تر لکې پورې رسیږي او داس په د وارو خوا وو کې یو څه ځوړند هم وي. دعادي کسانو دغه پوښونه یا له تور لیمڅې څخه جوړ وي چې په هر ځای کې یې مختلفې نکونه وي یا دپشی پړانګ Leopard او یا دکوم بل وحشي حیوان له پوټکي نه جوړ وي، خو دشتمنو او لویو خلکو د زین پوښونه له بخمل نه جوړ شوي او په جواهرو ښکلی شوي وي او په څنډو کې یې قیمتي دانې ایښودل شوي وي. داسې هم دلویو خلکو د زینو په پوښو کې د جواهرو دانې تومبل شوي وي زینتي شیان د نمایش په وخت کې وي او په عادي وختو کې دوی ډیر ساده وي. آسونه تل دسورو شاطرو په لاس یو ځای بل ځای ته بیول کیږي، نه د پلو کسانو په لاس لکه څنګه چې په هندوستاون کې رواج لري. کله چې داس څیښتن له آس نه ښکته کیږي او چا کره ځي د هغه شاطر تر هغو په آس سور وي چې دی بیرته راځي، د دوی په فکر دا کار دآس د پاره ګټه لري.

دسفر کولو طرز

ښځې زیاتره په کجاوو کې سفر کوي، د پاچا ځینې ماینې په پیل سفر کوي او نورې یې په یوراز ډولیو کې سفر کوي معلومه شوې چې پخپله پاچا په پیل سفر کوي خودی زیاتره وخت په دغسې یوې ډولۍ کې سفر کوي چې په هندوستان کې ورته نال کی Nalkee وایي د غه رقم ډولۍ په ښکته خوا وو کې اوږد لرګي لري او دسفر په وخت کې همدغه لرګی د نارینه وو په اوږوا یښودل کیږي او ډولۍ وړله کیږي. البته دا قسم ډولۍ یوازې د پاچا د پاره خاصه ده، مګر د اشرافو یو څو تنه ددې امتیا زلري چې په جامپان یا جپن کې سفر وکړي. جامپان یا جپن دوړې ډولۍ یا نالکۍ په شان دي سر یې تیره او په دریو ستنو ولاړ وي، او د سر یو په اوږو وړل کیږي چې په هندوستان کې ورته تونجن Tonjon وایي داسې هم په ختیځ کې د تاروغانو دانتقال د پاره وړې او لږڅه ناراحته کجاوې استعما لیږي. دغه ټول نارینه او زما په خیال هندوان وړي، خو د دوی اوږدې زیرې او د قره قلۍ خولۍ د دوی شکل د هندوستان د هندوانو له قوا روڅخه ډیر متفاوت کوي.

د مسافرو سامانونه یا په اوښانو یا په قاطرو وړل کیږي. د یرعام اوښان هغه دي چې په هندوستان کې هم ترینه کار اخستل کیږي چې که څه هم هلته داوښانو په نامه یادیږي، مګر دطبیعي مورخانو په نظر چټک او یابا دي اوښان

دي قاطري دحمل اونقل دپاره ترټولوجه حیوانات ګڼل کیږي پهدې چېدوی داسونو غوندې چټکې ځي، خو ددوی بیه ډېره اوچته ده او پهدې سبب یوازې شتمن خلک تر ېنه استفاده کولی شي. پهافغانستان کې پوسته خانې نه شته، پاچاخپل حال احوال دسورو په لاس استوي اوهغوی دچوپړو په نامه یادیږي. چوپړ ډېرانوونکی منزلونه کوي . دوی ته هغه مشران تازه آسونه ورکوي چې چې دوې دهغو له ځایو څخه تیریږي او دوی له هغوڅخه دآسونو غوښتنه کوي .

دوی بې له دې نه چې څه تیاري ولري دډېرا ټتیانه ډک کوښښونه کوي، دوي تر ممکنه حده پورې ځانونه پهکالیوا وتو کړو تینګ تړی ترڅو دخپل سټرې کوونکی سفر پهدوران کې تنها کې اودردونه لږکړي. دپاچاچوپړان دنوروخلکو لیکونه- نهوړي، دوی پهواقع کې دناړینه وولوره ډله خلک دي او زیاتره وخت مهم خبرونه ورسپارل کیږي، نورخلک هغهوخت چې وغواړي چوپړان استخداموي اولویان، چوپړان تل پهخپلخدمت کې لري. دخلکو زیاته برخه دقاصدانو پهلاس پیغامونهاستوي اوقاصدان هم دیرچټک دي اوزیاتره وخت دپیښور- کابل لاره چې دوه سوه اولس میله ده پهڅلوروورځو کې وهي .

مریان

پهافغانستان کې مریان شته لکهڅنګه چې پهمسلمانو هیوادونو کې شته دي دلته غواړم دهغو دریځ پهلنډول بیان کړم .

دمریانو ډېره برخه خانه زاد دي، خوله باندنیو ملکونوڅخه هم یوڅه پهلاس راځي نیګروګان او زنګیان کلهکله عربستان څخهراوړل کیږي. بلوچان چېفارسیان او نورخلک پهچپاو ونو کې نیسي، خرڅوي او له کافرستان نههم ښایسته شمیرخلک یا پلورل کیږي یاهې یوسف زي پهخپلوسرحدونوکې نیسي .

دکافرو اسیران پهعمومي ډول ښځې وي اوڅنګه چې دوی ډېرې ښکلې دي ډېره تقاضا ورتهموجوده ده له هغونورومریانونه پهزیاته اندازه ښکته کاروکې کاراخستل کیږي، خودمملکت په اطراف کې پهډیره بیا پهدرانیو بزګروکې له دوی نهپهډیره اندازه پهکرنه کې کار اخستل کیږي، سره ددې همڅنګه چې د انګریزانو پهمستعمروکې معموله وه لهدوی څخهدانه غوښتل کیږي چېدڅارو- یو پهځای کاروکړي، بلکې دوی هغه کار کوي چې آزاد ناریڼه یې کوي په نورو برخوکې دوی سره سلوک لهدغه حال سره متناسب دی.

دوی څه وخت چېدڅوندانه په ښکته ارخ کې وي له خپلو خاوندانو سره په یوه دستر خوان ددې خوري، وورته اجازه شته چې شخصي ملکیتونه ولري

د دوی خاوندان دوی ته سوغاتونه ورکوي او ښځې ورته کوي او داسې نور کارونه ورته کوي . دوی د نورو مریانو لونې ودوي او د لونو خاوندد ولور حق لري ، خو ساته و یل سوي چې دی دغه ولوریاد هغې پلار ته ورکوي او یا یې پخپله نجلۍ ته ور بښي زما په فکر چې دغه باید په حتمي ډول د ښځې پلورلو په وي ، چې یو سړی یې باید تادیه کړي او هغه په مریې باندې د خښتن حقوق ته څه صدمه نه رسوي ځکه چې زه تصور نه شم کولی چې بادار به د نجلۍ خدمت څخه بې له دې چې د هغې په مقابل کې څه ورته ور کړ شي ، تېر شي مخصوصا ځکه چې واده به د هغې ارزښت لوړ کړي ، په دې چې خښتن به یې د هغې د زوزاد مستحق اوسي .

زه د هغو مریانو په حال کې چې په کښت و کرلګیاوي ، داسې نښې نه وینم چې لیا خراب شي ، دوی زیاتره د خپلو خاوندانو په کورو کې ژوند کوي او حتی کله چې د کښت او کر ځمکې لیرې پرتې وي او دالازمه کوي چې غلامان باید هغو ته نږدې په کوډلو او خیمو کې واوسي ، دوی هیڅ وخت په ځمکې پورې تړلي نه وي او د ضرورت له مخې له یوه کښت نه بل کښت ته انتقال کوي د دوی شمېر دومره ډېر نه دی چې د ټینه مجبور شي چې په خاصو ځمکو پورې وتړل شي . دوی د خپل کار په حاصل کې څه برخه نه لري او یوازې د خپل څښتن او یاد کوم ازادسړي په پاملرنې سره چې دغه کار ورته سپارل کیږي په کارکولو مجبوریږي دوی یوازې کله کله وهل کیږي . د متوسط الحال خلکو بالغه مریان ځانونه د هغو د کور نیو وجز بولي او داسې سوچ کوي چې د دې د پاره چې د دوی څښتنا ن د دوی او خپل ژوند تامین کړي ، دوی باید کار وکړي . ښځې د وینځو په څېر ساتلې کیږي ، دوی د کورد بې مزدورانې وي او په متوسطه کورنیو کې له هغې سره د کور په کار و کې مرسته کوي .

په ازبکانو کې د غلام خاوند زیاتره وخت د خپل غلام له ازادولو سره موافقه کوي . د اموافقه هغه وخت کیږي چې مریې یو څه تاکلی پیسې تادیه کړي او یاد یو شمېر کلونو په موده کې په ښه خدمت کولو سره د هغې د تادیه کولو ذمه وکړي . حاکمان د غسې قرار دادونه نافذوي . پښتانه او فارسیان برخلاف دا عاز کني چې غلام د پیسو په مقابل کې ازاد کړي ، خو دوی زیاتره وخت د ښه خدمت په عوض غلامان ازادوي او یا هغه وخت چې د مرګ په حال کې وي هغوی ته آزادي ورکوي .

د یوه لوی خان په هکله مې اورید لي دي چې هغه وخت چې دی د خپل مرګ په فکر شو خپل ټول غلامان یې چې دده زوی یې ښه نه ایسیده راوغوښتل او د ازادی سندونه یې ورکړل . پښتانه له غلام کولو څخه سخته کرکه کوي

او ازبکان په دې غندي چې دوی خلک مریان کوي او په ډېر نفرت سره دوی ته د آدم فروشانو خطاب کوي .

ډېر لیکوال چې په هیڅ وجه د پښتنو پلوي نه کوي د دوی د دغه فکر د طرز په باب شهادت ورکوي، خو څنګه چې د دوی زیاتره مریان د هندوانو په ضد د دوی د لومړیو جنګو د اسیرانو زوزاد دي ، زه داسې فکر کوم چې د دوی دین دوی ته ترغیبوي چې د بت پرستو په مقابل کې د هغه جرم مرتکب شي چې دوی د یوه مسلمان غلام کولو ته په نفرت ګوري (۷)

ختیځ اولویدیځ پښتانه

د پښتنو ښځې د هندوستان د ښځو په پرتله غټې، سپینې او ډېرې ښکلې دي .
د پښتنو نارینه ښه غښتلي او په عمومي ډول په ځان نري ، مګر د ټینګو هډوکو او عضلو خاوندان دي پوزې یې اوږې ، د مخ هډوکي یې هسک او مخونه یې اوږده دي. د دوی ږیرې او ویښتان په عمومي ډول تور کله کله نصواري او په ندرت سره سره وي . د دوی ویښتان تل شخ او قوي وي. دوی د سر کوپړۍ خریي ، خو د سر نور ویښتان پرېږدي . ښارونه نږدې قومونه لنډ ویښتان لري مګر د نورو ویښتان ښه اوږده وي او د سر له هرې خوا نه ښکته ځړېږي ، ږیرې یې اوږدې او ګڼې دي . د دوی څېرې له ساده ګۍ سره مېړانه او تفکر افاده کوي ، مګر ضعف نه ښيي ختیځ پښتانه ملي خصوصیتونه په ډېر قوت سره تمثیلوی که څه هم چې هغه څېره چې پورته ورته اشاره وشوه په دوی کې نه په ډېره کمه اندازه موجوده ده . د لویدیځو قومونو څېرې چندان واضحې نه دي او ډېر ډولونه لري ، ځینې یې زیږې څېرې لري چې له هغو څخه چې ما یې پورته بیان وکړ ډېر توپیر لري ، خو د مخو هډوکي یې ښایسته لوړ دي. لویدیځ پښتانه تر ختیځو پښتنو نه په تن پیاوړي او په ځان غټ دي او ځینې درانې او

۷- د دغه قصه د کروشنسکي Krushinsky له اثر، فارس د وروستي انقلاب تاریخ څخه اخیستل شوې ده، لومړی ټوک مخونه ۱۶۷-۱۶۶ . «کومه وضع چې پښتانه یې د جنګ د مقرراتو له مخې له جنګي اسیرانو سره کوي د نورو شرقي ملتونو په شان د وحشت او بربریت بڼه هیڅ نه لري، د مریانو په حیث د اسیرانو خرڅول د دوی په نظر بشري جنایت ګڼل کیږي، او د دوی ترینه کرکه کوي. بیا هم کوم شک څخه دا سمه ده چې دوی له اسیرانو نه د نوکرو په حیث کار اخلي، خو له دوی سره د خدمت په وخت کې په زړه سواندي چال چلند کوي او په پای کې یې ازادوي هم. په دې ډول پښتانه له دې پلوه هم د نورو ښو رواجو په جمله کې له شرقي ولسونو سره توپیر لري» .

غازي د ډېر تناك قوت او قامت خاوندان دي، خو پښتانه په عمومي ډول دانګرېزانو شان په ونه لوړ نه دي .

ختيځ پښتانه په عمومي ډول تورې څېرې لري چې د هند وستانيو څېرو ته نږدې دي، په داسې حال کې چې د لوېديځو پښتو شکلونه د ښوونځونې په شان دي او سالم رنګ او څېره لري ، خو په دوی کې نارينه اکه د ختيځو نارينه په څېر د هندوستان په شان توربخن وي څېنې يې چې په همغه ګاونډيتوب کې ليدل کېږي د اروپايانو په شان سپين رنګی دي . سپين رنګی په عمومي ډول په لوېديځ کې او توربخن په ختيځ کې په اکثريت کې دي .

د پښتنو سلوکونه

ختيځ او لوېديځ پښتانه د پورته اختلاف نه غير چې د اقليم مولود دی، د نورو خصوصيتونو له امله هم په خپلو کې سره تفاوت لري . داسې ښکاري چې دغه خصوصيتونه په عمومي ډول له هغو مختلفو ناحيو څخه پيدا شوي دي'ه کومو نه چې د غوړو وستر و ځانګو خپل سلوکونه حاصل کړي دي . لوېديځو پښتنو خپل مدنيت له فارسيانو څخه او ختيځو پښتنو له هندوستانيانو څخه اخيستی دی او دواړه په کاليو او سلوکونو کې هغو خلکو ته ورته دي چې په دې ډول ورسره رابطه لري، په داسې حال کې چې د جنوب د منځنۍ برخې او سېدونکو چې له د غوړو دوا مېرا توريو څخه چې پورته ورته اشاره وشوله ، په يو اندازه او له لوېو لاروا وسړ کونو څخه په مساوي ډول لېرې پراته دي ، د خپل ملت اصلي عادتونه يې ساتلي دي . د ملك د ښه پراخوالی په وجه چې لوېديځ قومونه پرې مېشته شوي او د هغه لوړوالی او برتری له امله چې له هغو څخه دوو قومونو په مختلفو دورانونو کې په لاس راوړی دي ، د فارسيانو کالي سلوکونه او ژبه په قاطع ډول غلبه لري د غه حال حتی په هغو برخو کې هم ليدل کېږي چې هندي عادتونو پکې ښې ر ښې غزولي دي . بايد وويل شي چې هر هغه څه چې له فارسيانو او هنديانو څخه اخستل شوي ، تر اوسه هم په هغه حال ساتل شوي دي چې اول غوره شوي وو . ، په نتيجه کې هغه په اوس وختو کی د د غوړو دوا ړو ملکو تر اوسنی واقعي حال نه فرق لري . د هندوستان کالی او عادتونه هغه دي چې د شاه جهان په وختو کې وو او فارسيانو د نادرشاه افشار د وختو دي . د نادر- شاه دوره که څه هم ډېره لنډه وه ، هغه ستر بد لون چې په فارس کې پېښ شوی دی دغه تفاوت ـ نظر هغې بلې دورې ته ډېر څرګند کړی دی . (۸)

پښتانه په سلوك کې رډ او سپين و يو نکی خلك دي دوی . که څه هم مېړانه لري او په خپلوا کی مين دي ، د عسکري د هغه غرور او بې رحمی له تظاهر څخه مبرا دي چې د دوی په زوزاد يعنی د هندوستان په پټانانو کې ډېر ښکاره دی .

کله چې نوروته ددوی خبرې ناوړې وي، هغه داطرافي خلکو په شان ساده او ابتدایي وي ، خوهیڅکله هیښتناکې او بد غوږې نه وي . ذاسې ښکاري چې دهندوستان پټانانو د یوسف زیوخاص سلوکونه چې هغه تندخویه او له غرورنه ډک حال دی، غوره کړي وي . دښار دشاوخوا ښتانه ترڅه حده په سلوك کې نرم دي او لوړو کسانوته اطاعت لري . خودوی دهیواد په ډیروبرخو کې ډیر ساده وي او درتبې او درجې تمیز چندان نه کوي، خوسره ددې هم دوی تولو لویانو ته په درنه سترګه ګوري

ښتانه که څه هم په ناسته ولاړه کې هغسې بې تکلفه دي چې دهرکتونکی توجه چې غواړي اروپائیان اوآسیائیانو سره پرتله کړي، ځانته جلبوي، خودوی په عمومي ډول شرمیندوکی دي .

داهغه نقص دی چې ما په نوروآسیائیانو کې لیدلی نه دی، ښتانه له رسمي مواقعونه غیر په نوروحالاتو کې داعضاوو له ښوروڅخه کار اخلي، مګردلا-سونوغزول او په وړاندې لوري دځان کږول ددوی په نزد ډېر مهم ښکاري دوی نظرفارسیانوته ممکن دغسې لیاډیرعملونه اجرا کوي که څه هم وروستني خلک ددوي په څیر دومره تاوده نه دي، مګردوی دخبرو په وخت کې دغړو په تیره دلاسونو په ښوروولو سره هیڅکله له هندوستانیو سره برابري نه شي کولی (۹)

(۸) تردې په بله غته سهوه نه وي چې فکروشي دښتنوختیځ قومونه خپلو فیشنو ته هیڅ تغیرنه ورکوي . دانګریزانو اوسنی کالی ترابره ددویم چارلس Charle, the Second ددوره دي، لکه چې دفارسیانو اوسنی کالی دهغو وختو دي چې چاردن Chardin ددوی په ملك کې سفر کړی وپه هندوستان کې ترهغو ابر بدلون راغلی نه دی . د نظام الملك دزړو ولو کالیو او سلوکو په باب د ډهلی دځوانو درباریانو تو کې مسخرې دغسې تاثیرات لرل چې په تاریخ کې یوه نمونه جوړوي ،څنګه چې په ډهلی او دکن کې دمغلی اشرافو کالی اتیایانوی کاله وړاندې په شان وواوس څومره توپیرلري ، واضحه ده چې که دواړه نه، یو یابل باید ډیر تغیر کړی وي . داحقیقت دی چې اروپایی ګرزنده په هغو لباسو کې چې ددوی له کالیو څخه پوره تغییر لري، لږ توپیر نه درك کوي .

(۹) له یوه بانډنی ملت سره ددوی په پرتله کولو کې به ما ته اجازه وي چې ددغې پراخې امپراتورۍ او سیدونکی د یوه واحدولس په حیث وګڼم، مګر دا باید هیره نه شي چې په خپله په هندوستانیانو کې ډیره تنوع شته، په دې ډول په قدجګ تنومن هندوستاني ډیر په وروګرځیږي او که څه هم دی به خبرو کې تر یوه حده پورې د غړو له ښوروولونه کار اخلي، دی دعمل هغه شدت ته نه رسیږي چې د کرناټك وړو، تورنګي اوغونجې شوي اوسیدونکي یې استعمالوي. دکرناټك اوسیدونکی په ډیرې جزیي موضوع باندې په دغسې اوړاواو زاو شدت سره خبرې کوي چې یوانګر-یزبه هیڅ وخت هغسې ونه کړي .

د پښتنو سجیه

پښتانه داسې هم له هغسې طفلانه کړو څخه مبرا دي چې ممکن د هندوستانیو ممیزه خصوصیت وي. ما ته داسې معلومه شوه چې د پښتنو صحبت او د دوی پوښتنې که څه هم پراخې نه دي، نو معقولې دي او داسې نه معلومېږي چې دوی په هغسې وړو څیزونو خوشې وکړي کوم چې په هندوستان کې ډېر زړه سوغاتو پهم مشغول کېږي.

پښتانه په یقین سره د خپلو لویدیځو ګاونډیو په شان نرمي او لطافت نه لري او له خارجي ملتونو سره د دوی نه راشه درشه بې له شك څخه د دوی لیدونه او په څېنو موضوعاتو کې د دوی پوهه لږوي.

مګر د دوی د ټولنې وضع چې هلته هر یو مجبور دی خپل حقوق پخپله وساتي او په دغه وضع سره په عین حال کې ده ته په ټولنې کې اهمیت ورکول کېږي، د دې سبب کېږي چې د دوی استعدادونه په زیاته اندازه په کار واچول شي او انکشاف وکړي نو په دې قرار د دغو خلکو زیاته برخه د مشاهدې، ښه ادراك او سنجش خاوندان دي.

د دوی داسې هم د پلټنې له هغې درجې څخه برخوردار دي چې یو چا ته چې د هندوستانیانو له بې علاقګۍ سره عادي شوی وي، هوسا یې ده. د دوی تل له خپل ملك څخه د لېرې هیوادو په باب، د معلوماتو د پیداکولو د پاره هیله ښکاره کړې ده او څېنو ښه هڅه لرله چې زموږ د علومو نه په خبرتیا سره خپل ځانونه اصلاح کړي. ما یو ملا ته چې له ما سره کلکتې ته لاړ د کوپرنیك د هغه د سیستم پوانډي بیان ورکړ کوم چې ډاکټر هنټر (Hunter) په دري خپور کړی و. دغه ملا له خپل ستنېدو څخه دوه کاله وروسته ما ته د انګلیسي نیوټونیانو، (English Newtonions) په نامه د پوښتنو یو لست راواستوه او په هغه کې یې د دغه سیستم د څېنو برخو په باب دغسې تشریحات غوښتي چې د پېښور پوهان یې حیران کړي وو. (۱)

هغه وخت چې زه په کلکتې کې وم له ملایانو څخه نیولې حتی تر شاطرانو پورې چې د ټولو درجو ډېر پښتانه له ځان سره بیولی و چې د وسلو جبه خانې ووینې، کښتۍ ګانې تماشا کړي او هغه داسې نور څیزونه وګوري چې د دوی د پاره نوي وو. د ډېرې خوښۍ خبره دا ده

(۱) څنګه چې زه پخپله په دې موضوع نه پوهېدم او داسې کسان مې هم نه شو پیداکولی چې هم ریاضي پوه او هم د دري عالم وي، ده ته مې ځوابونه ورکولی نه شو.

چې دوی د هر نوي څیز په باب علاقه وښود له او د خوښۍ احساس یې کاوه، مګر یو ملا په دې ډېر خواشینی شو چې ده د توپ د سوري کولو د پاره هغه خرخ ونه موند چې د بخار په وسیله ګرزېده، لکه څنګه چې هغه د میرزا ابوطالب په سفر نامه کې لوستلي وو چې په انګلستان کې همدغسې کېږي. ما زیاتره وخت د هندوستان او سیدونکي د همدغسې څیزونو په ننداره کې لیدلي دي او که څه هم دوی تل تر کافي حده مودب وو چې د هغو ستاینه وکړي خو دوی دغه ستاینه په دغسې آرامۍ سره کوله چې له هغه ښکاریده چې دوی له هغو سره لږه علاقه لري په داسې حال کې چې هغه پوښتنې چې دوی کله کولې داسې وې چې دوی غوښتل یوازې خبرو ته دوام ورکړي. (۱۱)

له پښتنو سره ټولې مراودې په دې په زړه پورې دي چې د دوی په خبرو اعتماد کیدلی شي. دوی که څه هم په رښتیا ویلو کې له اروپائیانو نه وروسته دي او که چېرې دوی کولی شو چې خپلې ګټې په ټګۍ سره خوندي کړي، دوی به د دې پروا ونه ساتي چې په خپلو ژمنو او ویناوو سره غول وکړي، خو دوی د حقیقت په باب هغه بې علاقګي او د اعتیادي او د صفت کذب په باب هغه روښ نه ښیي لکه څنګه چې د هندوستان او فارس خلک یو اروپایي حیران کوي. داسې ښکاري چې د لومړني ملت یو شخص د یوه شي د سم لیدلو استعداد نه لري او د دویم ملت یو شخص د هغه له سم بیانولو څخه عاجز دی.

خو په پښتنو باندې په عمومي ډول د صحیح توب او وفادارۍ اتکا کیدای شي خو په هغه حال کې چې د کوم مشاهد د تیرایستلو د پاره څه تعصب موجود او یا د حقیقت د مسخ کولو د پاره کوم محرک په مینځ کې وي.

ټول پښتانه په زیاته اندازه فعال او د طاقت خاوندان دي دوی د خپل ملک د طبیعت په سبب مجبور دي او په دې اموخته دي چې په غروختلو سره ډېرې ستونزې وګالی او په پښو یا په آس باندې لوی مزلونه ووهي او له چټکو او پراخو سیندونو څخه په لامبو وهلو سره تیر شي. یوازې غریبان یاد ځوانی په قوت کې انسانان دغه کاروانه نه کوي، څنګه چې د دوی په ملک کې بې له آس څخه د حمل او نقل آسانه وسیله نه شته، د ټولو درجاتو انسانان مجبور دي د دغو مهارتونو خاوندان اوسي، داسې چې زاړه میرزایان هم چې په ډېر کړاو سره په آس باندې سوریدای شي، په ډېرو سختو غاښو او د

(۱۱) فارسیان دومره چالاک او ذهین دي چې دغسې بې احساسي هیڅکله نه ښیي، مګر دوی دومره په ځان غره دي چې نورو ملتونو په باب د تجسس دغسې حس نه ښکاره کوي.

هغو په لوړ واوژورو کې په آس باندې ښه مزلونه وهی او یاد ټنګوا وژوور لارو په ښه ډول سواره روان وي چې د هغو د پاسه قدم وهل هم خطرناك وي، سره له دې هم تقریباً ټول پښتانه د تودو اقلیمو نو طاقت نه لري اوځه وخت چې دوی په هندوستان کې په لښکر کښېو بوخت وو داوړي راتګ اوددوی تېښتی په د دوی لښکرې ډېرې کمولی . دا حال حتی د احمد شاه په دوره کې چې دانضباط رعایت هم ښه کیده ، صدق لاره .

داوضع ډېره حیراوونونکې ده په دې چې پخپله ددوی د ملك زیاته برخه په تاوده اقلیم کې پرته ده .

ټول پښتانه څه وخت چې په خپل کوم کار یا ساعت تېری پسې روان وي، ډېر زحمت ګالی اوسخته خواري کوي. په دهقانی کې تردوی زیات خواري کښ نه-شته. او ډېر بې په ښکار کې نه ستړي کیدونکی دي. خو دوی کله چې چندان پار ډلی نه وي ، لټ وي.

داسې ښکاري چې د منفعت مینه ددوی حاکمه قوه اوسی . ددرانیو ډېر مشران داغوره ګڼی چې خپلې ډېرې ، مګر راکدې، پیسې ذخیره کړي نه داچې له سخاوت نه یوځه کار واخلی اوپه دغه کار سره قدرت ، نوم او احترام وګټی . ټول هغه کسان چې دوی ډېر ښه پیژنی په دې عقیده دي چې په دغه ټول ملت باندې د پیسو نفوذ حد نه لري اودوی پخپله هم له دغه حقیقت نه انکار نه کوي .

له خپلواکی سره ددوی مینه چې ددوی په حکومت اثر کوي روښې بیان شوې ده : دغه مینه ددوی په ډېرو فکرو اومعاملو کې په یوه شکل ځان ښیی، دیوه ښه اداره شوي ملك په باب ددوی دستاینې وړخبرې دادي : «هرسړی دخپل کښت حاصل خوري» او«هیڅ څوك له بل چا سره غرض نه لري. » «خود میکارند، خود میخورند.»«کسی باکسی غرض ندارد. »

مګر د شخصی آزادی مینه له خود غرضی نه ډېره لیرې ده . د دوی د ټولنې ماهیت یعنی هلته چې قدرت دیوه چا دخپلوانو په کثرت سره وي، ددې سبب کیږي چې دیوې کورنی دغړو په منځ کې قوي علاقه موجوده اوسی. داسې پښتون به نه وي چې څه وخت ددخپل خپلوان په کومې مقابلې اخته وي، په هغه پرېکړې ولاړ نه اوسی. زه باور لرم چې دسرو ډلې له هغه څه نه چې د کورنی دوفاداری په باب وایم هغه څه مستثنی کړم چې په حاکمو کورنیو کې د مشرانو په غوره کولو پیښیږي . دوینې اونسب قوت په پاچایانو کې زیات نحس کیږي او دیوه واره قوم مشري دهغو په نظر کې چې دهغې دپاره مبارزه کوي، هغسې اهمیت لري لکه چې لوی شاهزادګان یې د تاج اوتخت ګټلو دپاره کوي. دا مبارزه په واقع کې دوروڼو ترمنځ نه پیښیږي، خو دلیرو خپلوانو په منځ کې ډېره واضحه ده چې دتر بور کلمه چې

لغوي معنی یې د تره زوی دی په پښتنو کې د مخالف په ځای استعمالیږي . ماد مخه دمي ذکر کړی دی چې قبیلوی احساس څنګه د عمومي وطنپالنې روحیه کموي، خو دوی ټول د پښتانه د ننګ په باب ډیره تو ده علاقه ښیي، دوی هغه ملك ته چې پکې زیږیدلي وي او هغوی صحنو ته چې او مړنی خوشی یې پکې لرلې وي، سخت علاقمن دي. د غزنی شمال ختیځ ته د سپیګه ((Spiga))د درې یو ه او سیدونکي چې د کوم جرم له امله فراري و ماته یو وخت د خپلو سفرو قصه کوله او په آخر کې یې د هغو ملکونوم اخیسته چې ده پکې سفرونه کړی وو او له خپل ملك سره یې مقایسه کول :
«ما ټول فارس، هندوستان، ګرجستان، تاتاري او بلوچستان ولیدل ،خو ما په ټولو سفرونو کې د سپیګه په شان بل ځای و نه لید. »

ټول پښتانه په خپل نسب فخر کوي، او د دوی د تاریخو زیاتره برخې د دوی د نسب شمیر نیولی دي. دوی به په ډیرې سختۍ سره یو څوك پښتون وګڼي چې هغه و نه شي کولی تر پنځو یا شپږو نسلو پورې خپله شجره ثابته کړی . پښتانه حتی په عادي خبرو کې زیاتره وخت د دې د پاره توقف کوي چې د هغه شخص نیر شوي وشمیري چې په خبرو کې یې نوم اخستل شوی وي. (۱۲)

ټول پښتانه په خپلو نږدې لاس لاندې خلکو چې له هر مذهب او ملت څخه وي ډیر مهربان دي، خو له هغو خلکو سره چې د دوی تر واك لاندې دي او دوی ور سره په شخصي لحاظ کومې اړیکې نه لري وضع بل راز ده . هغه ملکونه لکه کشمیر او د اباسین د غاړې ولایتونه چې پوره لاندې شوي دي، د افرادو چور او چپاول نه ډیر ضرر وینی او که زیاتره وخت په دوی د ظلم او تعدی افراط جاري نه وي د اله دې امله چې بې جهته بې رحمی او تحقیرول د پښتنو د کرکتر جزنه دی.

د پښتنو د خپلواکۍ او برابرۍ احساس د دې سبب کیږي چې د خپلو ګاونډیو په اوچت توب رخه وکړي او د دوی په خاطر کې د حسد قوي رنګ ښکاره کړي. دا فکرچې د دوی له یاد او نظر څخه ایستل شوي ،او پوښتل شوي نه دي په داسې حال کې چې د دوی سیالانو ته ښه پاملرنه شوي وي دوی به دیته ترغیب کړي

(۱۲) د غه مثال ما په یوه دولت خیلی کې چې د دامان د توك (Tuk) په باب مې له هغه سره مرکه کوله، په ډیر وضاحت ولید. توك د دغه قوم لوی ښاردی، ده د یوې پوښتنې په مقابل کې راته وویل :
« توك د سرو رښار دی، سرور د کتل خان زوی دی، کتل خان د سلیم خان زوی دی ،سلیم خان د میر سلطان خان زوی، میر سلطان خان د ظفرخان زوی او ظفرخان د خان زمان زوی دی او ظفر خان د شاه جهان په وخت کې اوسیده او جهان ګیر د ګوډ تیمور له نسله څخه دی. »

چې له یوې اوږدې دوستۍ څخه تېرشي اویا له هغې دلې څخه واوړي چې ورسره یې د زړه مینه لرله. وبل کیږي پښتنو ته ترڅو خاص سپکاوی شوی نه وي او یا ظلمونه پرې نه وي شوي ، په سلګر توب کې به تګړه دي او د نیکو به پرواسا تی، زه د دوی په کرکټر کې د دغه خصوصیت ضمانت کوم چې دوی ته یوه تحفه دمخه ورکړشوې وي له دوی نه چې هر کار وغوښتل شی په ډېره میړانه به یې ترسره کړي، نظر دیته چې د تحفې ورکول وځنډول شی په دې امید چې دوی به هغه کار زر اجرا کړي. د دوی له عادتونو څخه پخوا تر پخوا داښکاره کیدای شی چې شخصی انتقام یو موظیفه ګڼله کیږي او دوی به تر ډیرې مودې پورې د ظلمونو یاد له ځانه سره ساتی خو دا یوازې د هغو جدې ظلمونو په باب صدق کوي چې ننګ او عزت دوی د پو راخیستلو د پاره مجبور وي. د وړو کارونو په هکله دوی نه زر پاریږي او نه د کانی په شان سخت زړي دي .

زه په آسیا کې د دوی په شان د لږو عیبونو خلک نه پیژنم د اسې هم نظر نورو ته په دوی کې فسق او فساد کم دی، خو د هیواد په غرب کې دا کارونه ډیر کیږي . د ښارونو خلک د فسق او فساد د پاره ذوق پیدا کوي او هغه چې د ملک په شمال ختیځ کې پراته دي لا د سخه د پا کی له دایرې څخه بهر شوي دي. پښتانه پخپله د سلو کونو له خرابیدو او د صمیمیت او بې عقیدې له انحطاط څخه شکایت کوي او وایی چې د دوی ملت د فارسیانو ترتاثیر لاندې روان دی د فارس د ملت په لور د دوی احساسات او اخلاق په زیاته اندازه هغوته ورته دي چې انګلیسانو څو کلونو دمخه د فرانسویانو په مقابل کې کشف کړی و .

د دوی ملی مخالفت او د ځان په هکله داوچت توب قوی احساس د دې مخه نه نیسی چې د فارسیانو د سلوکونو تقلید و کړي په داسې حال کې چې دوی د دغه عمل په ضد په دې چیغې وهی چې له خپلو سلوکو څخه بی محرومو ي. دوی په هغه مزیت ښه خبر دي چې په حاضر وخت کې یې فارس په دوی لري چې هغه په نسبی د ول د فارس د شورا ګانو اتحاد او قوت دی. دوی د فارس د قدرت له ډیریدونه یوښه په ویره کې دي خو د غه ویره په ځان د اعتماد لرلو په وجه کمه شوي د عمد پښتنو کـرکـتر چې په کلمو یو څو کې لنډ شی نو د دوی عیبونه ، انتقام ، رخه ، حرص چورا و سر زوري دي ، خوله پلې خوا د وی په ازادی مین دي ، خپلو ملګر و ته وفادا ر دي په لاس لاندې خلکو زړه سوا ندي لري ، میلمه پا لو نکی دي ، زړور دي ، سخت سري دي کم خرڅه دي خواري کښن دی ، احتیاط کاردي او د نوروکاوندیو ملتو نو په تناسب خطا ، دسیسې او فریب ته لږ متمایل دي .

اتم فصل

د ښارونو اوسېدونکو سلوکونه، عادتونه او سجیه

ما تر اوسه د کرکتر او سلوک نو دغو ټکو په باب لیکنه کړې چې د پښتون ملت د ټولو برخو یا ډېرو د ټولو برخو په باب تطبیق مومي. اوس به د بېلو بېلو طبقاتو خصوصیتونه چې ټول ملت ورځني جوړ دی بیان کړم.

تر دې ځایه د ختیځو او لویدیځو پښتنو د اختلاف په باب کافي لیکنه شوې ده په عین حال کې د خلکو ځینې خاصې ډلې هم په ضمني ډول شرحه شوې دي. له دې وروسته به د کوچیو او بزګرو طبقات په مفصل ډول شرحه کړم.

نو په دې ډول لومړني ډله خلک چې اوس به یې بیان وشي، د ښارونو اوسېدونکي دي. په دې برخې کې لومړنی شی چې د یوه کس پاملرنه ځانته جلبوي دا دی چې د دغې ډلې زیاتره برخه پښتانه نه دي، د یوه اروپایي د پاره ممکن دا عجیبه و بریښي چې د ملک واکداران دې د ښارونو اوسېدونکي نه اوسي، خو د نورمان له فتحې نه وروسته د انګلستان حال هم همدغسې و، او د تار تاري ازبک وضع همدا اوس هم همدغسې ده او تر یوه حده پورې د فارس هم دغه حال دی. په دغو ټولو حالاتو کې شاید عین دلیل دخیل وي او هغه دا چې واکدار ملت ته دا کسر شان ښکاره شوی چې هغه کسبونه وکړي کوم چې خلک په ښارونو کې غواړي. له لویانو او دغوی له نوکرانو نه غیر چې دوی دربار جلب کړي، نور پښتانه په ښارونو کې نه دي اوسېدلي په دې قرار هغه یوازني پښتانه چې په ښارونو کې اوسي، لویان او د دوی نوکران، عسکر، ملایان او یو څو سوداګر دي. په دغو خلکو کې سوداګرۍ ته په ښکته سترګه ته کتل کیږي او د دغه ملت څخه ډېر غریبان دي چې د کار ګرو په حیث کار کوي د هغو خلکو زیاته برخه چې دغه کسبونه کوي تاجک دي. تاجکان په زیاته اندازه د هیواد د لویدیځ په ټولو برخو کې له پښتنو سره ګډ دي دوی حتی

په ختیځ کې هم لیدل کیږي، که څه هم په ختیځ کې هغه کسبونه چې دمخه ورته اشاره وشوه د هندکیانو په لاس کې دي .

هندکیان په اصل کې د هندوستان څخه دي او اوس د افغانستان په ختیځ کې میشت دي، لکه څنګه چې تاجکان په لویدیځ کې خواره دي. دغه ملتونه او نور چې د افغانی ښارونو نفوس ترینه متشکل دی وروسته له دې چې د پښتنو بیان تمام شي د بیلونژادونو په حیث په وځېږل شي . اوس به د هغه مقام په باب خبرې وکړم چې دوی یې د دغو ښارونو د مدنی افرادو په حیث اشغالوي، دوی له دغه نظره په صرافانو، سوداګرو، کسبګرو او مزدورانو ویشل شوي دي .

بانك داران

داچې قرآن مجید مسلمان له سود خوړلو نه منع کوي ، ددې سبب شوی چې د صرافی زیاتره کارونه د هندوانو په لاس ولویږي او د هندوانو محتاط او خسیس عادتونه دوی د دغه کار د پاره ښه مناسب ګرزولی دي

دوی په پوره زړورکو لوسره ګټې کوي او ډیر سودخوري، بلونه تیاد له کوي او نورې داسې معاملې کوي چې د دوی د هستوګنې په ځای کې د سیاد لو د نرخ له ښکته پورته تللو سره اړه لري. داسې هم دوی سوداګري او وکالت له خپلو منظو پانګې فعالیتو سره ګډوي . د دوی د ګټې یوه بله منبع حکومت ته دولایاتو د مالیاتو د بلونو په بدل کې په پیشکی ډول د پیسو تادیه کول دي، دغه معامله یو څه خطر لري، کله کله بیرته هیڅ نه تادیه کیږي، خو ګټه هم لري. او ګټه یې تل ډیره وي. ځینې صرافان ډیر شتمن دي خو د لږو پانګو واړه دوکانونه بیشماره وي چې د یوې خاصې ناحیې د غریبو خلکو په منځ کې د لویو پانګووالو په شیان هغه کسب کوي .

هغه وخت چې زه په پښور کې وم، صرافانو دا لازمه ګڼله چې خپل شته پټ وساتي . یو صراف چې زما بلونه وا خستل ترڅو چې د هغو له لارې خپل شته هندوستان ته نقل کړي، د یته حاضرو چې پیسې یوازې د شپې تادیه کړي یعنی هغه وخت چې خبښی شوې پیسې یې له مځکې نه وایستلې او په پټه یې زما خزانه دار ته ورکړې ، مګر دغه احتیاط د کوم موجود خطر په وجه نه و شوی لکه څو مره چې د آینده په نظر کې نیولو سره شوی و ځکه چې پیښور د غسې انقلاب په درشل کې وچې شروع یې لا دمخه په لویدیځ کې شوی و، صرافان په هغه وخت کې د شاه شجاع په حکومت شا یسته ډاډه وو، خو د هغه د ړنګیدو له دورنما نه په سخته ویره کې وو. سره له دې چې د غه پاچا پیسو ته ډیرا ړو، له صرافانو نه پیسې په زور ترلاسه نه شوې دغو

صرافانو له حکومت سره په ډیرو معاملو کې له پاچا او دهغه له وزیر نه څه ویره نه درلوده خو دهغه له ورو مامورانو نه ډاریدل، څه وخت چې کوم معمولی درباري یا له صرافانو نه ډیر اخیستلو په باب مامورشو ددې احتمال په وچې هغه دشخصي کټې په منظور په هغوی ظلم وکړي او شیان پرې تحمیل کړي خو کله چې دغسې کار په یوه محترم شخص ته سپارل کیده، هغه به دصرافانو او حکومت ترمنځ عادله رویه غوره کوله او له دوی سره به به دانصاف معامله کیده دحکومت مخالفې ډلې په ټولو وسایلو سره بسپنې ټولولې ، او پیسې یې په زور ترلاسه کولې، مګر دغې ډلې هغه وخت ددې دپاره مبارزه کوله چې حکومت نسکور کړي . ددوی اعمال که څه هم ډیر نا منظم دي د سلطنت آرامتیا ممکن ددوی کړکتر له دغه اړخ اصلاح کړي وي . صرافان حتما له هغو سترولویو درانیو څخه چې خپل شته د زیاتې ګټې د پاره ددوی په لاس ور کوي، ضمانت ترلاسه کوي. داهغه معامله ده چې اشراف او صرافان په ګټو کې سره شریکوي ، دامې هم اشراف صرافان تر وزرولاندې نیسي او په ډیراهمیت ورسره چال چلند کوي، په دې امید چې هغوی وکولی شي له دوی نه پور واخلي. ددوی د ټولو نورو متشبثو طبقاتو په شان له هغې واضحې ربح څخه ګټه کوي چې پاچایې دخپل ملت دځینو افرادو په مقابل کې حمایه کوي.

سوداګران

سوداګران په عمومي ډول تاجکان، پارسیوانان او پښتانه دي. په دې ملک کې که څه هم سوداګری ته په ښکته سترګه نه کتل کیږي او سره ددې چې هم سوداګران په عمومي ډول د ټولنې په لوړو طبقاتو کې شمیرل کیږي او که څه هم یوشو واړه خانان حتی په درانیو کې هم سوداګرن دي، بیا هم هغسې ډیرې پانګې او پراخې تجارتخانې چې په فارس او هندوستان کې شته، په افغانستان کې نه شته. پر له پسې کورنیو شخړو سوداګری ته سخت زیان رسولی دی، په دې چې لارې یې خطرناکې ګرزولې دي او ټول تجارتي کاروانونه یې دجنګ کوونکو دیوې یا بلې ډلې دچورولو د پاره خلاص پرې ایښې دي . که دانه وي نود هندوستان ، فارس ، تارتاري او بلوچستان په منځ کې دکابل موقعیت او کشمیر دمتصرفې په حیث لرل به د تجارت د پاره حتما ډیرې ښیګڼې ولري. سوداګران ټول سنګین ، صرفه جو او غیر متظاهر خلک دي. دهغو سفرونو په سبب چې دوی یې دخپلې سوداګرۍ په دوران کې په بانديو ملکو کې کوي، دوی تر ډیرو نورو خلکو نرم طبیعت او منورډي ،دوی په هوسایۍ سره ژوند کوي ،خو نه په نمایشي ډول سره.

ملاجعفر سیستانی چې شاه شجاع ته ډېر مقرب واودولت دوزیرانو په قطار کې حسابیده، تل دیوه عادي سوداګر په لباس کې ګرزیده، یوازې یونوکراو یوچلم بردار به ورسره ملګری وا وهیڅکله یې نه غوښتل چې له عادي القابو نه غیر په هغو القابو یادشي چې دمهمو کسانو دپاره پکارېدل. داهغه ثبوت دی چې شپږمې پښتانه د تجارت په باب له هغو تنګو نظریو څخه ډیر خلاص وي چې په هندوستان کې معمول دي او دا چې هیڅ مهم سړی به له دې نه ډډه ونه کړي چې یا بو، آس یا یوه توره، او یاهر هغه ورته شی چې دی ورته ضرورت ولري خرڅ کړي. که څه هم واضحه ده چې منظم تجارت په دلویو کسانو دپاره دیوه ډیر نامناسب شغل په ډول کې حساب شی.

دکان داران او کسبګران

دښارونو پاتې برخه اوسیدونکی دکان داران اوکسبګران دي دوی په دوډیر شوکسبونو کې سره (۱) ویشل شوي دي هرکسب ځانله دکدخدا (صنفي مشر) په نامه یو مشرلري چې دهغه وظیفه د حکومت او هم دغه صنف ترمنځ د معاملو تنظیمول دي. ددغې طبقې په ښاري اوسیدونکو باندې منظم مالیات نه دي اېښودل شوي که څه هم دوی له هغو ګمرکی محصولاتو څخه معاف نه دي چې په ښارونو کې له ټولو وارداتی اموالو څخه اخیستل کیږي.

(۱) دغه شمیر په یوې طبقې کې دځو کسبونو په شامل لو سره دوه ډیر ښېودل شوی دي. څنګه چې دا به ددې دپاره مقیدوي چې دموجودمد نیت دوضع په باب یو مفکوره قایمه شي زه به دهغو کسبونو ذکر دلته وکړم چې اوس په واقعي ډول موجود دي دانوموته مادکابل د ښار له یوه اوسیدونکي نه چې دده په یاد را تللو ترلاسه کړي دي. جواهر خرڅوونکی، زرګران، کتاب پلورونکی، صحافان، قرطاسیه خرڅوونکی د قلمدانونو صانعان، مهرجوړونکی، وسله پلورونکی، سپرپلورونکی، توپک جوړوونکی، چاقوسازان پولاد پالش کونکی، لینډی اوغشی خرڅونکی، آئینه خرڅونکی، دبوټ جوړونکوا قسام، ګاولی (پټی) جوړونکی، تنې جوړونکی، دوریښمنو تارو خرڅونکی ګلان باتون خرڅوونکی زین جوړونکی، رنګمالان نعل بندان نقاشان، میوه فروشان اشپزان صابون خرڅوونکی، عطاران، فالوده فروشان، شیرنی پزان خاصګ دوزان اوهغه خلک چې دهغو کسب دادی چې په هرډول کالیو باندې له جواهرو نه نیولی حتی ترستورو اېښود لو پورې، تزئینات کوي. زه دهغو کسبګرو دنامه له ذکرنه ډډه کوم چې دژوندانه ضروریات خرڅوي لکه قصابان، نانوایان اوداسې نور چې ورته چې پورته ذکر شوي کسبونه موجود دي دغسې کسبګر هم وي.

حکومتي فشار

مګر له دوی څخه داسې تقاضا ګانې کېږي چې تر منظمو مالیاتو نه ډېرې خپه کوونکې دي، له دغو تقاضا ګانو څخه یو عمده یې هغه مجبوریت دی چې دوی د اردو بازار د پاره دکانونه تهیه کړي. یو څه وخت چې پاچا په خپل قلمرو کې له یوه ښار نه مارش کوي کدخدایانو ته امر کېږي چې له هر یو کسب نه دې یو دکان تهیه شي او له دربار سره دې تر هغه بل لوی ښار پورې ملګرتوب وکړي چې دوی هلته تم کېږي. کسبګران په دغه کار سره ډېر ضرر وینې په دې چې دوی ته د دوی د دغه کار په مقابل کې هیڅ نه ورکول کېږي او څنګه چې دوی د پاچا د نوکرانو په حیث ګڼل کېږي، یوازې د معاش مستحق پېژندل کېږي، دغه معاش هم په منظم ډول نه تادیه کېږي او دوی ته د ټولو معاشاتو په عوض څه وخت چې رخصتېږي یوازې یو سوټی پیسې ورکولې کېږي. ما ته دا نه ده معلومه چې د دربار له خوا تا کلې پیسې به د دغه کار په مقابل کې یو برابر جبران او سي، خو کوم مقدار پیسې چې د درباریانو او د کسب د مشرانو له لاروا صلې کاسب ته رسېږي، د هغه د کار او وړونو په مقابل کې لږ دي. هغه نور دکانداران د خپلو مالونو په مقابل کې ممکن لږې پیسې تر لاسه کړي، خو د دوی د معاملو د ماهیت له مخې کومې پیسې چې دوی ګټي د هغو معاشونو په حساب کمانه او غیر عادلانه وي چې دغو کسبګرو ته ورکول کېږي. څنګه چې منظم اردو بازار یوازې د شاهي خاندان د پاره خاص کېږي، د دغه زحمت د شایسته زیات شمېر ښاري خلکو په برخه کېږي د هغو سردارانو او عسکرو د ضرورت د رفع د پاره چې له اردو سره ملګرتوب کوي ډېر دکانونه هم وي. د دغې طبقې او هغو کسانو ترمنځ چې په دربار پورې اړه لري دومره لوی توپیر شته چې له دغې ډلې نه بیچ شی او دغه کار هغو کسانو ته په پوره ورکولو سره ممکن کړی چې وظیفه یې د هغو پیدا کول دی په داسې حال کې چې هغه نور په خپله رضا څي او په دغه کار کې د ځان د پاره ښه ګټه وینی.

معمولي ښارونه مجبور نه دي چې اردو بازار جوړ کړي، دغه مصیبت یوازې د کابل، قندهار، هرات او پېښور د ښارونو په نصیب وي. دغه مصیبت په دغه هر یوه ښار باندې یوازې کله کله په کال کې له یو ځل نه زیات لوېږي او له دریو هفتو یا یوې میاشت نه ډېر پایښت نه کوي، خو کله چې پاچا د دوی په ښار کې وارد وي، د هغه دکان-دارانو ډېر تاوان کوي. په دې چې دوی مجبور دي د هغه مامورینو ته د هغوی د نرخ له مخې شیان ورکړي. په داراموو ختو کې د ښار له خلکو نه د مجادله کوونکی اردو د پاره بسپنې غوښتلې کېږي، دغه بسپنې په عمومي ډول استهلاکي موادو په بڼه وي، خو پیسې هم ټولېږي.

د پولیس فشار

ممکن تر ټولو قوي فشار چې د ښار په خلکو راځي هغه وي چې د پولیس (څارندوی) له خوا وارد یږي پخوا د دې ذکر شوی دی چې د دغه ډیپارتمنت یوه څانګه د محتسبانو په لاس کې ده او هغه په دې موظفه ده چې د دین او اخلاقیاتو له اصولو څخه یوه ډېر واړه تخلف ته هم جزا ورکړی شي. د دغه کار نتایج ډېر دردوونکی دي او هغه پلمې دي چې په هغو سره پېښې تولیږي او دغه قباحت په پولیسو کې د مقرریګانو په اجارې ورکولو سره نور هم ډیریږي پخپله حکومت ته په دغو کار و سره څه ګټه نه رسیږي، په دې چې د ټولو هغو پیسو مقدار چې په خزانې کې د جریمو او ورو مصادرو له لارې د پېښور ښار له خلکو نه ټولیږي د کال یوازې یو نیم زروپۍ (یا یو نیم سل پونډه) کیږي. البته د پولیس د دفترونو د اجاره ګرو ګټه به تر دینه حتما ډېره وي، خو هغه تشویش او بېرونه چې له د غې د دې نه خلکو ته پېښیږي له هغه سره هیڅ تناسب نه لري. پولیسان په نورو خواوو کې ښه دي او جرمونه او ناراميګانې کمې دي. د پولیسانو افسران زیاتره د شپې ګرزي، د ښار هره ناحیه دروازې لري چې هغه په یوه ټاکلې وخت کې تړلې کیږي او په دې ډول غلاګانې تقریبا ناممکنې دي. خلکو ته اجازه نه شته چې د شپې په وخت کې چې پاچایی طرم غلی کیږي په سړکونو کې وګرزي. طرم د شپې د یوولسو او دولسو بجو ترمنځ غلی کیږي او تر راتلونکی سهار پورې نه شروع کیږي. څنګه چې طرم د ښار په هرې برخې کې اوریدل کیږي خلکو ته په ښه وخت کې د دې خبر ورکول کیږي چې تګ راتګ څه وخت مجاز او کوم وخت منع دی، که یوه چاته د دې ضرورت پېښ شو چې په منع شوي مهال کې وګرزي، دی حتما نیول کیږي، خو په هغه حال کې چې له ده سره لاټین وي او هغه د دې ثبوت شی چې دی په زړه کې کوم بد پلان نه لري.

دورځې ویشونه

د لته به دا بیځایه نه وي چې د هغې طریقې ذکر وشي چې په هغې سره به افغانستان کې ورځې ویشلې کیږي. ورځ له سهار نه شروع کیږي، چې هغه د سبا وون در ناییی له شروع نه یو څه د مخه وي او د لوړې لمانځه وخت اعلاموي. بل نښه شوی وخت لمرخاته دی، بیا څاښت یا د ډوډۍ وخت راځي چې د یوولسو بجو په شاوخوا کې وي. نیمه ورځ د څاښت او لوړې ماسپښین ترمنځ یوه لنډه وقفه ده، د څه وخت د لمانځه د پاره اختصاص شوی او د ختیځ په لورد سوري لوړ نیکو بوالی ښيي، بل په نښه شوی وخت له ماسپښین نه وروسته دی دا هغه وخت دی چې د یوه سړي سیوری د هغه د قد په اندازه وي او آخر ماسپښین ورته وایي. وروسته ما زدیګر راځي چې د پنځو بجو په شاوخوا کې د لمانځه

وخت وي . له لمر پرېوتو ډېر زر وروسته ماښام وي چې هغه هم د لمانځه وخت دی . د شفق له ختمېدلو نه وروسته په ماسخوتن کې د آخري لمانځه وخت دی او دریم طرم د شپې دیوولس نیمو بجو په شاوخوا کې وروستی وخت دی چې پاچایي باجه خانه غږوله کېږي . دا ټول هغه اصطلاحات دي چې د وخت د ښیه کېدو د پاره د ورځې د ساعتونو په ځای استعمالېږي . په عادي خبرو کې د ورځې له ساعتونو نه څوك په کار نه وړي، خو ورځ او شپه په څلورویشتو (۲٤) ګړیو ویشلې شوې ده چې د سهار له شپږو بجو څخه د ماښام تر شپږو بجو پورې حسابېږي او بیا له سره شروع کېږي . کال د اروپا په شان په څلورو فصلونو ویشل شوی دی چې د شپو او ورځو له اعتدال نه شروع کېږي او داسې فکر کېږي چې دا د پسرلي شروع هم ده . اسلامي میاشتې د قمري کال په حساب په عام ډول استعمالېږي، خو څنګه چې دغه میاشتې له موسم سره سمون نه کوي زیاتره له دولس ګونو برجونو څخه کار اخستل کېږي . په ختیځ کې تر اسلامي میاشتو هندي میاشتې ډېرې مشهورې دي .

د ښاري عوامو خلکو خوراك

دادی د ښار خلکو ته بیا راګرزو . عام خلك سهار پاڅېږي او د لمانځه داد- اکولو د پاره مسجد ته ځی . له لمانځه وروسته خپلو دکانو ته درومي چې هغه تل د دوی له کورونو څخه فرق لري . د هېواد په لویدیځ کې خلك له لمانځه نه وروسته یوسپك سبا ناری کوي . په ختیځ کې هم ځینې سبا ناری کوي . د یوولسو بجو، په شاوخوا کې دوی څاښتې ناری کوي چې هغه له سبزیجاتو، مستو، وچې ډوډۍ او غوښې څخه چې که یې په وس وي، متشکل وي . په اوړي کې د څاښت له ډوډۍ نه وروسته یو څو ساعته ویدېږي . هغه کسان چې شاګردان لري دکانونه ورته پرېږ- دي او پخپله د یوې لنډې پرسنکۍ د پاره خپلو کورو ته ځی . ځینې په خپلو دکانو کې ویدېږي، د دغه عادت په تودو اقلیمونو کې د دغو خلکو تنبلۍ یو لوی ثبوت ګڼل کېدای شی، خو باید په یاد ولرل شي چې دوی تر لس یا یوولسو بجو پورې نه ویدېږي او په اوړي کې یعنې په هغه یوازنی موسم کې چې دوی د ورځې خوب کوي دوی د سهار په دری نیمو بجو پاڅېږي چې د ورځې له خوب سره سره د دوی ټول خوب له هغه خوب نه چې ډېر عام خلك یې په انګلستان کې کوي نه اضافه کېږي .

د خلکو د ټولو ډولو لوی خوراك د شپې ناری دی چې له آخري لمانځه نه وروسته خوړل کېږي . دوی ټول په عمومی ډول په هفته کې دوه کرته خوټل د جمعې په ورځو ځانو نه مېنځې په پېښور کې دوی زیاتره په وازې په ازادې هوا کې غسل کوي

خود ساره ملك په ښارو نو کې د وي حمام ته ځي. د دغو حمامو شرحه په کثرت سره شوې ده. حمامونه درې کوټې لري چې هر یوه یې د تودوخې مختلفې درجې لري او له ټولونه په توده خونې کې کیسه مالان خلك داسې کیسه کوي چې د خیرې یوه ذره هم په پوستکې نه پاتې کېږي. حمام ته د ننوتلو اجوره تر یوې پېنۍ (Penny) (۲) نه هم لږه ده او د حمام ټول عملیات د مرجوړولو، د ځان د وېښتو سوځولو او د ږیرې د رنګولو په شمول یوازې سل دیناره یا څوارلس نیمې پې نۍ کېږي. د یوه شتمن سړي د پاره د یوې عباسۍ تادیه چې له یوه شلنګ (Shilling) نه لږه ده، د سخاوت یو ښه عمل ګڼل کېږي. حمامونه د ښځو د پاره د ورځې په څېنو ټاکلو ساعتو کې خلاص وي او په دغه وخت کې هیڅ نارینه ته اجازه نشته چې حمام ته ور نږدې شي.

د عامو خلکو ناری له وچې ډوډۍ، وریجو، غوښو، سبزیجاتو او کله کله له پنیر او زیاد تره له کرتو نه جوړوي. خوراکي مواد ارزان دي او خلك د میوو له بېخي زیات ډېروالي څخه ښه استفاده کوي. په کابل کې کله چې انګور پاو په یو فار-دنګ (farthing) (۳) خرڅېږي د ډېر ګراني وایي. دانا رو د یوه پاو بیه له نیمې پې نۍ څخه یو څه زیاته ده.

په یوې روپۍ (دوه شلنګه او څلور پې نۍ یا پنسه) دوه سوه پاوه منې په لاس راځي. دوه ډوله زردالو چې دواړه یې ښه ارزان دي شته، د دغو کر-انو بیه یې پاو په څه کم نیمه پې نۍ دی شفتالو تر دغو ګران دي. بهیان او ګردالو هم ښه ارزان دي او خټکي لا تر دغو هم ارزان دي. انګور دو مره ارزان دي چې بیه یې زیاتره په حساب کې نه راځي او دغه انګور چې په څومره دقت سره هندوستان ته صادرېږي کله کله ښارو یو ته ورکول کېږي. د کلك پوستو مغزلرونکو میوو (nuts) ټول ډولونه ډېر ارزان دي او چارمغز چې د کابل شمالي غرونه ترېنه ډك دي په یوې روپۍ دوه زره دانې خرڅېږي. د سبزیجاتو بیه هم بېخي ښکته ده. په ډېرې ورې مسۍ پیسې سره چې د یوې پې نۍ تر نیمایي نه هم لږه ده، شل پاوه پالك، پنځه ویشت پاوه کرم، پنځه ویشت پاوه زردکې، پنځه ویشت پاوه شلغم، کدو یا بادرنګ پلورل کېدای شي. د کوریاندر (Coriander) دانې، توامیریك (turmeric) او زنجبیل هم بېخي ارزان دي. یخ یا واوره چې په اوړي کې په کابل کې وي هم بېخي ارزانه ده، په کندهار کې یو څه ګرانه ده، خو ډېر غریب خلك یې هم پېرودلی شي. په اوړي کې یو ډېر مزه ناك خواړه پالوده

---

(۲) د انګلیسي د دغه وخت پونډ ۲٤۰ مه برخه (مترجم)

(۳) د یوې پې نۍ څلورمه برخه (مترجم).

دا چې له ژوبڼول شویو او وړو څخه لاس ته راځي او له واورې او د میوو له شربت او پیروي سره صرفیږي. البته په ژمي کې خواړه ډېر ګران دي او دغه ګراني په خاص ډول د کابل په ښار کې حس کیږي. په ژمي کې په کورو او دکانو کې د بخاریو ښو ودل ضروري او د تودوخې مواغوستل بالکل حتمي دي. په ژمي کې هوا دومره سړه وي چې ډېر غریب خلک د هغو ا د ختوځ ته ځي او هلته تر اوړي پورې پاتې کیږي.

ساعت تیري ګانې

د افغانستان خلک ډېرې ساعت تیرۍ لري چې تر ټولو عمده یې هغه ده چې دوی ورته سیل وايي. سیل د دري یا هر بی میرا و ښتی شکل دی. د جمعې په ورځ ټول دکانونه تړلي وي. هر سړی حمام کوي او خپلې ډېرې ښې جامې اغوندي او له یوې ډلې ملګرو سره چې تل د دغې ورځې د پاره تیار وي، ښار ته نږدې کومې غونډۍ یا باغ ته ځي. د ډلې هر نفر لږې پیسې په شراکت اچوي او په هغو سره ډېر خواړه، شریني ګانې او پالوده را نیسي او د ډېرو لږو پیسو په بدل کې چې دوی یې په باغ کې ورکوي، هر یو د دې اجازه پیدا کوي چې څومره کولی شي هغو سره میوه وخوري. دوی سبایي په سیل وځي او د ماښت نارې په باغ کې کوي. د باغ د ونو میوې خوري، چلم څکوي، کرمبول او نورې لوبې کوي. د سازنده و او اوازونو سیقۍ ته چې په ډېرو کمو پیسو یې استخدامیږي، غوږ نیسي. د کابل خلک حتی د کوهدامن شنو زرغونو درو ته له ښار څخه حتی تر دیرشو میلو پورې هم په هوا خورۍ ځي. د دغه هوا خورۍ څو ورځې غواړي، خو د هغه ځای ښکلا، بې شمیره باغونه او د میوو او خوړو آزادي د هغې پوره جبران کوي. په پسرلي کې د میوو ځای د بودینه (Budina) د رود غاړې دي او هلته د هوا د ښه والي په وجه کال د ولس میاشتې میلې کیږي، خو په کابل کې په ژمي کې ورځ د لې جوړیږي چې لیوان ښکار کړي او یا نښې وولي.

د کابل د ښار خلک که څه هم ښه مذهبي دي او اخلاقیات یې هیڅ سست نه دي د هر ډول ساعت تیریو او هوا خوریو علاقمن دي: دوی زیاتره په خپلو کورونو کې بدلۍ وايي، سازونه وهي او د چرګانو او مړزانو له جنګولو نه او رازرازلو بوکوا او اوسپورټ کولو نه خوند اخلي.

دیوه وزګار سړي ژوند

اوس مې چې د کارګرو خلکو ژوند شرحه کړ، دیته به راوګرځم چې د یوه وزګار ژوند انځور کړم.

هغه وخت چې ښاغلی دوري (Dure) په کنده هار کې و، هغه د خپل وخت ډېره برخه د یوه تاجک نانوای کره تېره کړه، د دغه نانوای شایسته بوسې ګټلې وې او له نانوای توب نه یې بس کړی و. دغه لاندنۍ کرښې د ښاغلي دوري له خولې د هغه د ژوند بیان دی.

ښاغلی دوري هر سبا وختي نانوای کره ته، دی زیا تره وخت له یوه ډول ملا سره ناست و چې هغه د ده په کور کې اوسېده. د دوري دغه ارادتمندي د هغوی پر و ګرام ته څه خلل نه پېښا وه په دې چې نانوای کله کله لمونځ کاوه او ملا هیڅ نه کاوه. دغه وروستي ترک د نیا کړی و او ظواهرو ته په ځای یوه (زما په خیال چې دی صوفي و). د دوی سبا ناری وچه ډوډۍ او شوروا وه، چې کله کله به په کور کې تیارېده او ځینې وخت به د شوروایي له دکان نه راوړل کېده. ښاغلی دوري یوازې کله کله له دوی سره سبا ناری کاوه او یوازې ځینې وختونه به یې په هغه ساعت کې ناآشنا خلک هلته لیدل. سبا ناری چې به خلاص شو دوی به د کور شاته یوه ننګړ ته تلل او هلته به زړیو شمیرنو رخلک ورسره یو ځای کېدل دوی به په قالینو کښېناستل او چلم به یې څکاوه، ملا کله کله چرس څکول او ځینې نور به هم کله کله په پره کې ورسره یوځای کېدل خو ډېرو به یوازې د چلم یو دود غوره ګاڼه. دوی به داسې هم د ورځې په دوران کې کله میوه خوړله او شربت به یې چښه

، دغې ډلې خلکو به په زړه پورې غوږې کولې، مګر څنګه چې د میلمنو زیاتره یې پښتانه وو او زیاتره په پښتو ګړېدل ښاغلی دوري په خبرو نه پوهېده دوی به داسې هم کړمبول ته ورته یوه لوبه کوله غږې به یې نیولې او هغسې سپورتي لوبې به یې کولې چې د هندوستان او فارس په څېر د دوی په ټول ملک کې معمولې دي. د دغو لوبو د هغو بیشمارو دریځو بیان چې په پهلوانۍ کې اختیارېږي ډېر وخت غواړي، یو څو عمده تمرینونه به یې دلته یاد کړم په یوه تمرین (سینه کشی) کې اجرا کونکی د لاسو او پښو په ګوتو تکیه کوي متې یې ښې شخې وي او ځان یې په افقي ډول له ځمکې نه یوڅه پورته نیولی وي، له هغه وروسته ځان ځمکې خواته کشوي او په عین حال کې خپلې متې قاتوي، داسې چې سینه او نس یې نږدې په ځمکه لګېږي. کله چې ځان یې تر وسه وسه د ځمکې په لوري ټزولی وي په همغه بڼه یې د شا په لوري کشوي خپلې متې نیغوي او دغه حرکت څو واره کوي. چا چې دغه تمرین نه وي کړی، نه شي کولی لس ځله یې پرله پسې اجرا کړي، مګر هغه قوت چې د هغه په اثر تولیدېږي دومره ډېروي چې یوه انګلیس افسر وکولی شو ه دغه عملیه له کومې وقفې نه شپږ سوه کرته تکرار کړي او د ورځې یې دوه ځله اجرا کړي. بل تمرین د سر شاوخوا د یوه لرګي تاوول دي، په داسې ډول چې هغه ټول بدن په حرکت راولي، دا عملیه په یوه لوي ډانګ سره چې په دواړو لا

سونو کې ټیټول شوی وي اجرا کیږي او بیا په دووړو ډانګوسره چې په هر لاس کې ټیټول شوي وي. دویم تمرین دیوې قوي لینډۍ کشول دي چې زنځیري د تار د مزي پرځای له یوې اوسپنې نه جوړ شوی وي . لومړی دغه لینډۍ، د معمولي لینډۍ په څیر په ښي لاس کشیږي او وروسته ښی خواته اچول کېږي او بیا په کیڼ لاس کشیږي او وروسته په ډیر شدت سره په دواړو لاسونو ښکته کیږي داسې چې د اجرا کوونکي سر او اوږې د لینډۍ او زنځیر تر منځ ښکاري. دغه وروستی تمرین یوازې په متو او سینې عمل کوي، خو هغه دوه نور یې هره عضله تر فشار لاندې نیسي. د هر نور تمرینونه هم شته چې د ځان ځینې خاصې برخې پیاوړې کوي چې یو قابل استاد یې د خپل شاګرد معیوب ځان په نظر نیولو کې لوسره تطبیقوي .

داچې دغه تمرینونه تر کومې اندازې عضلات پنډوي او قوت یې ډیروي د ښاوروړنه ده که څه هم د تمرین په لومړ بوورځو کې ستړتیا ډیره وي ، وروسته د غه تمرینونه خوښوونکي احساس ، د سپکوالي احساس او د خوښۍ سبب کیږي ، او تول ورځ دوام کوي. ما د دغسې تمرینو اجرا کوونکی نه دي لیدلی چې ډیر وخت یې د عمل اجرا کړی وي او پراخه سینه ، ښکلي اعضاء او پړیړ او ټکره عضلات و نه لري دا د شرق له ډیرو ښو اختراعاتو څخه دي چې اروپا یې ترې زده کولی شی په واقع کې داد لرغوني یونان له جمناستیکي تمرینونو سره قوي ورته والی لري .

د وزګاروخلکو ساعت تیري

څنګه چې یې دمخه بیان وشو ورځ تیره شوه او د نانوای میلمانه رخصت شول او پخپله نانوای د شپې ناری وکړ چې له ښه پلاو او نورو فاسی خوړونه متشکل و. ښاغلی دوري له هغه سره زیاتره وخت ډوډۍ نه خوړه او نه له هغه سره نور خلک وو، خو دوی تل د ځلورو کسو یوه ډله وه چې یو یې ملا بل یې یو ځوان وراره او یو بل یې یو معیوب خپلوان وچې په اسماګر زیده له ډوډۍ خوړورو وروسته له ګاونډ یونه غیر نور څوک نه ور تلل چې هغه عموما ښاغلی دوري او دوه واړه دراڼي خانان وو چې په اردو کې شامل نه وو خو د مځکو او کورونو خاوندان وو او د هغو په عایداتو یې ژوند کاوه. دواړو آسونه لرل او په پوره وقار سره یې ژوند کاوه. دوی د ښه طبیعت او ښې تربیې خاوندان وو او له ښاغلی دوري سره یې ښه مودبانه رویه کوله . د غو ښاغلو او د کور خلکو تل د مذهب او جنګ په باب غوړې کولې د فارسی شاعرانو قصیدې یې اورولې او دوري یې د هندوستان او اروپا په باب پوښته. دوی مخصوصا له انګریزي ید لوڅخه خوند اخیسته چې ښاغلی دوري به ورته ویلې او بیا به یې په دري ورته شرحه کولې . تولو به په

ګڼه هغه تي د شپې تر ناوخته پورې د دوړې په قول «به د پېرې خوښۍ سره» پدلې و پلې او «څه وخت چې ساز په غږېده دوی به په ګډه په اعلی توګه پدلې و پلې» نا نوای چې په پدلې و پلې هغه به په خاص ډول په جذبې راغی داسې هم یو څه څنډ پرته رباب واهه. دا ود ننه په کورو کې د دوزګارو خلکو مصروفیت.

داسې هم دوی بیرون وځي چې په د کابل کې کښېني او خبر ونه واوري، په بازار کې له خپلو دوستانو سره ګرځېږي او په سرکو نوکی قصې او دستانې پدلې واورې یا د فقیرانو ملنګانو باغو ته ځي. دا ځایونه دې په ځای چې د زهد او ریاضت ژوند په کې وشي دوزګارو خلکو په تیره د هغو کسانو ځایونه ګرځېدلي دي چې نیشه او روږدونکي دوا ګانې استعمالوي. داسې هم دوی د پدلې بیرون د باغو ته ځي چې هلته د تفریح د پاره د پېړونې او ویالې شته «داهغه ساعت تېري دي چې ښاغلی دوري یې په ښه خوند یادوي. په دې باندې بهدا اضافه شی چې ځینې کسان په ښوشرا یطوکې زیاتره د شپې دا نګورو شراب (Wine) څښي او داسې خلک لري چې ورته ناڅي، غزلې اوروي او یاد قوت او مهارت ننداره یې ورته کوي. نڅاوې په عمومي ډول د هلکانو له خوا وې، په پېښور کې نڅا ګرې کمې نه دي خو د هیواد په لوېدیځ کې ډېرې لږې وې.

د پښتنو په ښاروکې وګړي د هغه وطن کالي اغوندي او عادتونه یې ماتي چې دوی ورته منسوب دي. په نتیجه کې کوڅې داسې را تورې د بېلو قومونو او ملتونو یوه عجبه منظره جوړوي چې هر یوه یې د خاصو جامو او د خپلو توکم په سلوکو سره پېژندل کېږي، داسې ښکاري چې د دغو حالاتو او د عادتونو، د ژبو او مذهب د تنوع سره سره چې بایدحتما په د غسې یوې توليني کې وي، دوی تول له یو بل سره ښه ناسته ولاړه لري او په پوره انسجام سره ژوند کوي. یوازنی استثنی د کابل د شیعه ګانو او سنیانو تر منځ سخا لفت دی، خو حتی دوی هم له یو بل سره راشه درشه لري او په خپل منځ کې سرمودونه کوي.

له تولو هغو څه چې مې یا لیدلی یا اورېدلی او مخصوصا د ښاغلي دوري له وینا څخه زه باید دا ونه ګڼم چې په ښارونوکې دې د خلکو حال ښه نه او سی، خو د دوی حال به دیوه انګریز د پاره د اروونکي وي او هغه بې غمی او هوسایې چې دوی یې لري باید حتما هغسې عملی فلسفې ته منسوب وګڼل شي چې تول خلک یې په ورته حالاتو کې حاصلوي او دا چې دوی په دې قادر کوي چې د هغو ناخوا او زغم وکړي چې ور سره رو پدي، شوي، بې له دې چې د ما ضي په باب سوچ وکړي او یا له آینده نه ویره ولري.

نهم فصل

د اشرافو سلوکونه، عادتونه او کرکتر

د اوسیدونکو هغه یوازنی طبقه چې اوس به یې بیان وشي، له لویانو نه جوړه ده. تر دغه نامه لاندې زه درانی لویان، قومي مشران له هغو ټولو کسانو سره چې له دوی سره دربار ته ځي او ټول هغه تاجکان او پارسیوانان چې د پاچا په شاوخوا کې لوی منصبونه لري، شاملوم. د دغو اشرافو لوړنۍ طبقه خلک یوازې کله کله په خپلو کلاګانو کې اوسي، خو دا په هغه وخت کې وي چې دوی یا له پاچا سره مخالف وي یا په هغو لنډو وقفو کې وي چې پاچايي دربار دوی ته نږدې راغلی وي او دوی خپلو کلاګانو ته ورتللی شي چې یا د اوړي له تودوخې نه ځان وژغوري او یا له ښکار کولو نه خوند واخلي، د دوی دایمي استوګنه تل له دربار سره وي.

د اشرافو کورونه او د کور سامانونه

د دوی کورونه د هغو پلانونو په اساس جوړ شوي چې ما په پېښور کې لیدلي دي، خو څنګه چې په هغه ښار کې د دوی استوګنه موقتي وي هغه هومره ښکلي نه دي لکه څنګه چې د هیواد په نورو برخو کې دي.

ټول کورونه لوړ او د یو الوچار پېره کړي دي او له طویله خانو، د نوکرو له خونو او داسې نورو نه غیر درې یا څلور لوی انګړونه لري چې په عمومي ډول په باغونو کې طرح شوي او ډنډونه او فوارې لري. آبادي د انګړ یوه اړخ کې وي چې په دوو یا دریو پوړونو کې له مختلفو وړو اپارتمانونو نه متشکله وي، او تر ټولو لوی سالونونه لري چې د خپل اهمیت له امله دوداني په منځنۍ برخې کې واقع دي. سالونونه د لرګیو په ستنو ولاړ دي او مراکشي محرابونه لري چې هغه د سالون په څېر ښکلي شوي او نقاشي شوي او کنډل شوي دي.

پورتنۍ خونې په دهلیزو سره د سالونو په مخ خلاصېږي چې تر دیوال پورې
ترنیمه حده موازي وي او په ستنو او محرابونو ښکلې شوي دي. سالونونه چې دوازې
د ساده ارګیونه جوړ شوي او ستنو او پنجرو (اورسیو) په اثر ښکلي شوي دي د پنجرو په
ایسته کاو سره تل بوکېدای شي. د هغه پوره داخلي سالون دیوال ښه پوخ او په
هغه کې د اوربلولو ځای هم موجود وي. د دغه دیوال پورتنۍ برخه له طاقچو د
ولو محرابو څخه جوړه ده چې هغه د دهلیزونو دادامې په شان ښکاري هغه او همدغه
راز هغه ریښتیا نی محراب ډوله طاقچې په لویو او مهمو مواقعو کې په روغني
نقاشیو او نورو تزئیناتو سره ښکلې کیږي .

دا نګړونو په هغو نوروا ړ خوکې وړې خونې دي او په هغو کې د کورخاوند د
استراحت ښه آسوده اپارتمانونه وي چې په یوه کې یې لږ تر لږه د ساړه موسم د پاره
ښېښه ارونکې کړ کۍ موجو دې وي، په دغو بېلو اپارتمانو داور بلولو
ځایونه شته، دیوالونه او ستنې یې په ګلونو سره ښکلې شوي او دغه ګلان بېلې
طرحې لري او یا په لعابي رنګ یا روغني رنګ سره نقاشي شوي وي دا ټول د هغې
سوېنې سطحې د پاسه وي چې په بوراز او بو سپین شوي دي او وړې ځلېدونکې ذرې
لري چې د سیم ګل یا د نقره یې ختې په نامه یادېږي . دروازې له کېندل شویو
لرګونه جوړې دي او په ژمي کې په نخي توکرانو، خامك دوزي شویو توکرا-
نو سره پوښل کېږي . په ټولو خونو کې په هغه لوړوالي سره چې رسېدل ورته
آسان وي په دیوالونو کې محرابي ډوله طاقچې وي . دغه طاقچې ډېرې ګڼې
نقاشي لري او بې له دې چې د کومې عالي سلیقې رعایت پکې شوي وي ، په
رنګ رنګ ښیښه یي بوتلو سره چې له ترشي ګانو او مرباګانو نه ډکوي ښکلې شوې وي .
غریبان هم دغسې طاقچې لري چې دوی یې په چینی بابسره ښکلې کوي او په هغو
کې د ژمي د استفادې د پاره میوې ساتي. دخونو پردې له پنبې نه په ډکوشوچیتا
نو یا کتانو نو څخه جوړې وي چې د مرغیو ، ځارویو ، ګلانو او داسې نورو په
څیر وسره په روغني ډول نقاشي شوي وي . د ښځو د کورو که ټول تصویرونه
نه وي نو زیاتره یې په فارس کې جوړ شوي دي. څېرې یې د پخوانیو فارسي پاچا یانو
یا جنګي میړو یا د ځوانانو او ځوانو ښځو دي چې سره شراب څښي او یا د ځینو فارسي نظمونو
انځورونه دي. داشرافو د خونو ستر تزئیني شیان قالینې او نمڅې دي چې د نورو ټولو
فرنیچرو په ځای تر ډېره استفاده کېږي. فارسي قالینې په اروپا کې دومره
مشهورې دي چې د لته یې بیان ته ضرورت نه وینم ، خو یوراز قالینې چې هرات
ته نږدې اوبدل کیږي تر ټولو نورو قالینو څخه چې ما لیدلي دي ډیرې ښکلې وي
قالینې له وړیو نه جوړې دي خو داوړۍ دومره ښکلې جذبوونکي دي او په داسې
ځلېدونکو رنګو سره رنګ شوې دي چې د وریښمو په شان معلومېږي. له ډېرو اعلی

شالونو نه جوړې شوې قالینې هم استعمالېږي، خو د ښکلا دغه ټوټه باید د زښت
زیات اکثریت په وجه ډېره نادره وي (۱). د ناستې د پاره داسې لېمڅې شته چې
د ننوتلو د ځای نه غیر چې هغه تل د سالون په یوه کوټ کې وي، نږدې ټولو
دیوالو ته رسېږي. د لېمڅیو رنګ نصواري ډوله خاکستري وي چې د کمرنګه
ګلانو طرح پرې وهل شوې وي. هغه لېمڅې چې د خونې په سر کې هوار وي نظر
نورو ته پراخ وي چې نږدې دري نیم یا څلور فوټه وي. د سر د لېمڅې د پاسه د درنو
مېلمنو د پاره په بخملو یا وریښمو خامک دوزي شوې قالینچې او له هماغو ټوکرو،
ښځه جوړ شوي بالښتونه اچول شوي وي.

حرم یا حرم سرای تل د انګړ په شا برخه کې وي، هغه ځانله د ننوتلو لار
لري، خو په یوې خصوصي لارې له هغو اپارتمانو (سراچو) سره برابر اوده کوي چې
ملمانه پکې مسفل کېږي.

قصرونه حتی په کابل او کندهار کې هم ممکن د فارس تر قصرونو ښځه
ښکته اوسي او هیڅ یو به یې په یقیني ډول د یوې شیبې د پاره هم د انګلستان
له قصرو سره چې له سامانو ښځه ښه ډک دي پرتله نه شي.

د نارینه وو لباس او تزیینات

د پښتنو د اشرافو لباس د فارس په طرز دی او هغه له دغه اجزاو نه متشکل دی:
د کتان (۲) یو کمیس، ارت وریښمین پرتوګ، د ماسولي پټام (Masulipatam)
اعلی چپتۍ واسکټ له څنګونو وړو طرحو سره چې تر پښو پورې رسېږي او ورنونه
او د لینګی پورته برخه پوره پټوي او په تارونو سره په بدن پورې ټینګ
تړل کېږي، له هغه قسم مګر له بېلو ټوکرانو جوړ شوی بهر ټنۍ واسکټ،
د شال یو کمربند او د پښتنو یوه خولۍ چې د لنګوټې په شکل یې شا وخوا یو شال
په مست ډول تړل شوی وي. په دغه لباس باید د اشیان و راضافه شي

۱- له ملاجعفر سیستاني سره یوه داسې لویه شالي قالینه وه چې د ناستې د پاره یې
بېل بېل ځایونه لرل. شاه محمود ته دغې قالینې په باب خبرې شوې وې او
وروسته له هغه چې دی خلع شو دغه قالینه د یې په څلور مېراني ول شوې وه، ملاجعفر
د هغې په بدل کې اس زره پونډه غوښتل او ویل یې چې دا پیسې د هغې له اصلي
قیمت نه ډېرې کمې دي. هغه غوښتل چې دغه قالینه د فارس او روسیې په
دربارونو کې خرڅه کړي او که یې هلته خرڅه نه کړای شوه، غواړي چې ټوټه
ټوټه یې کړي او په ترکانو یې خرڅه کړي.

۲- یو ډول ارت نخي ټوکر چې ډېر ښه رقم یې له الیپو (Alep) او عمومي
ډول یې له فارس نه واردېږي.

دسپین کتان یاشال پټی ، جرابی او فارسی ګلولي او یوه لویه چپنه یا کوشی چې په او بواچول کیږي په واسکټ کې د تڼیو او غوټو قطارونه لیدل کیږي چې ښکته دواسکټ ترسینې او استونو پورې رسیږي . یو ډول کوشي دداسې غټو تڼیو او غوټو یو قطار لري .

پورتنی واسکټ په عمومي ډول له ډیر قیمتي مګر ساده ټوکرنه جوړ شوی وي . یو شی چې اورموک (Oormuk) نومیږي داوښ له وړیښتونه جوړ وي او په عمومي ډول تصواري شانته رنګ لري ، هم دقوي تور رنګه کتان په شان ډیر عام دی . اتلس، شال او فارسي زربفت هم اغوستل کیږي . ښځانه دیوه مکمل لباس د پاره دزریڼو ټوکرانو ډیر ښکلي واسکټونه هم اغوندي . هغه شال چې تر ملا پورې تړل کیږي ، له هغه ډول څخه دی چې بوازې کله کله په هندوستان یا انګلستان کې لیدل کیږي . دغه شال اوږد او نری دی ، (نږدې یونیم نوټ سور لري) او ټول خامک دوزي شوی وي څنګه چې دشالونو بیه ددوی دخامک دوزیو په تناسب ده ، په دې سبب هغه ډیر ګران دي . یو ښه شال له ۱۵۰ نه تر ۲۰۰ پونډونه پورې بیه لاس ته راتللی نه شي هغه لنګوټی چې په سر تړل کیږي له هغه ډول څخه دي چې په انګلستان کې یې ښځې او په هندوستان کې یې شتمن استعمالوي . هغه شالونه چې دواسکټونو په شکل اغوستل کیږي دهمدغه مقصد د پاره جوړیږي او ټوټه ټوټه خرڅیږي دشالو په رنګه صحن باندې واړه ګلونه نقش شوي وي . کوشي دشال له ډول نه دی خو دهغه ګلان هغسې لوی دي لکه څنګه چې دهندوستاني شالو په حاشیو کې وي . هغه دهغو نورو څیزو څخه جوړیږي چې ذکر یې د مخه شوی دی او له موسم سره تغییر کوي . په اوړي کې دسپینو وریښمو یوه چپنه کفایت کوي او په ژمي کې کوشي زیاتره دوه قاته او د بلوي او ښندې یې په قیمتي پوټکو سره پوښلي شوي وي . دسفر په وخت کې دوی په عمومي ډول آزاد کالی آغوندي او تل هغسې ساق دار بوټان په پښو کوي چې د ټولو درجو خلکو دپاره همغه یو ډول وي یعنې جګ وي او د زنګانه د مخه یې زوندی (زمبک) لري . ساق دار بوټان چې له تصواري رنګه قوي څرمن څخه جوړ وي او په نري یوتلیو کې یې (ګزدمک) وهل کیږي ، مګر شتمن کله کله دکورمې څرمنې ښنه یا تور ساق دار بوټان په پښو کوي .

پخوا داسې یوه مقرره وه چې اشراف باید له زري کالیو نه غیر په نورو جامو کې په دربار کې ښکاره نه شي . نو ددغې مقررې رعایت اوس نه کیږي ، خو هر یو باید اروسر و ساق داربوټان په پښو او توره تر ملا و لري . هغه کسان چې پاچا ځینې امتیازات ورته ورکړي وي ، باید دخپل لنګوټي په ښي اړخ کې دجواهرو یو نښان ولري چې شاخوا یې د یوراز

سپین مرغه د ښکي جوغه جګه تو سبل شوې وي . د غه مرغۍ یوازې په کشمیر کې مېندل کېږي او د هغې ښې په ډېر احتیاط سره د افغانستان د پاچا د پاره تولیږي او هغه یې پیاخپلو درباري اشرافو ته ښېي . هغه نور کورنۍ تزیني شیان چې پښتانه اشراف یې استعمالوي او هغه له طلا یا له جواهرونه جوړ وي د دوی په تورو چړو او ټوپکو کې استعمالیږي . د دوی توره د فارس په ښه ده چې په ټول لویدیځ کې مروجه ده د دوی پیش قبضې (چړې) لاستی زموږ د پیشقبضې د لاستي په څېر دی یوازې په دې توپیر چې د دوی لاستی د ګوتو د حفاظت د پاره څه شی نه لري او تیغ یې زموږ تیغونو څخه لاندې او کوږ دی . هندوستاني پولاد دوی ډېر زیات خوښوي، خو تر ټولو ښې تورې په فارس او سوریې کې جوړیږي . پیش قبضه په عمومي ډول د پښتنو اوږد چاقو دی چې تیغ یې نږدې دوه فوټه اوږدوالی لري سوریې په بیخ کې تر دوو انچو ډیروي ترڅو چې تر یوه ټکي پورې رسیږي یوه خوا یې ښه تیره او بله یې پریږه او دومره توی وي چې له پیشقبضې نه هم درنه وي .

لاستې یې د لاس د پاره فقط کافي وي او د نیونې خاص ځای نه لري مګر هغه چې د تیغ په واسطه جوړ شوی او د لاس د پاسه طرح شوی وي څه وخت چې پیشقبضه په ټیکي کې واچوله شي د لاستي له له یوه نیچ نه غیر نوره ټوله پټه کې ننه ایستله کېږي . د فارس لنډه توره چې لاستی یې ښه پریږ وي هم ښه رواج لري خو تر ټولو ښکلې دې زما په فکر هغه ده چې ترکانو ایستلې ده په هغو سوغاتو کې چې زه د افغانستان پاچا برې وو یارلم یوه هم هغه پیش قبضه وه چې اوس ممکن د کلکتې د رې په دفتر کې وي د دغې پیشقبضې اوږدوالی نږدې څوارلس انچه او ټیکی او لاستي یې دواړه ګرد وو، چې ترڅو کې پورې چې هغه یوځه ښکلې شوې وه او ورو ورو داسې نرۍ کیده چې یوه ټکي پورې رسیده په مخنۍ برخه کې یې د جواهرو غمې ایښودل شوې او د سرخوکه یې په یو پېل یاقوت سره چې الماسونه پکې ایښودل شوي وو پوښلې شوې وه . د هغې له باندنۍ برخې سره هیڅ شی په ښکلا کې سیالي نه شي کولی خو کله چې له ټیکي څخه وایستله شوه داسې یو چاقو به ښکاره شو چې که څه هم له ډېرو ښو پولادو نه به جوړ و هغه عینا آشپزخانې د یوې وړې چړې په شکل و . لویان تل په مهمو مواقعو کې داسې تورې پیشقبضې سلاوستنی او نور شیان له ځان سره ګرزوي چې په زیاته اندازه په جواهرو ښکلې شوي وي خو هغه چې دوی یې په عادي ډول له ځان سره ګرزوي ساده وي او هغه توره چې ډېره ښکلې وې تل تر ټولو ښه نه وي . کومه هغه توره چې د کابل پاچا د هند ګورنر جنرال ته استولې ډېره ساده وه . دا توره په اصل کې د ګوډ تیمور وه چې وروسته د فارس د صفوي پاچا یا نومال شوه او بیا په اصفهان کې پښتنو پاچا یانو تر لاسه کړه . د دغې تورې په

لاستی کې هم ازې یو ښو طلاوې ایښودل شوې وې او برجسته شوی پوښ یې له همغو موادو څخه جوړوچې هغه تر ټیکی پورې نږدې تر شپږ او ه انچو پورې رسیده لویان کله کله په ملاو ستنی کې خو زیاتره د تفنګچې په قایو کې تفنګچه ګرزوي. هغه تفنګچې چې د ګرجستان په ختیځ کې په داغستان کې جوړیږي ډیرې ستا یلې کیږي خو ما داسې تفنګچې په کشمیر کې لیدلې وې چې دهغو له مخې جوړې شوې دي او هیڅ فرق یې ورسره نه کیږي تو لې ډ لې خلک یې وسلې وي خو دا هغه وخت چې په دربار کې یا په سفر کی وي .

د ښځو جامې او ګاڼې

دلویانو ښځې د فارسیانو لباس اغوندي او البته د ګاڼو او جامو یې شمیره ډولونه استعمالوي . ددوی دلباس ډیرې مهمې برخې دادي : د شنې بخمل یا شال یاوریښمنو پتلونوله ، او بخملی یا زرینو او داسې نورو تو کرو کمیسو نه چې له هغوجامو سره زیات ورته والی لري

چې دانګلیسانو سواره یې اغوندي ، دغه کالی د ټنیودرې قطاره لري چې په یوې داسې سو ر و رې پا یپچی سر ه تړل کیږي چې په رنګه ډول ګل کاري شوي وي ، داستونې شاوخوا ان تر ګوتو پورې ښکته را ځی اودې دپاره چې د زري توکریا قماش استر وښوول شی دشا برخه یې په پریږ یعنی دوه قاتی ډول سره اغوستله کیږي دلویانو تشریفاتی مراسم د عوامو خلقو په شان وي . دویلږ ځای دخونې په کنج کې دی چې د وره په مقابل کې واقع وي . هلته د وره مخا مخ دکورخاوند کښینی او شایی د باغ یادانګړ په لور نیولې وي ، هغه ته نږدې دنوکرانو یو قطار (په دربار کې) ولاړوي اوله محنې څخه دسالون ترمعمولی لوړ والی نه زیات د دوی سرو نه دومره جګ نه وي چې دوی په سالون کې د ننه میلمانه ولیدلی شی . څه وخت چې د کو رترخاوند نه پولوړکس هغه دلیدو دپاره راځی دکورخاوند دهغه د هر کلی دپاره وړاندې کیږي مګر د یوه مساوي شخص دهرکلی دپاره یوازې له ځا یه ولاړیږي ، دځان نه ښکته میلمه د پاره یوازې تر زنګنو پورې جګیږي ، دکورڅښتن له خوا دا دډیرعزت نښه ده چې خپل د ناستی ځای میلمه ته پریږدي ، څومره چې دناستی ځای هغه ته نږدې وي هغومره دعزت نښه ګڼله کیږي لویان د پاچا دپلان په اساس دخپلې خیلخانی تر تیب برابروي دروازه وانان لري ، چې قابچیان (۲) نومیږي دوی اوږدې ډنډې په لاس د وره دباندې ولاړوي یو میلمه

(۲) قابچی د ترکی ژبی څخه د وره په معنی دی.

په وره کې ديوه يادوو ابشك اغاسيانو (۳) له خوا استقباليږي او لوړي انګړ ته بيول کيږي .

په بله وره کې داسې ډ ډلو سره چې په سرکې يې عاج وي نوردروازه وانان ولاړوي او دلته نور افسران دهغه هرکلى کوي او مختلفو انګړوته يې په همغو اشکالو رهنمايي کوي ترڅو چې عرض بيګي يې سترمشرته معرفي کړي او هغه ته دناستې يو مناسب ځاى په ګوته کړي له هغه وروسته نور تشريفات نه وي، داسې هم په خبرو باندې قيود نه وي مګر هغه چې په ډيرو سلکو کې دسترمشر خاص مزاج او دمېلمه دتابعيت درجه يې لازمه ګرزوي. دلويانو سلوکونه ساده او نرم او په عين حال کې له وقار نه ډك او مهربانى وي .

دهغو قصرانو جامې چې يې ما بيان وکړدهيواد د اشرافو دكاليو په شان دي او څومره چې ددوى ځاى دهر کلي خونې ته نږدې کيږي هغومره د دوى دريځ لوړيږي، خو هغه نورنوکران په ساده جامو کې وي. داسې ښکاري چې د کابل لويان د پريټ مخالف او سي او دخپلو نوکرانو شمير يا دهغوى له ظاهري شوکت نه زيات دهغو په نظم او ارامى و ياړي داسې هم هغه وخت چې دوى بهرته وځى دوى په شمير کې هيڅکله ډير نه وي مګر په ډير تنظيم او سلوك او ترتيب سره روان وي په هندوستان کې د يوه لوى شخص راتګ که يو ميل ليرې هم اوسى، د هغه د نوکرانو په چغو وهلو د ترو مپټو په غږولو او ډولونو په وهلو سره معلوميدلى شي. که څه هم د دملا زمان شمه ډولى ښکاري په دې چې د سورواو پياده ګانو شمير يې چې هغه ورځنې متشکل وي ډير وي، حرکات يې چټك او ګډوډ وي، وسلې يې ځيليږي او له طلايى توکرانونه جوړ شوي بيرغونه يې چې ور سره ګډوي پړك وهى، سرله دې هم په دوى کې دسپلين او ادب لښى ډيرې ليږوي. بر خلاف به کابل کې به له اشرافو څخه يو په اسور شوى وي، ترڅنګه به کوز شوى وي او حتى خونې ته به نږدې شوى هم وي تاسې به پرې خبر نه اوسې .

دنوکر ووفاداري

په افغانستان کې نوکران دوفادارۍ او فعاليت په برخه کې ښه نوم لري، دوى په رانه تندي سره هرراز کارکوي، په سفر کې په داسې حال کې چې ښه مسلح او په آس سپاره وي د خپل بادار خدمت کوي او بادار يې زيا تره وخت خپل سهم رازونه ورته وايي . ددوى بادارانو له دې چې کوم احتياطي اقدامات يې کړي وي خپل ډير پټ پيغامونه دهغو په لاس استوي ، خپلونوکرانو ته يوازې د غسې ښه ورکوي چې يو څوك چې

(۳) ابشك اغاسى هم يوه ترکى کلمه ده او د(وره ځښتن) ترينه مراد وي.

پیغام ورته استول کېږي پرې باور وکړي . ددې مقصد د پاره بادار هغه ته یا خپله ګوته یا بل د غسې شي چې دده په شخص پورې اړه ولري استوي او یا خپل نوکر ته د غسې یوې خبرې موضوع ته اشاره کوي چې یوازې پیغام استوونکی او هغه چا ته چې پیغام ورته استول کېږي معلوم وي، د مثال په ډول یو نوکر به خپل پیغام په د غسې خبرو شروع کړي ، که ته او زما بادار په دغسې یوه باغ کې سره ناست وای او هغه د کابل په غرو کې د یو څو ګزو په فاصله کې څلور دېرش بېل بېل ګلونه شمېرل دا به نو د تا د پاره هغه نښه وي چې هغه څه چې زه یې درته وایم هغه به د هغو له خوا وي .

نوکرانو ته په کور کې د بادار له خوا ډوډۍ او کالي ورکول کېږي برسېره پردې دوی ته په دریو میاشتو کې یو ځل معاش تادیه کېږي ، دوی زیاتره دارد وېه یوې قطعې کې چې دسته ورته ویل کېږي او یا بادار یې قوماندان وي د عسکرو په حیث غړیتوب لري .

د لویانو ژوند

د لویانو ژوند طبعاً د ژوند له هغه طرزنه بېل دی چې د عامو کړو په نصیب وي. لویان سبایی جګېږي ، لمونځ کوي او د یوې ګړۍ یا څه وخت د پاره قرآن او مذهبی کتابونه لولی . وروسته د وچې ډوډۍ ، کوچو، شاتو، هګیو او پنیرو سبانارۍ کوي بیا خپل دربار ته ځي چې هلته لا د مخه د دوی د کهول افسران تول شوي وي . د دوی تول تر غاښته هلته پاتې وي او په دغې موده کې په خپلو خاصو ځایو کې د خپلو درجو په قرار ناست وي معاملې اجرا کوي ، عریضې اخلی او د خپلې رسمي وظیفې زیاتره برخه کار ترسره کوي د هغو کسانو د پاره چې ښه ډېر مصروف وي غاښتې ډوډۍ قصر ته ورله کېږي او دوی هلته تر هغو ناست وي چې دربار د ورځې د پاره رخصت شي ، خو نږدې تول د غاښتې ناري د پاره کور ته ځي او په اوړي کې له هغه وروسته یو ساعت که خوب هم کوي. هغه وخت چې ویښ شي، لمونځ اودس کوي او یو څه لولی او کوم وخت چې بېرته دربار ته لاړ شي میلمانه او مراجعین منی او تر مازیګره پورې هغه کارونه کوي چې ړومبی یې نه شوای کولی په تر و ږ مسی کې بېرته کور ته ستنېږي او د ناوختو ګړیو په وخت کې ځانونه مشغولوي، د ماښتن ډوډۍ خوري او کوم وخت چې میلمانه ولري شراب هم څښي، البته په لویو میلمستیاو کې هیڅ څوک د شراب څښلو په فکر نه وي دوی شراب هغه وخت څښي چې ډیر نږدې ملګري او دوستان په میلمستیا کې غونډ شوي وي. دوی ناآشنا میلمانه معمولاً غاښتې ناري د پاره رابولی، داسې باید ونه ګڼله شي چې تول لویان شراب

ښيي، برخلاف د درانيو زياتره سردان له شراب څښلو نه ډډه کوي او ټول زيات باسي چې دغه کار په لطف او پاکۍ سره وکړي خو څنګه چې د دوی عياشان تل په ډلو کې ګرزي د هغې رعايت کله کله کېدلی شي. ممکن داسې وګڼله شي چې د ټولو لويو کسانو وخت د هغو کسانو د وخت په شان چې ما يې بيان وکړ پوره ډك نه اوسي. سره د دې هم دوی د داسې طريقو په لټه کې نه دي چې خپل وخت په ښه علاقمندۍ. سره تېر کړي ځکه چې که څه هم دوی له عامو خلکو څخه زيات خپل ژوند په زهد او پرهيزګارۍ تېروي، دوی له باښه بازۍ او ښکار کولو نه خوند اخلي او داسې ډېر وسايل لري چې نور خلك د دوی ته کتابونه لولي او يا د هغو په باب ورته اوروني کوي. د دوی د پاره لوستل کول حتی يو کسب ګرزېدلی دی او شاهنامه، د فردوسي ستر حماسي نظمونه، د لوستونکو يوه لويه ډله د شاهنامه خوان په نامه لري د دوی کسب دا دی چې شاهنامه ولولي او يا د هغې ښکلې عبارتونه ښه په زورا و زير سره ادا کړي هغه لوبيان چې د اد پياتو شوقيان وي، ځانله د دري او پښتو شاګردان لري، سطرنج وهي، کرمبول او يا قطعه بازي کوي. دغه دوه لومړنۍ لوبې نږدې زموږ د لوبو په شان دي خو دريمه يې چې کله کله کېږي هغه ده چې په هندوستان کې په ګردو قطعو سره کېږي او له ډېرو جهتو څخه له هغې لوبې سره چې اموږ يې کو فرق لري، داسې هم دوی ښار ته نږدې باغونه لري او هلته له ځو ملګرو سره ځي او کله لوبې ميلمستياوې هکې ورکوي، په عمومي ډول د پښتنو اشرافو د ژوند طرز د فارس د اشرافو تر ژوند ټيټ دی او له هغو ډېرو شتمنيو سره مطابقت نه کوي چې ځينې يې د اوريدو په قرار لري .

په پېښور کې يوه ميلمستيا

ټول هغه څه چې ما ته د دوی د ميلمستيا په باب معلوم دي، د ميلمستيا له هغې شرحې څخه په واضح شي چې د هيئت کوربه، ميرزا بوالحسن خان، په پېښور کې پرتا نوي هيئت ته ورکړه. لومړی موږ يوه لوی انګړ ته ننوتو چې په منځ کې يې يو تالار و او د ډنډشاو خوا د وړو څراغو قطارونه وو او د څراغونو رڼا په اوبو کې انعکاس کاوه. د انګړ په څنډو کې هم ډېر څراغونه ايښودل شوي وو. د غو ټولو د ورځې په څېر قوي رڼا لرله او داسې ښودله چې هغه ځای له نوکرو او ننداره چيانو نه ډکه دی .

موږ په داسې يوه لوی وره ننوتو چې په هر اړخ کې يې ځينې مانۍ وې و د ټولو د پاسه يو د هلېزو، زموږ مخامخ ته د يوه سالون منقوشې ستنې او محرابونه او په هر اړخ کې مانۍ ګانې وې چې د هغو لاندنۍ برخې يو ازې يو يا دوه ورونه لرل.

گمان کوم چې دویم منزل یې کړکۍ لرلې . مونږ ته دوره په مقابل کې په سالون کې هر کلي وویل شو بیا دا ننګړ شروع وه چې هغه پوره چراغاني شوی و . مونږ په عادي ډول دخونې په ښکته برخې کې له یوه وره څخه ننوتو او په برسر کې کښیناستو . یوه ډېره ښکلې او غنې قالینه په غولي باندې هواره ، دخونې په دریو خواوو کې لمڅۍ اچول شوي او دهغوی د پاسه د مېلمنو د ناستې د پاره طلایي توکران غوړول شوي وو . هغه توکران چې په برنۍ سر کې هوار شوي وو ، مخصوصاً ښکلي وو او هغه داسې بخملي ټوټې وې چې رنګونه یې ښه صاف او تېز وو او په طلا سره په ګڼ ډول خامك دوزي شوي و . په دروازو باندې د طلایي توکرانو یا په وریښمنو سره خامك دوزي شوې پردې وې . دخونې د دهلیزو بړې برخې په داسې فارسي تصویرونو بندې وې شوې چې شاوخوا یې خامك دوزي او طلایي توکران وو . مادنو روشیانو په جمله کې په تعجب سره داسې یو لوی نقره یي توکر ولید چې په هغه کې د زمری د پاسه لمر ختل (د فارس شاهي نښه) په طلا سره کښل شوی و . دخونې په بېلو بېلو برخو کې آینې ایښودل شوې وې او مونږ په دې ډېر حیران شوو چې د دوو آینو بعدونه یې د هرې هغې آینې له ابعادونه ډېر لوړ وو چې مونږ په څومره ستونزو له غرو او مېرونه راتېرې کړې وې چې د افغانستان پاچا ته یې د سوغات په توګه ورکړو ترڅو چې هغه ته د انګلیسي مصنوعاتو په هکله یو فکر پیدا شي . مونږ ته معلومه شوه چې هغه آینې چې په خونې کې وې د ترکیې او ایران له لارې په ملکه راوړل شوې وې . دخونې په منځ کې د څراغونو قطارونه ایښودل شوي وو ، په ښو سختو شمعو کې چې شاوخوا یې زیړ رنګه مومو کې د ګلانو ګېډۍ په مصنوعي ونو کې یو په بل پسې ایښودل شوې وې او د هغو په پاڼو ، ګلانو انګورا او مېوو ، کې چې د دوی په طبعي رنګ له موم نه جوړې شوې ، ننې څراغونه ځلېدل .

د بخملي او زرینو توکرانو د پاسه چې دخونې په سر کې غوړول شوي وو ، زمونږ د ناستې د پاره د ساده څوکۍ ګانو یو قطار ایښودل شوی و . په دغه ترتیب کې ترښې سلیقې د ادب رعایت زیات شوی و . همدا چې مونږ کښیناستو د شیرینو پتنوسونه راتېر شول . بیا ډېر زر نڅاګرو ښځو په نڅا شروع وکړه او په انګړ کې په اورلوبو پیل وشو . د ساز د الاتو په غوغا د یو درجن نارینه او ښځو سازندو په بدلو او د اور لوبو په غوغا سره د خبرو مرکو د پاره زمونږ کوښښونه ټول ناموزون او مختل شول . په چینی پیالو کې چای یو بل ته وړاندې شو . چای ډېر خوږ وو خو شیدې یې نه لرلې او د بادیانو په ګډولو سره بالکل بدمزه و . همدا چې د ډوډۍ خوړلو وخت

اعلان شو نڅا بس شوه او زمونږ سات تیروونکی چې یو شیعه و(۵) په یوه پلمه ووت، مونږ د ډوډۍ خوړلو د پاره په مځکه کښېناستو. په داسې حال کې چې ډوډۍ په سرپټو پتنوسو کې راوړل شوې وه دا پتنوسونه برسېره پردې چې سرپټې وو، په سپین ټوکر پوښل شوي او په زرینو ټوټو کې چې حاشیې یې طلایي وې پټ شوې وو، پیشقابونه د دفاس په طرز سره په ډېر ورنګو ښکلې شوي او په ډېرو طلایي او زرینو پاڼو سره ښایسته شوې وو، خواړه په چینی پیشقابو کې وویشل شول او اجزایې داوو: غوښه (کباب شوې، جوش شوې او پخه شوې)، پلاوونه او قورمې او داسې نور ډېر شیان چې د ټولو بیان مشکل دی. ښو ملبسو آشپزانو زمونږ د خوړو ګرانی کوله د دغسې زیات جلال او د دغسې په رښتیا ډېرې ستره ګی او ترتیب په منځ کې دا ډېره عجیبه ښکارېده چې نوکرانو په قیچی سره په یوې پیالې کې شمع اچولې او نورو په یوې لوېې چړکی سره غوښې له هډوخه بېلولې او بیا یې ټوټه ټوټه کولې او په خپلو لاسونو سره یې زمونږ په غوریو کې ایښودلې خو ددوی د کړیدت د پاره باید ووېل شی چې دوی له هغه د مخه خپل لاسونه ومینځل او لستونی یې ترڅنګلو پورې پورته کړل، ډوډۍ مړه وه او په نتیجه کې ډېره مزه ناکه نه وه او هغه بې تنوع نڅاګانې او بې اهمیته اور لوبې چندان دستاینې وړ نه وې په عمومی ډول دغه ټوله میلمستیا زیاته یا باعظمته اولږه په زړه پورې (مخصوصاً دا چې زمونږ د وخت ځینې برخې په یوې خاصې خونې کې د پاچا له خوا زمونږ د هیئت د هرکلی د مراسمو په باب خبرو کې تېرې شوې) وه، خو هغه بله میلمستیا چې مونږ ته له هغه وروسته ډېر زر په یوه باغ کې راکړل شوه، زمونږ په ذوق ښه برابر وه، دلته به زه د هغې په باب څه ولیکم، ترڅو د لوبانو تر منځ د دغسې میلمستیا ماهیت څرګند شی.

د تیمور شاه په باغ کی میلمستیا

دا میلمستیا په هغه باغ کې وشوه چې د تیمورشاه په نامه یادو او پخپله هغه طرح کړی و. دا باغ د یوه پراخ مربع په شکل و چې د خاموخښتو دیوالو په غېږ کې نیولی و باغ په دوو پراخو سړکو سره چې یو بل یې په منځ کې نیغ سره قطع کول وېشل شوی و، او په غاړو یې یو په بل پسې د چنار او سروونې دنګې ولاړې وې په هر اړخ

(۵) شیعه ګان (لږ ترلږه په کابل کې) داسې سخت ګیردي چې له مسلمانو نه غیر له نورو سره یو ځای ډوډی نه خوري، په دغه کار کې دوی، د سنیانو برعکس دي.

کرنیل فرانکلین (Colonel Franklin) د فارس د سنیانو په باب هم همدغسې یوه تبصره لري. ګمان کېږي چې په هر ملک کې هغه فرقې چې شمېر یې لږ وي او زجر یې ډېر لیدلی وي ډېر سخت ګیر وي.

کې یې د ګلانو د بوټو د پاسه زړې لاره ایستل شوې وه. په هغو څلورو مربعو کې چې سرکونو باغ پرې ویشلی و، د بې شمیره انځرو، شفتالوګانو، الوګانو، منو، تاکو، اناړو، بهیانو او توتو ونې پوره غوړېدلې وې. دلته او هلته د پیپل هسکې ونې خورې وې.

په څلورو ځایو کې د ونو لاندې مځکو کې لوبیا کرل شوي وو، چې په هغه وخت کې به په ګلانو راغلې وو. د دغه باغ منظره په رښتیا چې ښه زړه وړونکې وه. برسېره پردې چې هغې زمونږ د اروپا خاطرات پارول هغه عطرونه چې کله کله وږمو ته وار سېدل زړه غوړوونکي وو او د غه منظره د مرغانو په نغمو سره چې ځینې یې زمونږ په فکر آشنا راتلل پوره کمال ته رسېده. زمونږ په ملګرو کې هر یوه څخه ژر له چې هغه نغمې هغو ته منسوبې وبولي چې یې په انګلستان کې د یرې ستاېلې. په باغ کې تجیرونه درول شوي وو او یو تجیر چې د ټولو په منځ کې د سرکو د تقاطع په ځای کې درول شوی و مخصوصاً خوښوونکې تاثیر لاره. د دغه تجیر بام شین او سور واو د یوالونه یې له خلاص رقم نه وو او دا د دې د پاره چې هوا ننوتو ته پرېږدي.

بې له دې چې د ننه کسان یې له باندې څخه ولیدل شي. د رزونه یې په داسې شکلاو جوړ شوي وو او د کلکو برخو رنګونه یې په داسې ډول سره ترتیب شوي وو چې ټول تجیر یې ښکلی کړی و له یوه او بږده چکرنه وروسته مونږ تریو ونې لاندې کښیناستلو، د مرغانو نغمو ته مو غوږونیو او د خپل ملک او د کابل په باب مو د کور په له زوی سره خبرې شروع کړې د کابل په باب د ده خبرې ښې په زړه پورې وې، په حقیقت کې هغه ښار او د هغه سل زره باغونه دستاینې او د توصیف یوه عمومي موضوع ده څه وخت چې مونږ خپلې خیمې ته ورغلو، هلته مو د پاچا له امام او نورو ملا یانو سره خپل میلمه پال ولید، دغه امام چې یوساده. نامرمو زه خوش مشر به او غوریالی سړی و د کابل د ښکلا په باب په اوږد و خبرو پیل وکړ او د ښتنو او د دوی د ملک په باب یې ستاینې شروع کړې او مونږ نه یې هیله وکړه چې باید کابل حتما وو ینو په دغې موقع یا په کوم بل وخت کې دی د دغه علت په مېندلو د یر ټینګ وچې مونږ ولې د خپلو آسونو لکې پریکوو او ویښتان یې لنډوو. ده په دغه کار باندې ډیر وخندل او ویې ویل چې هر کله چې کوم بد آس ده ته په لاس ورغی، دی به یې مونږ ته ولېږي چې له هغه نه یو نمونه جوړ کړی شي وروسته له څه وخته دوی لاړل او مونږ ته د دې موقع په لاس راغله چې د پلټنې وهلو له ستړي کوونکي حالت نه یو څه آرام شو. دوی که څه هم مونږ ته ویل چې څنګه مو خوښه وي هغسې کښېنو خو مونږ تل پلټنې وهلې، په دې چې مونږ پوهېدو چې بل راز کښېناستل به د دوی په نظر بې ادبي وي. یو څه وخت وروسته څاښتنې نارې راوړل شو، کوزې او چلمچې ګانې د لاس وینځلو د پاره و کرزولې شوې او بیا له ګلداره چیټ نه جوړ

شوی دسترخوان وغوړول شو، په دغه دستر خوان د خدای د سخاوت او نورو مقولو په باب داسې درې نظمونه نقش شوي ووچې زمونږ په فکر دیوه دستر-خوان دپاره ښه مناسب وو . بیا پتنو سونه چې په سپینو لاس پاکو سره پوښل شوي وو او ښکته کړای شول او زمونږ په زنګنو کښېښول شول. په هر پتنوس کې پنځلس یادیر پیشقا بونه، نعلبکی ورې او غټې پیالې وې، داسې هم په هغه کې د پلاو دوه لوی غوري ګان او د سر کې ترشي، مربا او نور ودېرو خوړو پیشقا بونه وو. دهر پتنوس په منځ کې د شربت یوجام ایښودل شوی و. په دغو برسېره دوري لم په څو پښقا بونو کې تقسیم شوي و. لم په ښه ساده دول پوخ شوی وخو شیره یې د پره وه او سزه یې په لعاب او نورو خیزونو سره چې ورسره ګډ شوي و، ښه ډیره شوې وه. داسې هم په دسترخوان باندې د کیکو نو پیشقا بونه ایښودل شوي وو .

دغه کیکونه له وچې ډوډۍ نه غوړ ووچې دخوراك دپاره اېښودل شوې وه، کله چې مونږ ډوډۍ خلاصه کړه او هغه مو په ډیرې مزې سره وخوړه، تودې او به دلاس مینځلو دپاره راوړل شوې، پشقابونه او دسترخوانونه ټول شول او زمونږ چملو-نه راوړسو دل، همدا چې چلم مو وڅکوه زمونږ دخوښۍ دپاره درې نڅا کړې نجلۍ د ګډا کولو او د لو ویلو دپاره راننوتي، ددوی د مخ، ځان او کار نامې له حیثه تر هندي نڅاګرو ډومره ښې دي چې ورسره پرتله کیدی نه شوای د دوی جامې که څه هم څنګه چې په هندوستان کې دي هسې ګرانې نه وې خودسلیقې په لحاظ تر هغو ښې وې. دوی د زري او طلایي تو کر وخولۍ په سر کړې وې. ویښتان یې په موزون دول کوڅې شوي وو، اوورې زلفې یې داسې پر ایښودل شوې وې چې ښکته تر وچلو او غوږورو پورې یې په تاثیر ناك دول ځړیدلې، غاښونه یې تك سپین، شونډان یې سره او مخونه یې پاك سپره او په ګڼو خالونو زرین وخوښنګه چې د کابل په ښځوکې سرخي وهل ښه رواج لري، ددوی مخونه ممکن دهنر مرهون وو. ددوې نڅا یو ښه اندازه عمل و. هغې نجلۍ چې بدلې ویلې د بدلو ویلو په وخت کې یوازې کله کله نیغه دریدله، خو دهندوستان د نغمو ویونکو په خلاف مخ په وړاندې چټکه تله، لاسونه یې ترڅول. کله کله په زنګنو کښېناسته او داسې مختلف دریځونه یې غوره کول چې هغو دهغې د غزلو احساسات افاده کول. ټول دغه اعمال که څه هم شدید وو، له نزاکت او وقار نه ډك وو. د دوی شاته په څو لباسو کې له لویو پیرو او پاوقاره وضع سره چې د دوی له کسب سره څندان مناسب نه وو، دهل وهونکو ویلون وهونکو او سنج وهونکو (Cymbals) یو ډله ولاړه وه. ددوی ټولو نڅاګرو ته دشاباش په نارو وهلو یادځپلو آواز نو په ټول قدرت سره په بدلو کې په شرکت کولو سره سازګډ وډ کاوه ښکاره شوه چې ملا یانو په دغې ننداري کې ګډون نه سوای کولی او زه پخپله ددې دپاره وبلل شوم چې له امام سره ملګری شم چې

هغه له میاسه پال سره په ګډه چي هغه هم دلوی منصب خاوندو ، له ما سره د مذاکرې کولو دپاره مامور شوی و . مونږ دګردالو دونې لاندې په یوې قالینې پاندې کښیناستو او تردیره وخته سره وګړیدو، مګر دغه امام چې چندان دمذاکرې شوقمن نه و ، زیاتره وخت مداخله کوله اود هیئت له منشی شاغلي ریچارد ستراچي (Richard Strachy) سره ګړیده او له هغه نه یې داسې پوښتنې کولې « ستراچي ، اجازه را کړه چې ستا مهرونه ووینم » ، « دغه شی لاڅه بلا دی؟ » « ته له ځانه سره داسې شی لکه دوربین لرې ؟ » په پای کې زموږ خبرې خلاصې شوې اومونږ دخپلو مربوطو ملتودجاسو په باب دیوڅوتو کو نه وروسته بیا په باغ کې چکروواهه او کوم ته ستانه شوو . (۶)

باغ ته دشاهی حرم ورتګ

دغه باغ بالاحصار ته ډیردې دی خو له هغه نه په یوه عام سړک سره بېل شوی دی ، پاچا زیاتره هلته ځی او کله کله دخپل حرم ځینې ښځې له ځان سره بیایی په دغو مواقعو کې یو شمیر منصبداران چې کرک چیان نومیږي په ټولو سړکو باندې چې هغه ذکر شوي سړك ته منتهی کیږی ،درول شوي وي ، ترڅو چې دحرم د تیریدو په وخت کې خلك ورته له نږدې کیدو نه منع کړي . اوس ددې وخت راغلی دی چې دلو یانو دکرکټر په باب یوڅه ولیکم اوددغې طبقې په باب خپل مشاهدات تمام کړم .

---

(۶) ټولو محافظانو او دهیئت ټولو ملازمانو ته ، چې له ما سره په باغ کې ننوتل اجازه وه چې زموږ دچکرونو په وخت کې دهغه ننداره وکړي، او کله چې مونږ په ډوډۍ ناست وو ددوی ساعت یې تیراوه . داروپایی او اسیائی جامو یوځای کېدل اوهغه اختلاف چې ددغې منظرې اودځینو هغو کسانو په منځ کې لیدل کیده چې ښکته او پورته کېدل ، مونږ ټول یې وخندولو ، د نوروشیانو په جمله کې ما خپل شاطرولید چې په داسی حال کې چې لاسونه یې په خپل جیب کې اچولي وو په ناز او خرامانی سره ، یې چکر واهه ، اوظاهراً یې دلندن په زړه پورې چکرونه په زړه کول . دی په دغه حال کې روان و چې یو پارسیوان چې دقزلباشو یوه هسکه خولۍ یې په سر وه او یوه داسې چپن یې په ځان وه چې ترښنګرو یې رسیدلې وه ، ملګرې شو دوی دواړه د څه وخت د پاره په علامو سره خبرې وکړې اوډیر زر داسی سره آشنا شول چې لاسونه یې سره ورکړل او په یوه واره د هلیزکې سره لاس په لاس تیرشول .

د پښتنو لویانو کرکتر

د دربار د پیروانو په حیث د پښتنو لویانو د سلوک په مطالعه کولو کښي مونږ په یقین سره د دوی د کرکټر په باب د هر ناوړه نظرورانديي کوو. له خپلو قومونو سره د دوی سلوک او د عمومو د ذهنیت د رناوی، دوی باوقار، با اخلاق او تربیو محدوده عادل او تل مهربان او روغ جوړي ته متمایل کوي، خو دوی په دربار کښي د هغې فضا له فساد څخه غیرچې دوی پکښي ژوند کوي، بلشی نه شي بويولي. او حتی کله چي وغواړ و د پښتنو درباریانو په باب وکړیږ ومونږ به په پوره ډاډ سره ووایو چې دوی د خپل ملت د یره ښه برخه تشکیلوي • که پارسیوانان (درباري قزلباشان) په تله کښي وغورزو لشی د دربار فساد او جرمونه به د دوی پله درانې تول ملت د فساد او جرمو په مقابل کښي د یره درنه کړي. تر هغه ځایه چې فرصتونو ماته د مشاهدې موقع په لاس راکړه زه بايد په ډېر اقرار وکړم چې مادرزانی سرداران صمیمی او رښتیني ومونده او ډیر و د لایلو له مخې ویلی شم چې دوی څه ناڅه د آسیاد نورو اشرافو قدرته لوړ فکري او عزتمند دي، خو د حکومت په شاوخوا کښي نور خلك په عمومي ډول پست، دروغجن او حریص دي، حتی سردارانو، هغه وخت چي په قدرت کښي وو، په ډیر بې شرمانه ډول په زور زیاتي سره پیسي پیدا کړې دي. د سردارانو ډیرو تنو په بې شرمانه خیانت سره خپل طرف پرې ایښی او له بلې خوا سره ملګري شوي دي له دوی څخه بوهم د يته متمایل نه وچې د یوې مفکورې د وړاندي بيولو د پاره پیسي ولګوي، که څه هم دی به پوره پرې ولاړوو او مبارزه به يې ورته کوله. په ډیرو قوي سردارانو کښي هم ډیر حسادت او بې اتفاقي غلبه لرله او ډیرو بې د یو بل په مقابل کښي په ښکاره - یا پټ ډول دښمني کولې خو په عمومي ډول د دوی کرکټر د نورو ټولو هغو طبقاتو د کرکټر په تناسب چي د پاچا په شاوخوا کښي د يره ښه دی. د پارسیوانانو زړورې دسیسې، ښکاره درواغ او باجرته ماخته کاری هره ورځ را برسیره شوي دي په هندوستان کښي به د يوه خارجي د پاره د بې شرمی او ګدا منشه تیغ ګار په باب داسې تجربه هیڅ په لاس نه شی لکه څنګه چي په دغه ملك کښي به يې د دولت ښکته ډیر پارسیوان ماموران ورتهیه کړي. سره د دې حتی دغه عمومي حقیقت هم له استثنا څخه خالی نه وا و که د درباریانو ډیره برخه هم له هغو بدیو څخه خلاص نه وچي د دوی طبقې ته منسوبې وی حتی په پارسیوانانو کښي هم ځینې کسان د ښه کرکټر خاوندان وو .

مدد خان اسحق زی

د پښتنو لویانو دکر کتر بیان په ددغه کتاب په تاریخي برخې او نورو مختلفو برخو کی راشی ، خودلته به دهغو لویانو دسجېې انځورچې مادشاه شجاع په دربار کې ولیدل ددوې دمزاج اوسلوکونو په باب یوه عمومی مفکوره ورکړي . د دغو لویانو مشر اکرم خان و ، چې دهغه په باب د مخه کافی لیکنه شوې ده دویم مشرېې مددخان داسحق زیو سر کرده و چې دهغه نیکه دپارس په جنګونو کې ښه نوم کټلی واوویل کېږي چې په یوه جنګ کی یې نادرشاه زخمی کړی و . په دراني سردارانو کې دده پلارتر ټولو سترا او تر ټولو جنګیالی و ، پخپله مدد خان ډیر شته لرل اوډېره عزت خاوندو . که څه هم ده په ډیر شان اوشوکت سره ژوند نه کاوه خو په دې یادو چې په سلوک ، کړو ، او لباس کې دوقار او اعتدال خاوند و . ویل کیده چې دی دښې تربیې او استعداد اودولو ښښتن وخو دادده داستعداد په باب کوم لوی فکر نه ورکوي چې دده تحصیلات په خاص ډول په دارو کرۍ اوطالع لیدلو (استرولوجی) کې وو ده ددارو کړي تن د دې د پاره غوره کړي و چې خپل ځان یې ضعیف واو هغه بل مسلك یې ددې د پاره اختیار کړی وچې هغه وختو نه ډیر ناارام ووچې ده پکې ژوند کاوه ، سره له دې هم دی ډیر محبوب و . اودځا کمیت دفن په باب یې دمعلومات لرلو په وجه ، په جنګ کې د تجربې اوړ زورتیا لرلو په سبب او په حقیقت کې له سخاوت څخه بل هرشی کې ښه نوم لاره د ټول اوعهد په باب دده کر کتر دومره ښه وچې حتی په ژوند انه کې چې ډیرې سختی هم پرې راغلې وې له ده څخه دانه وو غوښتل شوي چې لوړه وکړي . که څه هم دا حقیقت پټیدلی نه شی چې دهرات چې د شاه زمان لهخوا ده ته سپارل شوی و ددغه پاچا رقیبته تسلیم کړ . خوله هغو خبرو څخه چې ده پخپله ددغې موضوع په باب کړي دي داسې ښکاري چې دی دغه کار ته دشاه زمان دزوی د بد ګمانیو او طرح په وجه چې دی دهرات په نامه حکمران ومجبور شوی و .

ګلستان خان ـ غفور خان او نور

د پښتنی لویانو ددلې ډیرښه شخص ګلستان خان داځکزیو مشردی چې دهغه په ښیګڼو ټول ملك شاهدي ورکوي . ګلستان خان صمیمې اوزړه ور په تحقیق کې صبور او د عدالت په اجراکې دنه ستړي کیدونکی شخصیت خاوندو . دی هیڅکله دکوم سوغات په اخستلو سره تورن شوي نه و . ټول هغه وخت چې زه په پیښور کې وم دی په کابل کې دحکمران په توګه پخپل کار مشغول و . غفور خان دښتواواهمیت خاوندوخو د ټینګې سړی نه و ، او استعداد یې هم نه لاره . . یوه

معاشت وروسته له هغه چې ماور سره وکتل، ده د شاه محمود خوا پرېښوده او له شاه شجاع سره یوځای شو او په دغه تګ ور سره یې د نملې په جنګ کې مرګ په نصیب شو.

اعظم خان د نسقچي باشي منصب عهده دار و چې دغه منصب په پخوا وختو کې زمونږ د ارل مارشال Earl Marshal منصب په شان دی. اعظم خان په هیڅ وجه بې استعداده نه و، خو دی تر هغو زیات په معلمیتیا او عزت کې د نامه خاوندو. څه وخت چې شاه محمود دی په دې مامور کړ چې وفادار خان او نور سدوزیان و وژني ده د دغه امر له ترسره کولو نه سرغړاوه ځکه چې دغه کار د هغه رواج مخالف و چې درانیو ته تقریباً مقدس و، محمود لومړی په دغه خپل سرې دېر په قهر شو او محافظانو ته یې امر وکړ چې د توپکو په کنداغونو یې ووهزوي، خو سره له دغه وحشیانه سلوک سره چې له ده سره وشو او د محمود له هغو ترټنو سره سره چې که دی د امر اطاعت و نه کړي وبه وژل شي، اعظم خان په خپل انکار ټینګار وکړ او خپلو پرنسیپونو ته یې د خپلې ټینګې عقیدې په وجه یو څه وخت وروسته د شاه محمود اعتماد جلب کړ.

میرهوتک خان د مشهور سردار جهان خان (د احمد شاه تر ټولو ستر جنرال) وراره، د استخباراتو د څانګې مشر و، دی یو ښه عالم او د دري ژبې اعلی شاعر و خو ځکه چې د ده علم او کمال د قانون په عوض په شعر او تاریخ او د ظریفه ادبیاتو په نورو څانګو کې و، د خپلو زده کړو په وجه د کوم عزت خاوند شوی نه و. دی یو چوپ او ډارن سړی و، د ظلم خوا ته متمایل نه و مګر رشوت یې اخیسته.

احمد خان نورزی

د هغه وخت تر ټولو غوره مشر احمد خان نورزی د نورزی د ستري قبیلې سرکرده او د احمد شاه له څو پاتې عسکرو څخه یو عسکر و. دی د زیات قوت او جسامت خاوند و.

که څه هم عمر یې تر اویا کلو څخه اوښتی وو او بوډا غ و، خو د پخواني قوت یو ښه نښې پکې ښکاره وې او تر اوسه هم یو ښه ښکلی شخص و. ولکه یې سپین او پزه یې هسکه او جګه وه، قواره یې ښه جذي وه، ښه لویه ږیره یې لرله او غمبوری یې له ویښتو نه ډک وو.

په سلوک کې ښه ساده و چې د صمیمیت او تند قوب مینه ور سره ملګرې وه. د اهغه خواص وو چې ده د هغو په ساتلو سره افتخار کاوه، سره له دې هم دی د پخواني عقیدې مثال نه شو کېدلی، ده دوه ځله د جنګ په میدان کې خپله ډله پرې ایښې وه او چې ساور سره وکتل له دښمنو سره یې لار ملرله حودده خامو د میسو د ده هدف ناکام کړ، دواړه خواوې په ده یې اعتماد

شو لې، بې له دې چې ده له یوې خوانه هم څه فایده لیدلې وي په دولت کې ترټولو ستر منصبونه ده په لاس ؤ، او په خراسان کې یې په ډېر ښه نامه خدمت کړی وخو سره له دې هم دی په بلخ کې د ازبکو او په سند کې د تالپوریانو له خوا مغلوب شوی و. دیادونې وړده چې په دغه وروستي سیمه کې ده ماتي خوړل دده دهغه کوښښ په وجه وه چې غوښتل یې په جګړه کې د ازبکانو له هغه طرزه کار واخلي چې هغوی دده په مقابل کې په پوره بریسره تری استفاده کړې وه، سره له دې هم دی په شخصي زړور تیا او تېرېدنکار کې یو ډېر ستر شخص و، خو حتی په درانیو سردارانو کې هم دی حریص و، په هغه وخت کې چې زه په پېښور کې وم، ده له خپل خیانت څخه د خبرتیا په وجه د شاه شجاع په طرفدرې د یرې چیغې وهلې او ددې د پاره چې له خپلو کړو څخه عامه پاملرنه بلې خواته وګرزوي، ده له انګلیسانو له د خطرناک اعلان وکړ او په ټولو سراقعو کې یې د خارجیانو او ددوی د ښو نو په ضد نارې سورې وهلې، سره ددې هم دده هیلې شنډې او سراو دې یې کشفې شوې او کوم وخت چې زه له پېښوره روان شوم په بندیخانې کې وغورځول شو. د شاه محمود دډلې برې ددې سبب شو چې دی د څه وخت د پاره آزاد شي خو د خپل بد سلوك یا ناوړه کرکتر په وجه په ده باندې بدګماني وشوه او خپلې وروستي ورځې یې په بندیخانې کې تیرې کړې، حتی هغه وخت چې ما هم ولیده دی تا زه له یوه اوږده بند څخه خلاص شوی و، خو پاچا په خپلې سختې کې آزاد کړی او کوښښ یې کاوه چې دهغه وفاداري ځانته جلب کړي، دی بیا په خپل پخواني منصب ګمارل شوی وا وله پاچانه یې ډېر عزت ونه لیدلی وو. خوښنګه چې دی له دې څخه ډار یده چې د حکومت د ملاتړ د پاره نغدې پیسې د بسپې په ډول ورکړي ده د خپلې غریبۍ او ناداری نارې یې سوکړی وی، ما دی په هغه کور کې ولید چې د زیاتې مودې توقیف په دوره کې یې نړدې برباد کړی و. دا کور له ښارنه یوڅه لیرې پروت و او هغه ما لون چې ده په هغه کې مونږ ومنلو ډیو، له پامه پرېوتی باغ په لوري خلاص و. د بام یوه برخه یې لویدلې وه او له دیوالونو څخه یې داسې معلومېده چې که څه هم هغه په ښه ډول پای ته رسول شوی و او ښه ساده و، خو د زوال نښې یې ښکاره کېندې وي، هلته د ناستې د پاره قالینې او حتی نیمڅی هم په ستر ګو نه لیدل کیده.

مونږ د غه خان له څلورو او یا پنځو نورو کسانو سره ناست ولید. ده خپلې جامې په عادي ډول اغوستې وې او هغه ښې ساده وې. دی ولاړ شو او د هرکلي د پاره وړاندې راغی او چې څنګه لاسونه یې د فارس په طرز سره دروغ بر د پاره وغزول، ده په تند او زسره غبرګ کړې چې دی د فارسیانو کسبونو د پاره تیارونه دی او د پښتنو د صحبت او ښې دوستې په باب یې یو څه وویل. وروسته یې په دوا ړو لاسو سره زه کلك په غېږ کې ونیولم او په ډېر قوت سره یې خپلې سینې ته کش کړم، بیا

سره کښېناستو او ځان یې زما د صحت په باب له پوښتنې او د معمولو تعارفونو له ادا کولو نه وروسته د فارسیانو او د هغوی د لطافتونو په ضد په ویلو شروع وکړه او خپل ولس یې وستایه او ویې ویل چې هغه یو لک پیاوړي دي ، بیا پاچا او پاچاہي کورنۍ ته د درانیو د وفادارۍ په باب او د هغې د عوض کولو په ناممکن توب وغږید . داسې ښکاریده چې په د غسې یوه عمومي محضر کې د دغو نارو سورو هدف پاچا ته د هغه د وفادارۍ ښوولو یوه ننداره وي . د درانی دولت په ضد د هر ډول طرح د ناکامۍ په متجسس کولو سره ما ته د ده د خپل وطن پالنې احساسات ثابت کړې ، ما داسې څوا بونه ور کړل چې د ده د معتقدا تو د تظاهر په باب شاهد دی او نور حاضرین قانع وګرزوي بې له دې چې هغه د هغو خبرو په باب صدق وکړي چې ده زما په باب کړې وې . د ده د څوره شوي کرښته توب سره سره زما د لیدنې کتنې په سو رد کې د ده سلوک او د ده عادي خبرې اترې پوره سود با نه او له توجه نه ډکې وې . بله ورځ څنګه چې معموله وه ماده ته یو سوغات واستوه او ځنګه چې ده نه شو کولی زما سلام ته راشي لکه څنګه چې زه د ده سلام ته تللی وم ، ما ده ته یو سوغات واستوه یې له دې چې زه د هغو تشریفاتو انتظا رو باسم . ده د منني له ادب نه ډک یو پیغام راوا ستوه او له یوه جوړ عینکو نه یې ډیره خوښي وکړه او ویې ویل چې په هغو سره به د خپل ملك له عینکو نه زیات وکولی شي قران و لولي ، خو ده په عوض کې یو قلمي چاقو چې ډیر ښېګونه یې لرل راواستوه او هیله یې څرګنده کړه چې زه د هغه په ځای یو لوی چاقو ورواستوم . له یو چاخچه سې وا وریده چې ده د هغه په لیدو سره وویل: « زه په په دغه سره چې د لرم په شان دی څه و کړم ، کاشکې د غه نماینده د غسې یو چاقو راو ښني چې یو څوك څه کار ترې وا خستلی شي » څه وخت چې د غه خبرې ما ته نقل شوې د احمدخان د سلوکونو په باب ډیرې قصې را په زړه شوې . تولو به ویل چې احمدخان په سبا ناري کې د دریو پسو سرونه او یا په ناري کې د پسه زیاته برخه خوري . په یوې بلې موقع کې هغه وخت چې د دریو کسو په منځ ماډ یرښه پیژندل د احمدخان په باب خبرې کیدې ما د هغه ، هغه ډول رو ځبړ را یاد کړ چې ده له ما سره کړی و . هغو تولو کټ کټ و خندل خو بله ورځ زمونږ دا خبرې د احمدخان غوږو ته ورسیدې او ده دالا زمه وګڼله چې له ما نه په رسمې ډول ښښه وغواړي . او وایې چې کوم غیږ چې ده ما ته راکړې وه هغه په رښتنې ډول د پښتنو په پخوانی طرز وه او دی تل له هغه چا سره چې احترام یې لري د غسې رو غبړ کوي .

له پښتنو سره مذاکرې

زه د درانو سردارانو په باب تر هغو په ښه ډول یو نظر نه شم وړاندې کولی پادا چې زه دوی تر هغو له پارسیوانانو سره په ښه توګه پرتله کولی نه شم، ترڅو دوی سره د خپلو مذاکرو یوه برخه بیان نه کړم. هغه وخت چې شاه محمود د لوتیدیخ له مخوا وړاندې راته، د شاه شجاع لښکرې چې په ډیر لګښت سره ټولې شوې وې، په کشمیر کې د یاغیانو له خوا په شاشوې او څورې شوې وې. په دغو حالاتو کې د دې د پاره ډېره ضروري وه چې له موږ نه نقدي کومک ترلاسه کړي، خو زموږ خپل سیاست موږ ته اجازه نه کړه چې د دوی په کورنیو جنګو کې لاس ووهو او په دې باب د ښه نیت له مخې زموږ ښکاره اعلامیو زموږ لاسونه حتی که موږ غوښتل هم تړلي وو. هغه وزیران چې د دې د پاره ګمارل شوي وو چې موږ د عمل له دغې لارې نه واړوي دوه پارسیوانان او یو ملا وو، خو له همدغه ډول هغه نور کسان هم ګمارل شوي وو چې د عادي میلمنو او بیطرفو ملګرو په شکل سې تر نفوذ لاندې راولي، هغه وخت چې زه ولاړېدم له دغو کسانو نه مې غوښتې زیاتره وخت په خپل سالون کې لیدل او که څه هم د شاهي ناري خوړلو ماته دوه ګړي خوساعته تفریح راکوله، دغه وزیران زیاتره وخت د شپې تر دوو بجو پورې له ما سره وو، داسې دلیل او هیلې نه وې پاتې شوې چې دوی به نه وي ذکر کړې، دوی حتی د دې کوښښ هم وکړ چې ما تشویق کړي چې که دغسې یوه معقوله هیله مې رد کړه زموږ هندوستاني مستعمرې به هم په خطر کې ولوېږي څو دوی هیڅکله دې ته څه اشاره و نه رسوله چې د انکار په صورت کې به شخصاً ماته څه زیان ورسېږي، د دوی ډېرې نهایي ترټنې (او دغه په یقیني ډول سره ناراحت کوونکې وې) له هغو اطمینانو نه څخه متشکلې وې چې ملکه به خپل پوځونه ماته واستوي او یا دا چې لکه چې اکرم خان له کشمیر نه راوګرځي هغه به بې له کوم شک نه زما کور ته په ننواتي را شي خو د اکرم خان په راتګ سره د څه ویره له منځه لاړه، له ده سره زما د لیدنو کتنو په ترڅ کې دغه موضوع بیا را یاده شوه، خو ټولې غوښتنې او حتی ټولې هیلې پای ته ورسېدې. اکرم خان په مستقیم او واضح ډول د دوه اړخیزو ګټو د طرحو پیشنهاد وکړ، په داسې حال کې چې په دغو طرحو سره د کابل د پاچا غوښتنې ترسره کېدې، ده ته داسې معلومېده چې هغه به بې له کوم شک څخه انګریزانو ته غټې ګټې ورسوي. له دغو طرحو نه ښکاره وه چې دوی زموږ په ښه نیت او صمیمیت پوره باوره دي. څه وخت چې بالکل واضحه شوه چې دا پلانونه د منلو وړ نه دي، هغه سمدلاسه ترک شول.

مګر د پاچا مشکلات سخت پېچیده وو. کابل د دښمن لاس ته ورغی او هره ورځ ددې انتظار کېده چې هغه به پېښور ته ورسېږي. پاچا د پېسو د پیدا کولو د پاره له ټولو وسایلو څخه کار واخیست د هغه جواهرات هم په څه کم نیمه بیه عرضه شول خو هېڅ چا د هغو اخیستلو ته زړه نه کاوه په دې چې مقابله خوا به د دغې معاملې اعتبار ته اهمیت ور نه کړي پاچا په خپلو ډېرو سختو ورځو کې هم ونه غوښتل له زور او شدت نه کار واخلي پوخت ده ته داسې سلاور کړل شوه چې د هغو سوداګرو پیسې ضبطې کړي چې د تجارت د پاره یې له کابل نه کشمیر ته وړلې، نو دې و چې دی په دې تشویق شي چې همدغسې وکړي او د هغو په مقابل کې خپل جواهرات ګرو کړي د دولت قاضي خپله فتوا هم صادره کړې وه، او دغه عمل یې قانوني اعلان کړی و خو پاچا له ځان سره تصمیم ونیو چې خپل نوم وساتي او له دغه فکر نه راواوړي د ضرورت په دغه موقع کې یو ځل بیا ما ته مراجعه وشوه او ځنګه چې پارسیوانانو له خپلو ټولو مهارتو څخه استفاده کړې وه زه د درانیو سردارانو یوې جرګې ته وبلل شوم.

پارسیوانان له دې وانه وښتل چې له دغې موقع څخه استفاده وکړي د وی د پښتنو په کرښته توب او نامتمدن توب افسوس وکړ او ما ته یې وویل چې زه به له نظامي بېرحمانو او لکه د دوی په شان مهذبو خلکو سره په معامله کولو کې ډېر تفاوت ووینم خو را ته یې وویل چې یو لږ څه زړور او سم ځکه چې لږ څه موافقه به ټول شیان سم کړي د وی لاحتی په اشارو وپوهولم، چې دا به باوقاره وي چې زه د دوی له لارې پخپله خو نه یو څه تقدیم کړم نظر دې ته چې د درانیانو په شدت سره ودار شم.

له دې ټولو وروسته زه د ښاغلي ستراچي (Mr. Strachey)او دوه نورو ښاغلیو په ملګرتیا د جرګې د پاره قصر ته لاړم. مونږ په یوې خاصې لارې یوې ډېرې اراسې خونې ته چې دربار ته نږدې واقع وه راهنمایي شو چې هلته له مهمو منشیانو او ماموریانو څخه ځینو خپلې چارې اجرا کولې همدا چې مونږ کښېناستو زمونږ ځینې آشنایان د یو څو دقیقو د پاره راغلل او بیا یې مونږ یوازې پرېښودلو چې د هغو منظرو ننداره وکړو چې زمونږ د خونې کړکۍ د هغو په لور خلاصې وې.

هغه پرده چې دستر وره په مخ غوړول شوې وه وروپور ته شوه او په تورو جامو کې څو کسه بې له کوم زوږ نه په ډېرې ارامۍ سره ننوتل. په اول سر کې دوی چندان زمونږ توجه جلب نه کړه، خو همدا چې ما د دوی په لور کتل مدد خان مې پکې وپېژاند. او ځنګه چې زه د ه ته د روغبړ د پاره جګ شوم اکرم خان نورزی او هغه څلور دراني سرداران مې هم په ستر ګو شول. دوی ټولو خپلې درباري جامې اغوستې وې او هغسې سره ساقدار بوټان یې په

ښېو وو چې څه وخت په دربار کې د پاچا حضور کې ښکاره کېږي هغه په
ښېو کوي. د دوی نورې چاپېرې ښې ساده وې، دوی مونږ ته مخامخ کښېناستل او تر
ټولو مشر احمد خان يې په سر کې و. دوی لومړی په عمومي خبرو پیل وکړ
او خبرې يې په دوستانه او مهذبو کلمو تورنګینې کېدلې، خو دوی ډېر زړه نازړه
وو چې په اصل موضوع کې داخل شي او پخوا له دې چې کوم یو دغه کار په غاړه
واخلي دوی زیاتره په پښتو کې په یو بل باندې زور لګاوه چې شروع يې
وکړي، اخر دوی له یوې لیرې فاصلې نه پرې پیل وکړ. په مونږ باندې له خپل
اعتماد نه وغږیدل او هیله يې ښکاره کړه چې غواړي له موږ سره مشوره وکړي او
په پای کې يې په ډېر نزاکت سره خپلو اړتیاوو ته اشاره وکړه.

دهغو په ځواب کې ما د دوی د ملت د فایدې او د رناوی په باب خبرې وکړې
او د هغه د آبادۍ د پاره مې خپلې ښې هیلې څرګندې کړې، خو په ډېرو واضحو
الفاظو مې هغو اعتراضونو ته اشاره وکړه چې د دوی په کورنیو جګړو کې
زمونږ د مداخلې په لارې کې موجود وو، دا مې هغه ګټې هم وریادې کړې
چې یو قدرت غوښتونکی او نقشه لرونکی دولت يې د عمل
له معکوس روش څخه حاصلولی شي. احمدخان (چې له
دښمن سره د هغه ترتیبات باید دغه وخت حتماً پوره شوي وي) دېته نه وه حاضر چې
دغه موقع له لاسه ورکړي بې له دې چې خپل همت او پښتني سوين ويل و نه ښيي. ده په سختو
کلمو او حتی کتره وېلو شروع وکړه خو ډېر زر د نورو له خوا غلی کړل شو او هغوی
موضوع بالکل واړوله او د هېواد په ګډوډۍ يې افسوس وکړ چې د هغو له امله يې و نه
شو کولی چې څنګه لازمه ده زمونږ هرکلی يې کړی وای، او مونږ له هغو نعمتو څخه
برخوردار شوي وای چې دغه مملکت زمونږ په نصیب کولی شول. دغسې خبرې تر هغو
روانې وې چې مونږ رخصت شوو. له هغه وروسته بیا هیچا په ما اصرار و نه کړ، خو ما د دې
څه احساس و نه کړ چې ما ته دې په توجه کې یا د دربار په میلمستیا کې څه کمی
راغلی وي (۷)

---

(۷) دا به بې فایدې نه وي چې زیاته شي چې یو اروپایي ګرځنده به په
دغه ملک کې څنګه بریالی وي؟ په دغه باب زما نظر دا دی: له یوه غریب مسافر
سره به د پښتنو د ملک په ډېرو برخو کې د زړه سوانده او میلمه پالنې د روحیې
له مخې سلوک وشي. خو که یو شتمن سیاح د لازمو بدرګو نه غیر د دغه ملک په هرې
هغې برخې کې د سفر شوق وکړي، چې د حکومت تر مستقیم نظارت لاندې نه وي
ممکن چور شي. دی به په هغو ملکو کې مامون وي چې د پاچا تر اداري لاندې
وي خو دی به حتی د مملکت په مرکز کې هم د حکومتي مامورانو له ظلم *

(لمن لیک)

* او زور زیاتی څخه خلاص نه وي. دده دپاره به ډېره مامونه طریقه داوي چې له یوه کاروان سره د سوداګر په حیث سفر وکړي، خو د ښاغلی فوستر (Foster) مثال به وښیي چې د سفر کولو له دغه طرز څخه به څومره لږ خوند حاصل شي، سره له دې چې دی نه په ماجرا جوړي پسې وا ونه یې د نویو شیانو پلټل غوښتل او له هغې ژبې سره هم ښه اشنا و چې په ټول مملکت کې ویله کېدله. یوازې د یوه سفر سجیه دیوه شتمن اجنبي دپاره د مامونیت پوره امید ورکوي، خو حتی دده معمو نیت هم دهغو افرادو په ملاقاتو پورې اړه لري چې د حکومت په سر کې واقع وي. تجربو ښودلې ده چې شاشجاع دسلطنت په دوره او د اکرم خان د حکومت په وخت کې له یو خارجي وزیر سره به نه یوازې په ښه نیت بلکې په نزاکت سره سلوک وشی مګر دا چې ددولتي معامله امتیازات به یومشا به نماینده دمقابلي خواله ږره ورو او بې پرنسیپه مشرانو څخه خلاص کړي؟ باید په اثبات ورسیږي او دا ساته مشکوک ښکاري.

هغه اروپایان چې غواړي په دغه ملک کې واوسي، په کافي اندازه مصون ښکاري. د قسطنطنیې هغه سړي چې ما یې مخکې ذکر کړی دی د پښتنو په ملک کې په سوداګرۍ سره ډېرې پیسې پیدا کړې او له لاسه یې ورکړې. خو دې هغه وخت چې شتمن و دوز پر ترحما یې لاندې واودی یو ښه مثال کېدلی نه شي.

داسې ښکاري چې له پادري پتروس (Padre Petroos) سره څه غرض نه وي شوی او یوه فراري انګریز چې ما ته په ملتان کې تسلیم شو د ښه سلوک په باب ښه بیان ورکړ. دی په ډیره غازي خان کې استخدام شوی او هلته حتی درانیو سردارانو معلمستیا وو ته باله دهندوستان مسلمانانو چې کله کله د مملکت هغې برخې ته تلل ده ته تکلیف ورکاوه په دې چې پښتنو ته به یې ویل چې دوی دداسې یوه کافر ملګر تیا کوي چې د ی دخوک د غو ښې دخوړلو پروانه کوي. مګر پښتنو به ویل چې دوی د هغه په دغه کړو کې څه ضرر نه ویني او د هغه دمذهب پروا چندان نه کوي دهندوستان دور ته ښو نیتو نو په باب دښاغلي دوري (Durie) لیکنه و اولی. داددوی د بدنیتي په وجه نه ده بلکې د هند ود کاست (Cast) یا هغو طبقو له تعصب څخه پیداده چې دهندوستان مسلمانان په هغه سره په ژوره توګه متاثر شوي دي.

ما ته ددې څه پته نشته چې په افغانستان کې به نور ارو پایان موجود وي. **

« لمن لیک »

** دروسیې دا مپر اتوري کوم ځانګړي اوسیدونکی یو وخت بل وخت له کاروان سره دغه ملك ته راغي (لکه داستراخان یو اوسیدونکی چې ما په ملتان کې ورسره کتنه وکړه)، خو هیڅ یو خارجي په دغه هیواد کې میشته شوی نه دی. په اروپا کې داسې ویل کیده چې روسان په بلخ کې یوه قابو یکه او یو څه نفوذ لري، خو دا وینا یقینا بې بنیاده، هاله اورنبرګ (Orenburg) ته د (کسپین بحیرې شمال ته) نږدې د روسانو د راتلو په باب څه نه وېرم یوازې د کسپین په شمال غرب کې دوی فتوحات کړي دي .

ښکاره دي چې دغه موضوع پرېږدم غواړم د هغو اروپایانو ذکر وکړم چې په دغو وختو کې یې افغانستان لیدلی دی. له ښاغلی فوستر Foster نه پرسېره یو فرانسوي د ښاغلی مسی (M. Massay) په نامه د دغه ملك په لاره له هندوستان نه اروپا ته لاړ. یو جرمني منصبدار له هغه وروسته چې د بیګم سومرو (Begum Samroo) په خدمت کې د قوماندانۍ وظیفه لرله، د یو څه وخت د پاره د تیمورشاه په پوځ کې و. یو بل اروپایي یو څو کاله رومبی له هندوستان نه د اروپا په لارکې په بلخ کې مړ شو ویل کیده چې ده مالیخولیایې- دوله مزاج لاره، خو ښه با معلوماته او نرم شخص و، دی د یارنا ضل په نامه یادیده. (دغه عربي نوم، دده خپله اختراع ده او شاید دعلم خوښوونکي ترې مراد وي.) هغه وخت چې زه د کابل په قلمرو کې وم د جین توماس (Jean thomas) په نامه یو ډیر ذکي فرانسوي چې په دغو وروستیو وختو کې دجاسوس قوي ګمان پرې شوی و، له هندوستان نه وتښتید او دافغانستان له ځینو متصرفاتو نه تیر شو. ده وکولی شول چې په ډیرې زړورتیا او خوش خلقي سره سفر وکړي او ټول هغه کوښښونه شنډ کړي چې دده د نیولو لپاره کیدل. له هرات نه له را استول شویو لیکونو څخه ښکاریده چې دوه فرانسویان هم وروسته له هغه چې زه له پېښور څخه روان شوم د هرات ښار ته رسیدلي وو. کله چې مونږ دا حقیقت په نظر کې و نیو چې فرانسویانو تر څومره ډیره وخته پورې په تهران کې یو، نمایندګي لرله، دې کې څه شك نه پاتې کیږي چې دوی باید د دغو ملکو په باب ښه معلومات ولري، خو ددوی دحکومت طرز ټولې هغه هیلې شنډوي چې دوی به خپل معلومات جهان ته ورکړي. دا وضع په ټول هغه کسان نا امیده کړي چې غواړي له هغه لارې هندوستان ته راکښته شي .

له دې پاسون نه اخوا د پښتنو په ملکو کې مې د نورو اروپائیانو په باب څه مې نه دي اوریدلي خو یوازې هغه چې نوموته مې درته ذکر کړل.

لسم فصل

د کاڼي سوداګري

کاروانونه

له وچې نه په چارپېره یو ملک کې چې د کښتۍ چلولو سمندونه و نه لري او د اراېي لرونکو ګاډیو د پاره مناسب نه وي حتمي ده چې د سوداګرۍ مالونه په بار وړونکو بوده ګانو یو ورل کېږي، له دغو څخه اوښان ترټولو ښه دي. دوی، د تندې ډېر طاقت لري او په آسانۍ سره له هرډول بوټو او ښوډې له هر راز ښځو څخه د دوی د پاره خواړه برابرېدلی شي.

نوطبیعي ده چې هغه قومونه چې د دوی ملک دوی ته د دې توان ورکوي چې اوښان وساتي یادا چې دوی دغسې ځارویو ساتلو ته ځان مقید کوي، څېله پاملرنه سوداګرۍ ته اړوي او دوی هغه زیاتره له مهاجرتو نومره یو ځای کوي ترڅو د خپلو ځارویو د پاره بوټي، واښه او د ځان د پاره په زره پورې اقلیم پیدا کړي، هغه وخت چې د غو قومونو خپل ملکونه لکه څنګه چې عمومي حال همدغسې دی د دوی د پاره نه تولیدات تهیه کولی شي او نه د نورو ملکونو د محصولاتو د پاره مارکیت برابرولی شي، د اوښانو خاوندان په عمومي ډول یوه بل ملک ته د یوه شتمن ملک د محصولاتو د وړلو د پاره استخدامېږي. هغه وخت چې دوی د لږې پانګې خاوندان وي، دوی دغه کار پخپله خوښه کوي، خپل د سوداګرۍ مالونه پخپله وړي او پخپله یې خرڅوي، خو هغه کسان چې د دوی یوازې شتمني یو څواوښان وي نه شي کولی پخپله په دغسې ترافیک کې مشغول شي. دوی په دې قناعت کوي چې خپل اوښان لیا شتمنو قومونو یا د ښارونو سوداګروته په کرایه ورکړي. دغسې سوداګران د هدف

ځای ته د تجارت د مالونو نقلولو سره پخپله ملګر توب کوي یا د خپلو ښتوا و د ږوندانه د عادتونو په قرار خیل نوکران ورسره استوي (چې د دوی وظیفه په کښتنی کې د مالونو لوله ناظر سره یوه ښکاري)

داسې هم ځینې دغه سوداګران پخپله اوښان ساتي چې دوی یې ښارو ته په نږدې ډاګو کې چې دوی پکې اوسې، سروي، داسې هم ځینې کسبې انتقال کوونکي په همدغه ډول او ښان ساتي چې دوی یې په کرایه ورکوي، هغه اوښان چې له یوه خاص قوم څخه په کرایه اخیستل شوي وي، په معمولي ډول د هغه قوم په ملګرتیا چې ورپورې تعلق لري، سفري کوي. هغه اوښان چې د سوداګرو یا انفرادي انتقال کوونکو مال وړي او د دغو مهاجرتونو په لور سفر کوي په عمومي ډول د معمونیت یا د ملګرتوب د نورو کتو په منظور په کوم قوم پورې ځانونه اښلوي.

له هغو ځایو سره تجارت چې د کوچي قومونو له تګ راتګ نه لرې پراته دي ټول په هغو ښارو یو کیږي چې په سوداګرو او د ښارونو په انتقال کوونکو پورې اړه لري، دوی کاروانونه جوړوي او خارجي تجارت په دغه طرز سره وړل کیږي.

هغه طریقه چې په هغې سره اوښان تنظیمیږي چې له ګرځنده قومونو سره سفر وکړي د هغه قوم په مثال ورکولو سره په ښه شان شرح شي چې یا له خپلو یو ځای اوښانو سره سفر کوي یا دیر اوښان ورسره ملګري وي، خو دغه اوښان د نورو کسانو وي . د میان خیل د قوم نیمایي برخه هر کال له دامان څخه شلګریا نږدې سیمو ته لیږدي. د دوی ښځې او کورنۍ له دوی سره مله وي او اداره یې د ځینو موروثي مشرانو په لاس وي چې خلو یښتیان (۱) یې مرستیالان او ملاتړ وي. ټوله اداره او کنټرول د هغو کسانو په لاس وي چې هغه وخت چې دوی په خپلې سیمې کې وي هم هماغه رول لري . هر هغه بیګا نه سړی چې له دوی سره یو ځای کیږي مجبور دی چې د میان خیلو روا جو ته غاړه کیږدي.

خو له بلې خوا له بابړ سره د کاروان زیاته برخه له هغو کسانو نه متشکله ده چې له دغه قوم څخه دي، حتی بابړ هم چې په دغه قوم پورې اړه لري، له خپلو کورنیو سره نه ځي، بلکې یوازې د سوداګرو په حیث سفر کوي . د بابړ و یو مشر (۲) ټل له کاروان سره ملګری وي او ده ته نږدې هغه اختیارات ورکول کیږي چې یو خان یې په خپلې سیمې کې لري، خو دده واک یوازې دده په خپل قوم چلیږي

---

(۱) ـ یوراز د یکتاتور چې ځینې وخت په جمهوري قومونو کې ټاکل کیږي.
(۲) ـ د بابړو د یوه خیل موراثي مشر سر کرده .

اوداد نورو په اختیار کې دهغې دده اطاعت وکړي یا یې ونه کړي په عمومي ډول دوی تول دی د یوه قافله باشي (۲) په حیث انتخابوي او دغه مقام ده ته په ټولو باندې واک ورکوي . دی اتیا کسه تاکې چې له سرغړوونکو څخه د جریمې په ټولولو کې له هغه سره مرسته وکړي . دی کشالی رفع کوي ، سوله ساتي ، محافظان او بدرګه تاکي او دا ړولو ځایونه تعینوي . دامی هم دی له هغو قومونو سره چې دهغوی له سیمو نه تیریږي دګمرک محصولاتو فیصله کوي ، هغه پیسې ټولوي چې دوی ته یې باید ورکړي او هغه قوم یې تادیه کوي چې دهغو حق وي. خو کله چې د یا ړو مشرد دغه مقام د پاره نه وي تاکل شوی هرسړی خپله اداره په خپله کوي او نتیجه یې ګډوډي او مغشوشیت وي .

له دامان نه ترخراسان پورې هغه لارې چې دوی ور باندې سفر کوي څومره چې فکر کیدای شي هغو سره زړه ماتوونکې دي . دکا پل دلارې ښه ډیره برخه په غروکې له تنګیو د ږیزو دروڅخه تیریږي. دالاره کله درودونو له بستر څخه تیریږي او ځینې وخت په ځګوا ود برینو کوتلو اوړي . دګومل لار دژمی د مسینه په مجرا کې پرته ده او هغه وخت چې دسیند او به ډیرې شي کاروان مجبوریږي چې دهغه اودغوندیو ترمنځ په یوه ګوښه ځای کې واړوي او تر هغو پاتې شي چې دسیند او به کمې شي ، برسیره پردې شیروانې او تر هغو زیات وزیر له خپلو نږدې سیمو څخه دغولا روته را کوزیږي او کاروانونه چوروي . دکندهار دلارې کاروان وروسته له دې چې په غروواوړي په دامې وچو میرو کې سفر کوي چې په ډ برینو پښتیواو په ځینو ځایو کې په غرو سره ویشلې شوې وي. کاروان په خپل دغه ټول منزل کې مجبوردی له ځان سره خوراکی مواداو زیاتره وخت او به یوسی ځکه چې په لارې کې هیڅ او به نه وي او یا تروې وي . په دې لارکې بوټی د دغو سیمو یوازنی ګټور محصولات دي چې څارویو ته خوراك او نوروته اوربرابروي . په دغه اوږده منزل کې کله کله باندې په نظر راځي خو په ځینو موسمونو کې دګرزاندو ښځوکا مپونه ډیروي .

دوی کله چې د داړه مارو قومونو له منځه تیریږي په ډیر نظم سره په مخ ځي . ډله ډله کسان دکاروان ټولې خواوې احاطه کوي . حتی کوم وخت چې دمه هم کوي یوه ډله په آسو سواره و لاړوي او د دې څار کوي چې څوك څرېدونکي او ښانونه تښتوي . دکاروان زیاته برخه دشپې څارنه کوي . دمزله په نورو برخو کې دوی چندان احتیاط نه کوي او دشپې آرام ویدیږي. مشران په تنګوکو ډلوکې دکاروان دتیریدوترتیب تاکی او کله کله دکاروان ځینې

---

۳ ـ دکاروان دمشر په معنی یوه ترکي اصطلاح

برخې په نورولارو استوي. ددوی ورځنی مزل اته یالس میله وي او هغه وخت چې د مقصد ځای ته ورسیږي هغه کسان په خپله مخه ځي چې له کاروان سره یې ملګرتوب کړی و ، په داسې حال کې چې قومي کسان خپل اوښان ځرځا یو ته استوي او په خپله دشنه اوزره غوروونکې ملك په منځ کې چې معتدله هوا لري په اراسۍ سره دمه وهي . ددوی دهغو شپنو په څیر یو ځای بل ځای ته نه ځي چې دهغوی د مزله طرز او عمومي عادتونه له هغو نه چې اوس مې بیان کړل ډیر توپیر لري ، خو ددوی له هر کور څخه یو نفر استوي چې هلته هغه مالونه خرخ کړي چې ددوی له ځان سره اوري دي او نور داسې مالونه و پلوري چې غواړي له ځان سره یې یوسي . د نورو قامونو ډیرسو داکرله دغسې یوه کاروان سره ملګرتوب کوي. ددوی د کاروان دساتنې دلګښت پوره کولو په لور په خپله د قام دغړو په شان چې دغه کاروان ـ و رپورې تعلق لري دهراو بن بار په سر یو مروپی او د هغې څلور مه تادیه کوي .

دهغو قافلو ترتیبات چې هندوستان او فارس ته استول کیږي هم دهغو ترتیباتو په شان دي چې په پورته ډول بیان شول ،خو په دې توپیر چې اوښان له خلکو نه په کرایه اخستل کیږي او ټول د داسې یوه قافله باشي تر حکم لاندې وي چې هغه د ټولو له خوا انتخا بیږي ، خودغه مامورله پښتنو نه زیات په تاجکو او نورو خلکو کې عمومیت لري په داسې حال کې چې پښتانه زیاتره وخت یې له کوم مشر او یا مقرراتو نه په ګډه مزلو نه وهي .

کاروانونه په عمومي ډول دشپې مزل کوي ، ددوی دقومونو د کاروانو په شان په اطراف کې د خپلو سفر ونو په آخر کې نه اړوي بلکې په ښارونو کې په کاروان سرایو کې اړوي . کاروان سرایونه ډیر اخو مر بعو په بڼه وي ، چې په کوټو سره محاط شوي وي هر کاروان سرای ځانله یو مسجد او زیاتره په منځ کې یو تو دحمام او یو ګټه لوې ور لری. دهغو اداره ددغسې کسانو په لاس کې ده چې هغوی دغه کوټې د ډیر و کمو پیسو په مقابل کې سوداګرو ته په کرایه ورکوي ، یوعادي سود اګر په عمومي ډول دوه کوټې په کرایه اخلي او په هغو کې خپل مالونه ځای وي او په خپله یې اوسي ، دی په همدغه ځای کې خوراك څښاك کوي او ویده یږي . ددوی ددلالانو له وساطت نه غیر خپل مالونه یا ټول یو وار خرڅوي یا لږ لږ خرڅوي .

د ترکستان کاروانونه ټول له آسویا قچرونه متشکل وي او دا ممکن په دې وجه وي چې لارې په یوې برخې کې د هندکش په غاړو کې پرتې دي ، د یوې د برینې دي .

هغه کاروانونه چې چیني ترکستان ته استول کېږي له کشمیر او پېښور
له روانېږي کابل د آزاد ترکستان او کندهار او هرات د فارس لوی بازارونه
دي. د هندوستان تجارت پر نورو ډېرو ځایونو وېشل کېږي، د پنجاب او شمالي
هندوستان تجارت پېښور ته وړل کېږي او هغه چې د جیپور له دښتې نه اړول کېږي
او تر هغه هم د ښکته سیمو تجارت شکارپور، بهاولپور او ملتان ته وړل
کېږي. هغه مالونه چې په بحر کې نقل کېږي. اول کراچۍ ته او له هغه
وروسته شکارپور او کندهار ته وړل کېږي.

د کابل باندنی تجارت

د کابل د سلطنت عمده خارجي تجارت له هندوستان، فارس او ترکستان (مستقل
او چیني) سره دی له کافرستان (نورستان) سره هم په لږه اندازه تجارت کېږي يو
راز توکر چې له وړیو شال څخه جوړ دی او اسول توس (Ussul Toos) نومېږي، له
تبت نه وارد ېږي او د سند بندرونه له عربستان سره يو څه تجارتي تماس ساتي.
له هندوستان سره تجارت تر ټولو زیات دی که څه هم په دې وروستیو کلو کې
يو څه کم شوی دی. هندوستان ته صادرات آسونه، قچرې، قیمتي پټ لرونکي پوستکي
شالونه، ملتاني چیت، هنګه (انجه) نکریزې، تمباکو، بادام، پسته، چارمغز او
میوې تشکیلوي میوې په عمومي ډول وچې وي (لکه شکرپاره، الوباب، او ممیز).
مګر يو ډېر مقدار يې تازه هم وي، میوې چې تازه وي پخوا له دې چې د ډېرې پخې شوې وي،
شکول کېږي او په پوره احتیاط سره له مالوچو سره په لرګینو بکسونو کې اچول کېږي. هغه
میوې چې په دغه ډول صادرېږي، مڼې، ناک او کلک انګور دي د انار و استول د غه ترتیب نه
غواړي. بله هیڅ میوه د دغه سفر له طاقت نه لري او حتی د غه میوې هم خپل ډېر خوند
ونه له لاسه ور کړي، شالونه هم د عمده صادراتو يوه برخه تشکیلوي او هغه خلک يې
په هندوستان کې اغوندي چې د اخستلو توان يې لري او هغه له کشمیر نه غیر په بل ځای کې
نه جوړېږي. د هندوستان نه واردات دا دي: کلک پومبه یې مصنوعات (چې د ټول
ملک او ترکستان عام خلک يې اغوندي)، ململ او نور، نفیس مصنوعات، يو راز
ورېښمين او زري توکران، په ډېره اندازه نيل، عاج، تباشير، دروي،
موم، قلعي، زېړ، خوشبويه لرګی (Sandel-wood) او تقريباً د ټول
ملک د احتیاج بوره. لږ څه سوروړ توکران هم وارد يږي، مګر د ډېرې له
بخارا نه راوړل کېږي. مشک، مرجان (Coral) دارو او نورو اړه
څیزونه هم واردېږي. له هندوستان نه په وارداتي مالونو کې د مساله
يا بوټيو لونه يو عمده قلم تشکیلوي چې له بمبۍ او د مالابار Malabar
له ساحل نه کراچۍ او د سند نورو بندرو ته واردېږي او له دغو ځایونه کابل

او کندهار ته ورل کیږي نږدي ټول مسا له باب چې په دغه هیواد کې
په کاریزي دکوري ګا نو corries (۲) د ډېر مقدار په شان له دغې لاري نه
وارد یږي ، آسو نه هم له دغې لارې نه صادر یږي .

ازاد ترکستان ته صادرات په عمده توګه له هغو مالو څخه متشکل وي چې
پخوا له هندوستان څخه وارد شوي وي یا د کابل په هندوستانی ولایتو کې جوړ-
یږي د هغو عمده مالو نه هر ډول سپین توکران ، شالونه ، هندوستانی پګړی
ملتانی چیټ او نیل دي .

د وارد اتو عمده مالونه آسونه ، طلا و نقره دي وروستی قلمونه یې له طلا-
(د بخارا طلا یی سکه) ، هالیندي دوکاتو Dutch ducats نیسی سکو نو Seguins
یا مبوس Yamboos او د سپینو زرو چینی خښتو څخه متشکل دي یو ډول سور رنګ Cochineal
زري توکران ، پرپټ purpet اویوراز زري ځلیدونکی فلزي جا مونه tinsel
له او سپینیز و لوښو ، قاشقو او پنجو او نورو پخوا لو بنو سره یو ځای له بخارا نه را وارد-
یږي او د اشیان بخارا ته له روسی نه یا داور نږ دې ته لارې له د پښتونه او یاد
بحر له لارې له استرا خان نه اورول Arul یا منګ قشلاق ته په اورګنج کې استول
کیږي . مسي ، د سخ آهن ، روسی څرمن ، قلعی باب ، تسبیح ، عینکی او یو څه
نور واره او وړا یې مالونه هم له همغې لارې نه وارد یږي . ارموك Oormuk ، هغه
نازك توکر چې داوښ له وړیو نه جوړ یږي ، یو مقدار نخی توکران او یو څه د تره
قل پوتکی پخپله له بخارا څخه را ورل کیږي لکه هغه چې د قزاق له ملك نه
یو ځودوه ډولې ار زانکی اوښان را استل کیږي .

له افغانستان نه فا رس ته شالونه ، له شال نه جوړ شوي شیان ، نیل ، هراتی
قالینې ، ملتانی چیټ ، هندوستانی زري توکران ، ململ او نخی توکران صا در
یږدي . هغه شالونه چې فارس ته صادر یږي له تو لو هغو نه چې په هندوستان یا
انګلستان کې لیږده کیږي د طرحې په لحاظ پوره توپیر لري . دغو شیانو ترډې
نږدې وختو پورې چې د فارس پاچا د هغو استعمال منع کړ ، په عمومیت لاره . د فارس
پاچا د هغو استعمال له دې امله منع کړ چې د خپل ملك صنایع تشویق کړي .

افغانستان ته له فارس څخه واردات دا دي : د ګیلان اوربشت خام وریښم
هغه وریښمین شیان چې په یزد او کاشان کې جوړیږي ، د بیلو رنګو نوراز
نخی ګلك مصنوعات چې کود دك Kadduk نو میږي (او ډېر ښه یې په اصفهان
کې جوړیږي) اوور یښمین دسمالونه چې ښځې یې استعمالوي . دغه مصنوعات

(۲) کوري له وروصدفونه جوړې محلي پیسې وې چې په هندوستان آسیا ،
و دا فریقې په ځینو برخو کې استعمالیدلې (مترجم)

د ټولو صنفونو خلك په زیات مقدار سره استعمالوي . خامك دوزي شوي اتلس، بخمل او فارسي زربفت البته لوړ یا نوته منحصر دي . مسکوکات او د سرو او سپینو زرو خښتې چې لا مسکوکې شوې نه وي هم د وارداتو په جمله کې دي ، خو تر ټولو زیات هغه هندوستاني چیټ د یادولو وړ دی چې د کورومانډل Coromandel په غاړه کې په ماسولي پټام Masuli Patam کې جوړیږي او د فارس، په خلیج کې د او بو له لارې بوشیر ته راوړه کیږي . له هغه ځایه وروسته بیا د وچې له لارې افغانستان ته وارد یږي چې هلته زیات استعمالیږي .

چیني ترکستان ته صادرات نږدې هغه دي چې بخارا ته صادریږي . له چیني ترکستان څخه واردات دا دي . یو خاص ډول وړین ټوکران ، چیني وریښم او اتلس ، چای (په نریو وړو سربې بکسو نو کې) چیني باب. او مه وریښم، یو ډول خاص رنګ ، شیشه باب د طلا خاورې ، د فلزاتو خښتې او په چیني مهرونو سره لګول شوي نقره یي یامبوګان Yam boos. له نورستان سره سوداګرۍ ذکرته چندان ضرورت نه لیدل کیږي. له دغه ملك سره تجارت په شرابو wine سرکې، پنیر او غوړیو کې کیږي چې هغه په سرحد کې له هندي او کابلي ټوکرونو لنګۍ ، کوړ یو Corries قلعي او له مفرغ نه جوړ شویو لوښو سره په جنس مبادله کیږي. په هم دغه ډول له نورستان نه یوڅه غلامان هم پلورل کیږي داسې هم مریان له عربستان، حبشې او نورو ځایو څخه د سند بندرونو ته وارد یږي.

داخلي تجارت

ښکاره ده چې په دغسې یو پراخ ملك کې باید د داخلي سوداګرۍ یو زیات مقدار هم موجود وي. هغه عمده مواد چې له لویدیځو ولایتونو څخه ختیځو ولایتونو ته وړل کیږي دا دي: وړین ټوکران، پټ لرونکی پوستکی ، نکریزې ، پنیر، کرت او ځینې مصنوعات لکه د هرات قالینې او د لوهانو د کالیو او سامان د پاره ځینې ښکلي شیان . له ختیځ څخه دا شیان وړل کیږي : لنګۍ ، وریښم، ملتاني چیټ، د بهاولپور نخی او وریښمین مخلوط ټوکران، نیل او هم شاید یوڅه کتان د هندوکش او سلیمان د غرو وله غزنیو سلکو څخه اوسپنه صادریږي، داسې هم مالګه د سلیمان له غرونه چې د هغې په ایستلو کې نوم لري صادریږي لکه چې الومونیم او سلفر له کله باغ ، اسونه له بلخ او فاریاب او خرما له بلوچستان څخه صادریږي.

داسونو تجارت د هغو د اهمیت په سبب لږه شرح غواړي. هر کال یو شمیر ډیر اسونه د کابل د اسو په نوم په شمالي هندوستان کې او په لویدیځ کې د کندهار داسونو په نامه خرڅیږي ، خو تقریباً ټول آسونه له ترکستان څخه راوستل کیږي ، بلکه په کابل کې آسونه هیڅ نه تربیه کیږي . دلته یوازې ترکستان

آسونه د خپل استعمال د پاره ساتي . داسې هم هغه آسان چې په کندهار کې تربیه کیږي ، نه صادریږي .

د هرات د شاوخوا یوشه شکلي آسونه نورو ملکونه ورل کیږي ، خوله دغو آسو هغه یو هویا هیڅ هندوستان ته نه ورل کیږي . د آسانو یوشه شمېر له بلوچستا ن څخه صادریږي لکه څنګه چې د اباسین په دوا ړو خواوو کې د ملا کې د غرو په شمال کې څخې شه آسان میندل کیږي ، خو د آسو نو د روزلو دیر شه ملك د کابل په قلمرو کې د بلخ سیمه ده . اوله همدغه ولایت او د اسو په شکته بر خه کې د ترکمنو له ملك څخه د آسانو دیر شمېر صادریږي هغه اسان چې په هغو تجارت کیږي ، دوه ډوله دي . یو رازیې ایوشه واړه ، خو دېر قوي آسونه دي چې ډیرې سختی کاللی شی او شه ارزان دي . هغه بل ډول تر هغو دیر لوی دي او په همدغه سبب د یر ګران دي ، که څه هم هغو سره د کارور له دي د آسونه یوازې په جنګك کې شه په کارورلئ ، په دې چې د اسیا یا نو د جنګك د طرز له مخې جسامت مهم دی .

لومړنی ډول آسونه که څه هم په اصل کې د رې ډوله دي په عمومی ډول د ترکی یا ازبکی آسو په نامه نامه یادیږي او بلخ او بخارا ته په نږدې ولا یتو کې روزل کیږي . هغه بل ډول آسونه د ترکمنی په نامه یادیږي او هغه په رښتیا نی ډول د کوزآمو په دوا ړو غاړو کې د ترکمنو له خوا روزل کیږي .

بلخ او بخارا د آسونو لوی ما رکیټونه دي . دیوه ترکی آس بیه له پنځو څخه تر شلو پونډو پورې او دیوه ترکمنی آس بیه له شلو څخه ترسلو پونډو پورې وي . سوداګران په عمومی ډول آسونه په ارزانه بیه او خراب حال پلوري او بیا یې د کابل په غرڅایوکې شه چاغوي . د دغو غرڅایو دیرمشهورځای د میدان نرخ (د کابل په لویدیځې خوا کې واقع دی) . په دغې سیمې کې یو دیر د ډګرآس د پنځو نا شپږو شلنګو په اټکل سره په څلو یښتوو رځو کې شه لوی کیږي . او ل دوی ته شفتله بیا شوشته ورکوي .

د یرآسونه پخپله په افغانستان کې خرڅیږي او تر هغو زیات شمېر یې هندوستان ته ورل کیدل . د اخلي تجارت یې مخ په دیر یدودی . د افغانستان د یر زمینداران او س آسونه پلوري ، په داسې حال کې چې پخوا نی دې کار ته هیڅ زړه نه کاوه ، په نتیجه کې هندوستان ته د آسونو تجارت تر زیاتې اندازې لږ شوی دی . هلته چې برتا نوي مستعمره پراخیږي ، د سورو لو یې لښکرې د پیاده وو په ورو لښکرو بدلیږي او په دې حال کې د لښکرو څاځلي ، عربی اسونه غوره ګڼي . محلي لښکري هم لږې شوي دي ، په دې چې ددوی د جوړولو دایرې تنګې شوې دي او کله چې د برتانوي کمپنی د نسل کیږي پروګرام بریالی شي ، د هندوستان او ترکستان ترمنځ د آسونو جارت به بیخي ورك شي .

یوولسم فصل

د کابل کروندګري

په افغانستان کې پنځه ډوله کروندګر شته لومړی هغه مالکان چې خپلې ځمکې پخپله کري، دوهم اجاره داران چې ځمکه د پیسو یا د حاصلاتو د ټاکلي تناسب په مقابل کې په اجاره اخلي، دریم هغه بزګران چې د فرانسې د میتایرز metayers په شان دي. څلورم اجیر کارګران او پنځم سرفان Villains چې د خپلو بادارانو ځمکه بې له اجورې نه کري .

البته د مالکانو د ځمکې د پراخوالي له مخې سره ډېر توپیر لري، خو ځمکه په افغانستان کې نظر نورو ډېرو ملکونو ته په عمومي ډول په برابر ډول ویشل شوې ده. واړه مالکان چې خپله ځمکه د خپلې کورنۍ او کله کله د بزګرانو او اجیرو کارګرانو په مرسته کري، په شمېر کې زیات دي د ملکیت د برابر ویشنې به هغه وخت په اسان معلوم شي چې د قومونو د حکومت په ماهیت رڼا واچوله شي. دا مې ښکاري چې د ځمکو تقسیم په پخوا وختو کې عمومي و او وروسته د ډېرو عواملو په سبب ګډوډ شو، بدخرڅي یا بدبختي ځینې مالکان دې ته اړ کړي چې خپلې ځمکې خرڅې کړي، جنګونه یا د تغیر د پاره هوس ځینې نور دې ته ترغیبوي چې خپلې ځمکې پرېږدي او هغه ځای ترک کړي چې دوی پکې اوسي او د وارثانو ترمنځ د یوه مړي د ملکیت ویش چې د اسلامي شریعت له مخې دی، د دې سبب کېږي چې یو ملکیت دومره ټوټه ټوټه شي چې په نتیجه کې یو څوک خپله ځمکه خپل یوه ورور ته پرېږدي او یا یې پرې خرڅوي. ځمکې هغه کسان په بیه اخلي چې یا پاچا ته د خدمت په وجه، یا په جنګ کې او یا د موفق تجارت یا زراعت په سبب شتمن شوي وي، دا مې هم ډېرې نوې ځمکې د ځینو کسانو یا ټولنو له خوا د کرنې وړ ګرځېدلې وي او دوی داسې اقدامات کړي وي چې د کرنې د پاره یې اوبه پیدا کړي وي ځکه چې په افغانستان

کې د یر څه په او بو اره لري ، او هغه ځمکې چې په د غه ډول خړو بیږي د غو کسا نو ملکیت گر زي . په پای کې ځینې په مستقیم ډول له پاچا څخه ځمکې د بخشش په ډول حاصلوي .

د ښاغلی ستراچی Strachey په قول په کابل کې د ځمکې ارزښت او بیه داسې ښو دل شوې چې د هغې حاصلات یې له نهو څخه تر دولسو کلو پورې پوره کوي .

مستاجران

په عمومی ډول منلی شوې ده چې په د غه هیواد کې د اجاره دارو شمېر زیات نه دی او د هغو زیا تره برخه چې ځمکه په اجاره اخلی منځنی خلک دي چې ځمکه بیر ته بزگرو ته په اجاره او دهقا نی ور کوي . دد هقا نی او اجا ر ې ډیره عمومی موده یو یادوه کا له وي ؛ ډ یره او یږده موده یې پنځه کاله وي ، داجارې یا بارې اندازه تل کلې نه ده ، دستور یا نیوه په وچ کلك ملك کې اجاره یا د زمیندار برخه یوازې د حاصل لسمه برخه ده ، په داسې حال کې چې ویل کیږي د باجوړ په هوا ری کې د حاصل له دریمې څخه تر نیمایی پورې او د کابل په شاوخوا ملک کې دوه د ریمه ده .

تول هغه اجاره داران چې پاس یاد شول د ځمکې نه د استفادې په مقابل کې اجاره ور کوي . او په زمیندار بانديې بله ذ مه وا ري نه وي ، مگر په هغه ځای کې چې ځمکه بزگران کري . زمیندار په عمومی ډول تول تخم ، غوایی او د کروندگری آلات برا بروي او بزگران له خپل کار نه غیر نو رهیڅ شی نه تهیه کوي . مگر په ځینو حالا تو کې په هغو لګښتو کې چې پاس یې بیان وکړ بزگر هم برخه اخلی او په نورو حالا تو کې له تخم نه پر ته نو ر تول تهیه کوي د بزگر برخه معینه ده ، ما : داسې قضیې هم او ریدلی چې په هغو کې بزگر له لسمې برخې نه زیات اخلی او په نورو حالا تو کې دی د نیما یی مستحق گنل کیږي .

زراعتی مزدوران

په عمومی ډول مزدوران د کر نې په چارو کې د بزگرو له خوا استخدامیږي او دوی ور ته اجوره ور کوي . دوی ته د موسم په قرارچې د کال له اعتدال نه شروع کیږي او نه میاشتې دوام کوي اجوره ور کوله کیږي ، داسې هم استخدام کوونکی دوی ته ډوډی او په زیا تو حالا تو کې کالی ور کوي . په دې بر سیره دوی ته یو څه غله او پیسې هم ور کولې کیږي چې هغه له دوه نیمو خانی منو (۱) او یوې روپۍ (۲) له تر اسو منو او دوه رو پیو پورې تغیر کوي . څه وخت چې اجوره په نقده تادیه کیږي ، داسې ښکاري چې په ډیره عامه اندازه دیرش روپۍ وي ، دا اجوره له

(۱) یو خانی من نږدې اتیا پاوه دی .

(۲) یوه روپۍ تقریباً دوه شلنگه او څلور پنسه وه .

ډوډۍ او، کالیونه غیر ده. په ښارونو کې د یوه مزدور عمومي اجوره دورځې سل دیناره (نژدې شلو رنیم پیسه) له ډوډۍ سره وي. د کندهار په ښار کې دغه مزد درې شاهي او دولس دیناره دی چې د شپږ نیمو او او وینسو تر منځ ده. د دغې اجورې د رښتیاني مقدار ښودلو لپاره باید وویل شي چې په کابل کې په یوه شاهي سره پنځه پاوه اوړه اخیستل کېدای شي او په اطرافو کې ممکن تر هغو نیمایي زیات هم وپلورل شي. په پېښور کې د اوړو بیه (حتی انګلیسي هیأت ته هم دومره ښکته ده چې په یوې روپۍ سره هم شپږ اویا پاوه (یا پوندونه) اوړه اخیستل کېدای شي. په دې ډول که دا قلم تفاوت هم په نظر کې ونه نیول شي، د دغې طبقې د خلکو وضع په هندوستان کې د ورته طبقې په نسبت ډېر ښه ده.

د سرفانو (Villain) وضع به هغه وخت په تفصیل بیان شي چې موږ د یوسفزیو او نورو هغو قومونو په باب وغږېږو چې په هغوی کې سرفان ډېر دي.

زراعتي حاصلات

د افغانستان په ډېرو برخو کې په کال کې دوه فصله کېږي: یو یې د منۍ په آخر کې کرل کېږي او په اوړي کې اخیستل کېږي، په دغه فصل کې دغه شیان شامل وي: غنم، اوربشې، نسک، نخود (۳) لخشه پلیوا او بیاووسره.

هغه بل فصل د پسرلي په آخر کې کرل کېږي او په منۍ کې اخیستل کېږي په دې فصل کې دغه شیان شامل دي: شولې، ږدن (٤) Panicum Miliacum or millet غوښت Panicum, Milliacum، جوارې ، یا جره Holcus specatus هندوستاني جوار او مي (٥) Phaseolus mungo لو مړني فصل چې بهاري (٦) نومېږي په ټول لویدیځ افغانستان یعنې د سلیمان د غرو په لویدیځو ملکو کې ډېر مهم دي. نه ختیځ کې هغه بل فصل چې پاییزي یا د منۍ فصل (٧) ورته وایي ممکن په کلي ډول ښه مهم اوسي، خو دلته که رښتیا وي ښه مهم استثناات شته دي په پاجوړ، پنج کوړ ي برو سهمندو او اتما نخیلو په ملکو، چچ اولیه (دا پاسین ختیځ کې) او مه کل واد (په دامان کې) کې تر ټولو مهم فصل هغه دی چې په

(۳) نخود ته په هندوستان کې موسور (Mussor) او چونا (S. Chunna) وایي
(٤) ږدن په هندوستان کې د چینا Chena او کنګوني cungunee په نامه یادېږي.
(٥) په هندوستان کې ورته مونګ Moong وایي.
(٦) په هندوستان کې د ربیع فصل په نامه یادېږي.
ورته وایي او په هندوستان کې دغه فصل

اوړي کې اخیستل کیږي او په دغو ټولو ملکو کې غنم عمده غله ده په پېښور، بنګښو او دغه ځای په سیمو، دامان او عیسی خېلو کې فصلونه نږدې سره برابر دي. خود مملکت په نورو ختیځو سیمو کې هغه فصل چې په منی کې ریبل کیږي تر ډېره حده ډېر مهم وي د خرتوبه ملک کې د کال یوازې یو فصل وي چې د یوې منی په آخر کې کرل کیږي او د بلې منی په سر کې ریبل کیږي.

په کټواز او د هغه د ګاونډیتوب په ځینو هسکو سیمو کې هم لکه چې حال همدغسې وي. مګر د هزاره ملک او په عمومي ډول د افغانستان ټولې سړې سیمې او داسې هم ګاونډي هیوادونه خپل یوازنی فصل په پسرلي کې کري او د منی په آخر کې یې ټولوي.

په افغانستان کې یوه بل ډول کرنه هم شته چې ډېر اهمیت ورته ور کول کیږي او د پالېز ترنامه لاندې تل د یوه بل فصل په شمېر کې راځي چې په دغه فصل کې دغه محصولات شامل دي: خټکي، هندوانې، خوشبویه خټکي چې د ستمبو یا د ستمبول ورته وایي او د بادرنګو او کدوانو او دیوراز کدوانو چې د کاسې، بوتل او نورو شیانو په حیث ترینه کار اخیستل کیږي، بل ډول ونه. پالیزي فصل د ښارونو په شاوخوا کې ډېر عمومیت لري.

د خوړو وغلو دانې

د غلو هغه ډولونه چې ړومبی یې بیان وشو د بیلو بیلو مقصدونو د پاره په مختلفو تناسبونو استعمالیږي. غنم ـ د هیواد په ډېرو برخو کې د خلکو خواړه تشکیلوي او ریشې په عمومي ډول آسونو ته ور کول کیږي. اخودچې د همدغه مقصد د پاره په هندوستان کې استعمالیږي د اوړو زیاتره همدغو دانه بابو (Polse) په ځیر په لږ مقدار د پخلي د پاره کرل کیږي. ږدن او غوښت په وچې ودې کې په زیاته اندازه استعمالیږي. هندوستاني جوار د همدغه مقصد د پاره په پېښور او د هغه په شاوخوا سیمو کې استعمالیږي، خو د هیواد په لویدیځ کې هغه یوازې په باغونو کې کرل کیږي او وږي ئې کله کله د او کسو خوړو په حیث ور تیږي.

باجره په دامان کې په زیات مقدار مینده کیږي، او دا د هغې غرنی سیمې خواړه دي چې د بنګښو او ختکو سویل ته پرته ده. دا او جواري د افغانستان په لویدیځ کې زیات نه کرل کیږي، که څه هم جواري د بخارا عمده خواړه تشکیلوي.

وریجې د هیواد په ډېرو برخو کې مینډلې کیږي، خو د کمیت او کیفیت له مخې سره ډېر توپیر لري. زیاتې یې په سوات او ډېرې ښې ئې د پېښور په شاخوا کې مینډل کیږي. وریجې د کشمیر د خلکو نږدې یوازې خوراک تشکیلوي. په پېښور او

شاید په نورو ځایو کې هم یو ډول پیدا یږي او ربشې مینډل کیږي خو خلک تر ینه استفاده نه کوي او په هیڅ ځای کې نه کرل کیږي.

باغي پیداوار ، کڼي او نباتات

د هیواد باغي حاصلات دا دي: گازرې ، تیپر ، چغندر ، کاوو ، پیاز ، زنگۍ (زیره) ، پالک او د شنو شیزو نو تول ډولونه . کرم او گلپۍ هندوستانی سبزیجات هم په دغه ملک کې ډیروي . تیپر د هیواد په ځینو برخو کې ډیر کرل کیږي . او د بوده ځانو د خوراک په ډول تر ینه استفاده کیږي په غالب احتمال چې د غه حکم د زرد کو په باب هم صدق کوي ، څه ناڅه په پنجاب کې هغه سبزیجات آسونو ته ورکول کیږي چې روغتیا ښه ونکی وي . زنجبیل او یو ډول هندي بوټی (Tarmeric) په ختیځو سیمو په تیره بیا په ښوکې لوبیږي . کڼي هم همدغسی وبولی ، خو کڼي یوازې په آبادو هوارو کې کرل کیږي . د افغانستان زیاتره بوره له هندوستان نه وارد یږي .

پو مبه له څو استثناآتو سره یوازې په تودو سیمو کې مینډله کیږي او له دغې ماده نه جوړ شوي زیاتره توکران چې په لویدیځ کې استعمالیږي ، تیارا و بدلی له هندستان نه راوړل کیږي . د کسترائیل بوټی په ټول ملک کې د ارخنډې په نامه ښه عام دی . زما په گومان چې د هیواد زیاتره تیل له ارخنډې څخه تهیه کیږي ، که څه هم چې د کنځلو ، اوري ، اوشاید هم د نورو تیلو بوټی ډیر عمومیت ولري نکریزې په ټول لویدیځ کې پریما نه دي . نکریزې یوازې په سړو سیمو کې مینډلې کیږي (۹) ، او د هندوستان زیاتره ور برخو ته نکریزې له افغانستان نه وارد یږي - نکریزې په اوړي کې په داسې ځکو کې کرلې کیږي چې ښې اوارې شوې وي او سره پکې ښه اچول شوي وي . پاڼی یې هر کال د بوده ځانو د پاره شکولې کیږي ، خوریشه (۱۰) یې چې له هغه نه رنگ په لاس راځي ، تر دریم کاله پورې په ځای پاتې وي .

د پنجې بوټی د لویدیځ په ډیرو برخو کې د غرو لمنو او غونډیو کې په خپله لویږي ، خو هیڅ پاملرنه نه غواړي ، یوازې دومره کار غواړي چې له هغو نه د سریښ ایستلو د پاره ضروري وي . بوټی یې تیټ او پاڼې یې اوږدې وي . پاڼې یې د بوټی د تنې له آخره شکولې کیږي . له هغې برخې نه چې پریکیږي ، پی (شیره) وځي . ورو رو د تریاکو په څیر کلکیږي ، کله چې لمر ته پاتې شی له کاره

---

(۹) نکریزې په تودو سیمو کې مینډلې کیږي ، نه په د یـر و سړ و سیمو کې . (مترجم)

(۱۰) رنگ د نکریزو له پاڼو څخه په لاس راځي ، نه له ریښو څخه (مترجم) .

وځي. له دې امله ښه دا نه ډېر احتیاط کوي چې له پاسه یې د دووا وارو تېرو په ایښودلو سره له لمر نه په داسې ډول وساتي چې هغوی ښه په بل تکیه وکړي. دد غه دارو ډېر زیات مقدار هندوستان ته صادرېږي - او هلته د هندوانو او مسلمانانو په پخلي کی د مزه د ارجز په حیث استعمالېږي.

مصنوعي بوټي

د مملکت په لویدیځ کې د کرو ند کری ډېر مهم محصولات شپېشته اوشوتله ده. شپېشته په عمومي ډول په منۍ کې کرله کېږي او په ټول ژمي کې تر واورې لاندې پرېښودله کېږي. خو په ځینو برخوکې په پسرلي کې کرله کېږي. درې میاشتې وخت غواړي چې شپېشته کمال ته ورسېږي، هغه وروسته د دریو میاشتو یا زیات وخت د پاره په دووهفتو کې یو ځل رېبله کېږي، په دې شرط چې وروسته له هر ځل رېبلو څخه اوبه شي. دغه بوټي په عمومي ډول پنځه کاله پاتې کېږي، خو ماد اهم او رېدلي دي چې د لسو اوحتی د پنځلسو کالو له پاره دوام کوي. شپېشته ډېره سره غواړي، شوتله له منۍ نه زیات په پسرلي کې کراه کېږي او له دوومیاشتو نه په لږې موده کې رسېږي. د شوتلې عملیه ممکن یو یا دوه وار تکرار شي. شوتله له دریو کالو نه زیات دوام نه کوي او یوازې کله، کله له یوه کال نه زیات دوام کوي. خو دغه بوټي شین خاروو ته ورکول کېږي او هم د وښو په څېر ذخیره کېږي زیاتره یې نظر دې ته چې وچ کړل شي، په شنه ډول مصرفېږي. له طبیعي بوټو او له دوو مصنوعي بوټو نه غیر چې شرحه شول د پرو ړونور ډولو نه هم په افغانستان کې شته دي. بردن، غوښت او داسې هم جواري زیاتره د وښو په خاطر کرل کېږي، چې هغه ډېر قوت لري او چې وچ کړل شي، ټول ژمی دوام کوي. داهم عامه ده چې د آسونو او نورو خاروېو د پاره شنه غنم او اوربشې پخوا له دې چې وږي وکړي، وریبل شي او وېل کېږي چې دغه رواج نه یوازې محفوظ بلکې ګټور دی. وربشې څو ځله رېبلې کېږي، خو که غنم له یو ځل نه ډېر ورېبل شي، وهل کېږي، چې فصل ته زیان رسېږي داهم معمول ده چې د منې په کرل شوي فصل کې څاروي خوشې شي، چې هغه بوټي وخوري، چې د ژمي له شروع نه د مخه هسک شوي وي.

د کرنې سیستم

ما په افغانستان کې د کرو ند کری ټول هغه محصولات وشمېرل چې د هغه په باب مې معلومات ټول کړي وو، خو دا یقیني ده چې ما به ځینې حتما له قلم نه غورځولي وي او په هیڅ وجه له احتمال نه لېرې نه ده، چې د کرنې ځینې عام هدفونه به مې هیڅ

په نظر کې نه وي نیولې او س به زیا رو باسم چې د کرنې هغه طرز شرحه کړم چې په هغه سره حاصلات تر لاسه کیږي، خود کرنې د پاره او به دو مره ضروري دي چې ښايي لو مړی د اوبو په باب چې څنګه په لاس راځي، یو څه و وایم .

او به لګول ،کاریزونه

د اوبو لګولو یو عمومي طرز په ویالو ولاړ دی چې او به یې یو ازې ځینې وخت په مستقیم ډول پټيو ته اړول کیږي خو زیاتره وخت لښتی ترې ا یستلې کیږي او کښتو نه پرېخړوبیږي. او به دغو ویالو ته د ورو سیندونو ته په بند واچولو سره اړولې کیږي، خو دا بندونه په هغه موسم کې چې او به ډیر یږي، له منځه ځي په لویو سیندونو کې دهغو د یوې غاړې په اوږدو کې داسې بند جوړیږي چې د سیند په جریان کې تر یوې فاصلې پورې غزېدلی وي دغسې بند که څه هم د سیند ټولې او به نه شي اړولی، یو څه او به یې ترینه کشوي. له دغه لوی کانال نه بیا د لته او هلته ورې ویالې او لښتې د کښتو په لور بیلیږي .

د او بو حاصلو لو بله وسیله هغه ویاله ده چې کاریز نومیږي . په فارسي کې هم دغسې ویالې ته کاریز ویـل کیږي، خـو هلـته یې ډیر عمومي نوم قنات دی . کاریز په دغه ډول جوړیږي .هغه ځای چې له هغه نه او به په لاس راوړلې کیږي، بايد دغره د ډډې په کوزه خوا کې وي، او ځمکه یې باید ښه وکتله شي او یقین حاصل شي ، چې هلته چینې شته ،او په کو مې خوا روانې دي . څه وخت چې د کیندلو ځای وټاکل شو، لومړی یوه نه چندان ژوره څاه اوبله تر هغې یو لږ څه لیرې ژوره څاه کیندله کیږي . د څاه ـ ګانو یو اړ په دغه ډول کیندل کیږي، او دغه څاه ګانې یوله بل سره د ځمکې لاندې په یوې لارې سره وصل مومي ، څه وخت چې ځمکه هسکه یږي،څاه ګانې ژورې کیندلې کیږي ، خو دا په دې ډول سره کیږي، چې هغه لاره چې دوی سره وصل کوي، دهوارې په لورمخ په ځوږې وي، په دغې عملې کې ډیرې چینې میندلې کیږي ، خو کاریز کیندونکی هغه ددې د پاره ترې ، چې دده کار مخه ونه نیسي، خو څه وخت چې وروستۍ څاه یې وکیندله ، ټولې چینې خوشې کوي ،او به په شدت سره جاري کیږي ، او دخپلو منابعو په اندازه په څاه ګانو کې پورته کیږي په دې ډول له ډیرې ژورې څاه نه او به د کاریز په لارې کې برابریږي او کښتو ته اړولې کیږي . همدا چې کاریز یو وار تکمیل شو څاه ـ ګانې بیا بله ګټه نه لري . خو هغه وخت چې یو سړی په دې قادر کېږي چې د معبر د پاکولو د پاره کله کله ښکته شي . د څاه ګانو ترمنځ فاصله له لسو نه ترسلو ګزو پورې تغییر کوي ، په عمومي ډول دغه فاصله پنځوس ګزه وي . کاریز

دومره پراخ وي چې کاریزکندونکي وکولی شي کارپه کې وکړي. مګر ځینې یې ډیرلوی وي . اوریدلی مې دي چې په فارسي خراسان کېسبزوارته نیږدې داسې یوکاریز شته چې یوآس سورد هغه په مینځ کی په داسې حال چې نیزه یې داوړود پاسه نیولې وي تیر یدلی شی . دشاه ګانو شمیر او په نتیجه کې دکاریزاوږدوالی په هغو چینو پورې تړلی وي چې دکاریز په اوږدوکې سروهی، او دغه زنځیر په عموم مې ډول تر هغو دوام کوي چې پاکافي اوبه پېلاس راشي ، پاخام ګانی دومره ژورې شي ، چېوړانې تګګ مشکل کړي. دکاریزداوږدوالی په باب مې له دووځخه ترشپږدیرشومیلو پورې مختلف روایتونه اوریدلی دي ، خوګمان کوم چې معمولی اوږدوالی یې دمیله اوسی .

ممکن داسې وګڼله شي چې ددغسې ستونزونه ډک ساختمان بیه بهاورمرو بنه لوړه وي، خو شتمن په دې خوښ دي چې دشاړو مځکو په دغه ډول خړوبولو باندې خپلې پیسی ولګوي او دغریبو خلکود پاره داپه هیڅ وجه غیرعادي نه ده چې دکاریزپه جوړولوکې شریك شی، اوهغه مځکې په خپلوکې سره وویشی چې ددغسې کاریزله لارې خړوبیږي .

کاریزونه د هیواد په ټول لوید یځ کېډیرعام اوشمیریې هم مخ په ډیریدو دی. دسلیمانې د غرو ختیځې خواته یوازې دیوه کاریزپه باب له ماسره معلومات شته، چې هغه ددامان په توتور کې واقع دی. کاریزونه په ټول فارس کې عام دي، لکه ځنګه چې په ترکستان کې دي،خوپه وروستي ملك کې اوس له پام نه غورځیدلی دي. اوپه هندوستان کې یې څوك نوم هم نه اخلي .

د اوبولګولو نور طرزونه

دمصنوعی اوبه لګولو مهم طرزونه هم دغه وو، چې پاس بیان شول. له شاه ګانواوډنډونه یوازې کله کله استفاده کیږي،خوداچې له هغوئه اوبه شیبلی کیږي، په دغه ملك کې دذخیرې هغسې کاسې نه شته ، لکه ځنګه چې دهندوستان په جنوب کې شته دي چې هلته دیوې تنګې درې په لنډوکې د بند په اچولوسره اوبه ذخیره کیږي .

داو یو دذخیرې یو مشهور بند به په غزني کې وروسته ذکرشي،دپاراپامیزوس په غروکې هم دذخیرې یوڅه ډنډونه شته دي، خوداسې ډنډونه په ټول ملك کې عام نه دي .

په پیښور او داباسین په ټولواوږدوکې دختیځې غاړې په شایسته زیاتو برخوکې داوبوخیژولود پاره له فارسي غرد (ارټ) څخه استفاده کیږي. ددغوځایو په

زیاتو برخو کې له څاه‌ګانو نه، خو په پېښور کې له سیند نه د همدغه ماشین په ذریعه چې د سین په غاړو کې اېښودل شوي وي، اوبه راپورته کېږي.

دمځکې یوه برخه په مصنوعي وسایلو سره نه اوبه کېږي، دهیواد په ډېرو برخو کې د غونډیو ترمنځ ډېرځایونه او حتی دهوارو ډېرې آبادې برخې کاملاً په باران پورې منحصرې وي، نورې برخې یادا چې کاسې ته نږدې او یاد کوم سیند په غاړو کې پرتې وي، داسې موقعیت لري چې دکرنې دپاره تل کافي لندبل لري. دغسې مځکو ته للمه یا خشك آبه وایي، چې په ختیځ کې دځینو قطعو نه غیر نورې په نسبي ډول بې حاصلې وي، ساحه یې ممکن آبي مځکو په تناسب تنګه وي، خو اهمیت یې په یقین سره لږ وي.

دکرنې عملیه

زه په هیڅ وجه دې صلاحیت نه لرم چې په ښتنو کې دکرنې ټوله عملیه شرحه کړم، سره له دې به هم زیار وباسم چې دغو دکرنې په باب چې دمملکت ډېر مهم حاصل دی، یو څه ووایم، دکرمځکه ښخوا له دې چې یوې شي، په هو هغه حال کې چې داوبو استعمال ممکن وي، اوبه کېږي. په افغانستان کې دکرمځکه نظر دې ته چې په هندوستان کې معموله ده، ډېره ژوره یوې کېږي، قلبه یې هم دهندوستان تر قلبې ډېره درنه ده، خو سره له دې هم ددغه کار د پاره یوه جوړه غوایه بالکل کفایت کوي. دا ړولو هغه قلبه چې په هندوستان کې مروجه ده دلته نه لیدل کېږي، او ټول تخمونه شندل کېږي. مځکه په ماله کولو سره هوارېږي او ماله دمځکې په مخ کرزوله کېږي. داسې چې یو قلبه کر پرې ولاړوي او له هغه ځایه غوایان رهنمایي کوي او په خپل وزن سره دمالې اغېزه ډېروي. ځینې بزګران له دغې عملیې نه وروسته، بیا پټي ته اوبه ورکوي، مګر ډېر یې ځمکه په همدغه حال پرېږدي چې فصل یو څه لوړ شي، بوده ګان ور خوشې کوي، چې هغه وخوري. له هغه وروسته یې بیا اوبه کوي. او ځینې یې په ژمي کې بیا اوبه کوي. خو دهیواد په ټولو برخو کې کښت یا په خپل حال پرېښودل کېږي، چې په ټول موسم کې تر واورو لاندې راشي یا د ژمي داورښت په اثر په کافي اندازه نم وکړي. دپسرلي بارانونه دغو دپاره ښه مهم دي، خو د اوبو ځای نیولی نه شي. ددغه موسم په جریان کې څه ناڅه یو ځل باید اوبه ورکړل شي. خو ځینې یې تر هغو چې فصل پخېږي، دمیاشتې درې واره اوبه کوي. باید په لنډه توګه وویل شي، چې په پسرلي کې کرل شوی فصل نظر هغه فصل ته چې اوس غواړم پرې بحث وکړم، ډېرې اوبه غواړي فصل په لوړ سره ریبل کېږي، او لور په واقع کې هغه یوازنی آله ده چې دوښو او بوټو او په حقیقت کې د هر ډول فصل د ریبلو دپاره په کار ېږي. له بوټو نه دغلې

دجلا کول او په منظور د درمن د میده کولو هغه آله چې په هندوستان کې رواج لري دلته معموله نه ده. درمن یا په غوبل سره میده کیږي، یا په ښپړ سره. داسې ښکاري چې درمن چې میده شو پروړه یې د شاخې په سرسته له دانو نه بېلیږي. څه وخت چې غله پاکه شي، یا په کندوانو کې یا په جوالو کې ساتله کیږي. درانیان غله زیاتره په تحویلخانو کې ساتي، او په ښارونو کې هم انبارخانو کې ساتله کیږي.

ژرندې

غله دانه یا په بادي ژرندې یادا وبو په ژرندې، یا په میچن سره اوړه کیږي. د بادي ژرندې استعمال عام نه دی، یوازې په لویدیځ کې چېرته چې بادخه ناځه په یوه کال کې څلور میاشتې په پرله پسې ډول جاري وي، بادي ژرنده چالانه وي. د زړو بادي ژرندو آثار په شرق کې تر کابل او غزنی پورې لیدل کیږي، مګر په حاضر وخت کې دغه راز ژرندې په دغو سیمو کې یه یقینی ډول عمومیت نه لري حتی د دامان په سرحد کې هم یوه نږیدې بادي ژرنده شته ده، خو هلته او س هیڅوك دهغې د استعمال په فکر هم نه دي. دغه راز ژرندې د انګلستان له بادي ژرندو نه بالکل تو پیر لري. د دغې ژرندې یوه نمونه ما لیدلې ده، خو د هغې یاد زما په ذهن کې په کافی اندازه واضح نه دی، چې بیان یې په دقیق ډول وکړم. د بادي ژرندې پرې (دندانې) د داسې یوه ساختمان په داخل کې نغښتې وي چې هغه د باد د وا ننو تو د پاره یوه لاره لري. پرې یا د مربع یا د مستطیل په شکل وي نیغې ایښودل شوې وي او د یوه عمودي محور یا ستن په شاو خوا څرخیږي. هغه وخت چې پرې په حرکت وي هره یوه یې پو پر بل هغې لارې ته راځي چې باد اخیستلی شي پرې یو په بل باندې فشار اچوي لکه څنګه چې او به د ژرندې هوارې پلې ته فشار ور کوي. د ژرندې د بریز پل د پرولاندې نږدې پروت وي چې دغه پرې هغه بې د کوم ماشین له دخالت نه په حرکت راولي.

داو بو ژرندې هم له هرې هغې ژرندې څخه چې ما لیدلې ده، پوره توپیر لري او ما اوریدلې دي چې هغو ته ورته یوه ژرنده د شت لند (Shet Land) په ټاپوګانو کې شته، داو بو د ژرندو څرخ افقی او پرې یې لرګه کړې وي. دغه څرخ د ژرندې په منځ کې او د ژرندې د بریز پله لاندې نږدې ایښودل شوی وي چې له څرخ سره په هغې یوې میلې حرکت کوي. او به دیوې ناوې له لارې په داسې ډول داخلیږي چې په څرخ باندې، په شدت سره ولویږي، په خپله څرخ کهمی له یاده نه وي وتلی له څلور وفو- ټونه زیات قطر نلري. دغه راز ژرنده په ټول افغانستان، فارس او ترکستان کې رواج لري. د هندوستان په شمال کې د سرینګر دغرو په ښکته ډډو کې هم شته، خو

داو بوژرندې په عمومي ډول په هندوستان کې څوک نه پېژني او هلته غله دانه په لاس سره میده کېږي. مېچن د خلکو هغه برخه استعمالوي چې په خېمو کې اوسي او هم د هېواد په ډېرو بدوي برخو کې ژوند کوي. مېچن له دوه هوارو تيږو جوړه ده. پورتني پل يې په لاندني پله ايښودل شوی او لاندينی پل د لرګي په يوه ستن سره ټينګ او ځای په ځای دی. پاسنی پل په يوه اړخ کې د لرګي يو محکم لاستی لري چې د هغه په ذريعه په حرکت راوستل کېږي. ژرندګري ځان له کسب لري او د غلې يوه برخه چې دی يې اوړه کوي دا جوړې په توګه اخلي.

زه د فصلونو د دوران په باب چې بزګري يې کړي زيات څه ويلی نه شم، داسې ښکاري چې مځکه يوازې د هېواد په خوارو برخو کې د يوه کال د پاره شاړه پرېښودله کېږي. زياتره دا معموله ده چې په يوه کال کې د منی فصل وکرل شی او د پسرلی فصل په دويم کال کې وکرل شی، خو په ځينو سيمو کې چې پريمانه سره لري، دواړه فصلونه په يوه کال کې کرل کېږي.

داستعمالولو سره (پارو) له خوشايو او له خوشايو سره د وښو له مخلوط، له ايرو او د زړو ديوالو له خاورو او داسې نورو شيزونه جوړه ده. داوښانو د پچو له استعمال نه ډډه کېږي. په دې فکر چې پچې مځکه له ښورې څخه ډکوي، داسې ښکاري چې چونه او چونه لرونکې خاوره دلته څوک نه پېژني.

په ترکستان او دايماق په ملکو کې په قلبه کې له آسانو نه کار اخيستل کېږي، خو په پارس، هندوستان او د افغانستان په نورو برخو کې له آسونو نه په دغه ډول استفاده نه کېږي.

داکار په عمومي ډول په غويو کېږي، خو په شوراوک او سيستان کې له اوښانو نه په يوې کولو کې استفاده کېږي (د کوکن يا فرغاني په قلمرو او داسې هم د هندوستان په صحراګې هم داوښانو نه په يوې کولو کې کار اخيستل کېږي.) د افغانستان په ځينو برخو کې له خرو نه هم په قلبه کولو کې استفاده کېږي.

کښتونه غلې دانې، پارو او داسې نور په عمومي ډول د خرو او غويو او ځينې وخت په اوښانو وړل کېږي. ارابه لرونکې ګاډي لکه څنګه چې مځکې ويل شوي، په افغانستان کې نه شته.

دولسم فصل

تاجک، هندکیان او د افغانستان نور اوسېدونکي .

ړومبې وويل شول چې په افغانستان کې داسې سيمې ډېرې لږې دي چې ټول اوسېدونکي يې پښتانه اوسي او د افغانستان مخلوط نفوس په لويديځ کې له تاجکو او په ختيځ کې له هندکيانو نه مرکب دي. اوس غواړم دغه خلق او هغه قومونه شرح کړم چې په افغانستان کې مېندل کيږي (۱)

هغه وضع چې مونږ تاجکان پکې مومو، داسې ده چې د سړي د پلټنې حس تر يوه حده پورې تحريکوي، خو زما معلومات دومره نه دي چې هغه رفع کړي. تاجکان، د نورو ډېرو ملتونو په حيث نه په يوه هيئت کې سره متحد دي او نه يوې سيمې ته بلکې داسې په زړاتې برخې کې بې له دې چې سره تړلي وي خواره دي. دوی له ازبکانو سره د دوی د ملک په زيات تره برخو کې هغسې ګډ دي لکه څنګه چې له پښتنو سره مخلوط دي. د فارس مېشته اوسېدونکي د دوی د تار تار يرغلګرو، او همدا راز د دوی د ګرزنده قومونو په خلاف چې ښکاري په اصل کې فارسيان وو د تاجکانو په نامه يادېږي. حتی په چينی ترکستان کې هم مېندل کيږي او دوی په غرنيو ملکو

---

(۱) بابر هغه قومونه يادوي چې دده په وخت کې په کابل کې اوسېدل. په هوارو کې ترکان، ايماقان او عربان او په ښارونو او ځينو کليو کې تاجکان، پشه يان او پراچه يان وو .

په غرنيو سيمو کې هزارګان، توګه‌ډېريان Togderrees پښتانه او کافران اوسېدل په دغو قومونو کې دغه ژبې ويلې کېدلې. عربي، فارسي، ترکي، مغلي، هندي، پښتو، پراچي، ګبري، برکي Burrake او ديکاني .

لکه کوراتیګین (Kurrategeen) دروازه، واخان، و بدخشان کې ازاد حکومتونه لري (۲). دوی له دغو تینګو ملکو او له هغو محاطو سیمو نه غیر چې وروسته به یې ذکر وشي په بل هیڅ ځای کې ملي تولنې نه لري، خو د مملکت له حکمران قوم سره چې ور سره ژوند کوي، مخلوط دي. په عمومي ډول د دغه ملک کالي اغوندي او رسم و رواج یې په ځای یوی داسې ښکاري چې دوی په فارس د افغانستان په هوارو او د ازبکو په ملک کې پخوا دي چې د دغه خلق ورته راشي او اوس په دغو ملکو کې غلبه لري میشته شوي وو.

د تاجک نوم لږ څه په عمومي ډول استعمالیږي. کله تولو هغو کسانو د پاره په کار یږي چې له ترکانو او پښتنو سره چې له دغو نسلونو نه وي راوتلي مخلوط دي او یا د دوی نسب معلوم نه دی خو تر هغه به لیا سو زون د هغو ملکو او سیدونکو د پاره استعمالیږي چې هلته ترکی او پښتو هله کیږي او د هغو اصلي ژبه فارسي ده. دتاجک او پارسیوان نومونه په حقیقت کې هم په افغانستان او هم په ترکستان کې یو د بل په ځای استعمالیږي. (۳)

د تاجک د کلمې په باب روایتونه مختلف دي خو داسې ښکاري چې تر تولو ښه به ئې هغه وي چې تاسیک Tausik یا تاجک نه راوتلې وي. دا هغه کلمه ده چې په تولو پهلوي لیکنو کې د عربانو د پاره په کار یږي. دا روایت له هغه تعبیر سره موافق دی چې په ډیرو فارسي قاموسونو کې ورکړل شوی چې وایي تاجک د عربانو هغه اولاده ده، چې په فارس یا په بل کوم خارجي ملک کې زوکړ شوي دي. (٤)

---

۲ - له ازادو حکومتونو څخه د ایکونکي مقصد ښایي داوي چې د غه پورته یاد دي شوې سیمې، د نورو غرنیو سیمو په څیر په داخلي چارو کې آزادې وې، او د خپلو مشرانو له خوا اداره کیدلې. (مترجم)

۳ - پښتانه تاجکان د هکانانو په نامه هم یادوي او ازبکان ورته سروان یا سرتان Sertan وایي خو دغه نومونه د تحقیر نومونه دي ز مونږ سپاهیان په ترکستان او بخارا کې دوی په همدغه نومونو یادوي.

٤ - و ګورئ د برهان قاطع قاموس او هغه چې د فرهنګ ابراهیم شاهي په نامه یاد دی، او د اکتر لیدن هغه «د روښانی فرقې» په نامه (په اسیایي پلټنو کې نقل کړی دی زه په دې خبریم چې په نورو کتابو کې متناقض تعبیرونه ورکړل شوي دي، خو هیڅ یو یې هم د هغه تعبیر په اندازه د اعتبار وړ نه دی کوم چې ما اختیار کړی دی. د غه روایت په پهلوي کلمې سره سم تند شوی لکه چې ما یې ذکر وکړ معنی ئې عرب دی، چې په فارس کی ورته تازي ویل کیږي. او دواړه یوه معنی لري. د پهلوي د پاره ما په سلافیروز، یوه زرد شتی عالم اتکا کړې چې په لویدیځ هند و ستان کې د خپل ذکاوت او معلوماتو په وجه ښه مشهور دی.

د تاجکانو په باب د غه روایت له ټولو هغو قیاسونو سره سر خوري چې د دوی د موجودې وضعې په ملاحظې او د هغو ملکو د تاریخ په اساس کېږي چې دوی پکې په عمده ډول اوسي. ټول فارس او د ازبکانو ملک په لومړۍ هجري پېړۍ کې د عربانو له خوا فتح شو: عربانو د غو ملکو اوسېدونکی مجبور کړل چې د دوی دین، ژبه او ورسره د دوی د ملوکو نواو ژبې یوه برخه اختیار کړي. په عین وخت کې په افغانستان باندې هم برید وشو خو معلومه ده چې یرغلګو پوره بریالی نه شول. یرغلګر یوازې د هوارو سیمو په لاندې کولو بریالی شول خو خلکو مقاومت وکړاو تر درې پېړیو پورې یې د عربانو بریدونه دفع کړل. تر بحث لاندې د غه درې پېړۍ د فارس د امپراتورۍ برخې وې او د دغو سیمو اوسېدونکو ټولې ژبې ممکن له زړې پارسي نه راوتلې وي هغه وخت چې عربانو د غه خلق ایل او مسلمان کړل دوی د غه عصري فارسی د فاتحانو له ژبې سره د ځینې پخوانی ژبې په ګډولو جوړه کړه، ، او ددې احتمال شته چې د غه دوه واسونه په یوه وخت کې سره یو شوې وي چې هغه د اوسنیو تاجکانو اسلاف ګڼل کېږي.

هغه حقایق چې د افغانستان په باب ثبت شوي دي، له دغې فرضیې سره سمسر خوري په دې چې د عربانو له برید نه وروسته کوم حکایتونه چې موندل شوي د د غه ملک په باب په لاس لرو وایي چې تاجکان د هوارو ځمکو او پښتانه بې له کوم شک نه ځای پر ځای اوسېدونکی دي، چې په غرو کې مسلط وو وروسته پښتانه له غرو کوز شول او هوارو سیمو ته یې لاندې کړل او تاجکان یې پوره تابع کړل. یوازې د یوه یا دوو سیمو ملکو تاجکانو کولی شول چې تر یوه حده خپله ازادي وساتي د فارسیانو او عربانو له هغه سخلوط نه د کوهستان تاجکان هم تشکیل شول (۵) او دوی د تاتارو تر یرغلو پورې خپل ملک وساته په داسې حال کې چې د هوارو تاجکان د تابعیت د غه اوسنی حال ته ور سېدل او غرنیو تاجکانو خپله ازادي خوندي کړه او بدخشان درواز او داسې نورو سیمو بېل دولتونه یې جوړ کړل.

تاجکان د خپلو ټاکلو سیمو نه د استفاده کولو او زراعت ته د سیلان لرلو او د نورو میشته کارونو کولو په وجه شهرت لري. دوی تر اوسه هم په لویدیځ افغانستان کې د ځمکې د یوې برخې خاوندان دي په داسې حال کې چې داسې ښکاري چې په یوه وخت کې د غه ټولې ځمکې د دوی وې خو زیاتره یې خپل ملکیت

---

(۵) داچې ویل کېږي تاجکان په اصل کې عرب دي، او یا له عربو څخه د اختلاط په وجه پیدا شوي یوه پخوانی نظریه ده. دا نظریه اوس رد شوې، او تثبیت شوې، چې تاجکان د پښتنو په څېر اریائي دي (مترجم)

بایللی او په کروندګری کې د پښتنو تر با داری لاندې یاد مستاجر انویا نوکرانو په څیر ژوند کوي (٦)

تر او سه هم دا احتمال شته چې د دوی ملکیت د هغه قوم د سترو کسانو له خوا چې دوی د هغو په منځکه ژوند کوي تر تجاوز لاندې راشي که څه هم په دغه باب د دوی د غه خطر د حکومت د حفاظت په برکت لږ شوی دی او دوی هیڅکله د شخصي تحقیر او فشار د نه زغملو نکو ناخوالو لاندې ژوند نه کوي.

هغه تاجکان چې د پښتنې قومونو په ملکو کې میشته دي یا د دغو قومو د همسایه په حیث ژوند کوي یا ځانله په بیلو بیلو کلو کې اوسي د همسا یه و، په حیث د دوی موقف په پوره ډول شرح شوی دی په هغه بل حال کې د کلي چارې د یوه مشر له خوا تنظیمیږي چې هغه د خلقو له خوا انتخا بیږي او په دغه انتخاب کې یو څه د نسب رعایت کیږي او انتخاب د پاچا د تائید تا بع دی مشر بل څه اختیار نه لري مګر هغه چې دی یې له پاچا نه حاصلوي او هغه د مالیا تو په تولولو او د ملیشیا په را بللو کې ، د ده کیږي . دی دومره اختیار لري چې وړې جګړې په خپله حل کړي خو تړلي مهمې چارې یا د هغه محل حکمران یا یو نږدې قاضي ته راجع کوي. ټول تاجکان په خوی آرام او د حکومت تابع دي.

دوی د کرنې له چارو نه غیر په هغو صنعتو نو او کسبونو هم اخته دي چې پښتنو پرې اښې دي. دوی نرم طبیعته یا وقار او زیار کښه خلک دي.

په دې پروخوا و کې د دوی په پښتنو کې جذب شوی دي خو دوی د دغه ملت تر زقا- یصو نه ښه خویونه زیات خپل کړي . دوی چندان نظامی خویونه نه لري که څه هم په دې نږدې وختونو کې د دوی سجیه د عسکرو په حیث لوړه شوې او هسکیږي. دوی ښه میړنی سنیان ذي. ځنګه چې دوی د خپل موقف په وجه له مقاومت نه عاجز وي دوی هغه کسان دي چې اول زبیښل کیږي په نتیجه کې د دوی د سلطنت له موجودې وضعې نه پوره رضایت نه لري او په حکومت کې له زیاتو ا نحرافاتو نه شکایت کوي ، خو هغه وخت چې مملکت ارام وي د دوی ساتنه په ښه ډول سره کیږي او دوی په عمومی ډول د درانی پاچا په خوا دي . دوی له پښتنو سره ډیر ښه روابط لري او پښتانه ، که څه هم دوی تر لاس لاندې ګڼي ورسره د کیر

(٦) له پورته جملې نه د لیکونکی مطلب دادی چې هغه تاجکان چې د زمیندارو پښتنو منځکې کري ، د هغوی بزګران او پښتانه د هغوی باداران دي . دا هغه ارباب رعیتی یا باداری بزګري روابط دي ، چې په ټول افغانستا کې یې رواج لاره (مترجم)

اوسپکاوي چلند نه کوي، بلکې دوی سره د برابرۍ په اساس ناسته ولاړه لري او ورسره خپښی کوي .

دوی حکومت ته تر پښتنو څخه زیات مالیات تادیه کوي او د خپلو سړو یو شپه تناسب اردو ملیشیې ته استوي .

د تاجکانو شمېر په ښارونو کې خورا ډېر دی. دوی د کابل، کندهار، هرات غزنی، او بلخ شاوخوا د نفوسو عمده برخه تشکیلوي په داسې حال کې چې دوی د مملکت په نا ایلو برخو کې لکه د هزاره وو او د جنوبي غلزیو او کاکړو په سیمو کې ډېر لږ میندل کیږي .

زه تر اوسه د هغو تاجکو په باب گرېدم چې له پښتنو سره گډ شوي دي. هغه چې په ځانله پیلو ټولنو کې اوسي تول هیواد په گوښه او له لاس نه وتلو سیمو کې ژوند کوي او دوی له نورو نه له څوا ړخه فرق لري . د هغو لو سړنی چې غواړم اوس یې ذکر وکړم د کوهستانیو په نامه یادیږي. چې د کابل د کوهستان اوسیدونکی دي . د دغه ملك په شمال ختیځ کې ، هندوکش له واوروونه د کو غرو په سلسلې او د هغه له سهیلی غرونو سره محاط دي . لویدیځ ته یې د پلرا- پامیزاد غرونه او د هزاره وو ملك پروت دی: په سهیل کې د کوهدامان په لوړې چې د مخه یې ذکر شوی دی غزیدلی دي. کوهستان له درې او یږدو درو نجراو، پنجشیر او غوربند نه مرکب دی چې هره دره یې د بې شمار وو رتنگو درو په مخ خلاصه ده چې له هغو څخه ډېرې وړې ویالې راوځي او په لویه دره کې سره یو ځای کیږي او یو سین ورنه جوړیږي چې د هغې درې په نامه یادیږي د دغو سیندونو د پاسه لرگین پلونه اچوول شوي او د هغوی غاړې د دغو سیمو ډیره ښه زراعتي برخه تشکیلوي د دغو غاړو تناسب د غرو په مقابل کې چې په غیږ کې یې نیولی دي ډیر کم دی . او دغه غرونه ښه هسك او په نښتر وپټ دي .

د کرنې په ډیرو و برخو کې یې غنم او ډیرې نورې غلې کیږي او د حیرانتیا ځای دی چې په دغسې هسکو او سړو سیمو کې دوی تنها کوا وحتی پښه تو له دوي خود خلقو د ژوند تأمین ډیره ښه وسیله د توت پراخ او بې شمیره باغونه دي د دغو ونو توتان په لمر کې وچیږي بیا اوره کیږي او ډوډی ترې جوړیږي که مونږ د کوهستانیو د شکلونو له مخې قضاوت وکړو توت ښه روغتیا بښونکې میوه ده او د ښاغلی اروین (Irvine) د حساب په اساس د دغه حاصلات په یوه ټاکلي ساحه کې نظر و کرنې ته د لیا ډیرو شمیرو خلقو د پاره غذا برابرولې شي. د کوهستان خلق که څه هم ښه تیت دي شمیر یې ښایسته زیات دی او وویل کیږي چې تول په ۴۰ر۰۰۰ کورنی اوسی د کوهستان یوه برخه باید له هغې نه بیله وګڼله شي. دغه برخه د میرې یوه توته ده چې ریکه روان ورته وایی او چې هغه د ابوا لفضل په قول د کومې رومانتیکې قصې یوه صحنه ده .

کوهستان ډیر څاروي نه لري. وحشي څاروي یې باید ارومرو زیات اوسي. ویل کیږي چې زمري په دغو کې شامل دي او لیوان او پشي پړانګان (Leopards) په یقین سره پکې ډیر دي. په کوهستان کې ډیرې باښې مېنډلې کېږي او بلبلې یې نښې پریمانه دي. ددغه ملک قوت خلکو ته دغسې یو کرکتر په برخه کړی دی چې دهغوتا ځکانو له کرکتر نه چې ما یې روسبې بیان وکړ ډیر توپیر لري. دوی تقریبا له حکومت نه مستقل او خپلو مشرانو ته پوره تابع دي. دوی د شخصي کرکتر له مخې زړور، تند، او سرغړوونکي دي او په جنګ کې دومره مېړني دي چې د بر ستنې سړینه ورته ننګ ښکاري. د وی د پوځ په تیره بیا په غوو کې ډیر اعلی پیاده ګلان تشکیلوي خو د دوی زړه ور تیا عموما په داخلي بې اتفاقیو کې ضایع کېږي. دوی یوازې کله کله د قومونو او کلیو ترمنځ شخړې کوي خو د افرا دو په منځ کې یې جنګونه اوږ نې ډیرې دي. هغه شخړې چې په دوی کې څه وخت د کلیو په منځ کې پېښېږي د نورو ځایو د شخړو په نسبت د نتیجې او عاقبت له مخې ډیرې جدي وي ځکه چې تقریبا د یوه فصل دریځلو په اندازه دونوو هلښه اسان دي، خو د تاوان ورکول ئې تر هغو لیا ګران وي.

د کوهستانیو وسلې په عمومي ډول لنډسپک توپک Carbine پلته یز تو پک، تفنګچه او وړې پش قبضې دي. ځینې یې لنډې نیزې او یو څو غشی او سپرونه لري.

د دوی جامې له دغوا جزا وونه جوړې وي: یوه تنګه کرتی، له تور شخوړ ین تو کرنه جوړ شوی پر توګ، یو جوړه ګاولې او یوه وړه ورښمینه توپی.

کوهستانیان ټول سنیان دي او له پارسیانو او نورو ټولو امامانو سره له معمولي حد نه زیات مخالفت لري.

دوی بیل بیل خانان لري چې تر ټولو ستریې خواجه خانجی نومېږي. دغه مشران که څه هم نه شی کولی دهغو کورنی دښمنی کنترول کړي دوی قدرت لري چې دهغوی خارجی عملیات اداره کړي مخصوصا هغه وخت چې مذهبی تعصب یې پاروول شوی وي. دغه مشران هر یو له ځانه یوه وړه نظامی قوه لري خو په دغه ملک کې هر یو عسکر دی. دوی حکومت ته یو څه مالیات تلدیه کوي او یو څه لښکر ور برابروي خو په عمومي ډول له دوی نه هر د څه حصول ښه اداره او ډیر تشویق غواړي، سره له دې هم په دې نړدې وختو کې دوی ښه ایل شوي دي. له شاه محمود سره یوه زړه دښمنی د دې باعث شوه چې دوی دهغه په بیر ته واکمن کیدو سره کلک مخالفت وکړي. لومړی دوی دهغه دور ورشا هزاده عباس پلوي وکړه او وروسته یې د یوه کاذب پیغبر په مشری له شاه محمود سره خپل مخالفت ته دوام ورکړ. جنګو

اوږد، سخت او زیاتره د شاه محمود لښکر و د پاره نامساعد شول، خو په پای کې د وزیر فتح خان قوت پرهالی شو او اوس دوی تول ایل شوي دي (۷) .

د تاجکانو بله طبقه پرکیان دي چې په لوګر او پټ خاك کې اوسي . دوی که څه هم له عربو سره ، ګډ شوي دي له نورو تاجکانو نه په دې فرق لري ، چې داسې یو قوم دی چې ځانله بیل مشران لري . او د عسکرو په حیث د لوړ نامه خاوندان دي . دوی ځانله کلا ګانې او مځکې لري حکومت ته ښې لښکرې برابروي او په سلوك کې له پښتنو سره ښه ورته دي او تر نورو تاجکانو نه دوی ته په ښه سترګه کتل کیږي د دوی شمیر اوس نږدې اتو زرو کورنیو ته رسیږي .

تول روایتونه په دې موافق دي چې سلطان محمود د یو لسمې پیړۍ په سر کې دوی دغه اوسنی ځای ته نقل کړي وو او هغه وخت د دوی دغه سیمه ډیره پراخه وه خو د دوی اصل معلوم نه دی . دوی پخپله وایی چې له عربانو نه پیدا دي خو د نورو په روایت دوی د کردانو اولاده ده .

پورمولیان یا فورمولیان د تاجکو یوه پښه ده او له پرکیانو سره په شمیر کې برابر دي. زیات شمیر یې چې په اورګون کې د خروټو په منځ کې ژوند کوي. او له دغه قوم سره ډیره کلکه دښمني لري. او نوریې د کابل په لویدیځ کې اوسی کرنه او سوداګري یې لوی کسب دی . خو حکومت ته مالیات او هم یو څه عسکر تهیه کوي . (۸)

سرد هیان یو وړ قوم دی چې د غزنی ختیځ سهیل خواته په سرده کې اوسی. د سیستان اوسیدونکی هم ښایي تاجکان وشمیرلای شي او دغه قوم د بلوڅو د ملك په شمال کې هم عمومیت لري . خو د هغو ویشونه او خیلونه په دلته ذکر نه شي .

---

(۷)- د کوهستانیو په جمله کې مې د پشه یانو نوم هم اوریدلی دی خو په دې خوا- شینی یم چې د دوی د تاریخ په باب مې تحقیق ونه کړ او له هغه وروسته ما ته دا پته ولګیده چې بابر په دوی ذکر کړی وي چې دوی ځانله یوه ژبه لرله.

(۸) زه د دوی د اصل او نسب په باب هك حیران یم که څه هم هغه منابع چې د دوی یادونه کوي داسې نه دي، چې نامعلوم اوسي ویل کیږي چې دوی د خلجیانو له نسل څخه پیدا دي او خلجیانو هندوستان ته د یو مهاکمه کورنی ورکړې د خو د دوی په باب هر څه غیر یقیني دي. د فرشته په قول خلجیان د پښتنو یو قوم دی. او ما له نورو منابعو نه اوریدلي دي چې دوی د خلیج Khulluch یا خلج Khulluj د ښار اوسیدونکی دي چې د غیځو په قول دا مو په غاړه او د نورو په قول د کندهار شمال لویدیځ ته واقع دی په داسې حال کې چې د نورو په قول داسې ښار هیڅ *

سره لهدي هم دوی په هغه حساب کې راغلی دي چې پخواد کابل پاچا د قلمرود تاجکو په باب شوی وا و دهغوی تول شمېر ۰۰۰، ۵۰۰، ۱ قیاس شوی و ۰ هند کیان که څه هم تر تا جکانو نه په شمېر ډېر دي زیات تذکار نه غواړي په دې چې دوی تول په اصل کې له هندوستان څخه دي ۰ اود خپل اصلی هېواد څه ټر ګند شکل او سلو کونه یې لا هغه ګډو خصوصیا توسره یو ځای چې ختیځو پښتنوته منسوب شوي دي، ساتلی دي (۹)

د اباسین د ختیځو غاړو په ولا یتو کې په عمومی ډول د هغه طبقه ژوند کوي چې جتان نومېږي د پنجاب مسلمان بزګر هم په دوی کې شامل دي او د دوی د سند د نفوسو عمده برخه تشکیلوي او د بلو چستان په تولې سهیلي ـ لو یدیځې او په موکل واد Mukelyaud کې له بلوچو سره ګډ دي ۰ په بلو چستان کې د دوی د جوګدالو (Jugdalls) او داسې هم د جتا نو په نامه یاددي او د دوی هغه قوم چې په لوس (Lus) کې او سی د جوخنا (Jokhna) او نورمړي (Noormree) په نامه یا دېږي. هغه برا خه سیمه چې په هغې کې جتان خواره دي، د تاجکانو د قصی په شان چې د هغوی سوقف له جتانو سره ډېر ورته دی همغسې یو شان د ملتني احساس پاروي ۰

د هندکیانو یوه بله طبقه چې اوآن یا اعوان نومېږي د اباسین په غاړه کې د کالک باغ په شاوخوا او پنجاب ته نږدې سیمو کې ژوند کوي ۰

---

* نه وا و وایی چې خلجیان د دغسې یوې مذهبی فرقې نوم دی چې په یوه خاص ملت پورې اړه نه لري ۰ خلجیان یا خلجیان د تا رتا ریو قوم دی چې یوه برخه یې په لسمې پېړی کې هم د سردریا په سرچینې کې اوسېدله خو ډېر وخت کېده چې، یوه وړه برخه یې د سیستان او هندوستان ترمنځ یعنې د پښتنو په ملک کې اوسېده ۰ په لسمې پېړی کې دوی لا هم په ترکی ګړیدل خو داسې ښکاري چې دوی ډېر د مخه هغو پښتنو سره ډېري نږدې اړیکې اړلې چې نوم یې ورسره په قطعی ډول یو و ۰ د دوی د اصل او نسب او په تار تا ریخ کې هستو ګنې ځای د پاره وګورئ: دي ګیوني De-Guignes د ریم توک ۵ مخ، نوټ دی هر بیلات De. Herbelot د خلج مقاله Khalad او ابن حوقل، ۲۶۹، د سرډ بلیو ۰ اوسلی Sr. W. Ouseley چاپ، د پښتنو په ملک د دوی د هستو ګنې د پاره وګورئ ۰ ابن هوقل ، مخ ۲۰۷، د غه وروستی لیکوال د ۹۰۲ او ۹۶۸ عیسوي کال ترمنځ لیکنې کړي دي ـ ۱۸۳۸ ۰

(۹) پنځم پنډېټ دژمی په ځا موکې د پښو ریو هندکی ښځې دا که څه هم چې هندکی ته نږدې ښکاري بیا هم د یوه هندکي خبو صېتونه څه افاده کوي

داسې ښکاري چې پراچیانچې دوی هم دهند کیانو یوه بله طبقه ده دبابر په وخت کې چلاخلك وو. دوی اوس یوازې دکاروانو په تنظیمولو او دمالونو په نقلولو کې پوره مهارت لري. هندکیان په باجوړ او د پېښور په شاوخو کې په شمیر کې ښه ډېر دي او ددوی ځینې طبقات دیوسف زیو دملك په شمال ختیځ کې مېندل کېږي ددوی ژبه بېخي داسې ډول هندوستاني ده چې د پنجاب له لهجې سره ورته ده .

هندوان ښایي له دغې طبقې سره یوځای وشمېرل شي، دوی دکابل دسلطنت په ټولو برخو کې مېندل کېږي . (۱۰)

دوی په ښارونو کې د دلالانو، سوداګرو ، صرافانو، زرګرانو، دغلو دانو خرڅوونکو او نورو په حیث په زیات شمیر شته . په ټول ملك کې به ډېر کم داسې نوکلي وي ، چې هلته هندوانو یوه یا دوه کورنۍ دغه کسبونه نه کوي او د صرافانو او محاسبانو او نورو په حیث کیف او کار کوي. دوی دفارس په شمال کې هم خواره دي خو هلته په دې چې له دوی سره ناوړه چلند کېږي په لږ شمیر مېندل کېږي .

په بخارا او تارتاري په نورو ښارونو کې دوی تشویقېږي . هندوان ټول یا نږدې ټول د نظامي کشتریا له طبقې نه دي، خو داسې باید ونه ګڼل شي چې دوی عسکر دي . برخلاف په کابل کې به د هندو عسکر په مفکوري ملنډې وهلې شي . دوی هندوې خصوصیتونه ساتي . اوځینې یې نږدې هندي جامې اغوندي خو ډېرې خولۍ یې پرېږدي او همغسې کالي په تن کوي چې دهېواد له جامو سره نږدې ورته وي. دوی له ډېرو هندویي تعصباتو نه ځانونه ازاد کړي دي تر دې حده چې دوی پروا نه ساتي چې هغه دوډۍ و خوري چې په یو مشترك پخلنځي کې پخه شوې ده .

دوی تر دې هم ددغه مقرري لږ رعایت کوي چې دوی له دینه منع کوي چې له مسلمان سره تماس کولو نه وروسته باید غسل وکړي. دغه امر دسړو سیمو د پاره نه دی. په حقیقت کې په ډېروارو خونو کې دوی له مسلمانانو سره ښه راشه درشته ساتي که څه هم د دوی پر حیله ګری او خسیس و الی پوري ښې ملنډې وهلې کېږي. دوی زیاتره په دربار کې

---

(۱۰) هندوان په حقیقت کې ان تر استراخان (Astrachan) پورې مېندل کېږي او ددوی شمیر په عربستان کې هم ډېر دی په داسې حال کې چې په شرق کې دوی تر پیکن (Pekin) پورې رسیږي ویل کېږي چې دوی هلته یو د رسال هم لري ددوی مذهب له دغو سرحداتو نه اوښتی دی. معلومه ده چې دفو (Fo) په نامه سره د بوده (Bodh) لمانځنه په ټول چین کې عمومي ده .

او څنګه چې داکتر کلارك (Dr. Klarke) وایي د کلموکانو (Calmucks) په خدایانو کې مو نږ د هندوانو بتان پېژندلي شو .

په داسې کارو مقرر شوي دي چې له پیسو یا حساب سره سرو کار ولري. د هر یو مهتر کس د پاره اد ناظري او خزانه داري وظیفه یا د پاسوان یا د هندو په غاړه ده، هندوان په ولایتونو کې حتی حکمرانان وو او همدا اوس هم د پښور لویه حکمراني د دغه دین یوه کس ته سپارله شوې ده. خو خلق دغې مقررۍ ته له تاؤ دنه ډیره حیراني سره ګوري او حکومت باید ښه قوي اوسي چې د دغسې مقررۍ ملاتړ وکړي:

ماد زغم هغه درجه ذکر کړې چې د هندوانو په هکله یې مراعات کیږي او اوس باید دومره اضافه کړم چې د دوی زیاتر و حال ښه دی، د اشرافو له ډنګلو نه غیر په هر ښار کې د دوی کورونه تر نورو ډیر ښه دي.

د هندوانو په خپل روایت دوی د هندوستان مهاجرین دي چې په افغانستان کې له ډیرو پخوا وختو څخه میشته شوي او داسې ښکاري چې د دوی قصه ښه اساس لري. (۱)

هغه قوم یا په بل عبارت د دهګانانو هغه ملت چې ښکاري یو وخت د افغانستان د شمال ختیځ په زیاترو برخو کې خواره وو او اوس یوازې د کنړ په دره او د لغمان په شاوخوا کې ژوند کوي. خو یوازې په کنړ کې دوی تر اوسه هم د پیلو خلکو په حیث اوسي او هلته د داسې یوه مشرتر اداري لاندې دي چې کله د سیدانو کله د کنړ د پاچا په نامه یادیږي د دوی ملک وروړدی او قوي نه دی. نه یې اوسیدونکي جنګیالي دي. مګر دغه سید د خپل تدبیر

(۱) مګر په افغانستان کې د بت لمانځو نکو دیوم پخواني نژاد څیني اثار لیدل کیږي لکه د بامیانو دیرغټ بتان او هغه بې شمیره وړې مجسمې چې کله کله د ایماقاتو په ملک کې را برسیره کیږي. په څینې ځایونو کې هندي افسانې اوریدلی کیږي خو هیڅ یوه یې د برولرغونو مهالونو ته نه رسیږي ګوري کتې Gorekutty یعنې چیرته چې په پیښور کې یو کاروانسرای ولاړدی، د بابر په وخت کې د هندوانو د لمانځنې ځای و. د کابل په شمال کې اق سرای ته نیږدې یوه لویه سمڅه شته چې د هندوانو په روایت د تپه سیا یاد ګورګ Gurug/ دخله کیدو یوه صحنه و. ګوروګ هغه برهمن وچې د کرشنا Krishna کورنی ته منسوب وا و د کپتان ولفرد Captain wilford د فرضیې له مخې د غه سمڅه د پرومیتیوس prometheus یا هغه سمڅه وه چې له سکندر سره ملګري یونانیان یې همدغسې بیانوي اسیایي تحقیقات د اسلامي دورې مورخان په پخوا وختو کې د کابل له راجا ګانو نه ګرځیږي خو داهیڅ څیز نه ثابتوي. همدغه لیکوالانو هندوان د ګبریانو Guebres په نامه یاد کړي دي او مسلمانان د راجا د کلمې په استعمال کې دقیق نه دي لکه د اچې ټیپو سلطان د انګلستان پاچا ته د راجا خطاب کوي.

په وجه او شاید د هغه احترام له مخې چې دده نسبت ته کېږي خان ښه مهم ګرزولی دی. دی حکومت ته یو ښه مالیات او یو نیم سل سواره ور کوي.

دهګانان په دغسې یوې ژبې ګړېږي چې په باړنامې، ائین اکبري، او نورو مناېعو کې د لغماني په نامه یادشوې ده. د دغې ژبې له یو شمېر لغاتو څخه چې ما راټول کړي دي داسې معلومېږي چې دغه ژبه له سانسکرت او عصري دري څخه تشکیله شوې وي او د یو څو پښتو لغتونو او د یوې نامعلومې ژبې یو څوي مخلوط دي (۱۲).

مګر د دغې ژبې زیاتره کلمې له سانسکرت څخه دي او له دې څخه مونږ ممکن دې نتیجې ته ورسېږو چې دهګانان په اصل کې له هندوستان څخه دي، که څه هم چې دوی له هندکیانو نه متمایزدي. باید احتیاط وشي چې دوی له تاجکانو سره یو نه ګنهل شي چې پښتانه کله دوی د دیګان په نامه یادوي او دغه کلمه د دهقان یا بزګر اړول شوی شکل دی.

شلمانیان پخوا د شلمان اوسیدونکي وو چې د ګارون په دواړو غاړو کې یوه پرته سیمه ده. وروسته دوی تیراته وکوچېدل او د پنځلسمې پېړۍ په پای کې په هشنغر کې وو چې له دغه ځایه یوسف زیو وشړل. پخواني پښتانه لیکوالان دوی دهګانان بولي، خو داسې ښکاري چې دوی د دغه کلمه په دقیق ډول نه استعمالوي. ترا وسه هم د یوسف زیو په ملک کې یو څه شلمانیان شته چې د کومې خاصې ژبې یو څه بقایا لري.

داسې ښکاري چې سواتیان چې دوی هم کله کله د دهګانانو په نامه یادېږي په اصل کې هندوستاني اوسي. په پخوا وختو کې دوی د داسې یو قلمرو خاوندان وو چې د هایداسپس Hydaspas له نوید یخې ځانګې نه نږدې تر جلال اباد پورې غزېدلی و. دوی د پښتنو قومونو له خوا په تدریج سره تر هغو لیا تنګو سیمو ته محدود شول او سوات او بنېر چې وروستي سیمې وې د پنځلسمې پېړۍ په آخر کې د یوسف زیو له خوا لاندې شوې. د دوی شمېر په دغو ملکو کې اوس هم ډېر دی.

تیرایان چې په شنوارو کې هستوګنه کوي یو کوچنی قوم دی او یوازې په دې یاددی چې په داسې یوې ژبې ګړېږي چې له ګاوندیو ژبو نه پوره توپیر لري. زه په دې بریالی نه شوم چې د دغې ژبې یو څو بېلګې راټولې کړم یا د هغې په باب داسې معلومات راټول کړم چې د هغو له مخې د هغې د مبدا په باب قیاس وکړای شم.

(۱۲) غواړم د دې یادونه وکړم چې زه په سانسکرت هیڅ نه پوهېږم خو دغه مقایسه مې د دوو سرهټه وو پنډتانو په مرسته وکړه. کېدای شي چې هغه کلمات چې ما ته ښکاره شول په کومې نامعلومې ژبې پورې اړه ولري چې ممکن پوه لیا ښه څېړنې پوه ته ښه معلوم وي.

قزلباشان د ترکانو دهغې کالونۍ څرېدي چې اوس په فارس کې غلبه لري زه دوی په همدغه نامه یادوم (په کابل کې دوی معمولاً په دغه نامه یادېږي) نه د فارسیانو په نامه. او دا ددې د پاره چې که دوی په دغه وروستي نوم ذکر کړم ممکن غلطي پېښه شي.

قزلباشان په عمومي دول په ښاروکې اوسي، یو زیاې په هرات کې په کابل کې هم میندل کېږي. ویل کېږي چې دوی د کابل په ښارکې لس یا دولس زره تنه دي او دوی هلته د نادرشاه او احمد شاه په وختو کې مشته شوي وو او تراوسه هم دوی د غسې خلق دي چې له خپلو کالو نه یو نه په دیرو لحاظو نوسره تو پیرلري. دوی په دري او په خپلو کې په ترکي خبرې کوي. دوی تول متعصب امامیان دي او د دوی د تعصب د پټولو د پاره په لوی درجې د ضرورت او له سنیانو سره د مخالفت په وجه چې دوی د هغو په منځ کې ژوند کوي دوام کوي. (۱۳) د هرات قزلباشان هر دول کسبونه او شغلونه اري نور یې زیاتره عسکر دي، ځینې یې سوا کردي او دوی د دغې طبقې دیرښه کسان دي او دیري کاسبان او نوکران دي، عامله یا د سلحو کسانو د لې چې د ستر و کسانو په خدمت کې دي عموما، له دوی له مرکب دي.

د محررانو، محاسبانو، او نورو و ماموانو زیاتره شمیر قزلباشان دي او نور دي هر مهم شخص له دغه قوم نه څانله یو میرزا، ناظر او ممکن یو دیوان یا میلمه پال لري.

د پاچا زیاتره پیشخدمتان او دهغه شاوخوا نور دي نور نوکران هم قزلباشان دي. د دغو کسانو ځینې د لوړو رتبو او درجو خاوندان دي او د قزلباشانو ځینې نظامي مشران هم مهم کسان دي، که څه هم، چې دوی دد را نیو منصبدارانو تر لاس لاندې دي ځینې قزلباشان په تیره غلامان یا د پاچا سا تونکي، ځکې او حتی کلاکاني لري چې پاچا و ر ببښلي او یا یې په خپله په بیه اخیستي دي مګر دوی په عمومي دول له هرات نه غیر په ښارونو کې اوسي او خپلې ځکې پښتنو یا تاجکو اجاره داراتو ته په اجاره ورکوي.

د قزلباشانو داوو قبیلو یا قومو (تیري Teerehs) څخه سوا د کابل قزلباشان څانله خاص تقسیمات لري لکه ندولیان، یا جوان شیریان

---

(۱۳) زما دغه لیکنه د کابل د قزلباشانو او د ښایسته د یرو فارسیانو په مشاهدې بنا ده چې په هندوستان کې میږ ندلی دي، خو دغه کرکتر په عمده دول د ښار ونو دا وسېدونکو په باب تطبیق موږې د اطراف خلق د ومره خراب نه دي او ایلات یا شپانه قومونه یو څه د پښتنو په شان دي.

(لومړني يې مخکيني نظامي ډلې (۱۴) او وروستي يې يو لقب دی) مرادخانيان او نور. مرادخانيان د هغه دراني قوماندان په نامه ياد شوي دي چې د اول ځل د پاره يې پر دوی قوماندانی کړې ده.

له تاجکو نه غير چې دوی د دغه ملک ځايي اوسېدونکي دي، هغه قومونه چې له هندي توکم نه راپېدا دي او قزلباشان چې د فارس د تارتاري خانانو له نسب څخه دي د پښتنو په ملک کې نور واړه قومونه هم شته. دا به د حيرانۍ ځای وي چې د برتانيې په ښارو يا اطراف کې داسې ميشته شوي فرانسويان يا هسپانويان وليدل شي چې د څو پېړيو په تېرېدو سره له نورو خلقو سره نه وي ګډ شوي، مګر دا حقيقت په آسيا کې ښايسته عام دی.

د نفوسو د زياتې برخې د کوچې توب عادتونه ټول د لېږدېدو له فکر سره روږدي کوي، دا هم د آسيايي حکمرانانو يوه عامه پاليسي ده چې خپل رعيت له يوې سيمې نه بلې ته نقل کړي، په دې فکر چې يا خوارې کښې خلق مېنده کړي يا د مملکت په يوې برخې کې وفادار نظاميان د ځان کړي او يا زياتره د يوه سر- کښ خېل يا ملت قوت مات کړي. دا له يو ملک نه بل ته د خلقو د لېږدولو علتونه دي او په قومونو باندې د ټولو پروېش سره دوی له پاتې اوسېدونکو نه بېل ساتل کېږي د غسې مهاجرين د مملکت په قومونو کې د داخلېدو اجازه تر لاسه کولی نه شي او انفرادي کسان د طبيعي متحدېدو نه شتوالي له امله په ډېرو غېر مساعدو شرايطو کې وي. نو په دې لحاظ دوی د دوه اړخيزې دوستۍ او حفاظت او د ګټې په منظور سره يو پاتې کېږي.

د دغې طبقې بې‌شمېره کسان عربان دي چې ممکن له فارسي خراسان نه راغلي وي. تر اوسه هم په هغه ملک کې عربان په زيات شمېر مېندل کېږي او دوی ممکن د اسلامي فتوحاتو په لومړۍ دورې کې هلته ميشته شوي وي يا لږ تر لږه له هغه وخت نه وروسته هلته هستوګن شوي وي چې د سامانيانو يوې عربي کورنۍ (۱۵) په بخارا باندې حکمراني چلوله.

---

(۱۴) چنډول د ډېش قرول په خلاف مخکني نظامي ډله نه بلکې د شاساتونکې نظامي ډله ده. څه وخت چې نادرشاه افشار له کابل نه د هند په تکل روان شو يوه ډله عسکر يې په کابل کې د چنډول په نامه پرې ښودل وروسته هغه ځای د چنډول په نامه ياد شو، چې تر اوسه هم مستعمل دی (مترجم)

(۱۵) اوس دا ښه څرګنده ده چې سامانيان يوه عربي کورنۍ نه بلکې يوه آرياني کورنۍ ده (مترجم)

ددوی شمیرپه افغانستان کې ممکن دوه زره کورنۍ اوسی چې څه وبې دکابل په بالا حصارکې دچاونۍ یوه برخه تشکیلوله او پاتې بې دکابل او پېښور ترمنځ په جلال آباد کې اوسېدل. دغه وروستنی یې ځانله دیو بېل مشرتر اداري لاندې دي او اودی دومره دعزت خاوندي چې ددمسلف لورداحمدشاه ښځه دتېمورشاه مورده. دوی خپل اصلی ژبه یادلی، خو تراوسه هم په یوې تولنې کې اوسی او تول مېشته دي او کروندګري کوي.

دمغلو او چغتائیانو نه هم ښایسته شمیر خلق او له دغه لاندې هر یوه ملت څخه یو څوسوه کورنۍ په دغه ملك کې مېشته دي.

لزګیان دتورې بحیرې او کسپین دبحیرې ترمنځ دقفقاز له غرونه چې نادرشاه لېږدولی وو او اوس دقراه په شاوخوا کې مېشته دي. موکریان (Mookrees) او فارسی امپراتورانو ترمنځ کردستان (پخوانی کردوچیا) Carduchia دوه قومونه دي (۱۶)

ارمنیان دغسې خلق دي چې چیرته دکتنې موضوع وي دوي دځرق په هرې برخې کی مېندل کېږي.

حبشیان (چې دغلامانو په حیث په پېرانیول شوي وو او اوس دپاچادساتونکو یوه برخه تشکیلوي) او کالموکیان Kullimauks چې دلته کولیمان کیان Kalmucks نومېږي او وی هم دپاچامحافظان دي او داسې ښکاري چې په روسیې کې دهمغه قوم له خلقو سره نېږدې ورته والی لري. دښاغلی کرپورتر Kerr Porter په سیاحت نامو کې دیوه کالوك تصویر ددوی یو ښه کاریکاتوردی چې په کابل کې اوسېږي. تیمورشاه دوي له بلخ نه کابل ته ولیږدول او یوازې په دې وخت کې ده چې دافغانستان خلق ددوي له کردولر اخومځونو، ددوی له ځنونو یو سترګو او ددوی دپوست له نهایت تورورنګ سره اشنا شوي دي

یوښه دهېرالی ځای دی چې کالموکیان چی دوی په عمومی ډول دشمالی اسیا اوسېدونکی دي کابل ته یې لاره پیدا کړې ده خودد وی ښایسته ډېر شمیر

(۱۶) څه وخت چې سرجان ملکم John Malcolm په کردستان کې ودمو کړ هلته یو په باب یې یوه شرح تر لاسه کړه چې کابل ته ددوی دیوې برخې مهاجرت پکې ذکرشوی دی. خو ماته ددغه حرکت علت یاوخت معلوم نه دی. ویل کېږي چې په رکابانو کې ځېنی بودایان تراوسه هم په کردي ژبه خبرې کوي.

په بخارا کې مېندل کېږي او ددوی لالهاند خويونه ددوی ددغه وړاندې تګګ سبب ګڼل کېږي .

زه په دغه لست کې د بلوڅو ، ايماقاتو ، او هزاره ګانو په باب چې دوی په زيات شمېر په لويديځ کې یادسیستانیو ، کرمانیو ، مرويانو ، او د فارس د نورو ښارونو او ولايتونو د خلقو په باب چې د دغه ملک په مختلفو برخو کې په ښا یسته ښه شمېر مېشته شوي دي څه نه وايم . نه هغه يو څو واړو وړايي ترکان، يهوديان او د بدخشان او کاشغر خلق زياتې ليکنې غواړي او نه ترهغو په شمېر کې لا زيات ازبک سياحان ليکنې غواړي چې ياد تجارت او يا د تحصيل د پاره پېښور ته راځي .

(د لومړي توک پای)

د پوهنوال ډاکټر کاکړ ځینې تالیفونه او ترجمې

تالیفونه

1 — Afghanistan, A Study in Internal Political Developments, 1880—1896, Panjab Educational Press, Lahore, 1971 ..

2 — Goverment andcational Press, Afghanistan, The Reign of Amir, Abdal Rahman Khan, Texas University Press at Austin, 1979.

افغان، افغانستان وافغانها و تشکیل دولت در هندوستان، فارس
پوهنتون کابل، ۱۹۷۸

جنگ دوم افغان وانگلیس، آماده طبع

ژباړې :

۱- کار، پروفیسر ای. اچ تاریخ څه ته وایی؟، کابل پوهنتون ۱۹۶۹

۲- گورکی، د گورکی ادبی لیکونه (له یوه انگریزي متن څخه) پښتو ټولنه

۳- میکفیر من، پروفیسر، جهان واقعی دموکراسي، مطبعه دولتی کابل، ۱۹۷۰

٤- پینترپرو فیسر مدنی، جامعه اروپایی درقرون وسطی، دغه ترجمه د کابل پوهنتون له خواتر چاپ لاندی ده.

۵- ستیوارټ، مایکل، د برتانیي سیاسي سیستم، دغی ناچاپ شوی ترجمی په ۱۹۷۵ کی د مطبوعاتو د ریاست د ابن سینا جایزه گټلی ده.

٦- مک نیل، پروفیسرویلیم، تاریخ جهان معاصر: ۱۹۱۴- امروز، آماده طبع

دچاپ شمیر (۱۰۰۰)

دولتی مطبعه

335

سمون ایک

کرښه	مخ	سم	ناسم
۱	۱	د برتیا نیاحکومت ته	د برتیا نیاحکومت
۱۱	۶	ختمې	تمې
۲۵	۱۲	پخې	پخو
۲۲	۱٤	تګ	تګ
۱۷	۲۰	چوترې	چو ترې
۱۰	۲۲	ګازرې	ګازری
۳۲	۳۹	بارکیانو	بارکیانو
۲۷	۵۱	چاووس باشی	باشی
۳۲	۵۲	چاووس	خاص
۹	۶۰	هندکی	هینکی
۱٤	۶۶	یادول یې	یادول بی
۲۷	۷۳	بالاخره	بالاره
۱۸	۷۹	لیږد یدنې	لیږد یدلې
۱۷	۸۵	ګاکړیانو	کاکړیانو
۳	۹۰	یوزرو یوساو پښتوس	یوسلو پښتوس
۱۰	۹۱	کیلان	ګیلان
۲۸	۹۲	نسبت	سبب
۲۰	۹۳	تاوروس	تاووش
۱۰	۱۱۲	څیړل یې اسانه	څیړل اسانه
٤	۱۱۳	خاص	خاصر
۷	۱۲۱	وسیله	وستله
۲۹	۱۲۳	زما	زا
۱۸	۱۲۹	(میانخیل)	(متانخیل)
۳۱	۱۳۰	سینو نو	سهنو نو
۳۰	۱۳۳	ددغې سیمې لمنې	ددغې لمنې
۱۳	۱۳۵	((Clay))	((chy))
۱۳	۱۳۵	اندس	اندسو
۲۶	۱٤۱	وښیې	وښې
۱۲	۱٤۶	په زره پورې	زره
۲٤	۱٤۶	اتمان	لغما

336

سمون لیک

ناسم	سم	مخ	کرښه
اود نورو	اولبړشمېرد نورو	۱۵۲	۲٦
ستن	شين	۱۵٤	۱٤
موډ کېرانګ،	موډ کړانګ،	۱۵٤	۱۸
بو	بنو	۱۵٤	۲٤
تنو	تتو	۱۵٤	۲۷
اوښا نودوه کوه	اوښانو په ځای دوه کوه	۱۵۵	۱۷
سره	ستره	۱۵۵	۳۱
اوپا یی نی	اروپا یی وني	۱۵۷	۲٦
((Purr) (	(Purra)	۱۵۸	۱۲
شکل	مشکل	۱٦۰	۸
استادات	استادانه	۱٦۱	۱۱
دي	دري	۱٦۵	۵ (لمن لیکه)
سيمي	رسالي	۱٦۹	۲ (لمن لیکه)
خبره	جز	۱۷۳	۱٦
موجبو	مواجبو	۱۷۷	۲٦
حسارت په لو	جسارت په لور	۱۷۸	۷
قصي	.	۱۸۱	۱ (لمن لیکه)
پښتا نه دي	پښتا نه نه دي	۱۸٦	۱۵
حقومی	حقوقی	۱۸۷	۱۹
به	بد	۱۹٤	۱۳
دده	دوه	۱۹۵	۱۲
توتکو	توپکو	۱۹۵	۱۸
نظر	سفر	۱۹۵	۱ (لمن لیکه)
مو	لمو	۱۹۷	۸ (لمن لیکه)
د پښتو	د پښتنو	۲۱۱	۱
رسیدونکی	ایسیدونکی	۲۳۰	۲٤

PROPERTY OF ACKU 1370

354

سمون لیک

ناسم	سم	مخ	کرښه
دهغه	هغه	۲۳۹	۲۶
توچی	توخی	۲۳۹	۲۶
اوداسی	اوسی	۲۴۳	۱۰
ونیسی	وینی	۲۴۳	۱۸
وتښتی	د تېښتې	۲۴۳	۱۹
د ینی	دمینې	۲۴۷	۲۱
مهماروته	مهاروته	۲۵۳	۹
ابشکک اغاسیا نو	ایشکک اغاسیا نو	۲۸۳	۱
لپرده	لیدل	۳۰۶	۲۳
ته	په	۳۱۱	۲۱
ده	دوه	۳۱۶	۱۰
ژونده	ژرنده	۳۱۸	۲۶
کاکړ باغ	کالا باغ	۳۲۷	۱۷
نو	یو	۳۲۸	۱۰
کیف	کسب	۳۲۸	۱۱
ځرق	شرق	۳۳۳	۱۳
لراخو	پراخو	۳۳۳	۲۱
Society in. Cational Press		۳۳۵	۳

Pashto Translation

of

(An Account of the KINGDOM OF CAUBUL)

da kābál saltanát bayắn

Vol. I

by

MOUNTSTUART ELPHINSTONE

Published by

The Academy of Sciences of Afghanistan
International Centre for Pashto Studies

1981